# دکندهار مشاهیر



لیکونکی محمد ولی زلمی

## صوفیان، عارفان، مزارات

Collection of Prof. Muhammad Iqbal Mujaddidi
Preserved in Punjab University Library.

پروفیسر محمد اقبال مجددی کا مجموعہ
پنجاب یونیورسٹی لائبریری میں محفوظ شدہ

Marfat.com

Marfat.com

# دکندهار مشاهیر

صوفیان، عارفان، مزارات


لیکونکی محمدولی «ځلمی»



۱۳۴۹ کال

حمل (دریمه) میاشت



Marfat.com

129553

Marfat.com

# فهرست


| عنوان | مخ |
|---|---|
| تصوف څه شی دی ؟ | ۱ |
| دتصوف پخوانی ریښی | ۳ |
| دتصوف ضرورت | ۱۰ |
| دطریقو پیداینت | ۳۰ |
| آیا تصوف مادی ریښی لری؟ | ۴۹ |
| شین غزی بابا | ۸۱ |
| شیر سرخ اوپیر سبز بابا | ۸۳ |
| حضرت بیټ نیکه | ۸۵ |
| شیخ خر ښبون | ۸۷ |
| شیخ ثابت «بړیڅ» | ۸۸ |
| شیخ رضی «لودی» | ۸۸ |
| شیخ عارف «ترین» اودل | ۹۰ |
| ملك آدم «کاکړ» | ۹۰ |
| څلور نګینی | ۹۰ |
| خواجه حسن میوندی «میمندی» | ۹۳ |
| سلطان ویس بابا | ۹۶ |
| مجنون قتال بابا | ۹۷ |
| شیخ خضر «سروانی» | ۹۸ |
| شیخ قلندر بابا | ۹۸ |
| بابا هوتك | ۱۰۰ |


Marfat.com

| عنوان | مخ |
|---|---|
| شیخ ملکیار | ۱۰۱ |
| شیخ میر «شیر انړی» | ۱۰۲ |
| شیخ محمد صالح | ۱۰۲ |
| شیخ بستان «بړیڅ» | ۱۰۳ |
| شیخ تمن | ۱۰۵ |
| شیخ متی «کلات بابا» | ۱۰٦ |
| حضرت کابل شاه صاحب | ۱۰۹ |
| شیخ اسمعیل «سربڼی» | ۱۱۱ |
| دتوری غاړی زیارت | ۱۱۲ |
| شیخ دنو | ۱۱۳ |
| باباولی علیه الرحمه | ۱۱۳ |
| د کندهار «نامی» کورنی | ۱۱۸ |
| شاه آغا | ۱۱۹ |
| ابراهیم خلیفه بابا | ۱۲۲ |
| عبدالرزاق بن احمد بن حسن میونډی | ۱۲۲ |
| حاجی نیك نام بابا | ۱۲۳ |
| شیخ نیك نام «داوی» | ۱۲۳ |
| ملازلی نیکه | ۱۲۳ |
| ابوالفتح بستی | ۱۲۴ |
| لغړیدونکی بابا | ۱۲۵ |
| حاجی عارف | ۱۲٦ |
| حاجی جمال او سردار پاینده خان | ۱۲۷ |
| نازوانا | ۱۲۹ |
| میرویس نیکه | ۱۳۰ |
| میرمن زینبه | ۱۳۳ |
| ملا نور محمد غلجی | ۱۳۴ |

Marfat.com

| عنوان | مخ |
|---|---|
| ملا پیر محمد میاجی | ۱۳۵ |
| احمد بن محمد ابراهیم بستی | ۱۳۶ |
| لوی میا صاحب | ۱۳۷ |
| ابی بکر احمد بن حسین بن علی البیهقی | ۱۴۳ |
| ملا شیر محمد «هوتک» | ۱۴۳ |
| زرغونه انا | ۱۴۳ |
| اعلیحضرت احمد شاه بابا | ۱۴۴ |
| خرقه مبارکه | ۱۴۹ |
| امیر بلند صاحب | ۱۵۶ |
| ملکیار «غرشین» | ۱۵۷ |
| پیر محمد «کاکړ» | ۱۵۸ |
| ملا فرح الدین اخند | ۱۵۸ |
| حضرت جی بابا | ۱۶۰ |
| حاجی کاشانیکه | ۱۶۳ |
| باز محمد | ۱۶۴ |
| حبو اخند زاده | ۱۶۴ |
| ملا ولیداد «کاکړ» | ۱۷۴ |
| مولوی عبدالمجید «کاکړ» | ۱۷۴ |
| عبدالکریم «کاکړ» | ۱۷۵ |
| ملا عبدالحق «علیزی» | ۱۷۶ |
| ملا عبداللطیف «اسحق زی» | ۱۷۸ |
| میا نور محمدصاحب «نور زی» | ۱۷۸ |
| ملا محمد حافظ «بارکزی» | ۱۸۰ |
| دپوټی میاصاحب | ۱۸۰ |
| حضرت میا ادریس | ۱۸۳ |
| ملا صالح محمد «داوی» | ۱۸۳ |

| عنوان | مخ |
|---|---|
| جان صاحب | ۱۸۳ |
| میا عبدالحمید صاحب دذاکر | ۱۸۴ |
| ملا عبدالنبی «بیتنی» | ۱۸۴ |
| ملا محمد ایاز «نیازی» | ۱۸۶ |
| خوجک بابا | ۱۸۷ |
| میا فتح محمد صاحب | ۱۸۷ |
| لو یه ادی | ۱۸۸ |
| قطب الدین (بختیار) | ۱۸۹ |
| ملا الله یار | ۱۹۰ |
| شیخ قاسم | ۱۹۰ |
| محمد هوتک | ۱۹۱ |
| شیخ ملی | ۱۹۲ |
| ابو هاشم «سروانی» | ۱۹۳ |
| کامران خان «سدوزی» | ۱۹۴ |
| محمد بن علی البستی | ۱۹۴ |
| حافظ رحمت خان « بریخی» | ۱۹۵ |
| محمد رسول «هوتک» | ۱۹۷ |
| قاضی ابوالبر که | ۱۹۷ |
| واصب | ۱۹۷ |
| ملا محمد هاشم | ۱۹۸ |
| انسی | ۱۹۹ |
| عشرت | ۲۰۰ |
| سردار هارون خان | ۲۰۱ |
| آتشی | ۲۰۴ |
| الهی | ۲۰۴ |
| سلطان محمد | ۲۰۴ |

| عنوان | مخ |
| --- | --- |


| عنوان | مخ |
| --- | --- |
| فدائی | ۲۰۵ |
| تائب | ۲۰۵ |
| نور محمد (نوری) | ۲۰۶ |
| میا فقیرالله صاحب | ۲۰۷ |
| حافظ خان محمد | ۲۱۰ |
| امام یزید | ۲۱۱ |
| سید حسن «زنجیر پا» | ۲۱۱ |
| ملا مزمل (دصریخ ملا صاحب) | ۲۱۲ |
| صوفی عبدالحمید «بارکزی» | ۲۱۳ |
| علومی کورنی | ۲۱۵ |
| دقاضی غلام هوتک کورنی | ۲۱۶ |
| علامه عبدالعلی (کاکړ) | ۲۱۸ |
| صوفی صاحب | ۲۲۰ |
| ملا شیر اخند | ۲۲۲ |
| ملا دوران اخند | ۲۲۳ |
| ملا محمدصدیق «کاکړ» | ۲۲۳ |
| حاجی جمعه | ۲۲۴ |
| ملا عبدالباقی «کاکړ» | ۲۲۶ |
| سید یعقوب بابا | ۲۲۹ |
| سید عطو جان آغا | ۲۳۰ |
| سید طوطی آغا | ۲۳۰ |
| دهرات دروازی شهیدان | ۲۳۱ |
| ملا علم اخند | ۲۳۲ |


Marfat.com

| عنوان | مخ |
|---|---|


| عنوان | مخ |
|---|---|
| سردار مهر دل خان (مشرقی) | ۲۳۳ |
| ملا اکو اخند | ۲۳۷ |
| سر دار پر دل خان | ۲۳۸ |
| سلطان محمد (خالص) | ۲۳۸ |
| میرزا حنان | ۲۳۹ |
| پزنگر بابا | ۲۴۰ |
| شمس الدین «کاکړ» | ۲۴۰ |
| ملا حسن اخند دتلوکان | ۲۴۲ |
| مولوی احمد جان «تاجر» | ۲۴۵ |
| مولوی محمد سرور «واصف» | ۲۴۶ |
| مولوی عبدالرؤف «کاکړ» | ۲۵۳ |
| مولوی عبدالرب | ۲۶۲ |
| مولوی عبدالواسع | ۲۶۳ |
| دډیوند شهیدان | ۲۶۴ |
| طرزی افغان | ۲۶۷ |
| محمود «طرزی» | ۲۷۰ |
| عبدالرحمن (لودین) | ۲۸۰ |
| عبدالعزیز (بابا جان) | ۲۸۱ |
| سید عطا محمد شاه کندهاری | ۲۸۲ |
| میرزا محمد علی (شرر) | ۲۸۳ |
| احمد | ۲۸۴ |
| احمد صوفی | ۲۸۶ |
| شیخ محمد طاهر | ۲۸۷ |
| میر عبدالجواد آغا | ۲۸۸ |
| سرباز | ۲۸۸ |


Marfat.com

| عنوان | مخ |
|---|---|
| خادم | ۲۸۹ |
| عبدالغفور (خائف) | ۲۹۰ |
| نور محمد ( شوری ) | |
| ملا علیجان | ۲۹۱ |
| مولوی محمد حسن | ۲۹۱ |
| ملا کټه اخند | ۲۹۲ |
| دکندهاری قاضی خیلانو کورنی | ۲۹۵ |
| حافظ حبیب الله | ۲۹۵ |
| کندهاری میرزا اسمعیل | ۲۹۵ |
| بهگت بابا | ۲۹۶ |
| جانان هوتک | ۲۹۶ |
| عندلیب | ۲۹۷ |
| مولوی محمد جان دمیر بازار | ۲۹۸ |
| عبدالاحد اخند زاده پوپلزی | ۲۹۹ |
| قاضی عبدالعلی اخند زاده هوتک | ۲۹۹ |
| موی مبارک | ۲۹۹ |
| علی محمد اخند زاده | ۳۰۰ |
| ملا شیر محمد اخند (بلوخ) | ۳۰۰ |
| ملا عبدالحق «خروټی» | ۳۰۰ |
| سپین کوټی بابا | ۳۰۱ |
| ملا سعدالله «خروټی» | ۳۰۱ |
| عبدالغفور اخند زاده «هوتک» | ۳۰۱ |
| عبدالاحد اخند زاده «اسحق زی» | ۳۰۱ |


Marfat.com

| عنوان | مخ |
|---|---|
| دسپین بولدک شهیدان | ۳۰۲ |
| محمد عبدالکریم «حقانی» | ۳۰٦ |
| عمر جان صاحب زاده | ۳۱۳ |
| ملا نعمان اخند «ترین» | ۳۱۷ |
| حاجی آغا | ۳۱۷ |
| بابک صاحب | ۳۱۸ |
| ملا قطب اخند «توخی» | ۳۱۹ |
| ملا اکا | ۳۱۹ |
| ملا کبلی اخند | ۳۲۰ |
| ادی بو | ۳۲۰ |
| سخی شیر جان | ۳۲۱ |
| شیخ مانده بابا | ۳۲۱ |
| ملا ابوبکر «اسحق زی» | ۳۲۲ |
| ملا محمد نورا خند زاده «پوپلزی» | ۳۲۳ |
| مولوی عطا محمدشیخ محمدی | ۳۲۲ |
| حضرت پیرامان الله صاحب د غور | ۳۲۲ |
| ملا عبدالسلام «اڅکزی» | ۳۲۳ |
| مولوی ابوالوفا افغان | ۳۲۴ |

Marfat.com

Marfat.com

# پیل

ډېرې مودې راهیسې مې په فکر کې وو چې د کندهار پر متصوفینو او مزاراتو څه ولیکم او ځینو هغو داخلي او خارجي متتبعینو او پوهانو کو نکو ته تر یوې اندازې معلومات حاصل سي چه دوی د کندهار د مشایخو، متصوفینو، مزاراتو په خصوص کې د مطالعې او څه پوهېدلو سره علاقه لري.

کوم شی چې زه زیات د دې رسالې په تهیه کولو او لیکلو مکلفه کړم هغه په کندهار کې د ځېنو مشخصو پېړیو د خلکو اجتماعي ذهنیت او د تفکر د طرز څرګندونه ده.

که څه هم په کندهار کې د تذکرو لیکلو د عدم شوق او ذوق او ځینو نورو مصروفیتونو او سیاسي لانجو له کبله د کندهار زیات مشایخ، عرفا او متصوفین په ګمنامې کې پاته سوي دي او په عمومي صورت د دې ځنځیر ته چه د دوی شهرتونه او کرامتونه د خلکو په خولو کې پاته دي د دوی په باره کې نور معلومات لږ موندل کیږي خو بیا مې هم زیار ویوست د هغو متصوفینو، مشایخو او عرفاؤ چه مکتوبه آثار او رسالې پاته سوي دي هغه وګورم او استفاده ځنې وکړم او د هغو په باره کې چه مکتوبه آثار او یا کره معلومات نسته د روایاتو په متواتر او معقولیت اکتفاء وکړم. شاید ځنې وطنوال و دې ته ګوته ونیسي چه ما ځله یوازې د کندهار د مشاهیرو په نامه دا اثر لیکلی دی او د ټول افغانستان د پاره مې نه دی لیکلی؟ خو دوی ته زه اطمینان ورکوم چه ما دغه اثر د محلیت، امتیاز او یا بلې تبعیضي مفکورې په اساس نه دی لیکلی څرنګه چه زه کندهاری یم نو ما ته د داسې اثر لیکل چه امکانات او منابع مې په لاس وه څه ډیر ګران کار نه ؤ که څه هم دغه کار باید د علمي انجمن په واسطه سوی وای نه د یوه فرد.

څرنګه چه زموږ په وطن کې داسې شرایط او امکانات لږ پیدا کیږي نو دا دی دغه کار ما په یوازې سر وکړ ی او دا ګڼزی ژبې په دغه متولی مې چه (تر هیڅ شي لا یو شي ښه دی) عمل وکی او که وخت را ته پیدا سو د افغانستان د نورو سیمو د متصوفینو، عارفانو، مزاراتو په خصوص کې به هم څه و لیکم.

یو شی چه د زیاتي یاد وني وړ دی هغه د دغه کتاب طباعتي غلطي دي چه زما د زیات زیار او زحمت سره بیا مې هم د تخنیکي او داسې نورو معاذیرو له کبله و نه سو کولای چه بیله غلطي کتاب را و باسم.

په اخیر کې د پوهاند عبدالحی (حبیبي) د لار ښوونو څخه چه زما سره ئې د دې کتاب په بشپړ ولو او مستند یدلو کې کړی دی د زړه د کومې تشکر کوم.

Marfat.com

بسم الله الرحمن الرحیم

# تصوف څه شی دی؟

د خوبو نورسو هواو نظریاتو له کبله تصوف یو د بله سره توپیر لري ځکه ویلی شو داسې تعریف چه د ټولو صوفیانو د طریقو څرګندونه وکړي موجود نه دی خو سره ددې بیا هم نکلسن داد یانو د تاریخ په دریم بین المللي کنفرانس کې پر تصوف ښه رڼا اچولې ده او د اسلام علمي او مذهبي طریقې ئې د هجري پنځمې پیړۍ پورې مطالعه کړیدي او یو ښه اثر ئې په تصوف کې لیکلی دی ده په دغه کتاب کښې د تصوف اته او یا بیل بیل تعریفونه کړیدي همداشانې ابو منصور عبدالقادر بغدادي چه په ۱۰۳۷ میلادي (۴۲۹) کې وفات شویدی او د اسلام د لویو صوفیانو څخه ګڼل کیږي د تصوف یو زر تعریفونه ئې کړیدي نو ځکه په ریاضت کښلو زهد او تقوی کې د طریقت د بیلو روشونو مراعات کیږي.

په اسلام کې د طریقت او شریعت ډیری څیړنې شته د مثال په توګه د اسلام لومړني متصوفین چه د تصوف نظریه او بنسټ ئې ایښی دی قلبي اعمال ئې د جوارحو تر اعمالو ښه ګڼلي دي ځکه مولانا جلال الدین رومي وائي: -

حاصل افعال بیروني رهبر است
تا نشان باشد آنچه مضمر است.

خو بیا هم د جوارحو عمل بې اهمیته نه دی او کمالي عمل ورته وائي. د زیاتو معلوماتو د پاره دې د (طبقات سبکي) کتاب دوهم ټوک ۴۱ مخ ته مراجعه وشي) د صوفیانو ځینې ټولې ظاهري شعایر د رمزي او مجازي مثالو نه څخه ګڼي.

Marfat.com

ظاهري شعار پر بيخي ردوي د وي وائي شرعي قيد و نه عارف مقيده وي چه د بکتاش طريقه ددغي جملي څخه ګڼله کيږي .
د کابل داد بياتو د پوهنځي د تصوف په رساله کي د تصوف د هدف

په باره کي داسي راغلي دي : هدف تصوف از نظر مردم خراسان شرحيکه طاووس الفقراء سراج طوسي داده بسيار جامع است : -
«علم شريعت جامع دو سخن يعني روايت و درايت است که هردو

متعلق به اعمال ظاهري و باطني است يعني هنگاميکه علم در قلب باشد به باطن تعلق دارد ولي اگر بر زبان آيد ظاهر ميشود پس علم شريعت هم گاهي به ظاهر يعني اندام هاي ظاهري متعلق باشد مانند عبادات ، نماز ، روزه ، حج وغيره يا احکام مثل حدود و طلاق بيع قصاص وغيره اما اعمال باطني عبارت است از مقامات و احوال که به قلب تعلق ميگيرد مثل تصديق و ايمان و يقين و صدق و اخلاص معرفت و توکل و محبت و رضاء و ذکر و شکر و تقواي وغيره هر يك ازين اعمال ظاهري و باطني فقه و دانشي دارد آنچه به اندام ظاهري مربوط است فقه و آنچه به باطن تعلق گيرد علم باطن و تصوف نامند .»
بايزيد روښان وائي :- شريعت وينا او طريقت چارد پيغامبران . . .

نه نغوته دنوس ده او شيطان او نغوته د زړه د روح چار د پيغامبران ده عيان (۱) .»

## دتصوف پخواني ريښي

ابن خوړل دخداي سره کيدل او د مخلوقه څخه آبنتيدل - تصوف يو داسي لغت دي چه د بنده استوګنه په هغه کي ده حقيقت ئي د حق لغت دي نوم ئي د حق لغت . تصوف د خلکو د مراجعت څخه د زړه و نو خوالي دي د طبيعت د اخلاقو څخه ځان ليري کول د بشريت صفتو نه د ځان څخه ليري کول د نفساني شهوتو نو څخه ليري ګرځيدل روحاني صفتو نو ته ځان رسول حقيقي علومو ته رسيدل او په ضرورتو ئي پوهيدل ترابده ټول امت ته نصيحت کول د حقيقت سره وفا کول په شريعت کي د پيغمبر متابعت کول (د زهد و تصوف د اسلام د ۸۶ مخ څخه) التصوف ترك الدعوى و کتمان المعنى ابو الحسن شيرواني

(۱) خير البيان ۹۹ مخ

وا ئی التصوف ترك الخلق وافراد الهیه .

بل وائی التصوف بنی علی ثلاث خصال التمسك بالفقر و الافتقار والتحقیق بالبذل والایثار و ترك التعرض والاختیار .

ابوالحسن نوری وائی التصوف ترك کل حظ النفس .

ابوالعباس نهاوندی وائی نهایت الفقر بدایته التصوف .

صوفیان چه کوم محبت او عشق په زړه کی لری دهغو لوړه غایه داده چه په دنیا کی د یو صوفی هیله ده او هغه دخدای په ذات کی فناده .

صوفیان په اصل کی شریعت غایه نه بولی او وائی ځکه چه دغه یو دزهد دوسیلو څخه دی نو بوه اندازه اعتبار لری خو ځینی کسان په تصوف کی ښه رښتینی دی او د دوی په عقیده علم تحصیلی نه دی ځکه دکتابو څخه نه حاصلیږی او په درس و یلو نه زده کیږی نو ځکه صوفیان دهغو علمو سره چه په کتابو کی زده کیږی علاقه نه لری دوی په ظاهری خبرو او خبرونو حیرت کوی محی الدین ابن عربی په دی خصوص کی وائی : دهغه چاچه د ایمان پایه پر دلیل او برهان ولاړه ده پر ایمان ئی اعتماد نشی کیدلی ځکه د غه ایمان دفکر او نظر څخه مرسته اخستی ده او داسی ایمان داعتراضاتو په واسطه متزلزل کیږی خو نفسی ایمان چه مرکزئی زړه دی داسی نه دی او امکان نلری چه هغه رد او یا متزلزل شی

په عمومی ډول سره متصوفین زیار باسی چه دشریعت او طریقت په منځ کی حسن نظر موجود وی او نه غواړی چه د شریعت ټول قوانین دطریقت په لاره کی غیر موثر ښکاره کړی خو ځینی صوفیان بیا شریعت ته په طریقت کی لاره نه ورکوی په طریقت کی د شریعت مداخله کول دطریقت ضعف گڼی د دوی په عقیده حقیقت او طریقت دواړه دشریعت وجود ثابتوی او بیله شریعت څخه موضوع د تصوف دطریقی دپاره نه پاته کیږی نو شریعت هغه لاره ده چه طریقت ته ځوك رسوی لکه چه وائی ددر وازو څخه کورونو ته ننوزی د اسلام دلویو متصوفینو څخه یو ابو حامد محمد غزالی دی چه په ۵۰۵ ه کی وفات شویدی دی په علم او فلسفه کی زیات معلومات او نظریات لری لوی اسلامی مولف دی دی وائی : چه دژوندانه او ددی دنیا غایه داده

Marfat.com

چه انسان خپل ځان د تامل او توکل په احساس سره وپوهاندی پوزی او هر کار چه کوی په هغه کی ئی د خدای پیژندنه علت وی.

امام غزالی صاحب وائی :-

«علم تصوف را چنانکه لازم بود فرا گرفتم و چنان دریافتم که تصوف از نظر علمی با سایر علوم شرعی وعقلی تفاوت ندارد اگر چیزی باشد تنها درعمل است.

باری برمن معلوم شد که تصوف جز بحال و جز بتقوای و بریدن علاقه های شهوانی حاصل نمیشود پس رفته رفته امور دنیائی درنظرم سرد و معلوم شد که اینهمه تعلقات دام شیطان است وحتی شریفترین علاقه های دنیوی راهم که عبارت از تدریس و تعلیم باشد ناسودمند دیدم بالجمله هر چه داشتم جز کفاف زن وفرزند همه را از خود دور کردم واندک خلوت وریاضتم مطابق انچه صوفیه دریافته بودده سال طول کشید ودرین احوال چیز ها برمن کشف شد که به شمار نمی آید وبزبان نتوان گفت وحقایقی برمن کشف گردید که جز بذوق وحال در نتوان یافت از حوصله مردم این جهان افزون تر است خلاصه انکه عاقبت دانستم که اگر حقیقتی هست در تصوف است پس راهی را پیمودم که آغازش طهارت دل وانجامش فناء فی الله است.»

ترکومه ځایه چه څرګند یږی ګډیرو تاریخی زمانو راهیسی په ځینو ملتونو لکه هندیانو، یونانیانو، یهودیانو، او مسیحیانو کی تصوف په یوه شکل او بل شکل موجود ؤ دوی دمادی شیانو څخه سترګی پټولی او په روحی حیات ئی عقیده درلوده.

څوک چه داسلامی علومو پرته په نورو کی مطالعه نه لری هغوی فکر کوی چه د تصوف طریقی یوازی داسلامی شعایرو او د تفکر دطرز څخه نشئت کړی دی خو کله چه دخپلی ساحی څخه لږ مطالعه پراخه کړی بیا وینی چه دتصوف انزوا او خدای پیژندنی ریښی په یو شکل او بل شکل په زیاتو ادیانو او نورو تهذیبونو کی لیدل کیږی او دبشر دکمزوری او بی استطاعتی داخاصه ده چه دخپل جسمی او یا روحی عذابونو تشنجاتو او کیفیتو څخه دامان دپاره یوه واسطه ولټوی چه دهغی واسطی لاری ته تصوف

Marfat.com

ویـل کیږی ابوالفضل پـه ائین اکبری کی دجـوګ او تصوف رابطی په خصوص کی لیکی:ـ

جوګ پـر دوه ډولـه دی یـو ئـی سمپرا ګـنات Sampragnath چه هرځای لټوونکی فکر په یوه پوری تړل او پـه خدای پـوری ارا میدل دو هـم اسمپر ا ګـنات Asampragnath یعـنی دخیالی شکلونو او صورتو څخه تیریدل او دخدای په فکرونو کی غرقیدل دجوګ خدای ځلور حالته در لودل لومړی په صحیح نیت او ټینګ قدم ولاړو ودغی غم لړلی نړی ته راغی دو هم نفس پر ینبول او نبه کارونه کول دا سی دزړه زنګ لیری کوی چه زړه ته رڼا دلیری راولی او هغه څه چه نورئی دکوچنیتوب له کبله لید لای نه سی دی ئی په محض کتو وو ینی دریم دنیکمرغی او زیاتی پلټنی له کبله پرعناصرو او حوا سو غلبه ومومی لیری او ژردی په لیدلو او اوریدلو نسبتی پوشانی ونیسی پر پیدا کولو محو کولو باندی قادر وی، ځلورم هغه څه چه تیر شوی دی ځنی ورک نه وی.

دهند دزیاترو فلسفی مکتبونو اساس دهند ؤ چین او بـودا پر تعلیماتو ولاړ دی او زیاتره مکتبونه ئی خدای منی او وائی چه داشراق دلاری تعلیم یافته څوک (بـرهم) مطلق ذات تـه رسیږی دهند فلسفی مکتبونه پر دوو برخو ویشل کیږی.(۱)

الف ناستك مکتبونه Nastika (چه دخدای وجود نه منی)

ب استك مکتبونه Astika (چه دخدای وجود منی)

الف:ـ ناستك فلسفی مکتبونه دادی:ـ

(۱) دچا رواك مادی مکتب Carvaka

۲ ـ جینی مکتب Jainism

۳ ـ بودائی مکتب. Buddhism

ب ـ داستك فلسفی مکتبونه (دهندوانو شپږ فلسفی مکتبه)

۱ ـ نیایه Nyaya

۲ ـ وی شیشیکه Vaisesika

۳ ـ سانکهیه Sankhya

۴ ـ جوګ Yoga

۵ ـ پوروا می مامنا Purva Mimansa

٦ ـ وید انته Vedanta

---

(۱) او پنیشاد (سرا کبر) ۵۳ مخ

پدی حای کی جوګك ته ابن تشریح ورکوو چه داسلامی زهد سره څه توپیر لری .

دجوګك کلمه ( Yoga ) چه د یوژ ( Yuj ) څخه اخیستله شوېده دموښلیدلو په معنیده جوګی ته مرتاض ویل کیږی جوګك دسانکیه مکمل مکتب دی چه پرمستقلو انضباطو دمشقاتو په تحمل ولاړ دی درهبانیت قواعدئی دجینی او بودائی طریقی څخه بیخی توپیر لری دغه مکتب یو حکیم چه پتنجلی ( Patanyali ) نومیږی راویستی دی (دمیلاد دمخه دوی پیړی) دکتاب نوم ئی جوګك سوترا ( yog— sutra ) دی

دجوګك مکتب دسانکهیه دمتا فزیك دعالی حکمت اصول او سایکالوجی منی یوازی ئی دروح پیژندنی جنبه پرهغه سره ده او الوهیت ئی دسانکهیه مکتب پر (۲۵) حقایقو اضافه کړیدی.

جوګی خپل ځان دجسمانی او دماغی حواسو د ضبط په واسطه خپل ځان دټولو خواهشونو څخه مستغنی کوی او په دغو شپږو طریقو سره مطلق ذات ته لاره پیدا کوی .

۱ ـ دنفس په حبس مشغولتیا (پرانا یام)
۲ ـ ددباندی څخه دننه دحواسو ضبط (پریتاهار)
۳ ـ په یو خاص شی باندی فکر کول (دهیان)
۴ ـ خپل فکر په هغه تړل (دارنا)
۵ ـ په هغه کی محو کیدل (سمادهیء)

دغه شپږ چه یو ځای شی شپږ جوګه ورته ویل کیږی او ددغو شپږ وڅخه جیواتما دروح روح پیدا کوی .

جوګیان څو ډوله دی او هر یو ئی خاص قواعد لری مشهور ئی دغه دی:-

کرم جوګك Karma Yoga کیان جوګك Juna-Yoga
بهاګتی جوګك Bhakti Yoga راج جوګك Raja Yoga
هت جوګك Hata Yaga ددغو جوګیانو څخه ځنی خدای (ایشوارا) ځنی (شیوا) او ځنی ئی (ویشو) بولی. خو په حقیقت کی خدای چه په هر نامه وبولی دومره تفاوت نلری. جوګیان معتقد دی هغه بدی چه دپخوانیو ژوندونو څخه را رسیدلی وی کیدای سی چه په کوښښ سره ئی ورکی کړو او په ښو عملو سره ښه نتیجی په لاس راوړو دجوګیانو په عقیده ښه نتیجه هیڅکله نه سی

Marfat.com

حاصلیدلای مګر په صحیح فکر او سالم عقل ددوی کتاب چه جوګ سوترا Yoga Sutra نومیږی پر څلور وبرخو ویشل کیږی.

۱ ـ سمادهی پاد Samadahi Pada چه ددغی طریقی هدف، شکل، دتفکر طرز او طریقه بیانوی)

۲ـ سدهن پـاد Sadhana Pada (چه مشغولـیت اومـراقبت ښودی).

۳ ـ وبهوتی پاد Vibhuti Pada (څرنګه د بدنـی ورزش مـراقبت او تل مشغولتیا له لیاری کـولای شود ماورای طبیعت په قوت واقف شو.

۴ـ کیولیه پاد Kaivalya Pada دروح دارتباط طرز د مطلق ذات سره ښودی او وائی کله چه روح د دغی دنیا دتعیناتو څخه لیری وی خواهش آرزو تقید اوتعین په چاکی ورک شی مطلق ذات ته درسیدلو لار آواریږی.

جوګیانو اوانزوا خوښونکو یوازی ۸۴ د ناستی طریقی بیان کړی دی چه هره طریقه ئی بیل نوم او علیحده سلوک لری دوی په لوړه تنده ساړه او تاوده بندنه دی.

په رشتیاچه سړی حیرانیږی چه څرنګه هغوکی پلی او غوښی داسی ترفرمان لاندی راځی جوګیان دمثال په توګه زهر خوری خوا غیزه نه باندی کوی دوه دری روځی لکه مړی تر خاورو لاندی کیږی خو نه مری اروپا یا نو دخپلی اشتباه درفع د پاره دهغو جوګیانو چه تیزاب اودسپنه ئی خوړلی وی ددوی نسونه ئی په مجهوله اشعه لیدلی دی او زیات حیران شوی دی تر هغه ځایه چه څیړنواوپلټونو معلومه کړی ده دجوګ او تصوف په منځ کی دغه مشترک عناصر ستة

لومړی دهندوانو سمپراګنات دمسلمانانو دخاطر جمعی دی او اسمپراګنات د(مراقبی) سره مساوی دی ابوا لفضل وائی سمپراګنات پرځای خاطر په یوه تړل او په خدای پوری ارامیدل په عینی ډول جامی رح دخاطر جمعی په خصوص کی د (لوایح) په دوهمه لایحه کی وائی: تفرقه هغه ده چه زړه په بیلو شیانو

---

دصوفیز ۲۳ مخ.

Marfat.com

تړلی وی او جمعیت هغه دی چه دټولو شیانو څخه یوه واحدشی ته وګوری.
زړه یوه ته وسپاره او، ټولو څخه ئی ورغوه).
ابوالفضل وائی: اسپراګنات هغه دی چه دخیالی شکلو نو او صورتونو څخه تیریدل او دخدای په فکرونوکی غرقیدل.
امام غزائی (رح) دمراقبی په خصوص کی وائی: صوفی باید (په کنج کی کښینی په ذکر او ورد مشغول سی او په خوله ئی تل الله الله یالا اله الا الله وی چه دغه لفظونه بی ارادهٔ د خولی څخه جاری وی بیا دغو حروفو شکلونه مرتفع سی او یوازی د کلمی معنی دمراقبی دخاوند په زړه ونوښلی هغه وخت چه زړه داسی حالت ته ورسیږی دخدای نورژر دده په فیض او کرم دی پیداکړی.
دریم دتصوف اخلاقی جنبه چه دنفس وژل دی دمسلمانانو او جوګیانو په منځ کی یوشانی دی ریګوید وائی: چاچه دصلح صدق اوصفا طریقه غوره کړه په خاطر جمعی او دزړه په اطمینان ئی ومنله شپه او ورځ دبرهما په فکر دپست او لعنتی نفس په وژلو بریالی سو هغه کولای سی چه دمرګ سره مقاومت وکړی همداشانی محمو دشبستری وائی:-

جهان را نیست مرګ اختیاری — که آن را از همه عالم تو داری

نو سکک و تړه په بند کی — روح پاچا جاو دانی کړه

که دی دا فتحه رشتیاسی — تل تر تله کامرانی کړه

یعنی مړکیدل دمړینی دمخه دصوفیانو خاصه ده او دغه مرګ ته څوک رسیدلای نه شي مګر دنفس په نیو لواود نفس په هضمو لو خوشحال خان خټک وائی:-

همیشه که‌ژوندون‌غواړی‌درته‌وایم — همیشه کوه‌دنفس‌سره‌جهاد

دریم دو دانت صوفیانه تعلیمونه دصوفیانو عقاید و ته ورته دی، ابوالفضل وائی دودانت طرفدارانو په دو ړغ اوجنت ثواب او عذاب اونورو همداشان چرت نه خرابوه دهمدغه کبله نظامی وائی:

بهشت و دوزخش بینی مشو مشغول این هر دو

قدم بر فرق دوزخ نه خطی ګرد جنان در کش

رحمان بابا وائی:

هر زیارت لره چه ځمه مرادمی ته ئی زه زائر دبتخانی دحرم نه یم

دوددانت دوینا له کبله:

زموږ وینن والی لکه خوب داسی دی چه په هغه کی خیالی صورتونه وینو.

رحمان بابا وائی:

ددنیاچاری په مثل خواب وخیال دی خوک په څه کاا عتماد په خواب وخیال

چیست این زندگانی دنیا گفت خوابی هست یا خیالی چند
گفتم این بحث اهل دنیا چیست گفت بیهوده قیل و قالی چند

په اخیر کی دبودیزم دنروانا دحالت او دهغه وانود جوګ څخه چه کوم روحی کیفیت پیدا کیږی دصوفیانو د فنا سره زیات شباهت لری که نروانا دځان ځانی انعدام دی فنا هم انعدام دی که دجوک خاوند په دنیا او ما فیها خبر نه دی دفنا صاحب هم داشانی دی.

ابوالفضل لیکلی:-

جوګیانو ته ساه په او تود وخی او په او تنده لبر ازار رسوی.

جامی دلوائح په نهمه لایحه کی لیکلی:

دفنا خاوند ته نه شعور دخپل ځان پیژندلو پاته کیږی او نه دشعور په نیستی دا ځکه دفنا خاوند که دخپل شعور په فنا وپوهیږی دفنا خاوند نه دی.

که پورته دجوګیانو دکرامت په باره کی څه ویل شوی دی دلته دصوفیانو دکرامت څخه بحث وغیږو.

دابوالخیر پرښه چه دانه را ختلی وه دهغی دانی دزیات نقصان دمخنیوی دپاره دا فیصله وشوه چه باید دپښی هغه ځای پریکړی شی هغه جراحی ته تن نه ورکاوه پښه ئی هغه وخت ځنی پریکړه شوه چه ابوالخیر پرسجده تللی ؤ مریدانو ئی ویل کله چه دی پرسجده سی په وجود خبر نه وی.

لکه چه وائی:

گفت عبدالله شمس مغربی شصت سال است شب ندیدستم شبی

لکه چه ابوالفضل دجوګیانو دحالت څخه په تعجب کی دی زه هم حیران یم چه کوم یوئی ښه دی؟

دعبدالله وینتوب یاد ابوالخیر بیهو ښی؟

Marfat.com

ځکه دځنو عناصرو دمشترکوالی علاوه تصوف دو دات ځخه غیر دی او فنا دزروانا څخه توپیر لری ځکه نروانا نفی محض دی او فنا مثبت شق لری چه بقائی بولی یعنی په خدای کی دایمی حیات .
رحمان بابا وائی :-

پهژوندومره چه دمرگ لهغمه خلاص سی
اسان کار دی کړو په ځان باندی گران ولی؟

تو جزوی وحق کل است اگر روزی چند
اندیشه ٔ کل پیشه کنی کل باشی

## دتصوف ضرورت

زمونږ په فکر چه د مځکی مخ باید لکه جنت راته وگرزی داسی ونه شوه بر خلاف ورځ په ورځ ددونږ دشیلی حالت پیدا کوی او مادیاتو معنویات بیخی وځپل او نژدی ده چه دمنځه ئی یوسی همدا شانی دمادیاتو دزیات فشار له کبله چه دغه فشار ونهدظلم جبر قتل ناروااوږولږول جنایتو پهشکل څرګندیږی په جامعه کی استبدادی ژرېمونه او مطلقت العنانی په وجود راوړی ددغو څخه دتیښتی او ځان خلاصولو یوازنی وسیله ځان دتصوف حلقی ته اچول دی دغی طریقی مخصوص دچنگیز دفشار او چپاؤ نو څخه دخلاصون دپاره په اسلامی نړی کی زیا ته وده وکړه او ددی بلا دخلاصون دپاره چه اسلامی مدنیت او ثقافت ئی دبربادی سره مخامخ کړی ؤ څه خلکو خدای تهداستغفار او زاری دپاره مخ زنګلونو او غرونو ته ونیوی په عبادت او انزوائی شپی اوورځی تیرولی اوس هم دروحی عذابونو دخلاصون او دمادیاتو دفشار څخه دځان ژغورولو دپاره تصوف یوه ښه وسیله ده یعنی علویاتو الهیاتو روحانیاتو دروح دروزنی دروح دتزکیه او تصفیه دپاره ضرورت سته لکه چه وائی :

دلامعاش چنان کن که گر بلغزد پای فرشته ات بدودستهدعانگه دارد

ددی سره چه ځینو ناعاقبت اندیشانو تصوف دخدعی او فریب په مرض اخته کړیدی او پهدرواغو سره دمادیاتو دحاصلولو دپاره

ئې دتصوف رنګ وربد کړیدی او تصوف ئې دجاه وجلال مال او مکنت او نورو مادی نعمتونو دبرابر ولو دپاره یوه ښه وسیله ګڼلې ده او خرقه ددې دپاره اغو ندی چه خلک وغولوی او په خرقه پوشی کې په عیش او عشرت ناز او نعمت کې غرق سی چه دهمدغه کبله دځینو عرفاؤ او فضلاؤ دشدید عکس العمل مورد ګرزیدلی او په افشاء ګری کې ئې داسې ویلې دی:

(حافظ)

مفلسانیم وهوای می وطرب داریم آه !اگرخرقه‌ٔپشمی به‌گرو نستانند
کتاب وخرقه وسجاده رهن باده نمودم
بتاروچنگ زدم چنگ وتارسبحه گسستم

(ملاهادی سبزواری)

سرمست در قبای زر افشان چوبگذری
یک بوسه نذر حافظ پشمینه پوش کن
که زنهار ازین کژدمان خموشی پلنگان درنده ژنده پوشی
که چون گربه‌زانو بدل‌مینهدوگر صیدی افتد چو سگ می جهد

(سعدی)

دبعضی صوفیانو عقاید واو اعمالو په څو له اسلامی نړی کې مخصوص زمونږ په هیواد کې زیاته اغیزه کړیده دغه نه یوازی په ادابو او اخلاقو کې بلکه دژوند په روز مره جریاناتو او معاملو زښته مؤثر دی او په منحرف اومنسوخ سوی شکل ئې اغیزی دفالبینی او ملنګی په شکل زیاتې لیدلی کیږی همداشانې په پښتوانیو ورزشو پهلوانیو زرګری جنګونو او نورو او بو کې دځوانانو په منځ کې چه پښتوا دعیارانو او اوس دکاکه، پای لوچ او داسې نورو په نامه مشهور دی زیات لیدل کیږی دوی دیو ډول اخلاقی قربانیو، قناعت، ارادی، عزم او ځوانمردی شعایر لری چنانچه دخراسان دوهم سلطنت دسیستان په زرنج کې ددغو عیارانو په واسطه جوړ شو یعقوب لیث صفاری ددغو عیارانو مشرؤ خو په حقیقت کې داسې ندی او سابقه ئې پاکه او دمادی تلذذاتو څخه خلاصه وه دتوزک جهانګیری دعلیګره چاپ په ۸۱ – ۸۲ صفحه کې راغلی دی: چه دنظام الدین اولیا او امیر خسرو په یوه بیت چه دواړو ئې سر او پای جوړ کړ پر ملا علی احمد مهر کن باندی داسې حالت راغی چه دجذب څخه مړ سوسلطان مراد چه دتر کیه دلویو او فاتحو پاچاهانو څخه شمېرل کیږی دوه محله دتصوف

Marfat.com

په جذب دپاچاهی څخه لاس واخیست په ګوښه کی دخدای (ج) په عبادت اوریاضت مشغوله سوخو په دواړو وار وکی خلکو دی د انزوا څخه دجهاد په نیت راوبوست په ۱۴۴۴ کی ئی هنګر یانو ته په وارونا کی شکست ورکړ او د ینچیر یانو انقلاب ئی خاموش کړ. په لوړی سر کی دمتشرعینو او صوفیانو دطرز تفکر په منځ کی توپیر نه لیدل کیدی او یوازی صوفیانو د اسلام ځینو عقایدو او فلسفو ته اهمیت ورکاوه دمثال په توګه:

۱ـ یوازی هغه سړی کولای سی چه خپل ځان پدی عالم:کی د هوا او هوس او شهوتونو څخه خلاص کړی چه دده دزړه پلیدونکی اوزتل دیه دبقاعالم ته متوجه کړی.

۲ـ عشق دخلکو څخه نه شی زده کیدلای دخدای دعطا پاڅ او هدا یاڅ څخه یوسوغات دی.

۳ـ که دعارف دسرسترګی ویښی سی دده دسرسترګی پټیږی او دخدای څخه پرته بل شی نه وینی.

۴ـ که په هیولائی جسم کی معرفت څرګند سی هر څوك چه دی وو ینی دجمال اوجلال څخه به ئی مړسی او هر څه چه رڼا وی دده دروښنائی په مقابل کی به تیاره سی.

۵ـ ای خدایه زه دبلبل ترانی، د ګړنګو نو شر پهاراوداو ریځو غړو مبی د حیوانانو په ناروډ ونو د پاڼو رپید واوازنه اورم بیله دی څخه چه وپوهیږم چه دغه بیل بڼغونه ستا پر وحدانیت اویواز یتوب یودلیل دی.

۶ـ ای خدایه تاپه ظاهره دخدای په نامه اوپه باطن کی دجانان په نامه یادوم په علنی توګه وایم ای خدایه اوپه باطن وایم زما جانه. زما دلبره زما هرڅه دمعرفت لندیز، عشق جمال او جلال دی دغه داسی افکار دی چه تصوف ځنی پیدا کیږی خو د ومره باید پوښتنه وسی چه دنهمی میلای پیړی مسلمانانو دغه افکار د کومه پیدا کړه اویا ئی دچا څخه واخستل؟

دزیاتو څیړنواو پلټنو څخه دا څرګنده شوی ده چه دغو پر دیو څلور وعناصرو چه مسیحیت، نوی افلاطونیت، دبودا فلسفه اومعرفت دمسلمانانو پر تصوف اغیزه کړی ده په داسی ډول:

مسیحیت:

دمسیحیت طرز تفکرد (ادریه) Guostiesme د فلسفی څخه اخستی شوی دی

او دغه فلسفه د شرقي- یوناني او مسیحي فلسفو اختلاط دی چه په لمړی میلادی پیړی کی دمسیحي دیانت سره په متو ازی توګه پر مخ تللی ده او په جزئي تغیراتو سره د کلیسا معتقدات ګرزیدلی دی او داسی مثال لری لکه په مسلمانانو کی «علم کلام» دا دریه عقیدی اساس پر ثنویت ولاړ دی لکه خیر او شر، نور او ظلمت ، الهی عالم او مادی عالم چه دغه مبداء تل یو د بله په جنګ دي نکلسن وائی : متاخرین صوفیان چه داو یا زرو حجاب کلمه استعمالوی هغه ئی دادریو نو څخه اخستی ده .

په نیا کی مسیح او شیطان دوه لوی عامله دی او دغه دخدای دد وو لاسونو په شانی دی مسیح ئی راسته لاس او شیطان ئی چپه لاس دی شیطان په دی دنیا حاکم دی او مسیح په هغه د نیا .

دفضیلت دمو ندلو دپاره زهد پیره ښه وسیله ده .

مسیح یعنی ظاهره شوی کلمه چه د خپل ځان په قربانی یو بشر ملائکی چه دګناه مرتکب شوی دی او په ج-م کی لویدلی دی هغو ته نجات ورکړی .

ددوی په عقیده دخدای تاثیر په ماده کی مستقیم نه دی د بیلو قواو په واسطه چه دده او مادی په منځ کی واسط کیږی د دغو قواو څخه لوی ته «پستر» ویل کیږی چه په کلمه هم تعبیریدلای شی په تورات کی دغی قوی ته «ملائکه» افلاطون هغه ته «مثل» رواقیون عقل «فعاله» ورته وائی .

آرای نکلسن دمایستکس اف اسلام په ۱۰ - ۱۲ مخ کی چه په لندن کی په ۱۹۱۴ کی چاپ شوی دی

R.A. Nicholson, The Mystics of Islam, pp. 10 London, 1914

لیکلی : وړینه چو خه سکوت او پټه خوله توب او ورادا و اذکار دینی مناجاتونه ... دغه ټوله دنصرانی خصاصو څخه دی دخدای په عشق کی دغه حکایت څیړنی ته اړتیا نه لری :

حضرت عیسی علیه السلام ددرو نفرو فقیرانو سره چه رنګونه ئی ژړ جسمونه ئی ډنګروه مخامخ سوورته وی ویل څه علت ستاسی د غم موجب ګرزیدلی دی ځواب ئی ورکړ چه دجنت اشتیاق لروورته وی ویل دهغه شی ارزو کوی چه خلق سوی دی او خدای تعالی کولای شی چه خپل عنایت وکړی چه ستاسی ارزو ترسره شی بیائی دری فقیران چه ډیر ژړ او ډیر ډنګروه ولیدل او دحال پوښتنه ئی څخنی وکړه ورته وی ویل چه ددوږخ څخه بیریږو ځواب ئی ورکړ د

هغه شی ځکه بیرته چه خلق سوی دی او خدای ته کو لای شی چه تاسی د بیری ځکه خلاص کړی بیانی نوردری داسی فقیر ان ولیدل چه ده نکروالی ځکه پوست او هډو کی او درنګ دڅه وا لی ځکه ئی په نورانی وه دهغوی ځکه ئی هم پوښتنه وکړه ورته وی ویل چه خدای دوست لروو رته وی ویل چه تاسی ترڅو لو خدای ته نژدی یاست .

## نوی افلاطونیت :

دابدد ۱۲ - ۱۳ مخ پوری Ibid pp. 12-13 د اسلام د حکماو دافکار ومحرك ارسطاطالیس دی نه افلاطون محترم صوفیان پلوټینس Plotinus ډیر لیږ ئی او په مبهم ډول ئی دیونانی شیخ په نامه یادوی ځکه چه صوفیان دارسطاطالیس

اثار دارسطاطالیس دشار حینو په واسطه چه دافلاطون Plotinus تابعین دی پیژندلی دی نو ځکه د صوفیانو تصوف د هغی فلسفی رنك او بوی چه افلاطون ( Plotinus ) ته منسوب دی او نوی افلاطونیت په نامه یادیږی پیدا کړ دمثال په توګه دارسطو د دینیا تو کتاب چه په ۸ میلادی پیړی کښی په عربی ترجمه سوی دی دنوی افلاطونیت ځکه عبارت دی نو نوی افلاطونیت ځکه چه په مسیحیت کی تاثیر کړی دی اسلام ئی هم تراغیزی لاندی راوستی دی ۰ (۱)

معرفت : ارئی نکلسن دمایستکس اف اسلام په ۱۵ مخ کی

R. A. Nicholson, The Mystics of Islam p. 15

لیکلی دی: دتصوف اومعرفت په منځ کی چه کوم دا تصال رابطه ده هغه معلومه ده ځکه دمتقدمینو دقول ځکه صرف نظر کوو او دنوی عصر ددرویشانو پر تازه فکر اکتفا کوو: اویا زره حجابه خدای ذوالجلال زموږ دستر ګو دلیدنی ځکه محجوب دی، د حجابونو ظاهری برخه نور او باطنی برخه ئی تیاری دی هرروح دتولدپه وخت کی باید دهغو حجابونو ځکه تیرشی ځکه چه د حجب د ظواهرو ځکه تیریږی یودالهیه خصایصو ځکه دهغه کیږی کله چه دحجب دبواطنو ځکه تیریږی دکونیه خصایصو پر هغه روح زیاتیږی په دی ډول بشری روح دتولد په وخت کی بیخی دخدای تعالی ځکه بیلیږی اوله دغه کبله دی چه دتولد په وخت کی هر

(۱) دمایستکس آف اسلام ۱۰ مخ

Marfat.com

هلك ژاړی داځکه چه روح خپل بیلتون دخدای څخه په یاد راوړی نوځکه دغه محبوس روح ته باید نجات ورکړه سی دجسم پرېښوونه لازمه نه ده جسم خپله باید دطریقت د شیخ په واسط تزکیه کړ و:

دکه دی چه تاد خدائی عشق په اور کی اچوی چه پاك اوصاف دهغه اور څخه دباندی راووزی. دانظریه چه اسلامی تصوف دهندی او بودائی افکار و څخه پیدا شوی دی ډیره ضعیفه ده البته د و مره ویلای سو کوم شیانو چه په اسلامی تصوف کی زیاته اغیزه کړی ده هغه ځنی بودائی افکار او عادات دی. ددوهمی پیړی و روسته مسلمانانو دنورو ملتو دکتابو په ترجمه کولو پیل و کړ دعلو مو دائری زیات وسعت پیدا کړیو شمیر هندی او بودائی کتابونه په عربی ترجمه شول چه زیاتروئی دعملی تصوف رنګ درلود لکه زهد ددنیا ترك دهندیانو اوبودائیانو د عـادا تو او رسـو مو شرح.

دعباسیانو دحکومت په لومړی وختو کی هندی اوماني تارك الدنیا خلکو عراق او نورو اسلامی هیوادو نو تـه سفر کـاؤ او مسلمانان دنژدی څـخه دد وی په اخلاقو او سلو کو خبر یدل په لومړی پیړ ی کی مسیحی رهبانانو هم اسلامی ملکو نو ته سفر کاؤ.

بودا وائی: رنځ دژوند سره ملګری دی درنځ اندردعلت (میل) دی چه سړی څه غواړی ددغه میل دور کولو دپاره باید ژوند ته شاوګرزوو چه د (نروانا) اورمړ کول Nirvana یافنا درجی ته ورسیږو نروانا ته درسیدلو دپاره کامل زهد اودهر میل محو کول دی که څه هم اسلام دبودیزم درياضت مراقبی عقلانی تجرید دعلایقو د پرېښو لو څخه تریوه حده متاثر شو ی د ی خو بیا هم اساسی او معنوی توپیرونه ځنی لری په اسلام کی دنفس تهذیب دخدا ی پیژندنی او عشق څخه پیدا کیږ ی لکه چه ر حمان بابا و ائی:

معرفت ځـنی پـیداشه عشق دعقل مور او پلار دی

خو بو دیزم یوازی دفرد په اصلاح اکتفاء کړی ده.

دافغانستان بعد از اسلام دلومړی ټوك په ۸۵۷ مخ کی دمذاهب او فرق تر عنوان لاندی داسی لیکلی شوی دی : ـ

«از شرحیکه زائرین چینی مانندشی فاهیان وهیون تسنگ وغیره داده اند در افغانستان شرقی یعنی در گندهار او کابل تا غزنه وکندهار دین عموم مردم کیش بودا بود که سوابق طولانی قبل الاسلامی درین کشور دار دو شاهنشاهان نیرومند و بزرگی مانند اشوکای هندی وکانشکای کوشانی انرا در آسیائی میانه و بر اعظم هند پراگنده بودند.

شی فاهیان اوهیون تسنگ دبودا دکبیر او صغیر مذهب ډیر معبدونه په شمالی او ختیز افغانستان کی لیدلی دی چه ددغی جملی څخه دکاپیسا او بامیانو معبد ونه دیاد وړ دی ددی څخه پرته شیوائی برهمنی آفتاب پرستی آتش پرستی اله تنا سل پرستی او نور زیات رواج وه همدا شانی دکابل وشاه بهار په معبدونو کی (فره ایزدی) چه دباختر داریائی نژادوشاهانودسمبول څخه ؤهم ساتل کیدی.

دبودائی فلسفی لرویه په جهان کی هیڅ معین او مشخص شی ددوو لحاظو دپاره په یوه وضع او متشابهه حال پاتیدلای نه سی جهان دحیات دموجو نو سمسا را Samsara څخه جوړ دی چه تل حرکت او بر خورد کوی هیڅ عنصر او عامل نفس نه لری تو له شیان غیر دائمی ترتیب شوی دی ټوله شیان رنځ او دوك دی په جهان کی بیله رنځه بل شی نسته نه جسم وجود لری نه دوام اونه سعادت ټول بودائی مکتبونه چه لفظی مباحث لری په حقیقت کی دعقلیونو منفی مسلك دی په بودائی فلسفه کی دخلقت، خالق وحدت، توحید په خصوصی کی شی نه لیدل کیږی مګر یا لزم او او شاقه ریاضت ته هم توجه نسته په بودائی مکتب کی داعلی نفس فردی بقا چه ویدانت ئی هنی رد یږی او دان آتمن An Atman اصل چه عدم وجود دی منل کیږی بودا همه وخت په هند کی پیدا سو چه ویدائی دوری ژوندی او خوشحاله روح باندی دسحر جادو او خرافاتو پنډوه پرده غوړیدلی وه برهمنانو به دخپل ځان اودلمر باد او باران اوردخدایانو دخوشحالو لو دپاره قربانی کولی

Marfat.com

دحیو اناتو په وینوئی زنګلونه ابرلی وه حتی دز نګلو ار ګی په دسوز لو دپاره هم نه مونډل کیدل دبرهمنانو او نوروخلکو په منځ کی لو یه فاصله پیدا شوی وه په دغه وخت کی بودا ددغو قربانیو په مقابل کی. ودرید.

## دبودا فلسفه :-

(دایدد په ۱۹و۱۱۷ مخ کی) (Idid, p. 17 and 19) دا سی راغلی دی:-

ابراهیم بن ادهم دتذکرة الاولیا په ۵٦ مخ کی دبلخی شهزاده په نامه چه پاچاهی ئی پریښوله او صوفی صافی سو یاد شوی دی دغه سر ګذشت هغه دبودا سر ګذشت دی. هغه دز هد اعمال چه په عمومی دول مراقبت، نفس وژل، دخاطر جمعیت او په خصوصی دول فنافی‌الله (فنا لفنا) دی دبودا دفلسفی څخه پاته شوی دی لومړی چاچه فناد تصوف جزولاینفک بللی دی بایزید بسطامی ؤ او هغه دغه درس په احتمال دسندی ابو علی څخه زده کړی ؤ بایزید وائی:-

لومړی تردیرشو کلونو پوری دی زما هنداره وو او س خپله هنداره خپله یم.

دوهم دخدای څخه دخدای سره ترخدایه ولاړم چه زما څخه ئی ماته وویل ای زه اوته. وروستی عبادت محض دبودا فلسفه نه ده بلکه د و د انت و حـدت ا لـو جـو د دی د فنـا مـقا یـسه دنرو انا سره په غیر مشروط ډول ممکن نـه دی دا ځکه چـه نروانا نفی محض دی او فنا دمثبت شق در لوو نکی دی چـه بقا یعنی په خدای کی دائمی حیات دی په بـود ائی فلسفه کی بیل مکا تب سته چه مهم ئی هینا یـا ن Hinayana ( پخوا نـی مکتب مها یان Mahayana (نـوی مکتب) دی د مها یان مکتب پـه شما ل اودهینان مکتب په جنوب کی پیدا سو په دریمه بودائی شورای کی چه جوړه سوه اشوکا امر وکړ چه دبودا تعلیمات په ډبروکی وکیندل سی په دی شورا کی دعقیدی اختلافونه زیات وه اکثریت نه یوازی اقلیتونه دشورا څخه وایستل بلکه ددغه نهضت څخه ئی هم خارج کړل دوی دهند د شمال څخه جنوب ته ولاړل او هلته ئی فعالیت شروع کی دشمال مکتب نسبتاً مترقی ؤ دهمدغه کبله دغه مکتب چه مهایان نومیږی زیاته ترقی وکړه په دغه مکتب کی انسان نه یوازی خپل ځانته نجات ورکړی بلکه خپله همنوعه هم

Marfat.com

دګمراهی څخه خلاص کړی په داسی حال کی چه دهیندایانو مکتب خپل ځانته دنجات ورکولو توصیه کوی (۱) :-

دعلمی نظره بودا دغه فلسفی مکتبونه لری.

۱- وی بها شیکه Vaibhasika (مستقیمه واقع بینی یا مستقیم ریالزم)

۲- سو ترا نیتکه Sautrantika (غیر مستقیمه واقع بینی یا غیر مستقیم ریالزم)

۳- جو ګا چار Yogacara (ایدیالزم خیال پرستی)

۴- مادهیه میکه Madhyamika (نسبیت چه نیهیلسم هم ورته ویل کیږی) دوه لمړی مکتبه په هیندایانو او دوه نور په مهایان اړه لری

ورو ستنی یا څلورمه بودائی شورا دکنشکا په وخت کی (۱۲۵) م دتکسیلا په ښار کی جوړه شوه دغه شورای په بودائی مکتب کی داختلافاتو دورکولو دپاره جوړه شوه ددغی شورا ژبه سانسکرت وه ددریمی شورا ژبه چه داشوکا (۲۷۹ - ۲۴۰ ق م) کی جوړه شوی وه پالی او مګدی وه. داسلام قابلیت دخارجی افکارو په راجلبولو کی غیر متعصب ناقد اعتراف کوی خو ددغی جملی څخه باید داسی استنباط و نه سی چه تصوف محض دپردو دافکارو یوه مجموعه ده او بس که اسلام دنورو ادیانو څخه یاد و نه هم ونه کړی او هیڅ رابطه دهغو سره و نه ساتی بیائی هم یو ډول تصوف پیدا کاوه دا ځکه چه تصوف خپله داسلام په نس کی موجود دی لکه چه فرمائی :-

۱- ونحن اقرب الیه من حبل الورید.

۲- وفی الارض ایات للموقنین وفی انفسکم افلا تبصرون.

دروم مولینا وائی:-

ای اتش فشا ن این خانه را و یران کن

این عقل رابستان زمن بازم زسر دیوانه کن

(دلته دبلخی فکر لکه اشراقیان او نیو فلاطونیان دعقل څخه عشق او سلوک ته پناه وړی) دسلوک دلارو ټاکلو دپاره زیا تو متشر عینو او متصوفینو خواری کښلی دی چه دهغو څخه مشهور یو

(۱) داو پنیشاد ۷۳ مخ

Marfat.com

خواجه عبدالله انصاری صاحب دی چه سلوم زلوته ئی رسولی دی خواجه دخپل استاد مشهور او معروف صوفی ابو بکر محمد بن علی کتانی (په مکه کی په ۳۲۲ ه) مړدی په قول کوی چه وائی (ان بین العبد والحق الف مقام من نور و ظلمته) خواجه صاحب د سلو کک د ټولو مقامونو د پاره د قران شریف ایت سند راوړی او هغه ئی دورځنی ژوند د اشراق او تصفیه روحی او اخلاقی جنبو در لودلو وګڼل شریعت او طریقت ئی دژوند په صحنو کی ګټو بللی او اجتماعی کوچنی اداب ئی هم ددغو مقامونو جزو ګڼل ددغو مقامونو نومونه دادی :-

توبه، مروت، انابت، فتوت، ارادت، قصد، صبر، جهاد، ریاضت تهذیب، محاسبت، زهد، تجرید، ورع، تقوای، معاملت، مبالات، یقین، بصیرت، توکل، لجا، رضا، موافقت، اخلاص، بتل، عزم، استقامت تفکر، ذکر، فقر، تواضع، خوف، وجل، رهیت، اشفاق، خشوع، تذلیل اخبات الباد، هیبت، فرار، رجا، طلب، رغبت، مواصلت، مداومت فطرت، همت، رعایت، سکینه، طمانیت، مراقبت، احسان، ادب، تمکین، حرمت، غیرت، جمع، انقطاع، صدق، صفا، حیا، ثقت، ایثار تفویض، فتوح، غربت، توحید، تفرید، علم، بصیرت، حیات، حکمت، معرفت، کرامت، حقیقت، ولایت، تسلیم، استسلام، اعتصام، انفراد، سر، غنا، بسط، انبساط، سماع، اطلاع، وجد، لحظه، وقت، نفس، مکاشفه، سرور، انس، دهشت، مشاهده، معاینه، فنا، بقاء.

خواجه عبدالله انصاری (بقا) داسی څیړی :-

قوله تعالی :- والله خیر وابقی.

خداوند تعالی وبس و خیر متمحی امادوستی ۳ مقامست.

واسباب مضمحل و حق یکتا اول راستی

بخودی خود باقی ومیان: مستی

وآخر نیستی

ورسوم باطل واین صد میدان همه در میدان محبت مستغرق وحد ود ومتلاشی میدان دوستی میدان محبت است

والحمدلله لااول ولاخر

قوله تعالی: یحبهم ویحبونه

ومفهوم فانی قل ان کنتم تحبون الله

وتاریخ مستحیل.
واشارات متناهی.
وعبادات متنفی(۱)

دجمال موضوع په تصوف کی زیات څېړل کېږی او دصوفی په نظر جمال د پیدایښ مبداء دمادی دفعالیت او دروح د ځرڅنګوالی په معنی دی او جلال بیا چاته موقع نه ورکوی چه دحقایقو په ځرڅنګوالی موفق شی دهمدغه کبله صوفی په هرشی کی دخدای نور وینی او دجلال په واسطه ئی دفهم درك ضعیفه کېږی لکه چه وائی:

درخرابات مغان نورخدامی بینم    این عجیب بین که چه نوری زکجامی بینم

کله چه دجمال تجلی وځلیږی عالم پیدا کیږی او دغه تجلی پر دوه ډوله ده رحمانی (عامه تجلی) چه ټول کائنات استفاده ځنی کوی بله رحیمی یاخاصه تجلی چه معنوی کمالات ځنی ځرګند یږی لکه توحید، رضا، تسلیم، دهمدغه کبله عاصی دعابداوناکامل دناقص څخه جدا کیږی.

پوهاند عبدالحی حبیبی دځپلی تصوف د رسالی په ۲۸ مخ کی د تجلی په موضوع کی داسی لیکی:-

صوفیان برای این دو نوع تجلی قوس عروجی ونزولی را فرض میکنند که مبداء تجلی رحمانی را در قطب اعلی واحدیت... عالم لاهوت میگویند وازان دائره وجود یا به اصطلاح صوفیان تنزلات واسازند وصوفی با یك حرکت دوری ازهمان مبداء اصلی تجلی رحمانی آغاز حرکت کرده واولا یك حصه قوس نزولی را در عالم جبروت یعنی مرتبه اسما و صفات طی میکنند وازآن به عالم ملکوت یعنی روح وعقل وکتاب و اعیان ثابت میرسد وبعد از آن به عالم ناسوت وشهود یعنی نفوس وعناصر وموالید ثلاثه جمادات وحیوانات ونباتات میرسد وآن نقطه آخرین قوس نزولی است که بعد ازین در قوس عروجی مراتب سیرالی الله را پیموده واپس به عالم لاهوت وصل میشود ودر تجلی رحیمی و خصوصی مقامات توبه وتقوای را تامقام فنافی الله می پیماید.

صوفی خپل ځان (سالك) یاپرلار تلونکی بولی چه دلنیو منزلو په واسطه چه مقامات ئی بولی یوه لاره چه (طریقت) ئی بولی ووهی چه د

---

(۱) دصد میدان درسالی ۲٦۱ مخ

(فنافی الحق) مقصد ته ورسیږی دمقاماتو شمیر اوه دی چه نوموته ئی دادی:
توبه، پرهیز، ترك، فقر، صبر، توکل، او قناعت. دمقاموتو تو پیر چه دصوفی زهد او اخلاقی تادیب څخه جوړیږی (احوال) نومیږی چه روحی کیفیتونه دی چه په علم النفس اړه لری مقامات داحوالو څخه فرق لری او احوال هم دمقاماتو څخه فرق لری. د احوالو شمیر لس دی او نوموته ئی دادی :- مراقبت، قرب، عشق، خوف، رجاء، اشتیاق، صمیمیت، خاطرجمعی، تفکر او یقین
دیو صوفی دطریقت لاره نه خلاصیږی ترڅو چه ددغو مقاموتو څخه تیرنه سی او هغه احوالونه وته ازموئی چه خدای تعالی پرده باندی لطف کړی دی.
صوفیانو دغه خواری په ډیره خوبنی پرځان منلی دی لکه چه وائی:-

گفت عبد الله شمس مغربی      شصت سال است شب ندیدستم شبی

سپردم چو فرزند مریم جهان      نه شام مهیاونه چا شتم

تن اسائی آردروان را گزند      گزند رو ان خوار بگذا شتم

دغه خواری که دښوونځیو او پوهنځیو پرمحصلانو کښینولی سی په دایمی اعتصاب به لاس پوری کړی.
شیخ فریدالدین عطار وائی: ټول مرغان په سیمرغ مرغه پسی گرزیدل او یوازی دیرش مرغان سیمرغ ته ورسیدل دغه شمیر هم زیات دی که ددغی لاری اوږد والی او سخت والی ته وگورو.
دطریقت لومړی مقام (توبه) ده او توبه د غفلت له خوبه دروح راویښول دی داشانی لکه گنهگار چه دخپلی گناه په بدی پوه شی او سخت پښیمانه سی لکه چه وائی:-

قدسی ندانم چون شود سودای بازار جزا
او نقد آمرزش بکف من جنس عصیان در بغل
ابرو میرود، ای ابر خطا پوش ببار
که به دیوان عمل نامه سیاه آمده ایم
لنگر حلم توای کشتی توفیق کجاست
که درین بحر کرم غرق گناه آمده ایم

Marfat.com

دولت وائی :

په گناه د دوست له رحمه نو میدمشه

خود په‌خود درته ناری وهی چه‌راشه

دتوبی په‌آب تیرشوی گناه‌مینځه دغفلت له‌واره‌زنگه‌مصفاشه

حکایت کوی چه یوشیخ اویا ځله تو به و ایستله اوهر ځله یی بیا تو به‌ماته کړه چه‌په پای کی دخدای دایمی تو بی ته‌ورسید. چا د رابعی ښځه پوښتنه وکړه که خدای ته مخ راوگرز وم هغه‌ما ته مخ راگرزوی؟ دی ورته وویله یا ، که هغه تا ته منعطف‌سی‌ته‌وهغه ته مخ ورگرزوی دتوبی پررواق لیکلی سوی دی :- ای هغو کسانو چه ددغی دروازی ښځه راننوزی خپله ځان ځانی په دی ځای کی پریږدی هغه سالك چه توبه گارسو خپل ځان دی دری کاله دطریقت دشیخ ماتحت کړی دریاضت لومړی کال دخدای (ج) خدمت ته وقف دی اود خدای پریر نبه خدمت هغه دی چه د خدای عبادت وکړی لکه چه دولت وائی:-

شریعت‌رشتیاگفتاردپیغامبردی طریقت‌فعل‌کرداردایم‌فرض‌شوی

حذر کړه له غلا زناله‌غیبتو نه دصانع طاعت په واړه ا ند امو نه

پنج‌بناحلال‌حرام پیژند گلی ده عمل کړه‌په واړه حکم په رکنو نه

رحمان بابا وائی:-

نه‌ملکونه‌دسلیمان په‌هزارکاله نه‌یوه گړی طاعت پدی دنیا

یو نفس دخدای په یادوا ولی‌تردی

نه د درست جهان دولت په داد نیا

که نعمت دی خوطاعت‌اوعبادت‌دی

گنه نشته بل نعمت په داد نیا

همداشانی وائی :-

تو بندگی چوگدایان بشرط مزد مکن

که‌دوست‌خودروش‌بنده پروری داند

129553

Marfat.com

طریقش بیقدم میرو ، جمالش بی بصر میبین

حدیثش بیزبان بشنو شرابش بی دهان در کش

راهب او ګستین وائی : - دهغه شی چه عبادت کوی هغه ئې که ښه بره ، ښه بره ئی که انسان ، انسان ئی او که دخدای عبادت کوی د ا به ډیره ښه وی چه څه و نه وایم چه سنګسار می نکړی چه څه کیبری جامی (رح) وائی : -

تو جز وی وحق کل است اگر روزی چند

اندیشهٔ کل پیشه کنی کل باشی

که د ریاضت لومړی کال دخدای خدمت ته وقف دی په دوهم کال کی محض د خلکو خدمت دی . رحمان بابا وائی : -

دست په دست که دخپل کار په درستو ل ئی

لا پحوا تر ځان ړ و مبی د بل په کار شه

او دخلکو دیر ښه خدمت هغه دی چه خپل ځان دهر چا مزدور کړی که نروی که ښځه دمثال په ډول که څوک ځان ځوړ کړی خر څوی او عفو غوښتلو او دری کاله ذقر او در ویزه کولو ور وسته شبلی داسی وائی : -

زه هیڅ نه یم او دهیڅ نه څخه هم ښه ر .

جنید ځواب ورکړ ، او ستا عقیده ښه څنګه شو یده .

دریم کال د جمعیت خاطر ته وقف دی زړه یوه ته وسپاره او د ټولو څخه ئی پری کړه مال د ګور تر څنګه دی او بیا اعمال ، کمال دخاطر څخه د هر ډول وسوسی او بد فکر رفع کول دی دخدای په لار کی یو اړخیز او یو زړه او سه .

دده څخه پر ته بل ته مخ مه ور ګر زوه او دده څخه پر ته بل مه منه چه ستا د بدن سره ګلوسی او ستا هستی ستا څخه پور ته سی لکه چه رحمان بابا وائی : -

چه می ستاو ښکلی مخ ته دی کتلی بل یو مخ ته می نه دی بیا کتلی

همداشانی وائی : -

گفتم تو ان جمال تو دیدن به عشوه گفت گر صافدل چو آئینه باشی هر آئینه

کله چه دخاطر جمعیت کسب سو نو سالک دطریقت دوهم مقام ته چه پر هیز دی رسیږی پر ټولو مسلمانانو واجبه ده چه دحرامو لذتو نو

Marfat.com

شخه پرهیز وکړی خو صوفی ته بنا ئی چه خپله لمنه د ملاهی او مناهی څخه پاکه کړی او هر لذت بیله د حق د جمال د مشاهدی دلذت څخه که څه هم په شرع کی حلال دی حرام وګڼی نو ځکه دریم مقام چه ترك دی د ماد یاتو د ترك څخه پورته دی داځکه چه د متصو فینو فقر یعنی څلورم مقام چه خلو محض او نفی مطلق دی هغه عدم ثروت او د ثروت د خواهش عدم دی لکه چه رحمان بابا وایی :-

که نظر کاخوك په کار د درویشانو خود به وو ینی و قار د درویشانو

همد اشا نی وائی :-

دولت فقر خدایا بمن ارزانی دار کین کرامت سبب حشمت و تمکین منست

نخوا هم لا جرم نعمت نه در د نیا نه در جنت
همی گو یم بهر ساعت چه در سر اء چه در ضر اء
که یا رب مر سنا ئی را سنا ئی ده تو در حکمت
چنا ن کز وی بر شك آید روان بـو علی سینا

دماد یاتو د ترك څخه علاوه صوفی ته لازمه ده چه د نفس په مسك او نفس په هضم کی زیار وباسی، ناصر خسرو د حاجیانو څخه یو وپو ښتی ؟

چون همی خواستم گرفت احرام چه نیت کردی اندران تحریم
جمله برخود حرام کرده بدی هر چه ماد ون کردگار کریم
گفت نگفتمش چو سنگ جماد همی اندا ختی بدیو رجیم
از خود اندا ختی برون یکسو همه عادات و فعلها ذمیم
گفت نه گفتمش چو میگشتی گـو سفندا زپی اسیر و یتیم
قرب حق دیدی اول و کردی قتل قربان نفس دون لئیم
گفت ازین باب هر چه گفتی تو من نداشته ام صحیح وسقیم
گفتم ای دوست پس نکردی حج نشدی در مقام محو مقیم
رفته و مکه دیده آمده باز محنت بادیه خریده بسیم

Marfat.com

رحمان بابا وائی :ـ

دمکی سفر آسان دی مردهغه دی چه له ځانه سفر کاندی سفر دادی

نفس وژل خپل ځان وژل نه دی بلکه مړ کیدل دمخه تر مړ کیدلو دی یعنی جهل ، کبر حسد ، ریا ، دخاطر څخه لیری کول او په زړه کی صدق او خلوص ته ځای ور کول لکه چه وائی :ـ

بزمین چو سجده کردم ز زمین ندا بر امد

که مرا خراب کردی تو بسجده ریائی

به طواف کعبه رفتم بحرم رهم ندادند

که برون در چه کردی که درون خانه آئی

دولت وائی :ـ

معرفت به بی اخلاصه خاصل نه کړ که په ډیر نماز لغړ کاز نگنو نه

رحمان بابا وائی :ـ

عبادت دریا کار څه په کار نه دی لکه غوټه سی په بحر کی مردار شه

دریا خرقه ئی خدای مه کړه په غاړه رحمان کوز دستار تر لی قلندر دی

دصبر ، توکل ، رضا دمقاماتو طی کول یعنی پنځم ، شپږم ، اوم مقام ډیر سخت او مشکل دی صبر تقریباً الهی عطیه ده :ـ

از صبر عاشق خوشتر نباشد صبر از خدا خواه صبر از خدا خواه

دحافظ دغه بیته مخالف چه صبر د خدایه غواړه ، صبر د خدایه غواړه صوفی باید صبر د خدایه ونه غواړی او صوفی بـاید هیڅ شـی دخدایه ونه غواړی ځکه غوښتل د توکل منافی دی :ـ

وائی یو شیخ سند ته ولاړ یدی او لا مبو وهل ئـی نه وه زده ملگری ئی په لوړ اواز دمرستی ناره پرو کړه شیخ ورته وویل یا. ملگری ئی ورته وویل غواړی ځان و وژنی شیخ ورته وویل یا نو ملگری ئی ورته وویل چه نو څه غواړی؟ ده ورته وویل چه غوښتل زما دطرفه نه دی غوښتل دده دی چه هو بکل شی قدیر.

رحمان بابا وائی :ـ

که له خدایه دی وخلکو وته مخ سی

له فردوسه به دی مخ سی وسقرته

Marfat.com

همیشه به در پدر گرزی‌ر تملی
داستوگنی ځای به بیانه مومی چرته

همداشانی وائی:-

قومی بجد وجهد گرفتند دست دوست
قومی دیگر حواله به تقدیر میکنند
ز اندیشه فر و شو لو ح بینش
تو کل کن تو کل کن تو کل

ددغو اوو مقامونو دطی کولو ور وسته چه په خپله دغه کار زیات مشکل او سخت دی‌سالك عارف‌گرزوی یعنی په دی‌پوهیږی چه عارف او معروف اومعرفت‌دری سره یو دی لکه چه وائی:-

دوئی از خودبدر کردم یکی دیدم دو عالم را
یکی جویم یکی‌دانم‌یکی بینم یکی‌خوانم
هو الاول هو الاخر هو الظاهر هو الباطن
بجز یاهو ویا من‌هو کسی دیگر نمیدانم

رحمان بابا وائی:-

هسی‌نه چه واحدی ئی ده له عجزه
په واحد وجود بسیار دی رب زما

میرزا خان انصاری وائی:-

زه به څه وایم چه څه یم
نیست وهست واړه په ده یم
له وحدته پر کثرت سو م
هغه نه سته چه زه نه یم

دتصوف غائی مطلب خدای پیژند نه ده خو مخلوق څه پول کولای سی خالق وپیژنی دحوا سو په واسط نه ځکه چه (هغه) غیر مادی دی دعقل په واسط نه ځکه چه (هغه) دعقل پورته دی:-

نهانی ازنظرای بی نظیر ازبس عیا نستی
عیان شد سر این معنی که میگویم نهانستی

گهی گویم عیانستی گهی گویم نهانستی
نه اینستی نه آنستی هم اینستی هم آ نستی

توچو معنی لطیفی که مجرد ا ز د لیلی
تو چوایت شر یفی که منزه از بیانی

همه پرتو وتو شمعی همه عنصر وتو روحی
همه قطره وتوبحری همه گوهروتو کانی

منطق دمحدود څخه تجاوز نه کوی فلسفه شرك ته محی دکتا بوعلم دتعجب او حجب وړ دی نو خپل زړه ته وګوره چه عرش الله فی قلب المومن. رحمان بابا وائی :-

دخلیل ترکعبی دا کعبه ده لویه
که اباد کا خوك ویران دحرم زړه

همدا شانی وائی:-

بکوه هری رفتم وقندهار
بدیدم درآن زیروبالانبود

بکعبه کشیدم عنان طلب
در آن مقصدوپیروبرنانبود

سوی منظر قاب قوسین شدم
در آن بار گاه معلا نبو د

نگه کر دم اندر دل خویشتن
در آن جاش دیدم دگر جا نبود( ۱ )

---

(۱) ددا کټرهادی حسن د تصوف دمقالی ۷۹ مخ

خدای تعالی خیر محض دی او مطلقه هستی. رحمان بابا وائی:-

هر چه دی سواله خدایه
واړه او ګنه نابود

همدا شانی وائی:-

ای علم هستی ما باتو پست
نیست بخود هست بتو هرچه هست
هست توئی هستی مطلق توئی
هست که هستی بود الحق توئی

خدای تعالی مطلق جمال حقیقی معشوق او ازلی محبوب دی رحمان بابا وائی:-

رنځ راحت د عاشقانو واړه ته ئی دا دروغ دی چه وصال دی یا هجران

همدا شانی وائی:-

هلا تا نغلتی نا که نګوئی که از ما عاشقی وز وی نکوئی
توئی ائینه او آئینه آرا توئی پوشیده و او آشکارا
تو نیکو بنګری آئینه هم اوست نه تنها ګنج او ګنجینه هم اوست
من و تو در میان کاری ندار یم بجز بیهوده پندا ری نداریم

دغه محبوب په ټولو وختونو کی واحد دی دوه تو ب تثلیث تکثر یوازی دده دوحدت او واحدیت ځانګی دی.

میرزا خان انصاری وائی:-

د کثرت په عدد ونو می ځان پټ کړ
اوس ګهی ګهی دغه شم ګهی دایم

همدا شانی وائی:-

در کلیسا بد لبر ترسا ګفتم ای دل بدام تو در بند
ای که دارد بتار زنارت برسر موی من جدا پیوند
ره بوحدت نیا فتن تا کی ننګ تثلیث بر یکی تا چند
نام حق یګانه چون شاید که آب و این وروح قدس نهند

Marfat.com

لب شیرین کشوده وبامن گفت — وزشکر خنده ریخت آب از قند
که گر از سر وحدت آگاهی — تهمت کافری بما مه پسند
در سه آئینه شاهد ازلی — پرتو اره روی تابنا کث افگند
سه نگر دد بریشیم ار او را — پرنیان خوانی وحریر و پرند
مادرین گفتگو که ازیکسو — شد ز ناقوس این ترانه بلند
که یکی هست وهیچ نیست جزاو — وحده لا اله الا هو

کله چه عارف دالهی نور په هیله محان لکه پتن دسوز ولود پاره حاضر کړی هغه دامام غزالی دحجت الاسلام په اساس بـا ید پـه خلوت کی کښینی په ذکر او ورد مشغول ـه سی اوتل لااله الاالله ووائی چه دغه الفاظ بی ارادی ده دخولی څخه جـاری سی او پردی مداومت وکړی چه دحروفو شکلونـه مرتفع سی او یوازی دکلمی معنی پرزړه په لاینفك ډول کښینی. چه زړه دی حالت ته ورسیدی ژر او یا څه په ځنلو دخدای نوردی پیدا کوی(۱) لکه چه حافظ وائی:ـ

از پای تاسرت همه نور خدا شود
در راه ذوالجلال چو بی پا و سر شوی

هاتف وائی:ـ

از مضیق جهات در گذری — وسعت ملک لامکان بینی
آنچه نشنوده گوشت آن شنوی — آنچه نادیده چشمت آن بینی
تا بجائی رساندت که یکی — از جهان و جهانیان بینی

نه دی وی نه زه یم نه دغه وی نه هغه
مکانم لامکان باشد نشانم لانشان باشد
نه تن باشد نه جان باشد که من از جان جانانم

---

(۱) آر، ئی، نکلسن دما ستکس آف اسلام ۴۶ ـ ۴۸ مخ

نه شعور وی او نه شعور دشعور په نیستی و ا لی - چه خپل ځا نته مخ وګرزوی ده ته دی مخ ګرزولی وی چه دخپله ځا نه تعبیر کوی دده تعبیر سی- سی مرغ سیمرغ سی:-

هم زعکس روی سیمرغ جهان چهره سی مرغ دیدندآن زمان
چون نگه کردند در سیمرغ زود بیشک ان سیمرغ این سی مرغ بود
خویش را دید ند سیمرغ تمام بود خود سیمرغ سی مرغ تمام
بود این یک ان وان یک بود این در همه عالم کسی نشنود این
بی زبان امداز ان حضرت خطاب کائینه است این حضرت چون افتاب
هر که آید خویشتن بیند دراو جان و تن هم و تن بیند در او

دطلق معین سی انالحق هوالحق:-

انا من اهوی ومن اهوی انا نحن روحان حللنا بدنا
فاذا ابصرتنی ابصرته واذا ابصرته ابصرتنا

صوفیان وائی چه تصوف طبیعی میل دی چه په انسانی کی وجود لری ځکه صوفی ګری دروح میل خپل اصلی بادار (خالق ته) متوجه کوی. (۱)

علی هجویری غزنوی دتصوف په باب کی وائی :- ځینی صوفیان کا لی اغوستل او په لومړی صف کی دریدل اصحاب صفه ته منسوبوی چیرجی زیدان دغه کلمه دیونانی (سوفیا) دکلمی څخه مشتقه بولی.

## دطریقو پیدا ینبت :

داجتماعی روشونو دفلسفی پیدا ینبت دتاریخ او اجتماعی علومو دمهمو مسئلو څخه دی اوس بشری پوهان په دی و پوهیدل چه دهر ملت قوانین او نظامونه د هغه ملت د اړ تیاو او تمایلاتو څخه نشئت کړی دی د ګوښتا و لو بون په قول آرځو چه دیوه ملت په اړ تیا و او تمایلاتو کی تو پیر نه وی راغلی په نظامونو کی ئی تغیر راتلای نشی هغه نظامونه او امرونه چه دهغه لاندی دژوندی موجوداتو تکامل شته داجتماعی نظامونو تکمیل هم هغه شانی دی نو ځکه نژادی محیطی تاریخی او اجتماعی عوامل او دژوندانه اړتیاوی دژوندانه په طریقو کی پوره دخالت لری او همدغه علت دی چه دانسانی ټولنی په عقلی روحی

(۱) آریانا دائرة المعارف. افغانستان در مسیر تاریخ دښاغلی غبار اثر

او فکری طریقو کی زښته اغیزه کوی د همدغه کبله دی چه په کلامی مسایلو کی دمسلمانانو په منځ کی ډیری فرقی شته همدا شانی په روحی اولاهوتی سیر کی په تصوف کی هم طریقی پیدا شویدی چه هره یوه ئی دخدای لوری ته دضرورت اودخپل عصر درجحان په اساس بیلی قاعدی غوره کړی دی.

که څه هم دعارفانو په قول (الطرق الی الله تعالی بعدد انفاس الخلائق المخلوقات) دی خود صوفیانودهری طریقی دلاربنوونکی شخصه زیار ایستلی دی چه خاص اصول اوضوابط د دغه مقصد د پاره برابر کړی او دخپلی طریقی لاربنوونکی وی چه خدای ته ئی رسوی دتصوف په تاریخ کی زموږ دهیواد صوفیان برجسته مقام لری که څه هم لومړی صوفی ابوهاشم عثمان بن شریك کوفی دی چه په ۱۵۰ ه =۷۶۷ میلادی کی مړدی (چه ثفیان ثوری دده په خصوص کی وائی) من ندانستم که صوفی چه بود؟ تا بو هاشم صوفی را دیدم)

که موږ دتصوف تاریخ سلوه پیړی ته ورسووهلته زموږ دهیواد زیات متصوفین لکه حسن بصری چه زیات عمرئی په سیستان کی تیر شوی دی فضیل بن عیاض تمیمی خراسانی وفات (۱۸۷ ه ۸۰۳) ابراهیم بن ادهم بلخی وفات ئی په (۱۶۱) عبدالله بن مبارك مروزی وفات ئی (۱۸۱) شفیق بن ابراهیم بلخی وفات ئی (۱۹۴) ابوحامد احمد بن خضرویه بلخی ددرجات مقبلین مؤلف چه په (۲۴۰) مړدی‌ستة.

په اسلامی تصوف کی په اصل کی دوه مکتبه موجود دی چه یوئی دبغداد او بل ئی دخراسان دی.

دبغداد په مکتب کی دصوفی گری مسایل پر منبر وبل کیدل او موضوعات ئی ماوراءالماده (متا فزیك) مسایل وه لکه دخدای وجود، دحلول مسایل، قضاو قدر او نور لوی پیشوایان ئی جنید، شبلی، حارث، محاسبی وه ددغه فکر پیشوایانو ډیر ازار ونه او تکلیفونه ولیدل دغه مکتب دهجری لومړی پیړی په آخر کی شروع شوی دی.

دخراسان په مکتب کی دماوراء الماده څخه پرهیز شوی و هغه ئی اسرار اوله ویونکی خبری بللی که به چاانکارځنی کاوه ورته

---

تاریخ اسلام وعرب کوستاولوبون ۴۸۵ مخ

ویل کیدل به (ذوق این باده ندانی به خدا تا نه چشی) دغه ډوله لیکوال وه‌خوخطیبان نه وه زیا رئی یوست چه تصوف داسلامی تصوه‌و سره برابر کړی چه لکه حلاج داسرارو په ویلو متهم نه‌سی په دغه فکری مدرسه کی دری مهم کتابونه دیادونی وړ دی:-

۱- کتاب اللمع دسراج طوسی تالیف (۳۷۰ هـ)

۱- طبقات الصوفیه دابو عبدالرحمن سلمی تالیف (۴۰۰ هـ)

۳- الرسالت القشیری دعبدالکریم بن هوازن قشیری تالیف (۴۶۰هـ)

که اسلامی تصوف دخراسان دصوفیانو په تالیفاتو کی وپلټو دغه خصایص پکښی لیدل کیږی:-

۱- دبیلو اسلامی فرقو په منځ کی روغه اونژدیوالی دانسانی او اخلاقی مساوات پیدا کول.

۱- دعقیدی دازادی او حریت دمبادیو روزنه.

۳- داخلاقی عالی ګټور وتعلیماتو تلقین بشری فاضله صفات او نوع پروری.

۴- دقشریانو، متکلمانو، اخندانو، متفلسفانو دوچو تعلیماتو تعدیل په عالی افکارو او تازه تعلیماتو هغه خلك چه ددوی دافکارو څخه په تنګ شوی وه‌ددوی دتصوف پرافکارو راټولیدل.

۵- دحقیقی ایمان پیدا کول دروح ارامی چه دجدل فلسفی او کلام په دنیا کی نه موندل کیږی.

۶- دریا کاری تدلیس، استبداد دحکمرانانودغرور روحانی ریاکارانو ګمراه شیخانو اجتماعی فریب کارانوددین دمتظاهرینو سره معلمانه مبارزه.

۸- تعلیم او تلقین په فدا کاری، بذل ایثار او توکل او نور اجتماعی مسایل.

مشهورمستشرق سر جان‌مالکم‌هغه کتاب چه‌دایران د تاریخ په خصوص کی لیکلی دی په دغه کتاب کی یو بیل فصل دایران دمذهب او شریعت په خصوص کی لری چه‌دلته زه ځنی مطالب‌دصوفیانو په خصوص کی‌ځنی‌را ترجمه کوم ددغه‌کتاب په ۱۳۷ مخ دوویشتم باب کی داسی راغلی دی:-

ځنی مصنفین روحانی اصولوته درسیدلو دپاره دصوفیانو لاری زیاتی سره بیلی بولی ځنی اصلی فرقی دوی بولی او نوری ئی څانګی بولی او ځنی بیاتر او ورسیږی مشهور

---

(۱) تاریخ ایران مولف‌سرجان‌مالکم ۱۳۷ مخ

ایرانی عالم محمد علی کرمانشاهی وائی (چه صوفیان یو د بله زیات توپیر لري او دغو دا عقیده ده چه د ټولو مرجع دغه څلور اصلونه دي حلولیه، اتحادیه، اصلیه، عشقیه او څنې نیادوی فرقې نوري پرزیاته وي چه تلقینیه او رزاقیه دي او یو بل دوحدتیه په نامه هم پر اضافه شوي دي دغې څېړنې وروسته محمد علی خپله رایه داسې څرګند وي چه د صوفیانو ټول عقاید د دوو مذهبو څخه سرچینه اخلي چه حلول او اتحاد دی او نوري پنځه څانګې چه ور کولې کیږي د دغه دوو مذهبو فروع دي حلولیه وائي چه خدای په کامل انسان کې حلول کوي او اتحادیه وائي چه متحد کیږي لکه د لرګو سره د اور د لمبې اتحاد .

په دغه صورت سره ویلای شو چه صوفیان حضرت محمد صوفي بولي ځکه دوی غواړي چه خپل ویل، کول د پیغمبر د اعمالو او ګفتارو مطابق کړي زیات آیتونه او حدیثونه د خپل مطلب د ثبوت د پاره راوړي د دې جملې څخه یو حدیث چه د اربعه سالکین پر مقاماتو مشعر دی د خدای د رسول څخه نقلوي :-

چه شریعت کښتي ده او طریقت دریاب په آلهي آثار و باندی علم صدف په حقیقت پوهیدل مروارید دی هغه څوک چه د مروارید هوا لري لومړی باید په کښتي کې سپور شي شاه نواز خان دهلوي خپل مشهور کتاب (مرات آفتاب نما) کې وائي :-

چه حضرت علي خپل دوه زامن حسن او حسین او دوه نفره اصحاب حسن بصري ۲۱ تولد (وفات ۱۱۰ ه) او کمیل بن زیاد د حقیقت د عقایدو په ښو دلو مامور کړل د حسن بصري څخه خلافت عبدالواحد بن زید او عجمي حبیب ته رسیږي او دغه پنځه طایفې ده ته ځان رسوي زیدیه چه په صحراګانو او د عالمه څخه لیري ګرزي البازیه د عبدالواحد خلیفه دی چه ماینه نه کوي د چا څخه خواست نه کا او څه چه بې سواله په لاس ورځي خوري ئي ادهمیه په سلطان ابراهیم ادهم اړه لري دوی تل په مسافرت کې وي د خدای د ذکر څخه پرته ملګري نه کوي بهاریه په بصري بهاري اړه لري اسحاقیه، عجمیه چه په حبیب عجمي اړه لري په غرو کې ګرزي او بېله ستر عورته نور کالي نه اغوندي شاقه ریاضت کوي . طیفوریه په ابو یزید بسطامي وفات (۲٦۱) اړه لري نوم ئي طیفور بن عیسی دی او د حبیب

عجمی خلیفه دی (کرخیه) چه په معروف کرخی وفات (۲۰۰ هـ) اړه لری (سقطیه) په سری سقطی وفات (۲۵۰) هاړه لری (جنیدیه) په شیخ جنید (وفات ۲۹۷) بغدادی اړه لری چه هغه بیا د سری سقطی شاگرد دی (کازرونیه) چه په ابو اسحاق کازرونی اړه لری چه هغه بیا د شیخ جنید څخه خرقه اخستی ده (طوسیه) چه په علاء الدین طوسی اړه لری او هغه په پنځم نوبت شیخ جنید ته رسیږی (سهروردیه) په ابو نجیب سهروردی اړه لری چه په پنځه واسطی جیب عجمی ته رسیږی (فردوسیه) د نجم الدین فردوسی مرید دی او هغه د ابو نجیب سهروردی خلیفه دی.

دفرشتی تاریخ وایی: چه ددین داولیاؤ مرتبی څلور دی:-(۱) (صغرای - کبرای - وسطی - عظمی) ددغو څلورو څخه د هر یوه مرتبی دپاره ابدیت - وسطی او نهایت سته او هغه و لیان چه پدی مرتبه کی راځی په عالم کی هیڅکله (تر۳۵۶) کم نه وی او تل دمحتاجینو په کارسازی او د گنهگارانو په شفاعت کولو مصروفه وی.

دصوفیانو لویان ددغی ۵ لسی څخه دری سوه کسه ابطال او څلورویشت کسه ابدال بولی اوه کسه سیاح پنځه کسه او تاد دری نفره اقطاب او یو نفر قطب الاقطاب بولی او کله چه ددوی څخه یو مړ سی دده مادون دهغه ځای نیسی یعنی ترفیع کوی دمثال په تو که له اقطابو څخه دقطب الاقطاب په ځای او داوتادو څخه داقطابو په ځای راځی چه کرار کرار دغسی ترعواموا و مؤمنانو پوری رسیږی ددغی جملی څخه (۹) کسه ارشاد پیژنی او پنځه او تاده دری قطبه او یو قطب الاقطاب دی.

دسفینت الاولیاء په (۹) مخ کی داسی راغلی دی:-

(از کتب مشایخ تحقیق نموده شد که چهار هزار اولیاء الله اند که ایشانرا مکتومان گویند وایشان مریکدیگر را نشناسند وجمال حال خود را ندانند وسه صد تن دیگر از سرهنگان درگاه حق اند که ایشانرا اخیار گویند وچهل تن دیگر را رجبون نامند وچهل تن دیگر را ابدال خوانند وهفت تن دیگر را ابرار گویند وچهار تن دیگر را او تاد نامند وسه دیگر را نقباً خوانند ودوی دیگر را امامان گویند وامامان دریمین ویسار قطب باشند و یکی را از

---

(۱) داخذ پنجو تحفت الاولیا ۲۵ مخ

این طایفه قطب وغوث نامند واین جمله یکدیگر را نشناسند و جماعهٔ دیگر رامفردان گویند که ایشان ازهمه ممتاز وحدود ایشان برطاق باشد مرتبهٔ ایشان مابین نبوت وصدقیت باشد ارزانی‌؟د پیر روښان مرید درونښان دقوله کامل پیر ددغو صفاتو خاوند بولی :

شریعت دی طریقت دی حقیقت ئی معرفت دی
هرچی دا ځلورئی خپل کړی دبابا ادم پرېت دی
بل قربت بل ئی وحدت دی معرفت ئی سرازدی

دفوا ئد الفواد په (۴۲۹) مخ کی داولیاء او ابدالو او اوتادو په خصوص کی داسی راغلی دی:-(۱)

(بعد ازین سخن در اولیاء وابدال واوتاد افتاد بنده عرضداشت کرد که بنده اکنون سخنی از مردصوفی گونه شنیده ام وآن سخن بردل من عظیم گران آمده است فرمود که چه سخن است بنده گفت که آن مرد همچنین گفت که عالم قائم است بربرکت قطب که یکی است واوتاد چهارند وابدال که چهل تن اند واولیاء که چهارصد تن اند در میان خلق همچنین است که چون قطب بمیرد یکی از اوتاد بجای اونشیند.

ویکی از ابدال بجای اوتاد ویکی ازآن چهارصد تن که اولیاء اند بجای ابدال ویکی ازعامه خلق بجای اولیاء. گفت این حکم همچنین نیست حکم چنین است که چون ازآن چهارکس که اولیاء اند یکی کم شود سیصدونود هشت تن بمانند امکان ندارد که کس پیش در این چارصد که اولیاء اند در آید زیراچه در ولایت بسته‌اند خواجه ذکرالله بالخیر این سخن بشنید فرمود که خیر ولایت بردو نوع است ولایت ایمان وولایت احسان ولایت ایمان آنست که هرگاه مومن است ولی تواند بود. آنگاه این آیت یاد کرد (الله ولی الذین آمنو یخرجهم من الظلمات الی النور) اما ولایت احسان آن است که کسی را کشفی وکرامتی ومرتبه عالی حاصل آید )

دپیر انو اوصو فیانو په خصوص کی په عوامو کی ډیر ډول ډول کیسی او نکلونه کیږی که دغه کیسی په هغه ډول چه کیږی دمنلی شی سړی په یو عالم تحیر او تفکر کی اچوی.

---

(۱) فوائدالفواد ۴۲۹ مخ

Marfat.com

دمقامات حضرت خواجه نقشبند قدس سره په ۱۴۹ مخ کی داسی راغلی دی (۱) نقل است روزی حضرت خواجه ما قدس سره در شهر بخارا بودند امیرحسین از قصر عارفان بیامد و بر حضرت خواجه سلام کرد چون نظر مبارك حضرت خواجه بروی افتاد فرمودند امیرحسین بر توچه گذشته است وی خاموش شد فرمودند گفت چند است که تو در صحبت ما میباشی گفت هفده سال است فرمودند درین فرصت هرگز ازما سخنی شنیدهٔ که غیرواقع باشد گفت نی پس چرا نمیگویی وی هیچ نه گفت فرمودند اگر تو نه میگویی من گویم بر صفیحهٔ نگران شده چون خواجه این سخن فرمودند از گردن امیرحسین آوازی آمد بروی او به طرف قفا گشت و قفا به طرف سینه آمد و رنگ وی به سیاهی مبدل شد تا زمان درازی همچنان افتاده بود اتفاقاً عزیزی در آنجا حاضر بود برخواست و در خواست کرد خواجه فرمودند که خاموش باش تو طریقه درویشان را نمیدانی نزدیك آمده است که وی راستی را گوید آنگاه امیر حسین صورت حال را بیان کرد حضرت خواجه فرمودند چون میتوانی دید که حق سبحانه تعالی ما را داده است در حدیث نبوی صلعم وارد است که اتقوا فراسته المومن فانه ینظر بنورالله چرا مارا تشویش میدهی و زود راستی را نمیگوئی گفت بد کردم خواجه دست مبارك خود را برگردن امیر حسین مالیدند بحالت اصلی خود باز گشت .)

دهر ملت د تصوف د پیلورو شونو څخه داخر گندیږی چه دد غی نړی خالق او پیدا کوونکی خدای (ج) دی او دانسان دژوند مقصد دادی چه دغه پاك ذات ته ورسیږی او درسیدلو لاره ئی تقوای پرهیز گاری ریاضت او مجاهده غوره شوی ده او سالك دی مقصد ته درسیدلو دپاره مرشد ، شیخ ، پیرته زیات احتیاج لری لکه مرزا خان انصاری چه وائی : ـ

دمرشد نغوته رو بنا نه ده له ورځی دخپل خوی تاریکی زیاته ده له داجه
که صرایط په کم دلیله توره شپه ده دمرشد دلیل دیوه گنه افروزه

حافظ وائی : ـ

(۱) مقامات خواجه نقش بند ۱۱٤ مخ

قطع این مرحله بی همرهی خضر مکن
ظلماتست و بترس از خطر گمراهی
بمی سجاده رنگین کن گرت پیر مغان گوید
که سالک بی خبر نبود ز راه و رسم منزل ها

که څه هم په لمړی سر کی دطریقت او شریعت په منځ کی توپیر نه ښکاره کیږی او متصوفین هم په قرآن حدیث او تفاسیرو استدلال کوی خو کله چه څه غور او تعمق وکښی و مسی تصوف یوه بیله ځانګړی فلسفه تعقیبوی چه ماوراء طبیعی ته هم رسیږی او په دغه برخه کی دملایانو او پیرانو په منځ کی دنظر اختلاف پیدا کیږی او په دواړو خواو کی داسلام لوی شخصیتونه ستهٔ لکه په صوفیانو کی حضرت فریدالدین عطار (رح) چه په ۶۲۰ هم مړ دی اندلسی شیخ اکبر حضرت محی الدین ابن عربی (ح) چه په ۶۳۸ مړ دی) مولینا جلال الدین رومی چه په ۷۳ مړ دی).

په ملایانو کی شیخ الاسلام حضرت تیمه حرانی (رح) (چه په ۷۲۸ مړ دی) حضرت علامه حافظ ابن حجر العسقلانی چه په ۸۵۲ مړ دی) ابراهیم البقاعی چه په ۸۵۸ مړ دی) شامل دی.

همداشانی نور صوفیان او ملایان هم زیات سته چه یو د بل په طریقت او شریعت کی د نظر اختلاف سره لری حتی پر اوی صوفی محی الدین ابن عربی باندی بقاعی دومره شدید تنقید نیسی چه دهغه لاره غندی همداشانی (حسن بن منصور الحلاج (چه په ۳۰۹ مړ دی دانا الحق ویل او هغه دملایانو د خوا څخه سنګسار یدل دملایانو او صوفیانو داختلاف نظر او یاد لاری او فلسفی د بیلتون څخه څرګند مثال ګڼل کیږی (۱)

حضرت خواجه عبدالله انصاری چه هم متشرع او هم متصوف دی دحسین منصور حلاج په باره کی چه ملایان او صوفیان دده پراقوالو او رویو اختلاف لری وائی (مشایخ در کار وی مختلف بودند و بیشتری وی را رد کنند من ویرا اتبع یرم و نه رد کنم شما هم چنین کنید و ویرا موقوف گذار ید و آنکس که

(۱) کشف الحقایق ۷۹ مخ

او را بپذیرد دوست تر از آن دارم که رد کند..وی امامست در آن جور بود بروی گفته که وی میگوید پیغامبراست و نه چنان بود.. واز مشایخ این کار او نبود که سیرت وی وظاهروی ظاهر عام بود و باطن وی باطن خاص برحلاج بسیار دروغ گویندو بسیار سخنها نا مفهوم و ناراست بروی بندند و کتابهای نا معروف وحیل بروی سازند) ارزانی وائی:-

د منصور رشتیا سبق ؤ    داسبق ئی پرورق ؤ

هرورق باندی ئی کښلی    سر کلام دانا الحقؤ

عاشق دشوق دغلبې او عشق دجذبې څخه بې خوبه وی اود معشوق څخه پرته بل هیڅ نه وینی لکه مولینا عبدالرحمن جامی چه وایی:-

بسکه درجان فکار وسینهٔ زارم توئی

هرچه پیدامیشوداز دور پندارم توئی

داسلام دفلسفې په اساس خدای یوازی او قایم بالـذات دی او دټولو مخلوقاتو رب دی ددغې فلسفې پـه اساس چـه تصوف هم منبع څخه اخلی په وحدت الوجود او وحدت الشهود استناد کوی اسلامی صوفیانو دوحدت، شهودمکتب خوښ کړی او وائی چـه دکتاب اوسنت سره برابر مطابقت لری محقق علما دو حـدت وجود طرفداران هم مغرور گڼی ددوی اقوال که ظاهر آد شریعت سره برابری نه کړی باید تعبیرسی او هغوته بدونه ویل سی.(۱)

وحدت الوجود په یوه وجود عقیده ده او هغه پاك خدای دی او دکائناتو په بیل وجود قائل ندی لکه رحمان باباچه وائی:-

معرفت دخدای څرگند دی په هرڅه کی

سترگی وحوره چه څوك هومره نظر نه کا

په وحدت الشهود کی کائنات دمخلوقاتو دحقیقی وجود یا خدای دذات عکس او سایه ده لکه چه خوشحالخان وائی:-

که مسجد گوری که دیر    واړه یو دی نشته غیر

هغه ځای په سیر گرزم    چه تری نه رسیږ ی غیر

یو می بیا موندپه هرڅه کی    چه می وکړه دزړه سیر

په احوال باندی یو دوه سی    ځکه نشته باندی خیر

---

(۱) طبقات الصوفیه ۲۷۱ مخ

Marfat.com

خوشحال یو وبنی خوشحال دی    ورته ورکځ دی غیر وزیر

میرزا خان انصاری وائی:-

دکثرت دعددونو حساب ډیر دی
دوحدت پر مقام دی بی خدایه کل هیڅ
به هزار پرده که مخ دو حدت پټ سی
دوحدت دوړاندی نه کیږی حایل هیڅ

په یورپ کی ددغی عقیدی پیروان اشپینوزا، اکنو فا نیس او بار منديس دی چه وائی خدای خلاقه قوه ده او داسی ذات چه دمخلوق رنګ هم لری.

هغه وسیله چه سړی دخدای حضور ته بیایی هغه د سالک عشق او تقوای ده چه په ظاهری حواسو علم زده کیږی همداشانی حقیقی علم چه دخدای رضاء او خدای ته رسیدل دی په عشق سره کیږی او تقوی هم باید ددغه عشق څخه سر چینه اخیستی وی ځکه تقوای هغه لاره ده چه په تصوف کی دعشق ستر مقام او منزلت څرګند وی او دغه عشق دی چه عقل او فکر بشپړه وی.

میرزا خان انصاری وایی:-

عشق دعقل ځنی پیدا شه    عشق دعقل مور او پلار دی

دروم مولینا وایی:-

شادباش ای عشق خوش سودای ما    ای علاج جمله علت های ما
ای دوای نخوت ناموس ما    ای تو افلاطون وجالنوس ما

علامه حبیب الله اخند زاده (حبو اخند زاده) په منهاج العابدین کی دزهد او تقوای په باره کی وایی:-

ته په زهد کی دری څیزه    شرط وشماره ای عزیزه
اول فصل د دنیا    ته له ځانه کړه جدا
دحاجت ترحده زیات    که وی واړه کړه خیرات
دویم داچه دفضول    په طلب مه شه مشغول
دریم داچه فارغ زړه شه    ودنیا ته هوس مه کړه

---

(۱) مقدمه ای بر فلسفه ۳۰۳۳ مخ

Marfat.com

علامه حبو اخند زاده د شریعت دحقا نیت او اولیت په خصوص کی په منهاج العابدین کی وائی :- (۱)

شریعت یو راست میزان دی	چه هر حکم تری عیان دی
چه دا خیر دی دا شر دی	دغه نفع دا ضرر دی

په بل ځای کی دطریقت لاره دشریعت په رڼا کی پلټی :-

بایزید بسطامی	چه ولی دی لوی نامی
هم سلطان العارفین دی	هم برهان السالکین دی
په کتاب کی دی راغلی	چه ده هسی رنګ ویلی
چه دیرش کاله ریاضت	و کړه ما په دیر زحمت
ولی نه و لیدېر ځان	ما دعلم ترکارګران

دغه طریقی په خپلو منځو کی په غایه او مقصد کی اختلاف نلری او دغه طریقی په ټوله اسلامی نړی کی دالمغرب څخه بیا ترچین بنګال پوری مروجی دی ددوی تر منځ اختلافو نه لکه دکلامی فرقو اختلافو نه په جدلی منطقی استدلال او فلسفه کی نشته ځو او زیاتر استلی دی دحق درسیدو دپاره لنډی او اسانه لاره پیدا کړی ددغو طریقو څخه کومی چه زیاتی مشهوری دی دادی :-

دشیخ بهاؤالدین محمد بخاری په شاه نقشبندی مشهور (ده او پلار دکمخا بافی او نقشبندی کسب کاوه) نقش بندی طریقه چه په (۷۹۱) کی مړ دی.

دده دزیږیدنی ځای بخارا ده ددغه طریقه دشریعت مطلقه پیروی کوی یعنی دمسلمانی دپنځو بناؤ پوره احترام او عمل کوی په شریعت او تقوای سره دطریقت په لاره ځی په دغه طریقه کی ریاضت او انزواته زیات اهمیت نه ور کول کیږی خو ددنیا سره هم علاقه بیخی نه خوښوی په دغه طریقه کی دکار کو او سره خدای یادول یو فضیلت دی په دغه طریقه کی دفرض، سنتو، واجبو پرځای کولو باندی اصرار کیږی حضرت خواجه بهاء والدین نقشبند په (۷۱۸ کی په بخارا کی زیږیدلی او په ۷۹۱ کی بیا بیرته په بخارا کی وفات شوی دی دسفینت الاولیا په ۱۳۱ مخ کی راغلی دی :- (۲)

از خواجه پرسیدند که طریقه شما جهر و خلوت و سماع میباشد فرمودند که نمی باشد پس گفت که بنای طریقه شما چیست؟ فرمودند که به ظاهر با خلق و به باطن با حق سبحانه

---

(۱) دمنهاج العابدین ۱۰ مخ	(۲) سفینت الاولیا ۱۳۱ مخ

Marfat.com

حق تعالی ده مشهور مريدان خواجه محمد پارسا، خواجه علاؤ الدين عطار، ملا يعقوب چرخي، خواجه علاؤ الدين عجدوانی او نوردی په عمومی ډول نقشبندی طريقه دری اساسه لری :-
(۱) دقرآن، نبوی سنتو او شريعت داحکامو کامله پيروی .
(۲) وحدت وجود دشهود سره نژدی بلل (همه اوست همه از وست)
(۳) دطريقت دسلوك عملی دستور.

نقشبنديان په طريقت او سلوك کی مقامات او اصطلاحات لری چه په لنډه ډول دلته راوړل کيږی :-

دخواجه گانو طريقه (طريقه خواجگان) دتصوف درسالی په (۳۸) مخ کی درشحات عين الحياة په حواله چه فخر الدين علی ليکلی ده داسی وائی :-

(از انفاس نفيسه مولانا سعد الدين کاشغری است (متوفی ۸۶۰ه) واين همان مرد موثر ونافذيست که مخدوم ومرشد جامی است و وقتی که جامی را به سلسله ارادت وار شاد خويش کشيد گفتی شاهبازی به چنگ ما افتاده است.

مبنای طريق مشغولی اين عزيزان آنستکه ميگويند :-
هوش دردم - خلوت درانجمن .

معنی هوش دردم آن است که نفسی که بر می آيد بايد که از سرحضور باشد غفلت راه نيابد وطريقه مشغولی اين است که کلمه طيبه بتمام ميگويندوزبانرا برکام می چسپانند ونفس را در درون نگاه ميدارند اين مقدار که ميتوانند ومتوجه قلب صنوبری می شود که ذکر از قلب گفته شود نه از معده .

هوش دردم يعنی انتقال از نفسی به نفسی می بايد که از سر غفلت نباشد واز سرحضور باشد وهر نفسی که ميزند از حق تعالی خالی وغافل نباشد.

ونظر درقدم :-
يعنی سالك در رفتن وآمدن نظر در پشت پای او می بايد تا نظر او پراگنده شود وبجای که نمی بايد نه افتد.

---

(۱) سفينت الاوليا ۱۳۱ مخ

(۲) د بوهاند حبيبی د تصوف رساله ۳۸ مخ

Marfat.com

خلوت درانجمن :ـ
یعنی خلوت او باید که در میان خلق باشد ظاهرش درمیان خلق و باطنش باحق باشد تاخلق ازحال او واقف نشوند و احوال او را بغارت نبرند .
وسفر در وطن :ـ
یعنی سفر می باید که طبیعت بشری باشد یعنی صفات بشری به صفات ملکی واز صفات مذمومه برصفات مرضیه حمیده انتقال فرماید وبنای مشغولی ایشان برین کلماتست که میگویند :ـ
یاد کرد ، باز گشت ، نگه داشت، ویاد داشت
یاد کرد :ـ
عبارت ازآن است که تکرار کند ذکری را که از درویشی به او رسیده باشد
باز گشت :ـ
عبارت است ازآنکه گویند درعقب هر ذکری خداوندا مقصود من توئی ورضای تو.
نگهداشت :ـ
عبارت ازآنکه درویش دل خودرا نگه دارد ازخطور اغیار می باید که یك ساعت ودوساعت وزیاده ازدوساعت آن مقدار که میسر شود خاطر خودرا نگهدارد ازآنکه غیردر خاطر نگذرد .
یاد داشت :ـ
عبارت ازآنکه دل خودرا بان جناب دارد مجرد ازلباس حرف وصوت وعربی وفارسی ومجرد ازجمع جهات بعضی این معنی را مشاهده میگویند .
روشنی ووقوف :ـ
در طریقه نقشبندی سالك رادرطی مقامات ازده نورچاره نبود اول نورایمان (۲) نوراسلام (۳) نور توحید (۴) نور معرفت (۵) نورهدایت (٦) نور یا کرد (۷) نورباز گشت (۸) نور نگاهداشت (۹) نور یاد داشت (۱۰) نور شیخ .
اولی مقامات سالك آن است که هرگه بمقام یاد داشت نرسیده باشد او هنوز طفل طریقت بود اورا اجازت سخن گفتن نبود وویرا در

طریقت وحقیقت سخن گفتن و بیان کردن حرام باشد وشنونده را فائده نبود و گوینده رانقصان هرچه تمامتر بود .

وقتی سخن گفتن درطریقت وحقیقت اجازت شود که گویا ظاهراو مرگویا باطن اورا درذکری مانع نباشد چون به این مقام رسد اورا در طریقت وحقیقت مردتوان گفتن .)

خرنگه چه ددغه طریقه کی زبده علماو مشایخ تیرشوی دی نو دلته دحضرت خواجه نقش بند صاحب دطریقت سلسله دمقامات حضرت خواجه نقش بند قدس سره دکتاب (۳) مخ څخه عیناً نقل کیږی :-(۱)

برانکه ولادت و نسبت سلسله حضرت خواجه بزرگ قدس سره الله تعالی اعنی خواجه بهاءالحق والدین درمحرم ۷۱۸ ثمان عشر و سبع مائه بوده است ودرعهد عزیزان وگفته اند درشهور سنه احدی وعشرین وسبعمائه بوده باشد مولدو مدفن ایشان قصر عارفان است پوشیده نماند که حضرت خواجه نسبت طریقه و تعلیم ذکر ازحضرت امیر کلال است قدس سره وایشانرا از خواجه محمد بابای سماسی وایشانرا از خواجه علی رامیتنی و ایشانرا از خواجه محمود

بخیر فغنوی وایشانرا از خواجه عارف ریوکری وایشانرا از خواجه عبدالخالق غجدوانی وایشانرا از خواجه یوسف همدانی و ایشانرا از شیخ ابو علی فارمدی وایشانرا از شیخ ابوالقاسم گرگانی وشیخ ابوالقاسم را انتساب در علم باطن بدو جانب است یکی شیخ ابوالحسن خرقانی وایشانرا به شیخ ابویزید بسطانی وولادت شیخ ابوالحسن بعد از وفات شیخ ابویزیداست تربیت شیخ ابویزید او را بحسب باطن وروحانیت است نه به ظاهر وصورت و نسبت ارادت شیخ ابویزید به حضرت امام جعفر صادق رض الله تعالی عنه به نقل صحیح ثابت شده است که ولادت شیخ ابو یزید بعد از وفات حضرت امام است و نسبت امام ویرا بحسب روحانیت بوده است وحضرت امام جعفر صادق را در علم باطن بدو جانب نسبت است یکی بوالد بزرگوار خود امام محمد باقر و ایشانرا بوالد خود امام زین العابدین وایشانرا بوالد خود امام حسین وایشانرا بوالد خود حضرت امیرالمؤمنین علی رضوان الله علیهم

---

(۱) مقامات حضرت خواجه نقش بند قدس سره ۳۰ مخ

اجمعین ایشانرا بحضرت رسالت پناه صلی الله علیه وسلم و مشایخ طریقت قدس الله اسرار وهم سلسلهٔ شریف اهل بیت را از جهت شرفی که دارد سلسلة الذهب نام کرده اند ونسبت دیگر امام جعفر صادق بقاسم پدر مادر امام جعفر صادق است واو ازفقه های سبعه است (رض) وویرا نسبت ارادت به سلمان فارسی است ووی را باو جود دریافت شرف صحبت رسول الله صلی الله علیه وسلم نسبت از امیرالمؤمنین ابی بکر صدیق (رض) است. بعدازانتساب بحضرت رسول الله صلی الله علیه وسلم وباز شیخ ابوالقاسم گرگانی را نسبت ارادت باطن به شیخ ابو عثمان مغربی است ووی را به ابوعلی کاتب مددی را با بوعلی رود باری ووی را بجنید بغدادی ووی را بسری سقطی وویرا بمعروف کرخی وویرا بداؤد طایی وویرا بحبیب عجمی وویرا بحسن بصری وویرا بامیرالمؤمنین علی کرم الله وجهه وایشانرا بحضرت رسول الله صلی الله علیه وسلم واصحابه اجمعین. دشیخ عبدالقادر جیلانی طریقه (۴۷۱ - ۵۶۱) (شیخ عبدالقادر گیلانی چه په ډیرو نومونو لکه غوث الاعظم دستگیر او نورو یادیږی په گیلان کی په ۴۷۱ ﻫ زیږدلی دی او پلار ئی سید ابی صالح موسی نومید ده په کو چنیوالی کی قرآن زده کړ او ددینی علومو دتحصیل دپاره بغداد ته ولاړ هلته ئی تفسیر احادیث اخلاق دابوسعید المبارک مخزومی څخه ولوستل او دهغه لاس نیوی ئی وکړ او ۲۵ کاله دعراق په زنگلو او غرو کی دخدای په عبادت اخته ؤ دده مشهور تالیفات غنیة الطالبین، فتوح الغیب او مکتوبات دی ده زیات مریدان او اخلاص مندان درلودل دمشهور وارشاداتو څخه ئی یو دادی:-

(قول داسی دی لکه جسم او عمل لکه روح ددنیا او مال مینه دزړه څخه وباسی حرام رزق مه خوری دپا چاهانو سره ناسته او ولاړه زړه سخته وی غوث الاعظم په ۵۶۲ کی په بغداد کی مړدی.)

دخواجه معین الدین حسن سکجزی چشتی طریقه په هند کی (چه په ۶۳۲ کی مړدی) خواجه معین الدین سجزی چشتی اجمیری په ۵۳۷ ﻫ دافغانی سیستان په سجز نومی کلی کی زیږیدلی دی او چشتی ئی ځکه بولی چه دده دطریقت او ارادت سلسله پر اوم پښت حضرت خواجه ابو اسحاق شامی چشتی علیه الرحمه دشیخ علو دینوری مرید ته رسیږی او چشتی دلومړی ځل دپاره دهغه لقب ؤ چشت په هرات کی یو

Marfat.com

داسې مردخیزه او صاحب حال خلکو را پاڅو نکې مځکه د ه چه
هرڅوك داحترام په سترګه ورته ګوري دخواجه معین د پلار نوم
غیاث الدین حسن ؤ چه د نسب سلسله ئې په څورلسم پښت حضرت
علی کرم الله وجهه ته رسیږي حضرت خواجه دمغربي افغانستان
دمدرسو ليدلو وروسته په ۱٦ کلن سن سمرقند او بخارا ته ولاړاو
هلته دعلم دین رسیده استادسواو دبیرته راتګ په وخت کې دایران
دنیشاه پور نومي ښار په هارون کلی کې دحضرت خواجه عثمان
هاروني ملاقات ته ورسید او دهغه په مریدانو کې شامل سو.
دافغانستان ، د ایران او بخارا زیات پیران او مرشدان دسلطان
شهاب الدین غوري دغزا ؤ په وخت کې هند او پاکستان ته تللی
دی په دی پیرانو کې دقادریه، سهروردیه، چشستیلی دطریقو پیروان
موجود و او خپله سلطان دحضرت شهاب الدین سهروردی مرید
ؤ په اصل کې سهروردیه دقادري سلسلې معنوي ښاخ دی ددی
دواړو طریقو مرکز بغداد دی دخواجه سهروردي روزنه حضرت
عبدالقادر جیلاني کړې ده فرشته تاریخ لیکي:ـ حضرت خواجه
معین الدین چشتي دقطب الدین ایبک په زمانه کې اجمیر ته راغلی
او دهغه پاچا دنمایند، له خوائی تو دهر کلی وسو په دهلی کې
ئی په وعظ نصیحت ارشاد او سلوك شروع وکړه او زیات مریدان
او عقید تمندان ئې پیدا کړل دحضرت خـواجـه دمشهورو خلیفه
ګانو څخه حضرت شیخ احمد کابلي دی چه په ۵۹٦ کې په بنارس
او حضرت شیخ احمد غلزی چه په (٦۰۳) په قنوج او حضرت احمدخان
دراني چه په (۵۹۰) کې په اجمیر کې شهیدان شول او حضرت خواجه
سبزیاد ګاري چـه په ٦۴۵ کې په کندهار کې وفات شوی دی
حضرت خواجه معین الدین د٦۳۳ درجب په ٦ په اجمیر شریف کې وفات
شوی دی.

دسفینت الاولیا په ۱۵۹ مخ کې راغلي دی:ـ(۱)

(بعد از رحلت بر پیشانی حضرت خواجه نوشته یافتند (حبیب الله
مات فی حب الله ) وعـرس ایشان را مشایـخ هند در ٦ رجب میکنند

دعلی بن عبدالله شاذلی طریقه(۵۹۳ - ٦۰٦ ه)

دحجته الاسلام محمد بن محمدغزالی طریقه(۴۵٦ - ۵۰۵)

---

(۱) اخبار الاخیار فی اسرار الابرار ۱۵ مخ ۳۲ مخ

Marfat.com

د شیخ بهاؤالدین سرور دی طریقه (چه په ۶۴۲ هـ کی مړ دی)

د شیخ عبدالقادر جیلانی په دعا خدای شیخ محمد عمر ته په (۵۳۸ هـ) د رجب په میاشت کی یو زوی ورکړ. او د حضرت جیلانی په خوښه ئې شهاب الدین عمر نوم باندی کښینود د نسب سلسله ئې حضرت صدیق رض ته رسیږی د امام شافعی په مذهب ؤ په ۶۳۲ کی په بغداد کی مړ دی د ده څخه خورا لوی پیرار مرشد جوړ شو او زیات مریدان او پیروان ئې پیدا کړل چه د هغو څخه حضرت شیخ مصلح الدین شیرازی، قاضی حمیدالدین ناګوری (وفات ۶۴۳ په دهلی کی) شیخ بهاؤالدین ذکریا ملتانی (۵۶۶ ئې تولد وفات ئې ۶۶۶) او نور یادونی وړ دی دده د پلار نوم وجه الدین بن کمال علیشاه قریشی ؤ د حنفی مذهب ؤ په فقه، حدیث، اصولو کی عالم ؤ د وخت قطب او غوث ؤ.

د شیخ بهاؤالدین ملتانی د بهائی طریقه (چه په ۶۵۶ هـ) مړ دی

د شیخ نجم الدین کبری طریقه چه په ۶۱۸ هـ کی مړ دی.

شیخ نجم الدین کبری ځکه ورته وائی چه په ځوانی کی د مباحثی په وخت کی پر هر چا غالبیدی ځکه طامت الکبری ئې بولی کرامتونه ئې ډیر دی: یوه ورځ خانقاه ته نژدی ولاړ ؤ چه پر یو سپی باندی ئې سترګی ولګیدلی چه د احترام او بخشش په حال کی وو پرده باندی پریوتل د نبار سپیان راټول وه او د احترام او بی غرضی په حال کی به لیدل کیدل هغه وخت چه دغه سپی مړ شو شیخ هغه ښخ کړ او پر قبر ئې عمارت جوړ کړ مولینا ځکه وائی:-

یک نظر فرما که مستثنی شوم

سګک که شد منظور نجم الدین سګانرا سرور است

هغه وخت چه هلاکو خوارزم ته ورسیدی شیخ عمر تر ۶۰ اوښتی ؤ خپل اصحاب ئې لکه شیخ سعدالدین حموی، شیخ رضی الدین علی لالا (وفات ۶۴۲) او نور ئې ورو غو ښتل او ورته وی ویل چه بلاد تلو نکی ده چه خلاص یده څخنی نسته تاسی خپلو وطنو ته ولاړ شی زه دلی مقابلی ته پاته کیږم همداسی وشوه (۶۱۸) دده مشهور مریدان شیخ مجدالدین بغدادی، بابا کمال خجندی، بهاءالدین د مولینا جلال الدین رومی پلار او نور دی.

د شیخ شعیب بن حسن مغربی طریقه چه په ۵۴۹ هـ کی مړ دی

Marfat.com

دحضرت سید علی همدانی طریقه چه په ۷۷۶ هـ مړ دی دده دپلار نوم شهاب الدین محمد دی چه دشیخ شرف الدین محمود مزدقانی مرید او دخپل پیر په گفته ئې بر ځایې نه گرزیدلی دی او د ۱۴۰۰ صاحب دلو خلقو سره ئې صحبت کړی دی کشمیر ته دده راتلو له کبله اسلام اشاعت پیدا کړ قبر ئې په ختلان کی دی .

دسید احمد رفاعی طریقه چه په ۵۱۲ ـ ۵۷۸ هـ کی مړ دی .

نوری داسی دتصوف طریقی هم شته چه یوازی یې په هند کی شمیر ۱۴ ته رسیږی .

څرنگه چه سید فقیر الله حصارکی په قطب الارشاد الطریقه ارشادکی وایی ددغو طریقو څخه زیاتره ذکرونه او مشابه مشترک ترتیبونه لری .

دنقشبندی طریقه په افغانستان او سند کی حضرت شاه فقیر الله حصارکی ننگرهاری مروجه کړیده دده مشهور مرید په کندهار کی اعلیحضرت احمد شاه بابادی حضرت شاه نقشبند صاحب وایی ـ زمونږ طریقه صحبت دی په خلوت کی شهرت دی او په شهرت کی آفت دی خیریت په جمعیت کی دی او جمعیت په صحبت کی (۱)

دهمدغه کبله دی چه په عیسویت کی مطلق رهبانیت تعدیلوی او وایی : ـ لارهبانیة فی الاسلام ددوی لیاره دنفرد څخه د عالم کشف منطق دظاهر عالم سره توپیر لری ـ دحقیقت الامتیاز په عالم کی شیان توپیر لری داولیاؤ کرامت او خرق عادت دوی جملی څخه دی .

رحمان بابا وایی : ـ

پادشاهی دگدایانو په دعا شی

زه رحمان ځکه پادشاه شوم چه گدا یم

ددنیا پادشاهان خو است کړی له فقیره

ته پادشاه ده سی ملک شه خو است کړه شه

---

(۱) تجلیل پنجصد و پنجاهمین سال تولد نورالدین عبدالرحمن جامی ص ۲۰۶

دلو مړی پېړی صوفیانو کراماتو ته دو مره اهمیت نه ورکاوه قشیری وائی :-

(که کوم کرامت دولی شخه صادر نه شی دده ولایت ته نقصان نه رسیږی.

د تذکرة الاولیاء په دوهم ټوك ۱۱۹ مخ کی راغلی دی(۱) (ابوعلی جوزجانی گفته صاحب استقامت باش نه صاحب کرامت که نفس تو کرامت خواهدو خدای ستقامت) ځینی صوفیان وایی چه د ولیانو څخه د جذب او بیهوشی په وخت کی کرامت صادریږی ولی دوی په خدای کی محوه وی دروم مولینا د مثنوی په دوهم ټوك کی د بایزید بسطامی د(سبحانی ما اعظم شانی) قصه اودده د مریدانو د اعتراض په خصوص کی وایی :-

| | |
|---|---|
| با مریدان آن فقیر محتشم | با یزید آمد که یزدان |
| چون گذشت حال وگفتندش صباح | تو چنین گفتی واین نبود صلاح |
| گفت این بار ار کنم این مشغله | کارد ها در من زنید آندم هله |
| هر که اندر شیخ تیغی میخلید | باژ گو نه اوتن خود میدرید |
| یک اثر نه بر تن آن ذوفنون | وان مریدان خسته درغرقابخون |
| ای زده بر بیخود ان ذوالفقار | برتن خود میزنی آن هوشدار |

جامی د نفحات الانس په ۲۷-۲۸ مخ کی لیکلی (انواع خوارق عادات بسیاراست چو ایجاد معدوم و اعدام موجود واظهار امری مستورو ستر امری ظاهرو واستجابت دعا وقطع مسافت بعیده در مدت اندك و اطلاع بر امور غائبه از حس واخبار از آن وحاضر شدن در زمان واحد در امکنهٔ مختلفه و احیأ موتی واماته احیاو سماع کلام حیو انات نباتات وجمادات از تسبیح وغیر آن واحضار طعام وشراب در وقت حاجت بی سبب ظاهر وغیر ذالك ...

چون حضرت حق سبحانه تعالی یکی از دوستان خود را مظهر قدرت کامله خود گرداند درهیولای عالم هر نوع تصرفی که خواهد تواند کرد وبالحقیقت این تاثیر وتصرف حق سبحانه تعالی است که دروی ظاهر شود ووی در میان نی .. ) فوائدالفوا د په ۲۰۲ مخ کی د مجلس سوم ترعنوان لاندی داسی لیکی :-

---

نفحات لانس ۳۴۸ مخ تذکرة الاولیاء دوهم ټوك ۱۱۹ مخ

سه شنبه دوازدهم ماه صفر ختم الله بالخیر والظفر سنه مذکور به سعادت دست بوسی رسیده شد. سخن در طائفهٔ افتاد که دعوی کرامت کنند وخود را به کشف معروف گردانند فرمود که این معنی چیزی نیست بعد ازان لفظ مبارک راند (که فرض الله تعالی علی اولیائه کتمان الکرامته کما فرض علی انبیاء اظهار المعجزة) پس اگر کسی کرامت خود را پیدا کند ترک فرض کرده باشد چه کار کرده باشد بعداز ان فرمود که سلوک را مرتبه نهاده اند هفدهم مرتبه کشف وکرامت است اگر سالک همدرین مرتبه بماند به هشتاد وسه دیگر کی رسد.

خو اوسنی ساینس دغو ټولو ته مادی تفسیر ورکوی او زیاتره په علمی او طبیعی صورت حل کوی دمعرفت النفس د تحلیل دفن او پټو روحی قواوو دتجزیه څخه کار اخلی لکه په عقیده او ایماؤ سره معالجه، دفکر، تلقین، توجه، په اراده کی تصرف کول په مقناطیسی خوب کی القاوو تلقین او داسی نور.

خو په اوسنی پیړی کی دد یالکتیک منطق زیات ترر واج لری او هګل د غه منطق د مادی محیط د احتیاج په اساس به تقویه کړ که څه هم ددغه منطق دتقویی دپاره طبیعی علماؤ لکه پاستور، داروین، پلانګك. فروید او نور وزیات خدمت وکړ. ددغه منطق سیر په لومړی سرکی داجنه او دار و احو بیاد مذهب بیاد فلسفی او وروسته دعلم په څیر تکامل وکړ. ددغو اصولو په اساس څرنګه چه بشر د طبیعت پر مهمو قواوو غلبه وکړه پرخپله اجتماع به هم غلبه وکړی.

## «آیا تصوف مادی ریښی لری؟»

آیا تصوف مادی ریښی لری:- داخو ښکاره ده چه په مغز فکر کیدلای شی، مغز ماده ده او فکر ددغی مادی دخواصو څخه دی په تجربه دا ثابته شویده که مادی محیط لکه نور دتود وخی درجه. رطوبت او داسی نور تغیرو کړی دژوندی موجود په ساختمان او داعضاو په وظیفو او عملیاتو کی هم تو پیر پیدا کیږی مغز هم د دغو قوانینو تابع دی اجتماع هم د خارجی اغیزه ناکو عواملو څخه ده او اجتماع یوه داسی پراخه ؤسسه ده چه دانسان هر ډول ارتباطونه پکښی دی. که موږ غیر ګولیان چه ددوی دمغزجو ړښت

تقریباً یو شانی دی په بیلو جوامعو کی چه په هغوکی دموادو دتولید طرز، کرهڼه، صنعت، آداب، رسوم، مذهب او نور په منځ کی توپیر موجود وی تربیه کړو ددغو دوو ډولو دتفکر په طرز کی به زیات توپیر موجود وی همداشانی دکښېوالو او سپیدوونکی او قصر او سپیدوونکی په منځ کی دتفکر په طرز کی زیات توپیر موجود دی نو دهر ژوندی موجود فکر د ټولو هغو مادی عواملو نماینده دی چه په ده او یا دده په نیکونو کی موجود وی ځکه چه د اقتصادی اوضاعو له کبله د یوی ټولنی افکار به څرګندیدلای سی نو په دغه اساس دتصوف شروع موږ په یونان کی ( ۷۰۵ ) کاله دمیلاد دمخه څیړو :-

دیونان ځمکی د مدنیت دشروع دپاره ډیر استعداد درلود ددهمدغه کبله چه هلته ابتدائی مدنیتونه شروع سوه او اجتماعی طبقی پیدا سوی او د کرهڼی څخه چه څه زیات عایدات پیدا کیدل دهغو دپاره دخرڅلاو ځایونه پلټل کیدل چه د همدغو پلټنو په سلسله کی ابتدائی صنایع لکه دکښتی جوړول، دټوکرانو او دل دلوښو جوړول، اسلحی جوړول پیداشول دتوری بحیری، مصر او ایټالیه په ځمکو کی ئې مستعمری پیدا کړی دهغو بریالی جنګونو په نتیجه کی چه دوی کول بندیان په ګوتو ورتلل چه یونانیانو به په دغو بندیانو شاقه کارونه کول او د مریانو په څیر به ئې په کرهڼی کښتیو چلولو کی استفادی ځنی کولی یونانیان په دی وخت کی دقضایاو په علت نه پوهیدل نو ځکه ئې دهری قضیه دپاره لکه ژوندی انسان داسی یو ژوندی عامل پیداکوی چه د همدغو عواملو له کبله وو چه ارباب انواع پیدا شول په دی وخت کی دهغو کسانو د پاره چه محروم او شاقه کارونه ئې کول باید دتسلی یوه وسیله ئې درلودلای چه همدغه وسیله ئې تصوف سو چه د روح په بقاو دلذاتو او شهواتو په بریښولو معتقد شول .

څرنګه چه بدنی شاقه کارونه مریانو کول نو دطبیعی قضیو پلټنه متوسطی متمولی طبقی ته پاته شوه دوی د سیاحتو او پلټنو په سلسله کی داساطیرو او ارباب انواعو په مقابل کی ودریدل چه دغه قیام په هند کی د برهمنیانو په مقابل کی د بودیزم په چین کی کنفیو شیوس او لاوتسی پیدا کیدل دی په دغه وخت کی د بنګړو یوه آزاده طبقه او یو مرکزی حکومت هم پیدا سو تالیس د کسوف پیش بینی وکړه انا کسندرس علم مادی ګڼلی او هراکلیت ددیالکتیک اساس ای دتکامل قانون بیان کړ .

په‌دی وخت کی چه تولید دمریانو په شاقه کار پوری مربوطو دتضادونو د پیدا کید لوله کبله مخ په کمبود و نیوی ددمو کراسی او ارستو کراسی اختلاف شدید کیدی کار کول عیب گڼل کیدی او دمریانو دزیاتوب او بیکاری له کبله اجتماعی ژوند په خوښی او آرامی نه سو تیر ید لای دصنعت او تخنیك رمزونه مریانو ته نه ور ښودل کیدل نو ځکه (۴۰۰) کاله دمیلاد دمخه د اتن دجامعی وضعیت ښه نه ؤ دجامعی یوی طبقی په سفسطه، جدل، فصاحت او بلاغت او بله طبقه شرنگه چه اجتماعی موازنه خرابه وه مذاهبو او ارباب انواعو ته بدبینه سول او تصوفی عقاید و مخ را ونیوی سقراط، افلاطون، ارسطو په ایدیالستی افکارو مشغولـه شول او دطبیعی فلاسفه ؤ مخالف ئی ښه والی، بدوالی، وظیفی، ټولنی او اخلاقی موضوعاتو ته ئی زیات اهمیت ورکاوه ددوی عقاید و ته په منځنی او نوی پیړی کی اعتبار ورکول کیدی افلاطون به‌ویل (حقیقت زموږ په مدرکاتو کی ستهٔ.)(۱)

دمادیت په نظر هندی تصوف:ـ

هندی تصوف هم چه دطبقاتی جامعی داصل څخه نشئت کړی دی هندیان ئی په خپله طبقه کی دپیدا کیدو پـه علت پوهید لو مجبور کړیدی (گورما) چه د (سانزارا) دنتیجی څخه دی یعنی په یوه طبقه کـی دیـوه چا پیـدا کـیدل د هغه داعمالو له کبله دی که ئی اعمال ښه ؤ په ښه طبقه کی پیدا کیږی او که بدوه په بده طبقه کی پیدا کیږی او دغه بر همنی مذهب دی چه پـه تناسخ عقیده لری ددغه طبقاتی مذهب په مقابل کی بودیزم دریږی او وائی چه په قربانیو سړی نه نیکمرغه کیږی او دپستی طبقی څخه نه خلاصیږی ترڅو جسمانی لذتو نه پرینږدی بودا طبقاتی جامعی ته دمادی تغیراتو په اساس تغیر نه ورکـاؤ داځکه چـه دده د منافعو سره ئی ټکر خوړ نو ځکه ئی دی دفانتیزی په فکر کی غرق کړی وو.

دده په مقابل کی هندی مادیون راوپا ریدل او د (لوکاياتا) (ثنیا) عقیده ئی راپیدا کړه او وی ویل چه په نړی کی یوازی خوړك او چینگ دی دغه عقیده یوشمیر سوداگرانو او صنعت کارانو

---

(۱) فلسفه شرق ۲۵۴ مخ

درلوده او غوښته ئې دمذهب دېځا په مکلفیتونو ښځه ځانونه وژغوري دوی دبودیزم ددې عقیدې سره چه په دنیا کې هر شی غم او الم دی مخالفت وکړ او وی ویل چه غم او الم په اجباري توګه یو دېل دښځګه موجود دی دوی ماده حقیقي موجود ګڼله دروح بقائې نه منله برهمنیان چه خلك دروح په بقا او قربانیو ورکولو معتقد کوی غواړی ددې دقربانو ښځه خپل دژوندانه سویه عالي او خوند وره وساتی.

عیسوی تصوف:ـ

عیسوی تصوف دیهودیانو په ترلاس لاندې کام کې پیدا سوی دی دغه تصوف دمرکزی حکومتو دجوړیدلو او دروم دامپراطوری دتأسیس سره مصادف دی عیسویت چه په اصل کې د یهودو دیو کوچینی ملت تصوف وو زیاته ترقی وکړه او د منمدنو هیوادونو تصوف سوا سا سمادی شرایطو داسی تقاضا کوله که دعیسویت تصوف نه وای راغلی ځای ئې یو ملی بل تصوف اشغالولای سو خو دعیسویت دتصوف دپاره ترنورو تصوفو شرایط مساعدوه.

عیسوی تصوف لومړی ځله دهغو مریانو او بندیانو په منځ کې پیدا سو چه دروم امپراطوری ته راوستل کیدل په دغه وخت کې ددوی دتسلی دپاره حتمی یوداسی طرز تفکر ته ضرورت وچه دظاهری فشار ونو او غمونو ښځه په تلقین نجات ورکړه سی او عیسوی تصوف ئې ښه لاره وه چه ویل ئې :ـ ددنیاد خوار یو عوض په اخرت کې ورکول کیږی. هغو مادی عواملو چه دیونان تصوف پیدا کړ او بیا ئې هغه مدنیت وران کړ همدا شانی ئې دعیسوی تصوف افکار پیدا کړه او دروم امپراطوری ئې دمنځه یووړه.

اسلام او تصوف:ـ

دسعادت په عصراو دراشدینو خلفاؤ په وخت کې مسلمانان ددین په اشاعت او داسلام په ترویج سخت مصروفه وه په هغه وخت کې دعربستان ملی او قومی شلیدلی شیرازه بیرته ورټوله سوه او ملی یووالی پیدا سو په عربستان کې ترځلو ښت زیات تجارتی مرکزونه تاسیس سول او دنوی اداری تشکیلاتو ضرورت حس سود اسلام دخپریدلو دپاره هر ځای تبلیغات او مبارزی کیدلی چه په دغه وخت فکر کولو او یا مأیوسیو ته لږ وخت پاته کیدی.

Marfat.com

څرنګه چه موږ په یونان، چین، هند او نورو ځایونو کې وليدل هغه وخت چه یوه طبقه په خپل ځان کې دقدرت حس وکړی بیا نو دخپل ځان دخطا ایستلو اوتیا نه ورته پیښیږی مادی او منطقی فکر کوی او کله چه ناتوانه وی دخپل ځان دخلاصولو دپاره چاره ونه وینی نو ایډیالزم ته په مغز کې لاره ورکوی په یونان کې تالیس، دموکریت او اتستانو په هند کې لوکو پاتا په چین کې موتی مادی فکر کاؤ خو افلاطون، بودا، کنفوشیوس، تولستوی غیر مادی فکر کاؤ دیأس او نا امیدی په دوره کې وه.

دامویانو له خوا د ترلاس لاندی ملکو نو پر خلکو باندی فشار او زحمت وو دامویانو تجمل پرستی او کورنی جنګو نو دشروع له کبله کوم فکری یووالی چه داسلام په سر کې موجود ؤ هغه ئې متزلزل کړ او یوی طبقی جنګ چه اسلام ددوی دمادی ګټو څخه مخالف ؤ اسلام ته ئې بد بین کړل دغې طبقی څرنګه چه دخپل ځان دخلاصولو دپاره مادی علاج نه درلود نود عرفان په جامه کې ئې په مخالفت شروع وکړه او دزنادقه ؤ او طبیعیونو عقاید پیدا سول پدغه وخت کې دجبر، اختیار، قضاء او قدر مسئلی څیړ لی کیدلی د جبر طرفداران په اقلیت او تهدید کې پاته سول نو ځکه قضاء او قدر ته تسلیم سول ځنی زنادقه ؤ مانی عقیده درلوده خو عبدالله بن مقفع مادی فکر کاوه اعلم بن ابی العو جا سر سخت مخالف ؤ حتی کعبې شریفی ته ئې هم ښه نیت نه درلود او دقضیو دحل دپاره ئې استدلال کاوه خو اید یالستان لکه بوعلی سینا، فارابی الکندی، ابن رشد او نور دعرفاؤ او ماديونو په منځ کې وه د عباسیانو دمغلو بیت سره (۶۵۶) دوی سلسای موازی عقاید پیدا سول په مرکزونو کې دعرفان او اید یالزم اصول ضعیفه او دمرکزونو څخه لیری دطبیعیونو زنادقه ؤ او فلاسفه ؤ افکار غالبه ؤ ددغی دوری دعرفان دپلی څخه معروف کرخی، منصور حلاج، بایزید بسطامی، حسن بصری، سفیان ثوری او نور ددوی ټول په دریمی پیړی کې وه.

په دوهمه پیړی کې داسلامی مرکز څخه لیری حاکمانو او امیرانو پر خپل رعیت فشار راوستلی ؤ بزګران او وړو کې صنعتګران سخت استثمار یدل او یوه طبقه په ټولو اسلامی هیوادونو کې د مرکزی حکومتونو معاش خواره او نمایندګان وه چه

پرخلکو باندی به‌ئی دخلیفه په نوم ټول ټول فشار ونه راو ستل په دی وخت کی د افلاطون او ارسطو آثار ترجمه سوی وو او ددغو کتابونو دا غیزی څخه دوحدت‌وجود، حلول‌او اتحاد عقاید دعرفاؤ په منځ کی رواج سوی وو ددغوعقید وپیشروان معروف، جنید، شبلی، اومنصور حلاج‌ووکه په منصور باندی دوژلو امروسوهغه دانه ووچه ځان ئی خدای بالله خود خلیفه دقدرت او مطلقیت په مقابل کی ئی خپل تشخص او استقلال اعلاموی‌ځکه دعباسیانو دوزیر احمدابی‌العباس له‌خواد مرگ حکم باندی وسو دغه عرفاؤ په اخر کی مجبوره سول چه دخا نقاه په گوښو کی په پټه دعرفان په نامه مخالفت‌وکړی او ظاهرا په خوله څه ونـه وائی او خپل ځانو نه دپټوا سرارو مخزن وگڼی هغه وخت چـه دخلافت مرکز بغداد په (۶۵۶) کی مغولو ونیوی اسلامی ثقافت‌او مدنیت ئی بیخی دتباهی سره مخامخ کړ خلك دمغولو دفشارونو او ظلمونو اوددرنو مالیاتو څخه په تنگ سول او دخلاصون‌چاره ئی هیڅ نه لیدل بیله دی څخه چه دتصوف او عرفان په لمنه‌پوری ځان ټینگ کړی چه تسلی ئی وگرځی ددغی دوری لوی صوفـی محی‌الدین ابن‌العربی، القشیری اندلسی دی (۵۹۰ - ۶۳۸) مشهور اثرونه ئی فصوص الحکم او فتوحـات المکیه دی. ددغی دوری تصوف وحدت الوجود، اساسی تکیه په عشق او مینه باندی، دعقل تحقیر، قناعت، عزلت تشویق دی لکه مولینا چه وائی :-

پای استدلالیان چوبین بود　　پای چوبین‌سخت بی‌تمکین بود

ابتد ائی انسان دوسا ډلو دنه ارلو لـه کبله دهر ډلوه زیـات ضعیفه ؤ د سایکالوجی ( علم الروح ) په کتاب کی داسی راغلی‌دی :-(۱) تصوف‌ازابتداء تمسك برای بشر بوده خواه برای نفوذ درمیدان تاریك حقایق وخواه برای تسلی‌از صدمات‌طبیعت بشر ساده برای فهم و بر طرف کردن آنها قادر نبو ده است یکی از

عوامل مهم عقاید ثقافتی این است که بشر ساده دو قسمت بکلی متمایزو متفاوت در خودحس‌میکندونمی تواندآنها را بایکدیگر مربوط سازد یعنی روح را بکلی موجود ومستقل وجـدا از بدن میداند و مردن یعنی باقی ماندن جسم ور فتن روح ایـن عقیده را تقویت میکند موضوع اساسی در این جا پیدا کردن رابطه‌روح

---

(۱) سایکالوجی ۲۵۹ مخ

Marifat.com

وجسم ویا بعبارت دیگر میان (فکر) و (وجود) میباشد .
دهٔیری پخوا زمانی راهیسی چه خلکو لا دخپل جسم په باره کی معلومات نه درلودل دخوب او خیال په واسطه ددغو رابطو دکشفولو دپاره لګیاوه او روح چه ئی مستقل موجود ګڼلی دطبیعت ټول شیان ئی دروح سره بلل دغه حالت دټولو ملتونو په تاریخ کی یو شانی لیدل کیږی او دهر کام دما یتا لوژی اثار دهغه کام د نژادی خصوصیتونو، جغرافیانی موقعیت او نورو مخصوصو حالتو کی لیدل کیږی که جامعه دفرد سره مقایسه کړونو زمانه باید دهلك دوړو کوالی ددوری سره یو شانی وبولو چه په دغه دوره کی هلك دویری څخه مافوق الطبیعه قدرتونو ته پناه وړی ویره او احتیاج دټولو ثقافتو مور ده څرنګه چه ئی تکلیف نه سی رفع کولای دثقافتی عقاید وتو پیر پیدا کیږی دمځکنی بیلو ار بابو انواعو څخه یو ه خدای ته عقیده پیدا کوی زردشتی، یهودی، عیسوی او نور عقاید پیدا کیږی او په دغو عقاید کی نور هم اصلاح طلبان موندل کیږی اصلاح سوی عقاید هم دخلکو دمادی ژوند سره رابط لری دغه دول عقاید عمومی په سرمایه داری دورکی پیدا سوی ددغه وخت څخه عقیده ضعیفه کیږی خپل میدان علمی عقیدو ته پریږی دی .

دغه دری مهم خاصیتونه دی چه دعقیدو اصل ته تاوان رسوی عقیده د علم سره اختلاف لری صحیح عقیده باید ثابته عقیده وی خو علم متغیر دی او متمدن انسان دخپلو ادراکونو څخه منکرید لای نه سی که عقیده دعلم په شانی تغیر وخوری نو هر حالت ئی مطلق صحت نه پیدا کوی عقیده دخپلو پیروانو په منځ کی اختلافو نه پیښوی ، عقیده تل د مقتدر وطبقو دلاس آله ګرزی د عقیدی او علم دتضاد په خصوص کی د ا مثال راوړل کیږی باران د خدای رحمت دی او د ده په اراده کیږی خو دعلم هوا په اساس په خارجی علت یاد اعمالو په بدوا وښو تعلق نه لری خارجی علت نه ور کوی په خپله په هغه کی لی د علت او معلول لر و یه لټوی حتی مصنوعی باران هم اوریدلای شی .

دسایکالوجی په ۲۶۴ مخ کی دعقیدی د ضرورت په باب کی داسی راغلی دی :-

(اغلب اشخاص سطحی و بی‌فکر که دنیای امروز را می‌بینند بدون فکر عمیق عقیده‌را عامل فاسد میدانند و بعضی اوقات هم عقیده دارند اگر عقیده نبود جامعه بشر بیشتر ترقی کرده بود این ادعا را فقط از اشخاص سطحی میتوان توقع داشت و بس عقیده‌ها نند تمام تجلیات مهمه روح در تاریخ بشر کار مخصوص را عهده دار شده وچون تاریخ وجود آنرا ایجاب مینموده است بظهور رسید در این باب کافی است که وضع زندگانی قبائل عرب را در زمان ظهور اسلام ویا اندکی قبل از ان در مد نظر بیاوریم در این موقع وضع زندگانی اجتماعی اعراب محتاج تغیرات واصلاحات اساسی بوده وتقسیم کار وایجاد شعب مامورین مختلفه از قبیل صاحب السقایه وصاحب الدرایه وغیره تمام شاهد این مدعا است و چون وجود عقیده لازم بوده پس در پیشرفت اوضاع اجتماعی نیز کمک نموده است چیز یکه است باید عوامل تولید وترقی وتغیر آنرا با ملاحظه روابط علت ومعلولی بطور صحیح مدنظر گرفت .

دمټر یالستي نظریه په اساس په تاریخ کی هغه اساسی عامل چه دچارو حدود ټاکی په انتهائی حد کی دشیانو تولید او په خپله د جاری ژوند تولیدمثل دی . مورگان دما قبل تاریخ دپاره دوحشت بر بریت او مدنیت دوری ټاکی او انسان د مدنیت په لومړی مرحله کی اجداد پسند بولی وحشت هغه دوره ده چه په دی کی انسان دا قدرت پیدا کړ چه هغه طبیعی تولیدات چه د استفادی دپاره تیاروی اختصاص کړی او کوم شیان چه انسان په دی دوره کی را او استل په اصل کی هغه آلات وه چه د غه اختصاصول آسانه کړی . بربریت هغه دوره ده چه په دی کی د مواشیو دنسل دروزلو اود مځکی دکرهڼی پوهنه پلاس راوړه سوه او دبشری فعالیت په وسیله دطبیعت دتولیدی ظرفیت دزیاتولو لاری او چاری زده سوی .

دمدنیت دوره چه په دی کی د طبیعی تولیدا تو څخه دزیاتی استفادی او په اصلی معنی دصنعت اودفن پوهنه پلاس راوړه سوه په دی دوری کی دملکیت بیل اقسام اودهغه دساتنی دپاره اداری راووتلی چه دانسان ترادارى وو تلی خومورگان وائی په اخیر ی بشری عقل پر ملکیت غالبه کیږی او هغه دا جتماع په خیر اداره کوی .

Marfat.com

بورژوازی پوهان لکه پ ، ډبلیو شمت P. W. Schmit او نور په دې عقیده دی چه انسان دخپل ژوند په اومړی سر کی پر ما فوق طبیعت اعتقاد درلود دخدای عبادت ئې کاوه . خو وروستنی تحقیقات وائی دلړ بری پیړی انسانان په عقیده نه پوهیدل دضعیف مغز تکامل اجازه نه ور کوله چه دا ډول مجرد مفاهیم درك کړی دنوی ډبری په پیړی کی (د میلاد دمخه د۴۰-۱۲زرو کالو پوری) چه اقلیمی شرایطو څو ځله تغیر و کړ یخچالونه کښینستل داروپا او سائبر یا هوا معتدله سوه په دې وخت کی تولید ی وسایلو هم تغیر و کړ د چقماق ډبری څخه شیان جوړ سول ددغې دو ر ی په پای کی د هلو کو او ښکرو څخه هم کار اخیستل کیدی (۱)

دثقافت پیدا ینت په عمومی ډول دغه دوه مهم اساسونه لری:-

دانسان رابط د طبیعت سره، دانسان رابطه یو د بل سره . ابتدائی انسان چه د طبیعت محکوم ؤ قهراً ئې پراجنه ؤ او اروا حو عقیده درلوده که یوه ساده ملت لکه مصر او چین ته وګورو څرنګه چه دوی دطبیعت په قوا وو ژوند کاوه نود همدغه کبله پر نو ر، لمر او باران ئې زیاته عقیده درلوده دخپلو نیکه ګانو او قوم د او امرو او قوانینو ئې متابعت کاوه دغه حالت دژ یړ تکم په عقید و کی زیات لیدلای سو نو ددې څخه څرګند یږی چه بیله یو سلسله مادی قوانینو چه په جامعه کی دافرادو روپه او ثقافت تشبیتو ی بل څه اثر نه لری په جامعه کی دافرادو درابطی مدا خله هغه وخت زیاتیږی چه طبقاتی اختلاف زیات سی نو په دې وخت کی حا کمه او مقتدره طبقه ثقافت دخپلو ګټود سا تلو دپاره استخد امو ی او ټول باورنه او معتقونه پرخواره طبقه اچوی د ما دی جر یا ن او شرایطو او ښتلو په اساس بشر دا ډول طرز تفکرونه پیدا کړ یدی هغه وخت چه انسان په جدا جدا کورنیو کی اوسید دهری کورنی انسان جدا معبود درلود اوهری کورنی دخپلو اجدادو روح محترم ګڼلی کله چه دکرهڼی ژوند شروع سو کلیوالی معبودان پیدا سول ښاری

---

داوریجن آف دفیملی پراویټ پرا پرټی اینډ د سټیټ ۲۳ مخ

ژوند شروع سو کلیوالی بتان په‌ښاری بتانو بدل سو ل بیادا یالت معبود و گرزید وروسته ئی دملی معبود مقام پیدا کړ هغه‌وخت چه بیل ایالتونه دیوحکمران تر اداری لاندی راغلل دمعبود انو تجسم هم مرکزیت پیدا کړ واحد معبود وپیژندل سولمړنی عوامل داسلام او عیسو یت په خصوص کی یو شا ن نه دی که څه هم اسلامیت عیسویت یهودیت دسامی نژادو څخه شروع کیږی.

زر کاله د میلاد دمخه دفلسطین اقتصاد کر هڼه اومالداری وه صنعت دکرهڼی څخه بیل و و آهنگر انو چه د کر هڼی آ لی تو لیدولی‌دفنیقی ښارو نودترقی له کبله‌ئی کار پرمخ تللی‌په‌فلسطین کی د اجتماعی روابطو تکامل له‌دی‌کبله وو چه عبر ی کو چی قبا یل اقتصا د ی او اجتماعی محیط ته راغلل چه‌هلته تجارت سود خوری او مالکیت ټینګ رواج درلود دغوعاد تو نو پخوا په فنیقه اوکنعان کی رواج درلود نو په عبر ی ټو لنه کی ئـی متناقض حالات پیدا کړل له یوی خوائی د طائفوی نظا م بقا یا ساتل له بلی خوا خصوصی مالکیت، سو د خو ر ی له کبله دخلکو ژوند زیات سختیدی په دی وخت کی بزگر انو یوا ز ی په منفی مقاومت اکتفا نه کوله دعمر ی کو رنی د سلطنت د و خـت څـخه اسرائیلیان‌دحکمرانانو اومشرانو په مخالفت‌راولاړ سوی ووچه‌حتی ددوی پیغمبرانو دټولو بارو نا نود ضعیفه کیدلو او و ر کو لو پیشگوئی کوله دغه حرکتونه که څه‌هم په اجتماعی انقلاب بد ل نه‌سول بیائی د(کال) قانون‌دیادونی وړدی.

اسلام په بدوی عربو کی پیدا سو دعربستان په بیا با نو کی څه نه مو ندل کیدل او دهغه ځای قبایل یو د بل په دښمنی اخته وه او مجبور وه چه‌دځان دپاره دخارج څخه لا ر ه پیـد ا کړ ی عیسا ئیانو په استقلال ژوند کاوه ددوی دروم تمدن دیا د و نی وړدی اسلام ځکه چه په ښاو خوا ملکو نو کی خپریدی یوواحد خدای ئی پیژاندنور ټول واړه او لوی بتان ئی ورك کړل څرنګه چه زیردست قوم‌نه‌وونوطبقاتی‌اختلافو نه‌زیات نه‌پکښی لیدل کیدل او نسبی استقلال ئی درلود دهمدغه کبله لکه عیسویت په اغراقی ډول‌دصلح طرفدارنه‌دی جهاد او دفاع ئی دوه مهم فصلونه‌دی.

عربستان مهم تولیدی یاصادراتی مال نه درلود چه دچا سره تجارتی روابط ولر ی د تمد ن مر کز نه ؤ چه علمی رو ا بط ئی در لود لای نوځکه ئی ثقافت باید ټول احتیاجات رفع کړی‌وای

همدا ډول سوه خو عیسویت نور عوامل درلودل دغه په یو زېردست ملت کې (یهودیان) پیدا سویدی همدا شان د مقتدر ملت (رومیانو) مریانو او تر لاس لاندې خلکو کې پیدا سوی دی په دې ځای کې د اجتماعي هیئت مادي اداره تر لاس لاندې خلك برابروي او ثقافت ئې ترمیم ته اړتیا لري.

نو ثقافت چه په یوه داسې ملت کې پیدا کیږي طبیعي ددوی دخاطر تسلي باید وکړي او دنیائې په نظر خوار او رذیلې نو دهمدغه کبله عیسویت د رهبانیت او د دنیا سره بې علاقګۍ تائید وی د لته دا سوال نه سي پیدا کیدلای ځکه چه دغه ثقافت په زېر دسته طبقه کې پیدا سویدی باید انقلابي وي یوه زېر دسته طبقه هغه وخت اجتماعي اوضاعو ته تغیر ورکولای سي چه خپله د قوانینو د ایجاد قابل وي لکه د ملوك الطوائفي په دوره کې چه قدرت د امراوو په لاس وو بورژوازي طبقه قادره وه چه قوانین وضع کړي خو کله چه فشار او زېر دستي د غلامي درجې ته ورسیږي نو دا قدرت په تر لاس لاندې خلکو کې زائلیږي.

د زردشت مذهب چه ښکاره دوی جنبې درلودې د حاکمې طبقې اجتماعي او سیاسي علایق وه چه غوښته ئې پرکارکوونکو او زحمت کښونکو باندې ئې د (رڼا) او یا (وحدت) په نامه مشروع وایسوي دهمدغه کبله وو چه په دغه مذهب کې د حکمرانانو اطاعت او د حاکمې طبقې په ګټه صادقانه کار کول توصیه کیدله.
د زردشت د مخه په پخواني ایران کې هم د انسان ضعف د طبیعت په مقابل کې ښکاره کیدی ځکه قبایلو مقدس حیوانانو لکه د سپیانو او غوایانو عبادت کاوٌ د حیوان پیژندنې Totemisme د علم بقایاوې ښه ترا څرګند وي په دغه وخت کې د مځکې، اوبو، اسمان اور عبادت کیدی د زردشت فلسفه د مشر په مقابل کې یوه لویه او عظیمه مبارزه ده او زردشت لومړی سړی وو چه مذهب ئې د جادو او اوهامو څخه خلاص کړ او د اخلاقیاتو په ټنګه پایه ئې ودرولی د زردشت د عقایدو په اساس ښه انسان د مړینې وروسته ښه او بد انسان به د مړینې وروسته په عذاب وي د ښه فکر نتیجه ښه عمل او د بد فکر نتیجه بد عمل.
کرهڼه یوه مذهبي فریضه وه د لوی والی دری نخښې وې چه اوړ خلك ئې

دمصیبت په وخت کی رشتیا پر ینږ دی دزردشت مذهب دایران ملت چه فلاح ؤ دخلکو دژوند داو ضاعو تر ا غیزی لاندی راوست دمشال په تو گه کرهنه ددغه مذهب دپیروانو لوی شغل وه او د ایران طبیعی اوضاع هم دضدینو څخه جوړه شوی وه لکه دآب اوهوا زیات توپیر آباد ځایونه اود ښتونه دغوعنا صرو په مذهب کی د خالات و کړی دوه متضاد جسمونه ئی پیدا کړل ښه اوبد یا یزدان او اهریمن ۰

مذهب په هند کی : ـ په هند کی یو نیم زر کاله دمیلاد دمخه داوسپنی عصر شروع سو خلکو داو سپنی دآلو په واسطه ځنی ځنګ ځایونه اوځنګلونه پاک کړل اوسختی ځمکی ئی دکښت وړو گرزولی د ګنګ ا و منځنی هندځمکی آبادی شوی دلته ښارونه جوړ سول او عالی تمدن پیدا سود ـ (هاراپا) ددوری مخالف چه په هغی کی دمر یانو دټولنی څخه په فرضی ډول خبری کیدلی په دی وخت کی د مر یانو دوره په حقیقی تو گه شروع سوه ډیر پخوانی وید Vedas یعنی ریگوید ا ( ) دمر یانو څخه زیاتی خبری کولی دوی دداز یا Dasya په نامه یادیدل چه معنی ئی (رانه بلل شوی دښمن ) دی لومړی مریان جنگی بندیان وه او وروسته خلکو د فقرا و بیچارگی په واسطه دغلامی حلقی غاړی ته واچولی کله چه دمر یانو دغه زمانه بشپړه سوه داشترا کی اول نظام بقایالا پاته وه په هند کی دو لت هغه وخت پید اسو چه جا معه په طبقو تقسیم سوی وه اشر افیت دقبیلوی حکومت واگی په لاس نیولی وی او ددغه په واسطه دمر یانو دزیات محکو مولو او دلمړنی اشترا کی نظام دبقایا وو مطیع کولود پاره کا ر اخست کیدی ۰

دقبیلی رئیس را جا په یو ډول حکمران واوښت ور وسته ئی بیا دطبقی شکل واخست او دمراتبو سلسله پیداسوه آزاد خلک په څلور وارنا ( Varna ) چه کـا ست ( Caste )هم و ر ته ویل کیږی وویشل شول قبیلوی اوطایفوی اشرافیت په دوه وارنا و ویشل سو برهمنیان کشا تریان په لومړی روحانی طبقی کی داخل شول نظامی اشراف په دوهمی ډلی کی را غلل داشترا کی ټولنی لو یه بر خه وار نای او (اسیارانو) جوړوله دی آزاد وخلکو په اشترا کی ټولنه کی هیڅ شی نه در لود دقبیلی په تصمیما تو او مذهبی مراسمو کی ئی

تاریخ جهان باستان ٢٦١ مخ

د اشتراك حق نه درلودو روستني وارناته ئې (شودرا) Coadras وېله افراد ودیوه وار ناڅخه بل وار ناته د انتقال حق نه درلود د کښتو وارنا مجازات د عالي وارنا مجازاتو په نسبت ډېر سخت او سنګين وو د برهمن مذهب د مریانو په جامعې کې ؤ اشترا کې لمړی نظام مذهب (چه څه برخه ئې دویدونو په واسطه څرګنده شوې ده) طبیعي قواو او حیوانا نو ته ئې الوهیت جنبه ورکوه له دغه مذهبي اعتقاد و نه د جامعې د اړتیا و و سره برابر و ه خدایان

دحکمرانانو او نجیبزادګانو طرفدار وو روحانیونو د تناسخ نظریه وړاندې کوله د برهمن مذهب ځکه چه په هند کې زیات قبایل موجود وه او مرکزي حکومت موجود نه وو په ټولو ځایو کې یوشانې نه وو او بیل الهه موجود وو چه لوی خدای شیوا Civa بلل کیدې د میلاد د مخه زر کاله پخوا په هند کې د هند د دولتو په منځ کې جنګونه جاری وو د تولید د قوا وو تکامل د مړ ئیتوب روابط قبیلوی نظام کرار کرار دنا بودی سره مخا مخ کړ او استبدادی دولتونه پیدا سول د څلور مې پیړی په پای کې داریوش د هند ځنې برخې ونیولې د هند د ثروت آوازې مقدونې سکندر هم راوپاڅاوه خو د مقدونیانو سلطه تر ۳۱۷ د میلاد د مخه په هند کې هیڅ پاته نه شوه (۵۰۰) کاله د میلاد د مخه چه د مریانو نظام په هند کې تکامل پیدا کړی وو او لوی دولتونه هلته پیدا شول چه د برهمن مذهب نه سو کولای چه د دوی اړتیاوې رفع کړي. د هند په فلسفه کې هر ډول افکار موندل کیږي د هند فلسفه د یوی خوا څخه ټول شیان خدای بولي Panetheism خو د بلې خوا څخه ټول شیان په خدای کې وینې Pantheism د یوی خوا څخه دایډیالیزم څخه مایه اخلي د بلې خوا څخه مټریالیزم څخه بحث کوي له یوی خوا څخه خدای پیژندنه روا جوی او له بلې خوا څخه الحاد د یوی خوا څخه اعلی خیر محبت بولي د بلې خوا څخه حق قدرت ته ور کوي د دغو فلسفو څخه شپږ فلسفې دیادوني وړ دي:-

۱- دسانکیه فلسفه ۲- دچارواکه فلسفه ۳- د سیا یه فلسفه (۴) دو یدانت فلسفه.

۵- دوی شیه سیکه فلسفه ٦- د مـی ما مسه فلسفه. د هند فلسفې پولونه څلور دي:-

۱- پروا پکشا Purvapaksha هغه څه چه پخوانیو ویلي دي.

۲- خندانا Khandana (د پخوانیو پر فکر انتقاد)

۳ـ يوتارا پکشا Uttarpak sha (دتازه فکر شرح)·
۴ـ سيدهانتا Siddhanta (دتازه فکر نتيجه)·
دهند فلسفه په دوه ډوله ده·
۱ـ استيکا (الهامی فلسفی افکار) ۲ ـ ناستکا (ازاد او مستقل فکر. دهند فلسفی سيستمونه سره مربوط دی دمثال په توگه دسانکيه فلسفه دجوگ دنظری فلسفی جنبه لری دچارواکا مسلك او دجين فلسفه دناستيکه او سانکيه او نيايه او ايسه شه فلسفه دويدانی ليکنو څخه مايه اخلی دويدانته او ميما مسه فلسفی د (استيکه) دفلسفی دډولو نو څخه دی دهند دزياتو فلسفو دپاره تفاسير ليکلی سويدی دغه تفاسيرو ته (سوترا) ويل کيږی لکه برهما سوترا (دويداد فلسفی تفسير) (سوترا جی مينی) د سانکيه دفلسفی تفسير (کوتمه سوترا) دويسه شيکه د فلسفی تفسير (سوترا پتنجلی (جوگ دفلسفی تفسير) (برهما) (مقدس قوت) چه په هندی فلسفه کی زيات اهميت لری هماغه نهائی حقيقت دی چه دعمل د دنيا مافوق دی څکه هيڅ زحمت او رنځ نه لری څکه په هغه ځای کی چه عمل Karma نه وی دعمل ميوه چه رنځ دی هم به نه وی دجوگ سعی داده چه (برهما) ته په رسيدلو سره دعمل دشر (کرما) څخه په امان سی دهند دفلسفی په اساس په دری ډوله (برهما) ته رسيدای سی·
۱ـ Gyna Marga دعلم طريقه ـ ۲ Bhakti Marga داحساساتو په طريقه
۳ـ Karma Marga دعمل طريقه ـ دبرهما قوت زموږ په وجود کی دننه ستنه او هر گړی اماده دی چه زموږ دپاره خدمت وکړی په دی شرط چه موږ خبر شو
دويدا سرو دونه دمذهب دتاريخ پخوانی دوره ده په دی: وره کی (برهمن) مذهب عمومی وو برهمنان چه روحانيون وه مخصوصه طبقه ئی درلوده دثروت او تمول اختلاف دخلکو په منځ کی زيات وو څکه اقتدار دروحانيونو په لاس کی پاته وو بيا هم دغه مذهب پر عوامو باندی يو ډول فشار راوست څکه تعديل ئی بوديزم پيدا سو·
مقدونيان په هند کی چند رگوپتا موريامات کړل او دده دلمسی اشوکا (۲۷۳ ـ ۲۳۷) ق م په وخت کی ټول هند د جنوبی سيمو څخه پرته دده تر لاس لاندی وو په دغه وخت کی په هند کی توليدی

Marfat.com

قوی مخ په زیاتیدو وی او سپنه د آلاتو جوړولو د پاره د نورو فلزاتو په نسبت استعمالیدله د مځکې کرل دژوند اساس ایښې ؤ.

د بودا دمذهب پیدا کیدل هم داجتماعی اوضاعو بدلون له کبله ؤ دهند دشمال څخه خارجی قومونو پر هند حمله وکړه او ددغی حملی په نتیجه کی مریان پیدا سول یوی طبقی خلکو دغه مریان استثمار ول او په نتیجه کی طبقی پیدا سوی چه مهمی ئی برهمنیان، جنګی خلك، ازاد خلك بذکراو تجار مریان وه دغه طبقی مجبوری وی چه په سلسله سره دخپل پلار کسبو نه وکړی او بلی طبقی ته تللای نه شوی ددغو مصائبو او فشارو څخه خلاصیدل غیر له مذهبی تسلی بل شی نه و وطبقاتی اختلافو نه هم ورځ په روځ ډیریدل ځکه بودا پیدا سو بودا دبرهمنیانو دمذهب مخالف ؤ قربانی ئی دمصائبو رفع کول نه بلل بلکه ویل ئی ددنیا دلذتونو څخه باید صرف نظر وشی دبودا افکار دعلت او معلول څخه نشئت کوی وائی دهر انسان وجود دده داعمالو نتیجه ده هستی هم شر دی او نه باید چه وی ژوند درد دی او ددرد دور کولو دپاره دغه څلور چاری ستنه (۱) درد Dukha (۲) شهوات Samudaya (۳) دشهوت داورمړ کول Narga (۴) داصلاح طریقه Marga

دبودا مذهب دځو لحاظه مترقی دی پرما وراء الطبیعه تکیه نه لری په طبقی، رسومو او ادابو مقید نه دی بودا هیڅکله خپلی نظریه صحیح نه بولی او وائی ممکن ما اشتباه کړی وی بودا خپلو شاګردانو ته وائی چه بی دلیله زما افکارو نه منی د بودا څخه یو شاګرد پوښتنه وکړه چه ایا عالم ابدی دی او پای نه لری ده ورته وویله چه دعالم په ابدیت کی بحث کول څه ګټه نه لری زه ددی دپاره یم چه دژوند دمحنت دخلاصو لو څخه چاره در وښیم څرنګه چه دغه مذهب لکه زردشت داصنافو دپاره ګټه در لوده نو په هغو کی ژر شایع سو خوورو سته د اجتماعی شرایطو دبدلون له کبله کمزور سو بیا دکارما فلسفه چه دټولو حقایقو مبدائی ادراکات او تاثیرات ګڼل پیدا سو او دا دیو ډول متریالیزم فلسفه وه.

دتاریخی طبقاتی تحلیل له کبله په هند کی دحیواناتو روزل او پیول په کښتکری کرار بدلیدل دماهیانو نیول او ښکار اهمیت نه درلود او داودو نکو او صنعتکارانو نوکرانو او کښتیانو جوړ لو په واسطه دهند سره تجارتی بحری لاری خلاص کړی دنقری او مسوسکی پکارولو یدی خو بیا هم دموریا دکورنی دولت لکه پخوانیو

کلاسیکو هیواد و نو د ومره تکامل نه وو کړی په دغه وخت کی نه لوی املاک موجود وه او نه د کار موسسی مریانو د حکمرانو او اشرافو په ځمکو کی خدمت کاوه د تولید اتو عدم انکشاف او د اشتراکی اولیه نظام د بقایا وو موجودیت په هند کښی د پدرسالاری دوره را وستی وه د آشوکا په وخت کی په هند او افغانستان کی بودیزم زیات مروج وو په افغانستان کی د آشوکا د دوری ډبرلیکونه په کندهار او نورو ځایونو کی موجود دی.

(۱) د تصوف رساله چه پوهاند عبدالحی حبیبی د کابل د اد بیاتو د پوهنځی د پاره لیکلی ده ددغی رسالی په دوهم مخ کی داسی راغلی دی : -)در ادیان قدیم آریائیان هندی هم عناصری به نظر می آید که مشابهه با افکار تصوف است این فکر در تاریخ شرق ریشه های قدیم داشته و از اسلاف به اخلاف منتقل شده است مثلا رسم خرقه پوشی استعمال سبحه از قرن ۹ میلادی به بعد در صوفیان اسلام رواج یافته که اصل هندی دارد از ینرو وقتیکه هیون تسنگ زایر چینی در سال ۹ه برای زیارت معابد بودائي الی افغانستان آمد و در هر جا راهبان خاکستر نشین در مغاره های کوه ها و حجرهای معابد یافت که هدف آنها تزکیه نفس رهائی از آلایش های دین بود.

په هند کی د فیو دالیزم پیدا کیدل د میلاد په لمړی پیړی کی د جنوبی برخی په څوکی پر مخ و لاړ ی او په شمالی کی ئې وړاندې تو ب په ځنډ و د هندیانو ځمکی د اوسپنی په آلو کرای کیدلی او او کو دونه ئې ور کول په صنعت کی مجسمې فولادی او مفرغی ځلی جوړ یدل په ډبرو کی معبدونه جوړ یدل چه د حجاری صنعت ئې منکشف کړی وو خو بیا هم د مریتوب نظام پکښی معلومیدی مریانو نه د اشرافو او حکمرانانو په ځمکو کښی کار کاوو په دغه وخت کی د آزادو خلکو د کار کولو فکر پیدا سو چه دغه فیودالانو حکومت به د قرضی دور کولو په عوض کی اشرافو، جادوگرانو او افسرانو ته د ځمکی لوی ټوکران ور کول مالیات به هم غیر مستقیم د دوی په واسطه تحصیلیدل په نتیجه کی د ځمکی لوی ټوکران پید اسول او آزاد بزگران د دوی په رعیت و اوښتل حکومت په دی وخت کی موروثی شکل پیدا کړ ډیر وروسته پاته قبایل (په مرکزی او جنوبی هند کی ) د انحطاط په وخت کی د مریانو حکومتونه د تمدن ټولو مزایا و ته ورسیدل په دی ډول مستقیم بیله دی چه د مریتوب د

(۱) رساله تصوف پوهاند عبدالحی حبیبی.

Marfat.com

دوری څخه تیرشی بلی مرحلی ته چه فیوډالی دوره سیدل په همدغه وخت کی فیوډالان دقبیلوی اشرافو څخه راووتل د بوداییانو معبدو نو ته زیات املاک داشتراکی جوامعو سره و. بخښل سول نو ځکه د بو داد مذهب روحانیون کرار کرار فیوډالان کیدل په دوی پوری داشتراکی جامعی دغړو تېرلو څخه د سرفانو طبقه جوړه سوه نو ازاد بزګر په سرفانو واوښتل اجتماعی موقعیت ئی هم ځکه وابسته د مځکه چه دوی ته واسپیاوېل کیدل اوس دشودرا په نامه جذب شول نود بودا په مذهب کی د توجه وړ تغیرونه راغلل هغه کوښښونه چه د غه دین ئی په حکومتی دین اړ اوه ناکام سول په ښاروتو کی که بودیزم راغی خو په کلیو کی ئی په مطلق ډول اثر نشوا چولی نو ځکه مجبورا دغه مذهب باید د کلیو دعرفاو عاداتو سره باید یو ځای پاته سوی وای نو د همدغه کبله ئی شکل واوښت او په آخر کی داسی ګډ مذهب څخنی جوړ شو چه هندویزم اوس نومیږی.

دکونفوشیوس مذهب هم په چین کی د همدغو عواملو له کبله وو په چین کی د ډېری پخوا زمانی څخه انسانانو ژوند کاوه د شوکوتی ین ( Chou-Kou-Tien ) په غار کی (پکن ته نژدی) د چینی انسان سنان تروپ ( Sinanthrope ) بقایا لیدل شویدی چه د جسمانی وضع له رویه د پیتک انتروپ ( Pethecanthrope ) انسان سره شباهت لری چینی انسان د اور څخه استفاده کولای سوه د ډبرو الات ئی جوړول لوی حیوانات ئی ښکار کول پیوان چو ننګ ( Peiouentchoung ) د دغه غار په پورتنی قشر وکی د داسی انسان بقایا موندلی دی چه په جسمانی لحاظ زموږ سره شباهت لری د میلاد د مخه ۲۵ - ۵۰ زره کاله پخوا اوسیدل.

دنوی ډبری د پیړی شروع کو ونکی یانګ شاو بیله شکه د چینیانو نیکه ګان دی د هغو انسانانو تمدن چه د شوکوتین د غار په پاسنی برخه کی ئی بقایا پاته شویدی د ډبری په پخوانی پیړی اړه لری په هغو آلاتو چه د کوار تراو رود خانی له ډبرو څخه جوړ سوی وه او هم ئی په ښکرو و هډوکو کولای سو د ماهی ښکار و کړی هغه صد فونه چه په شوکوتین کی پیدا سویدی د مبادلی ابتدائی شکلونه څخنی فهمول کیږی د یانګ شاو دزمانی خلکو کورنی ژوند درلود سپی، آس ئی اهلی کړی وو په مځکه ئی ایږدن او ګال کرل کلی او کورونه ئی جوړ

Marfat.com

سوی وو چه د حملې په وخت کې مدافعه ځنې وکړای شي .

د هسو او مفرغو دشیانو روا جیدل دور جود کښت پید ا کیدل طائفوی نظام تجزیه کړ د اجتماعي طبقو اود مریانو در لوونکې ددولت (شانګ) چه مین هم ورته ویل کیدې - د پیدا کیدو موجب سو (۱۷٦٦ - ۱۱۲۲ ق م ) په دې وخت کې حکومت زیات مریان درلودل او جنګ دمریانو موندلو د پاره کیدې د تولید دقواوو وړ اندې تګ د ثروت زیات توب د طائفو په دننه کې د اقلیت صاحب امتیاز کورني پیدا کړه چه د اشتراکي جامعې دغړو په مقابل کې ئې حاکمه طبقه جوړه کړه د قبیلې مشر وانګ د حکومت رئیس سو په دغه زمانه کې د ثروت اختلاف زیات موجود وود شانګ د اجتماع مهم تولید کوونکي بذګران ووچه په ور څرمه اشتراکي ټولنه کې چه د طائفوی نظام عادات ئې ساتلې وو راټول سوی وو . د دغې دوری مذهبي تصورات دانمیزم Animisme څخه سرچشمه اخیستله دوانګ اسلاف د حیوانانو په شکل ښکاره کیدل چه دغه خپله د تو تمسم د بقایاوو څخه دی .

د شانګ کورنی د عمومو خلکو د نارضایتی - زیاتو مالیاتو او ظلمو نوله کبله د چو په واسطه له منځه ولاړه د چووانو کورنی هم ډیر وخت قوی پاته نه سوه حکمرانانو ئې مریان مځکې د خپلې کورنۍ دغړو په منځ کې وویشلې اود آزاد و خلکو په اشتراکي ټولنې باندې ئې مسلط کول دغه امپراطوری ځکه ډېر ژر په ۱۲۰۰ حکومتو وویشله شوه د دغه حکومتونه د مریانو او مځکو د په لاس راوړلو د پاره یو بله جنګیدل د دغې پیړی اقتصاد دور څرمه اشتراکي ټولنې چه د مریانو در لوونکې اشرافي کورني په واسطه استثما ر یدی چلید ی د دغې دوری اقتصادی وضع د چین د مشهور فیلسوف منسیوس ( Mencias ) (څلورمه پیړی د میلاد د مخه) د لیکونو څخه څرګند یدلای سی د زیاتو جنګونو په نتیجه کې دوه قوی حکومتونه - پاته سول چه یو (تسه ین) او بل (چو) وود تسین د حکومت په وخت کې د کوچی قبایلو سره زیاد ار تباط پیداشو او تجارت ور سره شروع سو ددوی څخه ئې مریان څاروی او پوستونه رانیول او په عوض کې ئې او سپنه وریښم مالګه او نور - محصولات پر خرڅول زیات شهرت او ثروت ئې پیدا کړ د تسه ین د مشهور سیاسي او فلسفي متفکر (شانګ یانګ) ( Chung Yung) د اصلاحاتو په واسطه قوی سو په دغه وخت کې

د (تسینګ تین) سیستم لغوه سو.

دمیلاد څخه (۳۵۰) کاله جنسی مالیات رواج سول دمځکی آزاد راتیول او خرڅول رواج سو شانګ یانګ دربا خوړونکو تاجرانو (نوی اشرافو) دقوت درشد دپاره اسانتیا وی برابری کړی او د کښت دمځکو دبیو دلوړید وسبب سو. چه مځکی داشرافو په لاس کی ولویږی اود اولیه اشتراکی جوامعو ازاد خلك خانه خراب سی اودغو چور سوو خلکو بیله دی بله چاره نه درلوده چه جبری مریان سی شانګ یانګ دپخوانی اشرافیت دامتیازاتو سره مقابله کوله او قانون ئی جوړ کړ چه القاب باید په اصل او نسب مربوط نه وی باید د جنګی خدمتو له کبله ورکړه سی دهغو مهاجرینو چه له نورو ملکو څخه راغلی وو طرفداری ئی کوله دمریانو د تولیداتو د اقتصادی پیشرفت له کبله حاکمه طبقی اقتدار وموند او دتسه حکومت وکولای سو چه دقهراو غلبی سیاست وچلوی چه په نتیجه کی دچین متمرکز سلطنت څخه جوړ سو او دچاو حکومت ئی دمنځه یووړ.

دتسه ین امپراطوری (۲۴۶ - ۲۰۷ ق) مرکزی حکومت قایم کړ داشرافو دبیلوالی تمایلات ای فعالیتونه ئی شنډ کړل (تیس شی هوانګ شی) خپل ځان دټول چین امپراطور اعلام کړ او واحده سکه ئی رواج کړه القاب ئی منسوخ کړه ازاد انسانان پر دوو ډلو ویشل سول (خواص او عوام) دکوچی قبایلو دحملو دمخنیوی له کبله ئی دچین ددیوال په جوړولو شروع وکړه ده دوه ملیونه مریان او بزګران په بیګار په کار اچولی وو دوی دځلورو زرو لښکرو تر نظارت لاندی کار کاوو طاقت فرسا کارونو بی ځمکی، دمرئیتوب کیدلو خطر، رشوتونو دبزګرانو انقلاب راوست خو ځرنګه چه دغه انقلاب نظم نه درلود ناکام سو دانقلاب وروسته دانقلاب دوو دښمنانو لیوپانګ اوهانګ هوی په خپلو منځو کی خوړل خو په اخر کی لیوپانګ چه د نرم سیاست طرفدار او تسه ین دقانون مخالف وو غالب سو او دهان دکورنی دسلطنت اساس ئی کښیښود او یو سلسله اصلاحات ئی دسود خوړلو دمخنیوی مالیاتو دلږوالی په نامه وکړل تجارت او صنعت ته ئی انکشاف ورکړ خو دولت دمریانو درلونکی وو امپراطورانو د کرهڼی ځمکی دبزګرانو سره خپلو خپلوانو ته بخښلی (دغښتلی کورنی) دمو سسو

په نامه فیوډالانو سپاهیانو ساتل او د بزگرانو نهضت ئې په آراما وه د (ووتی Wouti) په سلطنت کې (۱۴۰ - ۸۶ ق م) د هان امپراطوری هسکې درجې ته رسیدلې وه د ده د سلطنت په دوره کې پر مالگې او سپینې ډبرې انحصارات راغلل په دې وخت کې د چین اردوو کولای سو چه هونیان د شمال خواته تر شابوزی (۱۰۴ق) او د فرغانې درې ته را ورسیږي همدغه اردوو چه د چین لوی تجارتی دوړینمو لاره ئې افتتاح کړه چین ئې د روم پارت او هند سره ونښلاوه په ازاد ډول د مځکو رانیول او خرڅول د مالیې زیاتوالی د دربار زیات تجمل د بزگرانو د ژوند وضع پسې خرابه کړه تسین هان شو د چین د بزگرانو وضع د میلاد لومړی پیړۍ د مخه داسې بیانوي: - واړه لرونکو به خپلې مځکې په زړونو مومساحتولې غریبانو به دومره مځکه نه درلوده چه حتی قدم پر کښیږدی پلرو زامنو میړو ماینو ټولو پر مځکه کار کاوو د دوی د کار محصول به سخته لوږه وه د بلایانو سپیانو به حتی ایږدن او نخود دمړ والی له کبله نه خوړل غریبانو ته به سبوس هم نه رسیدی ځکه د غه حالت خلك راوپاڅول که څه هم حکومت ځینې اصلاحات لکه د مځکو ویشنه په پنځه زره موتر ۲۰۰ تنو مریانو زیات نه درلودل خو فایده ئې ونه کړه او د انگ مانگ ئې مړ کړ چه په نتیجه کې ئې بیرته د هونیانو د شاهی کورنی څخه یو اقتدار ته ورسید که څه هم د دغه انقلاب په نتیجه کې عدکو چنیانو مریانول او څه مځکه بزگرو ته ورکړه سوه داو سپینې د ډبرې او فلزاتو د پلولو کار شروع وو په میلادی (۹۱) کال کې د چین یو جرنیل چه پان چاو Pan Tchao نومیده ټول چین ونیوی او حاکمې طبقې بیرته خپل پخوانی امتیازونه لاس ته راوستل په نتیجه کې د دغه فشار څخه د (ژیړ خولیو) نهضت را بیدار سو د دغه نهضت مشر هغه نظام له منځه یوړ او یو عادل نظام ئې د (ژیړ اسمان) په نامه را ویوست. دغه امپراطوری چه دزاړه مرئیتوب نظام رنگ درلود په فیوډالی نظام واوښته د اجتماعی نظام نواقصو - طبقاتی مبارزو د چوانو د عصر په پای کې بیل فلسفی او مذهبی مسلکونه پیدا کړل چه د چینیانو ایدیالوژی ئې بیخې واړوله د اشرافو منافع د کنفوشیوس په مسلك کې خوندی کیدل وروسته د فقیانو (Lagistes) د مسلك پیروان پیدا سول د دغه مسلك پیروان زیات دولتی کسان

Marfat.com

وچه په هغو کی (هان فی تسه) ( Han-Fu-Tseu ) شانگ یانگ او نور شامل وو دوی دغښتلی دولت چه دجنایاتو مخ و نیسی تبلیغ کاوه په لمړی میلادی پیړی کی دچین ماتریالست (وانگ چونگ) ( Wang-Tehang ) چه دجهان مادی نظریه ئی درلوده ژوندکاؤ

په چین کی لکه په هند او یونان کی فلسفه او مذهب سره مخالف نه وو داځکه چه په چین کی دروحانیونو مخصوصه طبقه موجوده نه وه اقتدار دکورنی اویا دقبیلی دمشرپه لاس وو نود روحانیونو دنشته والی له کبله ددوی پرضد انقلاب موجود نه وو علم او مذهب څنگ پرڅنگ سره تللی دچینیانو ډیره پخوانی مذهبی او فلسفی عقیده (دجامعی دهیئت سمون دطبیعت سره) وه چه دغه اصل ته په چینی ژبه (لونگ فان وائی) موضوعات ئی د چین په لمړی پخوانیو سندرو (یی کینگ) کی ښه لیدل کیږی دمذهبی عقایدو بدلون په ۶ - ۵ - ۴ ق م کی کیدلی کیږی په دی پیړی کی د مفرغ پیړی چه ۲۰۰۰ کاله د میلاد دمخه شروع سوی وه پای ته رسیږی داوسپنی دوره شروع کیږی او دغه مادی دلایل هم لری په دی دوره کی په چین کی دوه لوی جنگونه دامیرانو بل دامیرانو او بذگرانو په منځ کی پرمالیه شروع کیږی او یوه ئل مالیه پرمالکه او اوسپنه راځی. د کرهڼی دچار ود معطلیدلو امیرانو ته دلښکر ود ورکولو له کبله خلک زیات په تنگ سول او یوه سلسله اعتقادات دخلکو دتسلی او خوښی دپاره پیدا سول نوځکه د کونگ تسه یا کنفوشیوس معتقدات پیدا سول کنفوشیوس وائی زه دپخوانو دافکار و مترجم او مفسر یم دی وائی زما کار د (تاءیو) او (شیمن) ددوری دنصایحو او قوانینو ته وین دی چه دهیواد امنیت په پیداسی کنفوشیوس په دی خصوص کی پنځه دغه کتابونه لیکلی دی ۱- (ئی کنگک Yih King ) ۲ - شو کنگک Shoo King) ۳- لی کی کنگک Leke King ) (۴- چین تسو Chun Tseu ) خو شاگردانو ئی تعالیم په څلورو د نور کتابونو کی راغونډ کړل :-

۱-(لن یو Lun Yu )(۲-چین ینگک Chang Yang )(۳- تا هیو Ta-hio )

کنفوشیوس وائی ددغه ځخه بل اخلاقی درس نسته چه تاسی ته ئی درکوم (دسلطان رابطه درعیت سره دپلار دزوی سره دمیړه دمایڼی سره ) دکنفوشیوس دمخه لاؤتسه داجتماعی او مذهبی

شیانو دپاره یوه سلسله عقاید بیان کړل چه اساس ئې دصلح سره جنګ وو یعنې دخپل ځان کنټرول اوله حکومت سره هیڅ کار نه درلود دلاوتسه په اثارو کې د هند فلسفه* زیاته ښکاره کیده دغه لاوتسه دی چه (راسته طریقه) یاتا یوزم ( Taoism ) ئې ومونده (تاو) دطریقې په معنی ده چه دلاوتسه په اثارو کې زیات لیدل کیږی په تاو کې د ژوند مسایل دولتی مسایل انسانی رفتار او سلوک لیدل کیږی او دنیا ئې حقیقت داصل سره ارتباط لری تاوچه دتاوتی کینګ ( Tao-Teh King ) په کتاب کې راغلی دی یعنې حقیقت یا طبیعت یا نهایی اصل چه په ټولو شیانو کې نفوذ لری دلاوتسه تاوتی کینګ کتاب دنړی دفلسفې د مشهورو کتابو نو څخه دی دلاوتسه افکار دکنفوشیوس څخه مغایر دی لاوتسه عبادت اوانزوا خو ښوله خو کنفو شیوس اجتماعی اوسیاست پوه وولاوتسه دحکومت دوجود مخالف وواو ویل ئې ملت هغه وخت ښه ژوند کولای سی چه حکومت نه وی او ظلم هغه وخت زیاتیږی چه د ملت څخه مقتدر حکومت حکم پرو چلوی . په دغو ټولو حالتو کې دمادی ژوند اغیزی په عقایدو کې ښکاره دی هر کله مقتدره طبقه دیوه ثقافت سره علاقه لری زیر دستان که دځان دخلاصولو توان و نه لری یو ډول تصوفی فکرونه پیدا کوی - او که څه قدرت پیدا کوی دداسی مذهب سره چه د مقتدری طبقی دلاس اله وی مبارزه کوی اساسا علم او فلسفه دواړه غواړی داستدلال په واسطه د مذهب مخالف چه دعقیدی په اساس کار کوی ودریږی فکر لوړی سر کې دمفهوم او معنی دهغه څخه احکام - بیا قوانین بیا کلی اصول راوباسی اود هغه په واسطه واحد اساس دحقیقت په نامه پیدا کړی حقیقت هغه کلی فارمول دی - چه دمختلفو شرایطو اود طبیعت دمختلفو حالاتو په نسبت فرق کوی پیښی او تغیرات چه پکښی راسی تغیر خوری . خو اسلام دمادیت څخه منکر دی او معتقدین ئې ګمراهان بولی

ځنی علماء دی ته تللی دی چه په آیت او حدیث کې مسلک د (احسان) او (حکمت) په نوم یاد سوی دی لکه په صحیح بخاری باب الایمان کې چه دایمان سره احسان راغلی دی دحدیث په اصطلاح احسان دغه تصوف دی (دحضرت شاه ولی الله صاحب دهلوی حجته

---

کشف المحجوب دژوکوفسکی چاپ ۱۸- ۱۶ مخ

Marfat.com

الله البالغه) په سورة بقرکی (یعلمکم الکتاب والحکمة) راغلی دی یعنی دقرآن عظیم په هرځای کی دکتاب سره دحکمت لفظ راغلی دی چه مطلب ئی تصوف دی. داکتر قاسم غنی د خپل اثر تاریخ تصوف در اسلام په (۵۰۰) مخ کی لیکی (ابوالحسن علی بن عثمان هجویری در کتاب کشف المحجوب میگوید: (العلوم ثلاثة علم من الله وعلم مع الله وعلم بالله):-

علم بالله علم معرفت است که همه اولیاء او را بدو دانسته اند و تا تعریف وتصرف او نبود ایشان ویرا ندانستند از آنچه همه اسباب اکتساب مطلق از حق تعالی منقطع است وعلم بنده مر معرفت حق را علت نگردد که علت معرفت وی تعالی و تقدس هم هدایت واعلام وی بود.

وعلم من الله علم شریعت بود که از آن از وی بما فرمان و تکلیف است. وعلم مع الله علم مقامات طریق حق و بیان درجات اولیاء بود پس معرفت بی پذیرفت شریعت درست نیاید و ورزش شریعت بی اظهار مقامات راست نیاید.)

رسول صلعم دمقرره عبادتونو علاوه لکه روژه. لمونځ زیاتره شپی مناجات کاوه او کله به منزوی کیدی.

په قرآن کی دتصوف دپاره ډیر دلایل شته وحدت وجود چه دتصوف یو جزدی په قرآن کی راغلی دی لکه چه فرمائی (والله المشرق والمغرب فاینما تولوافثم وجه الله ان الله واسع علیم) دتصوف عمومی آداب پر دوه ډوله دی لومړی باطنی آداب یا دتصوف اخلاق دوهم ظاهری آداب دتصوف داخلاقو په باره کی عرفاو ډیری وینا وی کړیدی ددغی جملی څخه معروف کرخی وائی:- (التصوف هوالاخذ بالحقایق والیاس عما فی ایدی الخلایق) د سعادت په عصر کی خلک دمسلمانانو او مؤمنینو په نامه یادیدله (زاهد) او (عابد) دروستنی نوموونه دی

ابن الجوزی وایی:- دصوفی نوم ددوهی پېړی په سر کی پیدا سویدی دتصوف دپیدا کیدلو علت د اسلام په اوایلو کی یوداوی چه عربانو زیات ملکونه ونیول او ددوی بی تکلیفه او معتدل ژوند په مادی مکلفیتونو بدل سواو متدینو اشخاصو چه ددی حال تحمل نه سو کولای په تصوف او انزوایی شروع وکړه تصوف ته دمسلمانانو مخی نیولو بل دلیل دادی چه دحضرت عمر (رض) دوفات وروسته

---

تاریخ تصوف در اسلام ۵۰۰ مخ

په مسلمانانو کې زیاتې بې اتفاقي او اختلافونو مخ راونیوی بلواوې او کشت وخون زیات سو چه ددغو فجایعو د ننه لیدلو او نه اوریدلو دپاره ځنې مسلمانانو تصوف او کونج گیري ته قایل سول ددو همې پیړۍ په پای کې دزهاد او عباد کلمې په صوفي واوښتلې ددې دور صوفیانو دبخښنې له کبله خدای ته فوق العاده امید درلود او غیرمحدود توکل یې درلود ددغې دورې مشهور صوفیان ابراهیم بن ادهم معروف کرخي، مالك بن دینار، محمدواسع، رابعه عدویه دي په یوه روایت چه درابعه عدویه څخه تصوف شروع کیږي دمکې په لار کې دی ویلي دي (زه رب البیت غواړم بیت څه کوم).

په دریمه او څلورمه پیړۍ کې تصوف تر شاقه ریاضت فکر تدبیر او معنی ته زیات اهمیت ورکاوی ابوسعید خراز چه په (۲۸۶) کې مړ دی وایي :- (دمرتاضینو خواړه لوږه دعارفانو خواړه فکر کول دي دوحدت الوجود افکار پدېر ځله دافراط درجې ته رسیدلي وو حتی د صوفیانو ځنې لویان

لکه قشیري او هجویري دوی غندلي دي او دغه طریقه ئې د شریعت څخه مخالفه گڼلې ده لکه حسن بن منصور حلاج (اناالحق ویل) په دغه پیړۍ کې دبغداد دخلفاؤ ترحمایت لاندې دتحقیق او فلسفې خاوندانو دقضایاوو دمعلوموولو دپاره زیات بحثونه کول او په علمي مسایلو کې محدودیتونه نه وو وضع سوي. خو په پنځمې پیړۍ کې یو دم پر فلسفي او تفکري مباحثو محدودیتونه ولگول سول او وچ مذهبي تعصبونه وضع سول او اشعریانو زیات د عقل او منطق سره مخالفت کاوه حجت الاسلام امام غزالي په ماوراء الطبیعي مسایلو کې گډیدل کفر او الحاد گڼي او فلسفه ئې دبشر دمشکلاتو دلیري کولو دپاره هیڅ کافي نه گڼله لکه چه وائي :- پس از علم کلام شروع به فلسفه کردم . . ودو سال طول نکشید که بر تمام رموز وا سرار این علم وقوف یافتم اخر کار معلوم شد که این علم تخیلات واهی و چشم بندیها است که از دیرباز گروهی از بشر را بخود مشغول ساخته عاقبت دانستم که این علم برای کمال مطلوب بشر کافی نیست

---

تاریخ تصوف در اسلام ۵۰۲ مخ

Marfat.com

وعقل فلسفي به تنهايي نميتواند معماى هستي را كشف و مشكلات بشر را هموار سازد، په دغه دوره كي په شعر كي دتصوف او عرفان زيات آثار ليدل كيږي او هر شاعر په تصوف تظاهر او تفاخر كوي ددغې دورې صوفيانو ته پاچاهانو او اميرانو زيات عزت وركاوه سلطان محمود غزنوي خپله دشيخ ابوالحسن خرقاني خانقاه ته ورغی، دزرو سكې يې ورته وړاندې كړې خو شيخ هغه وانه خيستې او نه يې دخپلو مريدانو دپاره قبولې كړې په شپږمه عيسوي پيړۍ كې ټول علمونه او فكرونه د دين پرمدار څرخيدل يعني كه به حساب او هندسه ويل كيدل هم په دې معنى به وو چه حساب په ميراث او هندسه د قبلې د معلومولو دپاره په كار راځي دعلم دين پرته په نورو علمو كې نه دچا عزت وو او نه يې گذاره په كـو لای سوای يعني قضا، امامت، وعظ په ديني علومو پيدا كيدل څوك چه دعقلي او فلسفي علومو په تحصيل او يا مطالعه لگيا ؤ هغوی به په فقر او بيچارگۍ ژوند كاؤ او جامعې به نفرت ځني كاوه.

شيرواني مشهور شاعر دفلسفي په ترديد كي وايي: -

علم تعطيل مشنويد از غير — سر توحيد را خلل منهيد
فلسفه در سخن ميا ميزيد — وانگهی نام آن جدل منهيد
زحل زند قه جهان بگرفت — گوش همت براين زحل منهيد
نقد هر فلسفي كم از فلس است — فلس در كيسه عمل منهيد
فلسفي مرد دين مپنداريد — حيز را جفت سام يل منهيد

په دې پيړۍ كې دبغداد دخلافت دمركز دضعف بدامني او مذهبي تعصباتو له كبله عمومي خلك مخصوص صوفيان زيات په تنگ وو او صليبي جنگونو دمسلمانانو حوصله خرابه كړه په دې وخت كې يو شمير صوفيانو تصوف دمسلمانانو په منځ كې داتحاد او اتفاق وسيله وگڼله او داسلامي ۷۲ فرقو داختلاف يې غندنه كوله په هم عيني وخت كې فكر دانجماد او مطلق مذهب پرستي څخه را ووت دمذهب او تصوف دحقانيت په لار كې يو ډول نظري تصوف او تدريسي عرفان پيدا سو چه وروسته بيا محي الدين ابن العربي صدرالدين

Marfat.com

قونیوی او عراقی شیخ اونو رو دکمال ودرجې ته ورساوه په اوومه پیړۍ کې مغولو اسلامي ملکونه زیرو زبر کړل خلک یې عام قتل کړل کتابخانې ئې وسوځولې علما او پیران یې تحقیر کړل او ځنې جلا وطنه او منزوي سول عطامحمد جوینی په خپل اثر جهانکشای نادري کې چه د مغولو ظلمونه او فشارونه یې په خپله لیدلی وو وایي (آمدند وکندند و سوختند وکشتند و بردند ورفتند) په دې پیړۍ کې علماؤ ته هغه څه چه پاته وو هغه د پخوانیو تنګ نظره علماو و افکار وو دوی یې مطلق تقلید کاوو په دې پیړۍ کې د خانقاه او د شیخ الشیوخی رتبې رسمي حیثیت درلود د پاچاهانو او امیرانو لخوا څخه ور نول کیدې جامي په نفحات الانس کې د شیخ محي الدین عراقي په خصوص کې لیکي : ـ دامیر معین الدین پروانه د مړینې وروسته (شیخ روم متوجه عصر شد ووی با سلطان عصر ملاقات افتاد سلطان مرید و معتقد او شد و وی را شیخ الشیوخ عصر گردانید د دغې دورې لوی پیران او علما شیخ شهاب الدین سهروردي ابوحفص، عمر بن محمد د عوارف المعارف، رشف النصایح، اعلام الهدی لیکونکی ابن الفارض ، شیخ رضی الدین علی لالا غزنوی شمس تبریز، شیخ بهاء الدین ذکریا ملتاني ، مولینا جلال الدین رومي ، شیخ مصلح الدین شیرازي او نور ۰ ددې پیړۍ وروسته عرفان او تصوف خپله شرقي بڼه الیشوی بیرته علم او فلسفه رواج مومي عقاید او افکار د محمد ودیت د ساحې څخه راوزي او جهان شمول رنګه پیدا کوي او کرار کرار په عمومي ډول یوداسې مرحلې ته راځي چه منشائې مادي ګڼله کیږي نو که د حضرت شاولي الله صاحب محدث پر قول سم موږ داومنو چه په عهد نبوي صلعم کې تصوف د احسان په نوم موجود ؤ دغه خبره هم دغورو ړ ده چه په هغې پیړۍ کې د فلسفي او هندي افکار و اثر بیخي موجود نه ؤ او نه اصحاب کرام او خلفا عظام په خلوت کې کښینستل بلکه ددوی لوی کار د اسلام تبلیغ او جهاد ؤ او له رهبانیته منع سوي وه (لارهبانیته فی الاسلام) دد غې مقدمې څخه دغه نتیجه راوزي چه اسلام لومړنی تصوف د احسان په نوم فقط د خالق عبادت او د مخلوق خدمت هدایت او جهاد په نامه ذکر کړی دی مګر وروسته ځنې فلسفي خیالات د هند له خوا او ځنې افکار د یونان د فلسفې څخه په راګډ شول چه د تصوف رنګ ئې الیش کړ

---

تذکرة الاولیاد وهم ټوك ۲۰۷ مخ

دغه تصوف نوفلسفی تصوف بلل کیږی ددغی خبری تصدیق موږ دحضرت عطار دوینا ؤ څخه کوو چه لیکی :-
(تا بعد از آن طریقت تصوف به فلسفه کشید چنانکه معلوم هست) دحضرت شیخ عطار په قول وړ نوی فلسفی او هندی افکار په تصوف گډ شوی وه حضرت مجدد او دده ملگرو دغه دوړ د و افکار چه نوی راغلی وه بیرته وایستل او داول صدر په اساس ئی بنا کېښودل د دغو څیړنو څخه څرګنده شوه چه د تصوف منفی خواچه د هند او یونان دفلسفی افکار په ګډون دی د اصلی اسلامی تصوف څخه بیل دی څکه چه اسلامی تصوف عینی د شریعت پابندی او د نبوی اخلاقو، سنتو تعقیب دی چه هلته رهبانیت نشته او زیار او جهاد فی سبیل الله او د اسلام تبلیغ او د خلکو هدایت ئی اساس دی نو په دغه معنی موږ د متصوف او متشرع فرق نه سو کولای او دغه دوه صفته سره لازم او ملزوم دی .
د(صد میدان از امالی شیخ الاسلام خواجه عبدالله انصاری کتاب) په مقدمه کی چه په کابل کی چاپ سوی دی ددغی مقدمی په ۱۱ صفحه کی داسی راغلی دی شیخ الاسلام تصوف را به صبغه خاص آن که بنایش شریعت باشد می شناسد و آنرا از ویدانت هندی و اشراق یونان و فلاطونیت جدید امتیاز میدهد وی گوید : ـ شریعت همه حقیقت است و حقیقت همه شریعت و بنا ی حقیقت بر شریعت است بی حقیقت بیکار است و حقیقت بی شریعت بیکار و کار کنند گان جز ازین دو بیکار است.)
په حقیقت کی تصوف دوه ډوله لری چه یو (منفی تصوف) دی یعنی د نیا پرېښول او دعلائقو شلول بل (مثبت تصوف) چه له سلوك زیار او دنفس د تربیته، مینی، پوهنی او عبادت د خلکو خدمت او جهاد څخه جوړ سوی دی.
په لومړی ډول تصوف کی د هند د فلسفی اثر ډېر دی او فلسفی تصوف هم ورته وائی چه د اسلام زیاتره حکما او پوهان په د غه کی دی لکه ابن سینا، فارابی، اخوان الصفا چه دافلسفه اشراقی او نوی افلاطونیت دی په دوهمه ډله کی چه د اسلام اړ شرعی تصوف پیروان دی امام غزالی صاحب شیخ محی الدین عربی، ابن تسمیه مولینا روم او نور دی.

---

صدمیدان ۱۱ مخ

دخدای پیژندنی دپاره ځنی متصوفین په حدودواو صو لو پابند نه دی لکه لوی صوفی محی‌الدین ابن عربی چه‌وائی:-

لقد صار قلبی قابلا کل صورة　　فمرعی لغزلان و دیر لرهبان
وبیت الاوثان و کعب طائف　　والواح تورات ومصحف قرآن
الدین بدین الحب انی توجهت　　رکائبه فالدین دینی وایمانی

ترجمه:- ځما زړه داسی شوی دی چه هر صورت خوښوی هم دهوسیانو دڅرځایونه اوهم دراهبانو صومعه، هم دتورات لوحی او هم قرآن زه دعشق په دین یم هری خواته چه ځی زه ئی تابع یم نودین او ایمان ځما دین دی.

جنگ هفتاد و دو ملت همه را عذر بنه　　چون ندیدند حقیقت ره افسانه زدند

او ځنی عرفاله دغه کبله ادیان دخدای پیژندنی او وحدت په لارکی په تفرقی متهموی خو شریعت دغه ډول تصوف مردود دی لکه چه بر پیروانو یی په دریمه هجری پیړی کی د شریعت احکام وچلیدل قتل یا په دار وځړول شول.

دیوی خوا ځخه که پرفلسفی صوفیانو زیات فشار ونه راغلی دی شریعتی مجازی صوفیانو چه په خپلو آثارو او اقوالو کی دشراب، رباب، رقص، خرابات، اوزنا، میخانه، میکده، صومعه، دیر، مغان، صدر مصطبه، مغ، مغ بچه، پیر خرابات، پیر باده فروش، ساقی، ساغر، پیاله، ایاغ، قدح، صهبا، صراحی، خم، محتسب، رند، نعره مستانه، کوی می فروشان، استان پیر مغان، باده الست سیه مست، نامه سیاه حریق شبانه، عصمت سرای دختر از طارم انگور، رطل گران، پیمانه سرشار، خانهٔ خمار، خرقهٔ بوده، دستار اشفقه، بهارتوبه شکن، صافت ودرد، شراب تلخ مردافگن، کرشمهٔ ساقی قهقهه مینا، گریهٔ صراحی، آب آتش دم، جام جم، پیاله سفالین، شور مستی، ذوق باده کشی، لب خندان جام، دل خونین ایاغ، مستی وبی پروایی صفتونه کول هم دفشار او بدویلو ځخه خلاص نه‌سول او مجبور سول چه دخپلو ارشاداتو او جذباتو ښکاره کولو دپاره نورالفاظ

---

شعر وادب فارسی تالیف زین‌العابدین مؤتمن

Marfat.com

وموهی چه دغه الفاظ دشبستری په گلشن راز دابن فارض په شروع خمریه ، ملا محمد محسن فیض دشواق په رسالی، لطائف العرفان په رسالی، دحافظ په شرحو دریاض العارفین په مقدمه کی زیات لیدل کیږی.

او وروسته دابن العربی او قونوی صدر الدین دآثارو په خپرولو سره زیات سول په عمومی توگه صوفیانو دخپل تصوف کلمی ددغو منابعو څخه اخیستی دی:- دقرآن څخه لی :- سره ذکر، قلب، نور تجلی، امر حق او نور.

دپخوانیو مفسرینو او متکلمینو څخه لی :- حال، مقام، محو، اثبات، صبر، فنا، ظاهر، باطن او نور.

دقدسی احادیثو څخه لی :- کنز مخفی، جهاد اکبر، لقا، وقت او نور دمتکلمینو او نحو یانو څخه لی :- ذات، عرض، حلول، صورت، قدیم، حادث، وجود، عدم، جمع، مصرفه، شاهد، حقیقت او نور

دمشائی او اشراقی فلسفی دحکمت الفاظ:- ماهیت، هو یت، امنیت، استحاله، کون وفساد او نور.

دلته دصوفیانو ځنی مشهور اصطلاحات راوړل کیږی :-

ائمه الاسماء، ابد، ابدال، اولیاء، اتحاد، اتصال، اثبات، احد، احوال اختیار، اخلاص، ادب، اراده، ازل، ازلی، استدراج، اسم اعظم، اشاره، اشتباه، اشتیاق، اصطلام، اصطفا اعیان ثابت، افراد، افق اعلی، افق مبین، الف، ام الکتاب، اما مان، امتحان، امناء، انتباه انزعاج، انس، انسان کامل، اوتاد، ایجاء، بارقه، باطل، برزخ، ایما، برق، بسط، بصیرت، بلا، بوادہ، بیت العزه، بیت الحرم، بیت المقدس، تجرید، تجلی، تخلس، تسلیم، تصوف، تفرقه، تفرید، تلبیس، تلوین، تمکین، تواجد، توبه، توکل، جبروت، جذبه، جسم، جلال، جمال، جمع، جمع الجمع، جمعیت، جواب، جوهر، حال، حجاب، حجاب العزه، حجة الحق علی الخلق، حرق، حروف، حروف عالیات، حریت، حس، حضور، حق، حق الیقین، حقیقت، حقیقه الحقایق، خاطر، خطرات، خلوت، خواطر، خوف، ذات، ذکر، ذوق، ذهاب، رجاء، رضاء، رغبت، رمس روح، روح الاعظم، رویت، ریاضت، دین، زوائد، زهد، سالک، سحق، سر، سر السر، سفر، سکر، سواد الوجه، فی الدارین

شاهد، شجر، شرب، شرود، شریعت، شطح، شهود، صبر، صحو، صحق صفت، صفات جلالیه، صفات جمالیه، صفات ذاتیه، صفات فعلیه، طب روحانی، طریقت، طمس طوارق، طوارم،

ظلم، عارف ومعرفت، عالم، عدل، عرش، عرض، عقل، علایق، علم بالله، علم مع الله، علم من الله، علم الیقین، عید، عین الیقین، عذاب، غوث، فترت خاموش، فرق، فقر، فنا، فواید، قبض، قبیح، قدیم، قرار، قرب، قصود، قطب، قطب الکبرای، قلب، قهر، کرامت، کرسی، کشف، الکلیه، کمال کیمیا، کیمیای خواص، کیمیای سعادت، کیمیای عوام، لسان الحق، لطف لطیفه، لوامع، لوایح، طوالع، لوامح، لیلة القدر، مجاهده، مجذوب، محادثه، محاضره، محبت، محق، محو، مراد، مراجه، مرشد، مرید مسامره، مشاهده، معجزه، معرفت، مقام، مکاشفه، ملجاء، ملك، ملکوت، منجا، موت ابیض، موت احمر، نجباء، نجومی، نفس، نقاد، نورالنور، نیروانا، وارد، واقع، وجد، وجود، ورع، ورقاء وسائط، وقت، وقفه، ولایت فناه، وله، حاجت، هجوم، همت، هیبت، وانس، یقین.

په تصوف کی دغه کلمات بیل څانته علیحده معنی گانی لری چه د لغتو په کتابو کی نه موندل کیږی.

په اصل کی خدای پیژندنه دوه ډوله ده یوه هغه ده لکه مادیون چه دکایناتو دپاره یو سبب اټکوی او دوی پرصحیح لارنه دی تللی بل هغه دی لکه ددین خاوندانو او اهل کتابو چه خدای یی پلټلی دی ددین دخاوندانو پلټنی دری شکله لری لومړی دا چه دنقل په اساس یعنی دخدای دکتاب او دپیغمبر په قول پردی لار څی دغی لاری ته توحید، دتوحید اصول، دتوحید علم یا اعتقادیات و رته وایی دوهم دا چه دعقل په اصولو داستدلال په ډول پردی لار څی چه کلام یا علم کلام ورته وایی دریم دا چه د عشق او شوق او ذوق وجد او وجدان حدس دمکاشفی په قدسی قوه په دی لار کی پرمخ څی او دغی لاری ته تصوف وایی یا د تصوف داسی تعبیر کولای سو خدای پلټنه دوجدان او ذوق په واسطه او دگناهو پاکول وحدت الوجود

---

د پوهاند حبیبی د تصوف درسالی ۶۷۱ مخ

Marfat.com

دی د تصوف یوه خاصه څانگه ده چه د دریمې هـ پیړۍ وروسته پیدا شوې دی که څه هم نیمه پیړی دمخه دکو چنی په شانی چه دبصری رابعی د سوز او گداز په لمنی کی و لید له سو او دا هغه کو چنی دی چه په پنځمه پیړۍ کی لکه ذوالقرنین هغه ئی نیولی دی او دغه وحدت الوجود خپل خاص تعریف لری چه په پاښتو د(همه اوست) یا هر څه دی دی معرفی یی کافی ده او دنورو تعریفونو په نسبت یی دمولانا دغه بیت ښه نما یندگی کولای سی:-

هر کسی کودور ماند از اصل خویش
باز جوید روز گار وصل خویش

عشق یوه عربی کلمه ده چه دجاهلیت دزمانی په عربو کی نـه لیدله کیده حتی داسلام په لومړی پیړی کی یی هم په عربی کتابو کی ذکر نسته او هلته دغه کلمه په (حب) تعبیر وی او شاید دغه کلمه هم دصوفیانو داختراعاتو څخه وی چه دحقیقی عشق دپاره استعمالیږی. (۱)

صوفیانو دغه کلمه دعشق څخه اخیستی ده او عشقه یو داسی نبات دی چه په هرشی چه و پیچل سی و چه وی ئی یعنی دغه خدایی عشق چه پر هر نیك بخت و پیچل سی مادی او شغلی ژوندئی وچوی علوی او روحی ژوند یی ظبعاً ژوندی کوی نو اناالحق یوه داسی کلمه ده چه منصور (رح) او بایزید(رح) دواړو ویله او مقبوله هم وه او نمرود ددغی کلمی په ویلو سره لعین اومردود سو سبب ئی دادی چه انسان دخدای دروح اوددغی خاورینی مځکی دمجموعو څخه دی که انسان خپل قدسی روح تقویه کړی یقین دی چه هغه مرغه خپله قدسی څاله مومی او خپل وطن ته چه علاعلیین دی الوزی که بالعکس خپل خاورین تو کران تربیه کړی یقین دی چه خاوره خپل مرکز ته جاذبه لری نو انسان تور اسفل السافلین جاذبی ته بیایی حسین بن منصور حلاج او یزید خدایی روح تقویه کړ د عشق عشقه ئی جسمی اومادی صورت وروچ کړ ددوی انـا نیت د خدای دروح انانیت وو چه (زه) یی ویل فرعون چه ماده او جسم روزی او د خاوری چنجی دده دروح رینبه خوړلی وه انا نیت یی د جسم او مادی خاوری ووچه ویل یی (زه) وحدت الوجود که څه هم په ظاهر

---

(۱) افکار شاعر ۸۴ مخ

Marfat.com

دهغه زاهدانه تصوف دی چه تکامل یی کړی دی خو کرار کرار یی بل شکل اختیار کړ او هیڅ امکان نه لری چه انسان وکولای سی حسن بصری قدسی الله سره العزیز دابوالحسن خرقانی رحمت الله سره یو ځای کړی د تصوف څخه رهبانیت و نه فهمولی سی اسلام د رهبانیت او په افراط سره زهد کول نه خو ښوی د دنیا په چارو کی لاس وهل او کار کول ثواب ګڼی خو د هغه سره علاقه او مینه درلودل نه خو ښوی.

دابن سعد د دوهم ټوک په ۱۲۵ مخ کی راغلی دی چه رسول صلعم د دی څخه خبر سو چه عبدالله بن عمر خپل ځان ملزم کړی دی او ټوله شپه قرآن لولی نو رسول صلعم ده ته نصیحت وکړ او پر معقوله تقوا یی ترغیب کړ او ورته وی فرمایل ستا تن پر تا حق لری اقربا پر تا حق لری او ماینه پر تا حق لری.

مطلق رهبانیت او زهد په داسی ډول چه خدای خوله پیدا کړی ده خوا ړه هم ورسوی د انجیل د تعلیما تو څخه دی د مثال په توګه په متی انجیل شپږمه سپاره ۲۵ - او ۳۴ عدد و د لوقا انجیل په ۱۲ سپاره ۲۲ او - ۳۰ عدد و کی د مرغانو په خصوصی کی وایی د آسمان مرغان دانه نه کری او نه ذخیره کوی د دوی خدای روزی ور رسوی د وی سهار په خالی ججور وا لوزی او د شپی په ډکو ججورو بیر ته راځی.

## (شین غزی بابا)

شین غزی بابا یی ځکه بولی چه هلته دده په تکیه کی شنه غزونه ولاړ دی د محلی روایاتو له مخی کله چه عرب د کندهار سیمی ته دا خلید ل شین غزی بابا د یو مجاهد په څیر د عربو په لښکر و کی وو او هغو چه کندهار و نیوی دی د لته ځنی پا تی سو په ارشاد او عبادت یی شروع وکړه او خلکو ته یی د اسلام د دین مزیتونه او ښیګڼی بیانولی د کندهار زیاتره خلک عقیده لری چه دی د انصار و څخه دی او د ایوب انصاری ور ور دی شین غزی بابا د کندهار د ښار د باندی ختیزه خوا کی په یوه کلی کی او سید او هم هلته وفات سوی دی.

دکندهار نر او ښځی اوس د دوشنبی په ورځ د شین غزی بابا زیارت کوی او د حاجت دروا کید لوله پاره نذرونه ایښږ دی دکندهار یو محلی شاعر دده په خصوص کی وائی :-

چه‌بهار جوړسی مخلوقات در له راځی بابا
مسته ولی ای شین‌غزی بابا
چه‌بهار جوړ سی ستاتکیه جوړه‌گلشن‌مدام
شین دی چمن
دشنوسبزو په‌منځ کی پروت یی‌عزتمندمدام
پرانجمن
شاهو گدادی د زیارت سیل کوی بابا
مسته‌ولی ای شین‌غزی‌بابا
چه‌بهارجوړسی‌شورماشورسی‌ښه مرغان راسی
ستا پرمکان
ستا ودربارته په سلام ښه ذاکران راسی
په هر زمان
واړه د استا په‌در کوی ذکر و زاری بابا
مسته‌ولی ای شین‌غزی‌بابا
چه بهار جوړ سی سیل کیږی مخلوقات‌سی‌جمع
د هر ولات
پر شاو خوا دی ذکر وایی جما دات هر دم
ښه کلمات
هر تشنه لب ستا پر مکان دی سیر ابی بابا
مسته ولی ای شین غزی بابا
چه بهار جوړ سی ستا په در کیږی د کام تسلیم
په ښه تعظیم

Marfat.com

نشانی کړی‌دی زیارت هغه پیر سالم

میان عبدالحکیم

ځنی مخلوق وایی چه ته یی صحابی بابا

مسته ولی‌ای شین غزی بابا

چه بهار جوړ سی پیره وکه ته نظر پر ما

خوږ می ځگر

ستاله دربار ه هر خوك وړی اخلی ثمر وړیا

ښکاره اثر

زه خوار وزار محمدعیسی یمه سوالی بابا

مسته ولی ای شین غزی بابا

## شیر سرخ او پیر سبز بابا

شیرسرخ دکندهار یو پخوانی ښاردی چه دکندهار د او سنی ښار دجنوب لویدیز په اوه کیلو متری کی واقع دی دښکار پور دروازی څخه یوه‌لاره‌چه دپخوانیوسړ کونو ښه لری تر یو کیلو متره پوری دجنوب لویدیز خواته تللی ده ورو سته جنوبی‌خواته گرځی دلاری په منځ کی یولوی‌چمن‌چه دشیرسرخ په‌چمن‌یادیږی راځی بیایوه فرعی لاره‌چه‌په ښرنی اوچمنی مځکو کی ځنی بیلیږی دا لارد کرزد کلی څخه لیری کیږی کښتو باغونو او کلاگانو ته نژدی کیږی دغی تولی سیمی ته شیرسرخ وئیل کیږی د کندهار داحمدشاهی ښارد مخه دلته یو ښار او لویه کلاودانه وه.

دشیرسرخ او پیر سبز زیارت محوطه اوس‌دهدیری شکل لری چه دغزه او توت ونی پکښی سته د ادوه زیارته سره متصل دی لیکن دشیرسرخ میدانی په یوه کوچنی دیوال دپیر سبز د قبر څخه بیله سوی‌ده دشیرسرخ‌دزیارت ځای دعمارت او گنبدی په شکل جلب نظر کوی خود پیرسبز پرقبر آبادی‌او گنبده نسته لکه څنگه چه ددی ځای او سیدونکی بیان کوی‌دی پیرآبادی نه‌ده قبوله

---

(د محمد عیسی‌حکیم د دیوان دوهم توك ۵۳ مخ)

کړی هره آبادی چه پر جوړه سوی ده بیرته نړیدلی ده.

د احمدشاه بابا د پاچاهی په وخت کی دی زیارتو شهرت در لود دلته بنار او لویه کلامو جوړه وه چه زیات خلک پکښی او سیدل شیر سرخ په موجوده حال کی دیوه ٦ ضلعی مسدس عمارت په شکل دی او دهغه گنبده دلیری ځایه ددر ختواو و نو دبناخونو په منځ کی معلوم میږی ډیر جگوالی نه لری او نسبتاً ټیټه ده خو لکه نوری گنبدی محدب شکل لری په دننه گنبده کی تر که لری چه د تقسیما تو گچی خطوط یی سپین وایی او په وضاحت معلومیږی او د ا ځای ټولهٔ د ځلور کنجه پخو خښتو څخه جوړ سوی دی متاسفانه د گنبدی سقف د ننی خوا څخه څوځایه چاکونه کړی دی د اچا کونه د باندی خوا څخه په تازه ختو پټ سوی دی په گنبده کی یولوی قبرسته چه د قبر پرسر د توری ډبری یوه لوحه لیدله کیږی دخلکو ډیر تماس له امله ئې یوه برخه رژیدلی ده او هغه برخه یی چه په قبر کی ښخه ده ماته سوی معلومیږی دا مضمون پر لیکلی سوی دی : ـ

(بعون عنایت الله تعالی وقف سبیل الله نمود این عمارت عالی بر مزار فیض آثار شیر سرخ نواب مستطاب معلی القاب والده عصمت نشان شهزاده کامران سعی نمود تا مادام که این مکان عالی در یوم چهار شنبه دهم ذیقعده الحرام سنه ۱۳۳۱ اتمام یافت مرمت نمود غلام رضا کشمیری غلام فقیر محمد حسن) لکه څنگه چه د دی ځای سپین ږیری مجاور چه ځان دصابر شاه فقیر د اولادی څخه بولی وایی د الوحه د باندی په یوه نړیدلی عمارت کی وه اوز ما تیکه دلته د شیر سرخ قبر ته راوړه او نصب ئې کړه د اخبری چه سپین ږیری مجاور کوی یوڅه حقیقت لری په دی معنی چه دا لوحه اصلاً د قبر پیژند ونکی نه ده بلکه دیوه عمارت د وقف کیدلو لوحه ده چه د شیر سرخ په دی میدانی کی اباد وو دلته فوراً دا سوال راځی چه دا وقف سوی عمارت به چیری وو ایا دغه عالی عمارت څخه به مراد د دی اوسنی گنبدی څخه نه وی چه شیر سرخ په قبر ولاړه ده یا دا چه اوسنی ولاړی گنبدی به نژدی نوی ملحقات در لودل.

لکه د ډبری د لیک څخه چه استنباط کیږی د اعلیحضرت تیمور شاه د زوی شهزاده کامران د مور په امر او اهتمام د شیر سرخ پر مزار یو عالی عمارت جوړ سوی دی چه د تعمیر کار یی د ۱۳۳۱ ه ق کال د ذیقعدی په ۴ د شنبی په ورځ بشپړ سوی دی.

که څه هم ددی ځای سپین ږیری متولی وایی چه دا لوحه د یوی بلی آبادی څخه چه د شیر سرخ قبر ته نژدی وه راوړله سوی ده ولی د لوحی د لیك د یو عبارت څخه چه وایی این عمارت عالی برمزار فیض آثار شیر سرخ آباد شده واضح معلومیږی چه د عمارت د ذکر څخه مراد دغه اوسنی عمارت دی یوازی دا ډېره چه د مخه هم ذکر سوه د قبر پېژندنه د هغه او د ننه یاد باندی د دی ځای د عمارت پر کوم دیوال به نصب وه که د کوم بل عمارت څخه راوړله سوی وی نو هغه به هم د شیر سرخ دغه عمارت ته ډیر نژدی وو.

که څه هم د ډبری لوحه دومره وضاحت نه لری او یو دوه ځایه توری او ټکی ځنی پاتی سوی دی بیا هم د ډبری لیك ډیر اهمیت لری او تاریخی مهم سند ګڼل کیږی ځکه چه د شیر سرخ مزار او شیر سرخ کلی هلته ذکر سوی دی نو معتبر سند دی چه ددی نامه او مزار موجودیت په قطعی ډول ثابتوی چه د څنګه یی ابادی وه د بلی خوا دا خبره ثابتوی چه د تیمور شاه د زوی شهزاده کامران د مور لخوا په ۱۳۲۱ هـ ق د شیر سرخ پر مزار یو عالی عمارت جوړ سوی دی په غالب ګمان به هغه عمارت دغه اوسنی عمارت وی چه د کتیبی په متن کی هغه ته اشاره سوی ده د سقف په د ننه تر که کی د ګچی تقسیماتو او د کښتی شکله او نورو څخه داسی استنباط کیږی او سړی ویلای سی چه ددی ابادی (۱۲۵) کاله کیږی.(۱)

د شیر سرخ مزار برسیره پر تقدس چه لری یی د افغانانو د ننګیالی تولواك اعلیحضرت احمدشاه بابا د پاچا کیدو تاټوبی هم دی.

نادر افشار د کندهار د زاړه ښار په مقابل کی د لته یو ښار د نادر آباد په نامه جوړ کړی وو یوه شپه نادر افشار خوب ولید چه پر یوه ځای شین زمری او پر هغه بل ځای سور زمری تړلی دی سهار چه راویښ سو دغه یی زیارتونه کړل او ګنبدی یی باندی جوړی کړی.

سلطانی تاریخ په (۹۱) مخ کی د شیر سرخ داسی ذکر کوی :-

(نادرشاه مظفر و منصور باردو معاودت کرد ودر هشتم ذیحجة الحرام از مقیم ګاه تخت کوچید، در موضع موسوم به مزار سرخ شیر که عوام آنرا شیر سرخ بابا ګویند نصب سر اوقات نمود.

---

(۱) د ښاغلی کهزاد یادداشتونه. سلطانی تاریخ ۹ مخ

# حضرت بیټ نیکه

دپښتنولوی مشهور پلار او بزرگوار شخصیت ؤ چه شپه او ورځ دخدای په یاد او عبادت اخته ؤ او دکسی په غره کی اوسیدی په یوه روایت بیټ نیکه دلو مړ نیو غوري پاچاهانو په وخت کی اوسید سلیمان ماکو په خپل تذکرة الاولیا کی چه د(۶۱۲) ه وروسته لیکلی سوی ده دشیخ بیټ داسی ذکر کوی . (۱)

(نقل هسی کاندی یارانو چه په روزگار دشیخ بیټنی کښی دده درور چه سړ بن نومید او پر شیخ بیټنی هم خوراگران وو سړبن نه درلود زامن او هر کله به ئی ویل خپل ورور ته بیټنی خپل زوی اسماعیل ورکاوه. او لوی سود سړبن په کاله خدای مهربان داسماعیل په برکت سړبن ته نصیب کړه دو مره زامن چه او س سو... گڼون دهغو داسماعیل مرقدوا قع دی دکسی په غره چه زه هلته تللی وم.)

شیخ بیټ نیکه به دخپل اولاد او خپلوانو په خصوص کی دعاوی کولی او ویل به ئی چه ئی لویه خدایه زما سړبن او غرغښت پر کور او کهول برکت کښیږده خدای دده دعاقبوله کړه او ټولـه پښتو نخوا ئی په کهول ډکـه سوه حضرت بیټ نیکه مستجاب الدعواته ؤ او زیات کرامتونه ئی درلودل.

دده یو مناجات دغه دی:-

لویه خدایه لویه خدایه ستا په مینه په هر ځایه
غرولاړ دیدرناوی کښی ټوله ژوی په ځالی کښی
دلته دی د غرولمنی زموږ کږدی دی پکښی پانی
دلته لږ زموږ اوربل دی ووړ کورگی دی وو ړ بورجل دی
مینه ستا کښی موږ میشته یو بـل د چا په مله تله نه یو
هسک او مځکه نغښته ستاده دمړ وو ده لـه تا ده

مخزن افغانی چه په ۱۱۳ کی لیکلی سوی دی د حضرت بیټ د کرامت په خصوص کی داسی وائی:

---

(۱) دسلیمان ماکو تذکرة الاولیا.

Marfat.com

( بسیار صاحب شریعت بودند ظاهر وباطن ایشان بصلاح وفلاح آراسته بودوخوارق عادات ایشان بسیار شایع است نقل است وقتی در آن کوه که وطن مالوف حضرت بیټ است سرما زیاد شد و باقبیله وفرزندان ورمه وگله از آن کوه فرود آمده جائیکه سرما کمتر بود گذرانید بعد از آنکه برف وباران کمترشد ووقت بهار درآمد بعد از چهار ماه بجای قدیم وخانهای خود آمدند شیخ بیټنی بعصمت پناه مادر خود آن فرمود که فرزندان که از راه دور رسیده اند برای شان نان گرم بپز آن صالحه گفت که به همین زمان از راه دور رسیده ایم ودرهیچ خانه آتش نشده بعداز ساعتی که آتش بهم رسد نان خواهم پخت شیخ فرمود برخیز بسم الله گفته در دیگدان قدیم دست بکن وآتش برار آن صالحه گفت تمسخر میکنی مدت چهار ماه است که ازاینجا رفته ایم وچندان برف وباران باریده که بشرح راست نیاید آتش مانده باشد شیخ فرمود که ترا باستفسار چه کار آن عصمت پناه بر خو است وبسم الله گفته دست در دیگدان زد باره بر خاکستر بر داشته بود که اخکرها همچنان روشن وتابنده بر آمد گویا که همین زمان آتشی افروخته اند تعجب نمود آن عفت مآب را شیخ بیټنی فرمود که نانی که اول پخته شود پیش من خواهی اوردتا من هر که را خواهم قسمت کنم چون نان اول پخته شد ابراهیم پسر بی بی متو که نواسه حضرت شیخ بود آنرا بر داشته پیش شیخ آورده نهادوخود بادب باستاد ودیگران پسران و نواسه ها که برای بازی مشغول بودند چنانچه رسم طفلان است القصه حضرت شیخ آن برکت وعصمت را به ابراهیم داد وگفت (لودی) یعنی کلان است از آن روز نام ابراهیم بلودی شهرت یافته القصه بعد از ساعتی دیگر فرزندان ونواسها حضرت شیخ برادران لودی ازفراغ بازی رسیده پیش حضرت شیخ بیټ آمدند وعرض کردند که ما گرسنه ایم نان بده حضرت شیخ فرمود نان را ابراهیم برد حالا نان را ازو بخواهید هر که را او بدهد همه خور دان پیش ابراهیم آمده نان طلب نمودند چنانچه دانست به هریك قسمتی داد و باقی خود خورد القصه از انروز بعد بدعای حضرت بیټ برکت سرداری بلودی رسید و تا قیام قیامت بدعا شیخ بزرگی وریاست بلودی تعلق دارد.)

---

مخزن افغانیه ۱۱۳ مخ

Marfat.com

حضرت شیخ بیټ مستجاب الدعوا ته او دخدای ناز برداره ؤ.

## شیخ خرښبون

دی دحضرت بیټ وراره ډیر عابد او پرهیز ګاره سړی ؤ دکسی په غره کی او سیدی او بیا غوړی مرغی ته ولاړ او کله به غلوان غره ته ختلی په ډیر عجز او انکسار به ئی دخدای یاد و نه کوله دی په (۴۱۱) کی په غوړه مرغه کی مړ سوی دی.

خرښبون بابا دیښتنی دبچه خوانده اسمعیل سره لوی سوی دی هغه و خت چه دی دغلوان دغره څخه دکسی غره ته تللی اسمعیل بابا دده په بیلتون ډیر وژړل او دغسی ناری کړه :-

که یو ن دی ، یو ن دی مخکی بیلتو ن له کسی غر ه څخه
ځی خر ښبو ن د ی
که و ر و ر ه ، و روره خر ښبو ن و ر و ر ه
ته چه بیلتو ن کړی زما ویر ته ګوره
چه ځی مر غی لـه توری کر غی له ، همز و لی پا ته :
ځی بر غـی له ؟
د خد ای دپاره ، خرښبون یا ر ه چـه هیر مو نـه کـړ ی
ز مو ز کهو ل و ا ړ ه
زړه می رپیز ی ، یارمی بیلیز ی بیلتو ن ئی ا و ر د ی
ځا ن په سو ځیز ی

دخرښبون بابا ځواب :-

ا سما عیله ! ستا نا ر و می ز ړ ګی سری کی
بیلتا نه خر ښبو ن بیا له تاؤ پر د ی کی
نه هیر یز ی ، که می بیا نه ستا یا د ی کی
په چړ و د و یر به پر ی سی د ز ړه مر اندی
ځمه ځمه چه ا و ز د یو ن می دی و مخ ته
و یا ته څو ر ی به ا چوم و تر خ ته



Marfat.com

ستا سی یا د به می وی بس د زړه د سخ ته
که د ا مځکه غر و نه قول سی لاندی با ندی

## شیخ ثابت بړیڅ

یو خدای دوسته او عابدسړی و پرخپل کام بړیڅو ډیر مهربان او زړه سواندهوو ځرنګه چه بړ بځی لږوه نود نورو پښتنو د ضرر څخه دپه امان کولو دپاره ئی د خپل کام څو مشران لیری ځایو ته واستول چهددوی داوسیدلو دپاره ښهځای پیدا کړی دوی ښور اوك خوښ کړ خو شیخ ته ئی دغه عیبونه وویله داو بونه چینه پکښی نسته ماران ډیر لری بلو ځای پکښی او سیږی چهپه خپل زور غره دی ده ورته وویله چه دخدایه می غوښتی دی چه دمار زهر ئی کارونه کړی دبړیڅو پاره زیاتی او به پیدا سی بلو ځان کـار په ونه لری چه دده خواست تر اوسه قبول دی شیخ ثابت په او مړی سرکی دبلوت په کلی کی اوسید بړیڅان دده په وینا هلته ولاړل دمخزن افغانی په (۱۹ مخ کی) دده په کرامت کـی داسی لیکلی سوی دی : ـ

(روزی حضرت شیخ مودود چشتی را گذر بر آن مکان افتاد شیخ ثابت را فرمودند که بر شوراوك که وطن ایشان است بلای نـازل شده شیخ ثابت در جواب گفت که خدای تعالی این مکان را واین قوم را از بلای نگهدار باز حضرت شیخ مودود همین حرف بر زبان آورد حضرت شیخ ثابت گفت که خدای تعالی از بلائی نهگدار هم درین اثنا فوج حاکم قندهار بر سر این قوم تعین شد بهسه کروهی مفاصله از شوراوك رسیده بود ولی شیخ ثابت گفت هیچ غم نیست درین اثنا ناگاه سواری اسپی تاخته پیش صاحب لشکر آمد وفرمان حاکم را ظاهر ساخت که حکم نیست برقوم بړیڅان بتازند بمجرد دیدن فرمان فوج مغول بر گشت.

دده زیارت داو دل په غره کی دی ډیر کرامتونه ئی درلودل.

## شیخ رضی لودی

شیخ رضی لودی پر اسلام مین ډیر عابد او پرهیز گـاره سړی و او تل به ئی داسلامی شعایرو او اخلاقو وعظ او تبلیغ کـاوو

---

مخزن افغانیه ۱۹ مخ

د همدغه کبله دده اکا شيخ حميد لودي د ملتان پاچا دي د کسي غره ته و استاوه چه هلته اسلامي اشاعت او بلاغت وکړي دي هلته ولاړاو زيات خلک ئي مسلمانان کړه :

هغه وخت چه د شيخ حميد زوي نصر د الحاد او قرامطه ؤ په عقايدو تورن سو شيخ رضي وهغه ته دغه پاړکي وکښله :-

دالحاد په لوردي ترپلل گروه دي زموږ وکوراوه
موږ رونلي په زيار نه تا په تور و توراوه
لرغون ولي گروهيدلي چه دي کو ښي اړاوه

هغه گروه دي اوس اړه کړ چه پلار و دي رڼاوه
لودي ستا په نامه سپک سو که هر څو د رڼاوه

نصره نه موبي له کړاله او دي نه يي په کاوه
زموږ رغاده ستاله گروهه دو رڅلوي په رغاوه

نصر د خپلې پاکۍ غبرگون داسې ورکړ :-

دالحاد په تور تورن سوم زه لرغون خو ملحد نه يم
زما د ښنه هسي تورا کړي که ملحد يم د د ښنه يم
له اسلامه نه ترپلمه تورانو څخه په ترپله يم
گروه مي هغه لرغوني دي اوس هم کړور په لرغون نه يم
د اسلام پر هسک به ځلم و توراتو ته تيار د يم
د لودي زوي ستي يم د حميد له لور کنهاله يم
توراني د ښن چه وايي زه له گروهه په اړ د يم
دائي تور تاسي د روهوي زه دڅو ښن سماسي په ... يم
د د ښنو و ينا وي مغزه زه لودي يمه څوز د يم

---

قلمي مخزن افغانيه ۲۲ مخ

## شیخ عارف ترین اودل

دی دکندهار دارغسان درود په غاړه اوسیدی خدای دوسته اوصاحب حال بزرگوارؤ زیات وخت مست او مجذوب گرزید یوه ورځ ئی یوه ښکلی مغوله ښځه په بازار کی ولیده له دستی ئی عورت په لاس کی ونیوی کوڅو الیانو دواړه ونیول د کندهار حاکم میرزا حسین ته ئی وروستل حاکم امر پر وکړ چه دواړه په تاوده تنورکی واچوی په تنورکی ددواړو ښځه یوو ریښته هم ونه سوه دواړه په تنورکی ناست وه کباب ئی خوړ هغه وخت چه داخبر حاکم ته ورسید عذر ئی وغوښت او ورته وی ویل ای شیخه زما ښځه څه وغواړه؟ شیخ ورته و ویل هیڅ خواست نه لرمه.

## ملك آدم کاکړ

دی د غوثیت مرتبی ته رسیدلی ؤ دسلطان بهلول او سلطان سکندر لودی په عصرکی ئی ژوند کاوه دد غو دوو پاچاهانو ښځه ئی داهل دنیا په لباس ځان پټاوه خو کله چه دسلطان سکندر حضور ته راتللی هغه به مخی ته ورتلی او دتخت دخنګه به ئی ځای ورکاوو څرنګه چه سلطان سکندر ځپله صاحب حال او متعبد پاچا تیر سوی دی نوځکه ئی ملك آدم کاکړ هم په ولایت و پیژاند مخزن افغانی لیکی (کشف حقایق واطلاع مغیبات وخوارق عادات و اوصاف حمیده اخلاق پسندیده ایشان ازحد تحریر مستجاوز است از مردم متدین بتحقیق پیوسته که سلطان سکندر و ملك آدم کاکړ هردو بمرتبه غوثیت رسیده بودند)

## څلور نگینی

په پښتنو کی لودی کام په عمومی صورت ډیر تقوای داره او د خدای نازولی دی په دوی کی تر نورو پښتنو ډیر عالمان، فاضلان او دخدای دوستان تیر سوی دی او کوم کسان ئی چه د کام د مشری او یا سلطنت اقتدار ته رسیدلی دی ده هغو زیات خدمت د پښتنوالی او ایماندار ی له کبله دی وائی څلور نگینی هم دلو دی کام د نیکو نو ښځه دی چه د ترنگ په سیمو کی ئی په مال څری ژوند تیر اوو څرنگه چه زاهد او پارساخلك وو دغی سیمی ټولو خلکو د نیکی مدد ځنی غوښت او مخصوصه عقیده ئی ورته درلوده.

ددوی دژوند انه وخت دڅلورمی هجری پیړ ی په حدودو کی

---

بقیه خزانه ۷۳ مخ

اوکل کیږی اوهم هلته د ترنک پرغاړه دخیبری دغره په پای کی ښخ دی دکندهار دځینو منورو ښځو په عقیده ځلور نگینې ځلور ولیانی دی .

دډیرو پخوانیو زمانو راهیسی افغانانو دخپلواوښانو اونورو مواشیو په واسطه دهند تجارت کاوه او داکار بالعموم دکوچی افغانانو مخصوص لودیانو ، دپټانو ، اوو الو خروټو اونورو په لاس کی وو اوځنی دغه پښتانه به دهند په محلی حکومتو کی په نوکری اوعسکری شقوقو کی داخلیدل چه وروسته دهند حکمرانی اوپاچاهی ته هم رسیدلی دی ددوی په دربارونو کی ځکه پښتنو مشایخو اوعرفاؤ زیات قدر درلود او زیات رو هند ته مخ نیولی وو په دغه لړ کی مخزن افغانی دپښتنو دځینو مشایخو یادونه اوسوانح بیانوی چه دلته لنډ راوړل کیږی خواجه قطب الدین بختیار اوسی کاکسی ، شیخ اسمعیل سړبنی ، خواجه یحیی بختیار ، شیخ علی ډنگر بختیار شیخ بابی سیدانی ، شیخ میر شیرانی ، شیخ دنو سوریانی ، شیخ بستان بړیخ ، شیخ متهی کاسی ، شیخ ابوسعید سوریانی ، شاه محمود جلوانی مجذوب ، شاه عبدالرحمن بختیار ، شاه بابکر بختیار ، شاه گدا ولد شاه بابکر ، شیخ حامد ولد شاه گدا بختیار ، شاه شهاب بختیار ، شیخ ثابت بړیخ ، شیخ الیاس بړیخ ، شیخ مانگی سهار بړیخ ، شیخ متی خلیل شیخ عارف مه تن اودل ، شیخ حسن کاسی ، شیخ کرو جو بان سړبنی ، شیخ بهدین بختیار ، شاه بختیار ، شیخ ملك یار شیرانی ، خرشین میا قاسم خلیل ، شیخ حسین بختیار .

عادات و مشایخ اقوام بیتنی که در این تاریخ مسطور اند رحمت الله علیهم اجمعین :
حضرت شیخ بیټ (بیټنی) ملاعلی بیټنی ، شیخ علی سرمست بیټنی ، شیخ ادریس مریانی ملا نصر بیټنی ، شیخ احمد لودی ، شیخ سلیمان دانا سروانی ، شیخ هلهی قتال شیرانی ، شیخ احمد لوحانی ، شیخ عبدل بیټنی ، شیخ احمد سروانی ، شیخ خضر سروانی ، شیخ علی سرور لودی ، شیخ بازید شیرانی ، شیخ یحیی شهید باسی ، شیخ [illegible] جهان شیرانی مالیزی ، شیخ محی نیازی ، شیخ محمود د حاجی سروانی حاجی الحرمین حاجی عبدالله شیرانی .

مخزن افغانی په ۳۵ مخ کی د ذکر خوارق و مشایخ طایفه غرغشت

---

قلمی مخزن افغانیه اومړی مخ

Marfat.com

هژده تن اند دغه نوموته ذکر کوی:ـ خواجه خضر کاکړ شیخ خدو ناغر، شیخ حسن داوی، شیخ جمال کاکړ، حاجی ابو اسحق داوی خواجه کردی تارن، شیخ بدک تارن. شاه علی تارن، شیخ احمد نبی، ملك آدم کاکړ، شیخ محمد شون بن شیخ حمزه کاکړ، شیخ نیك نام داوی سه تن مردان کاکړ زنغوزی، شیخ جمال کاکړ و شیخ مونا ناغر، شیخ عیسی سوری.

لکه چه پورته ذکر سول دلودیانو په دور کی زیات پښتانه مشایخ عرفاوعلما موجودو دعبدالله داؤدی تاریخ په ۳٦ مخ کی دسلطان سکندر لودی دعلم دوستی په خصوص کی لیکی:ـ

(درزمان سلطنت او اکابرو مشایخ و علما از ولایات عرب عجم واز اطراف هند به جاذبه عنایت ومحبت وی بدهلی وآگره آمده توطن میکردند).

ددغو څخه مشهور میان بهوه، خواجه سعید فرملی، معروف فرملی او نور دی.

## خواجه حسن میوندی (میمندی)

دی دسلطان محمودغزنوی وزیر وو او شمس الکفاة ئی ورته وایه دده اصلی نوم احمد بن حسن ده دی دکوچنیوالی څخه دمحمود غزنوی سره لوی سوی او په خوی او بوی ئی پوهیدلی دی او محمود دده تهدرضاعی ورور خطاب کاوه هغه وخت چه په ۳۸۴ هـ (۹۹۴) ـ سلطان محمود دامیر نوح بن منصور له خوا دخراسان حاکم سود ده سر منشی او بیا ئی دبست اورخج دحاکم او مستوفی په حیث کار کاووتر (۴۱٦) پوری ئی وزیر وو بیره تنګه اراده ئی درلوده دحقایقو په خرګندو او کی دچاتر نفوذ لاندی نه راتلی خلك څخنی شاکیان سول او محمودغزنوی ئی ورته بدبین کړ څکه دکار څخه دلرده سو او بیا دمحمودغزنوی دمړینی وروسته دده زوی مسعودمیمندی صاحب دبند څخه را ویوست او دبلخ دحاکم په حیث ئی مقرر کړ ددوو کالو او خوبیا شتو خدمت څخه وروسته په ٦۳ کلن عمر وفات سو او مړی ئی دهرات څخه زامنو میوند ته راوړی دده زیارت دګنبدی په شکل دمیوند دشهیدانو سره دی شهیدان دده پر زیات شاوخوا راګرځیدلی دی تر اوسه درسنده او بزرګوار پیر په حیث شهرت لری ښځی او نر ئی دزیارت خوردی

قلمی مخزن افغانیه (۲٦ مخ)

اخلي وائي چه محمود غزنوي يوه ورځ دده دليدلو دپاره میوند ته را تلی او دځانه سره ئي دا قبوله کړی وه که رشتيا دی بزرګوار وي زما او زما لښکر وته به داسي خواړه ورکړي چه تر اوسه ئي نه وي خوړلي ځکه هغه شير چای دپسرلی دهـو سی دشيدو ځخه ورته تهيه کړی او سلطان ئي پخپل کرامت قانع کړ.

دبيهقي تاريخ چه سعيد نفيسی حاشيه پر ليکلی ده د محرم ۲۲ (۱۷۲) مخ کی دخواجه حسن ميمندی دوزارت دتشريفاتو په خصوص کی داسي ليکي:- (وديگرروز (هو يوم الاحد التاسع (مـن) صفر هذه السنه خو اجه بدر گاه آمده، پيش، رفت واعيان وبزرگان وسر هنگان واولياء وحشم بر اثر وی در آمـدند ورسم خـدمت بجای آوردند وامير روی بخواجه کرد وگفت خلعت وزارت بايد پوشيد، که شغل در پيش بسيار داريم و بايد دانست که: (خواجه خليفه ماست) در هر چه مصلحت بـاز گرد دو مثال واشارات وی روانيست در همه کار ها وبر آنچه بيند کس را اعـراض نيست خواجه زمين بوسه داد وگفت:- فرمان بر دارم امير اشارت کرد سوی حاجب بلکا تکين که مقدم حاجبان بود تا خواجه را بجامه خانه برد. وی پيشتر آمد بازوی خواجه گرفت وخواجه بر خواست وبجامه خانه رفت وتا نزديك چاشتگاه نمی رفت که طالعی نهاده بود (جاسوس) (منجم) فلك خلعت پوشانيدن داد همه اوليا وحشم باز گشته چه نشسته وچه بر پای وخواجه خلعت بپو شيد و (من) بنظاره ايستاده بودم آنچه گويم از معاينه گويم و از تعليق که دارم واز تقويم، قبای مسقلاطون بغدادی بود سپدنی سپيد سخت خرد نقش پيداو عمامه نصب بزرگ اما بغايت باريك ومر تفع و طرازی سخت باريك وزنجير بزرگ وکمری ازهزار مثقال پيروزها بند نشانده و حاجب بلکا تکين بدر جامه خانه بود نشسته چون خواجه بيرون آمد بر پای خواست وتهنيت کرد.)

خواجه حسن ميمندی په لومړی سر کی دغه وزارت نه منلی دده او سلطان په منځ کی زياتی مکاتبي سوی دی چه يوه ئي دمثال تو ګه دلته راوړله کيږی:-

المواضعه:- برای عالی خداوند سلطان بـزرگ ولـی النعم اطال الله پوشيده نمانده است که اختيار بنده آن بود که باقی عمر

---

تاريخ بيهقي ۱۷۷ مخ

بدعوت خواندن مشغول باشد دولت عالی را مشرفها الله که بر بنده رحمت کرده اند واز چنگك سختی بدان بزرگی خلاص کرده اما چون بنده پیر وضعیف گشته است وگاه توبه ودست کشیدن از شغل دنیا آمده، اما چون فرمان عالی برین جمله است که ناچار به شغل وزارت قیام باید کرد بنده گان را جز فرمان برداری چه چاره است بدین خدمت مشغول گشته وانچه جهت بنده گی است اندرین کار بزرگ بجای آورد که اگر تقصیری برود در بعضی از کارها که ویرا اندر آن گناهی نباشد باید عتاب نرود .

(الجواب: ما خواجه فاضل باداما لله تائیده نه امروز می شناسیم چه روزگار دراز است که وی را همی بینم ومیدانیم وحقهای وی برین دولت پوشیده نیست ولی بچنین ابواب مشغول نباید داشت وآنچه جهد است می باید کرد که وی را جز امانت ومناصحت نیامده است وبه هیچ وقت وبهیچ حال ما باوی عتاب نفرمائیم بکاری که وی را اندر آن میلی نیست.

سلطان به ویله خواجه زما دپلار پرځای دی خواجه په محرمه کال ۴۴۴ په هرات کی ناجوړه سو سلطان دی په هرات کی پرېښود او نیشاپور ته ولاړ سلطان په شاد ماخ کی ؤ چه دخواجه دمرگ خبر ور ورسید او وزیر خوابدی سواووی ویل (اگر باز فروختندی ما را هیچ ذخیره از او دریغ نبودی.)

ابو نصر مشکان دده په مرینه مرثیه ویلی ده چه مطلع ئی داده :-
یاناعیا بکسوف الشمس و القمر بشرت باالنقص والتسوید والکمد

بیهقی وائی :- (بمرگ این محتشم شهامت ودیانت وکفایت و بزرگی بمرد واین جهان گذرنده را خلود نیست وهمه بر کاروان گاهیم وپس یکدیگر میرویم.)

فرخی وائی :- (ددغه وزیر په خدمت کی دځوانی ځخه زوړ سوم .

من همان بنده ام و باکه کنون بنده ترم
هم چنین و خدای از دل من هست آگاه
کودکی بودم و در خدمت تو پیر شدم
ور چه هستم بدل و مردی واحسان برناه

Marfat.com

فرخي دده دوزارت په تجديد کې وائي:-

تا سايه او دورشداز دولت محمود
ديدی که جهان برچه نمط بودوچه کردار

بی سايه وبی حشمت او ملك جهان بود
چون خانه که ویران شود اوراد رو دیوار

اکنون که بدين دولت باز آمد بنگر
تا چون شود اين ملك فرو ريخته از يار

هرچند که ویران است امرو زخراسان
هر چند نمانده است درو مردم بسيار

سال دگر ازدولت و از برکت خواجه
چون باغ پر ازسل شود اندر مه آزار

راءی و نظر خواجه چو باران بهاراست
اين هر دو چو پيوست بخندد گل وگلزار

عدل آمد امن آمدو رستدرعيت   از پنجه گرگان رياء بنده غدار

سمرقندي عروضي دخواجه په مدح کې وائي:-
چه دلغمان خلکوته ديو کال دپاره ماليه سلطان و بخښله بل کال بيا را غله سلطان خواجه ته وويله چه جواب ئي وداپه خواجه ورته وويله (الخراج خراج اداته دوائه) ماليه دانه ده چه اداثي دواده.

خواجه احمدبن حسن په هغه صورت چه دچاعربي زده نه وی امريي وکړ چه ليکونه په پارسو ليکي دده لقب شمس الكفاة وو.

دی انسايکلو پيډی آف اسلام The Encyclopedie of Islam ددريم ټوك په (۴۶) مخ کې دالميمندی شمس الكفات ابوالقاسم احمد بن حسين تر عنوان لاندي داسي راغلي دی:-(دی(۱) د سلطان محمود رضاعي ورور وو او دهغه سره ئي يو ځای لیك او لوست زده

(1) The Encyclopedie of Islam 46.

Marfat.com

کړی وو داحمد پلار حسین د ـ بکتگین په وخت کی د بست د عما لو شخه ووخود عایداتو د تلفید لو په اتهام دی په مرگ محکوم سو.
پوهاند عبدالحی حبیبی په خپله یوه مقاله کی چه د آریانا مجلی په ۸ گڼه ۱۳۲۹ کال کی د مواضعه احمد میمندی ترعنوان لاندی داسی لیکی :ـ
(وی ملقب بود به شمس الکفاة ودر عهد سلطان محمود (۱۸) سال وزارت کرد ولی التونتاس حاجب وعلی خویشاوند که ندیمان در بار بود ندر محضر سلطان شکایت کرد و تهمت های برخواجه بستند سلطانمحمود او را از حضرت غزنه په هند باز داشت و پسرش خواجه عبدالرزاق را نیز در قلعهٔ (نندنه) موقوف فرمود

## سلطان ویس بابا

دمحلی روایاتو له مخی دغزنویانو په دوره کی ژوندی و د کندهار په زاړه ښار کی په زهد تقوای او ریاضت لگیا وو وایی چه دی یوی پلاوی کورنی ته منسوب وو او د یوه محلی شهزاده سره ئی دوستی کړی وه خو وروسته جذبه او مخصوص حال ورپیښ سو او د زاړه ښار ختیځ لوری ته په یوی خانقاه کی د خدای په عبادت او شب خیزی مصروف سو او دخاص او عام مرجع وگرځید دده دمرگ وروسته اخلاص منداتو یی زیارت پر ښه ور جوړ کړ او پر ډیرتاریخی لوښی لکه اونگ او دیگونه پاندی وو خو د امیر امان الله خان په دوره کی دغه شیان کابل ته ځنی یوو پول سول و او س یی دزیارت په شاوخوا کی لو یی گردی شکلی ښځه منی پر پری ایدلی کیږی دکندهار خلک د پیری مودی راهیسی په پسرلی او منی کی دده پرمزار میلی جوړ وی شیر چای تهیه کوی او دشاووخواطبیعی منظرو ځخه یی حظ اخلی.
دتاریخ افغانستان در عصر کورگانی هند په (۲۰٦) مخ کی د حصار شهرقندهار ترعنوان لاندی دسلطان ویس بابا نوم داسی اخیستی شوی دی:ـ(علاوه بر دروازه هائیکه ابوالفضل ذکر میکند نواب صمصام الدوله دروازه دیگری راهم بنام (ویس قرن) نام میبرد در سال (۱۰۵۸) هـ که قشون ایران قندهار را محاصره کرد بهادی خان محافظ این دروازه بود (ماثر الامراج ۲ ص ٦٦۱) چون

تاریخ افغانستان در عصر کورگانی هند ۲۰٦ مخ

Marfat.com

تاکنون هم متصل طرف شرقی شهر کهنه قندهار مزاری بنام (سلطان ویس) موجود است بنابران موضع این دروازه را هم طرف شرقی شهر تعین کرده میتوانیم. حصار قندهار را به شرحی که ذکر رفت در دور کورگانی موجود بوده و شاه جهان تا هشت لک روپیه به ترمیم و تعمیر آن مصرف کرد.

## (مجنون قتال بابا)

دلومړی شاه عباس صفوی په وخت کی په کندهار کی ژوندی ؤ دکندهار دنیولو دمخه اکبر مغولی پاچا دده زیات احترام او عزت درلود دده په بزرگواری تقوای او پوهی قایل و او په ډیرو ملی مسایلو کی به یی مشوره ورسره کوله خو کله چه شاه عباس هم سو دکندهار نائب الحکومه دده دشهرت او حیثیت سره رقابت واخیست او دافغانانو دمذهب مخالف ځینی عناصر ئی باندی را تحریکول ځکه دده ملی جوش او قومی غرور رغی او په یوازی سر ئی ورسره مقابله شروع کړه چه دیو شمیر غلیمانو د منځه وړلو وروسته دستگیر او ووژل سود دده زیارت دکندهار دزاړه ښار جنوبی خواته دغره په لمنه کی دی او تراوسه د اخلاص منداتو او عقیدت مندانو څخه خالی نه دی.

ځینی محققین یی دشیخ ملی قتال په نامه چه مخزن افغانیه یی په (۳۱) مخ کی ذکر کوی داسی لیکی :- در عبادات و ریاضت و مجاهدات چندان مقید بود که مقدور بشر نیست و از نظر تربیت حضرت شهباز قلندر بمرتبه تکمیل رسیده واز بسیاری مشقت و خدمت ابواب مشاهده و مکاشفه برای شان مفتوح گشته و خلایق آن عهد دست بیعت با یشان میدادند و حاجات اکثر مردم با تجاح میرسید خوارق عجایب از ایشان صادر میشد و در تکمیل ناقصان و تربیت مریدان شان عظیم داشتند و فتوحات و نذر بیشماری می آمد دست بدست بخرچ میرفت نقل است روزی شیخ ملی قتال سواره میرفتند اتفاقا گذر ایشان برچوگان گاه پادشاه افتاد فرمودند اگر چوگان باشد ما نیز چوگان بازی کنیم درین اثناد و چوگان بحضور جماعه که در رکاب ایشان بودند از آسمان فرود آمدند ایشان برجسته

---

(مخزن افغانیه ۳۱ مخ)

Marfat.com

آن عنایت ربانی را از هوا گرفتندو بچوگان بازی مشغول شدند الحال آن چوگانها پیش فرزندان ایشان که صاحب سجاده اند تیار است چنانچه سلطان نورالدین محمد پادشاه جهانگیر از استماع این وقایع به تعجب ماندند این چوگانهارا زیارت کرده باز بفرزندان ایشان سپردند واقعه در سنه (۱۰۱۹) بوقوع امد.)

## شیخ خضر سروانی

دی یوعابد او خدای دوسته شیخ وو په و ینا کی ئی زیاته اغیزه وه مخزن افغانی یی قبر پردرابهن سند باندی چه دسلیمان غره څخه راوزی بادوی اوزیاتوی یی (در ینجا یك کوزه آب همیشه پر میبا شد چون دوکس رامنا قشه رخ میدهد وقرار بر سوگند میشود هریك ازان کوزه یك مرتبه آب میخورد اگر راست گواست سلامت ماند واگر دروغ گواست شکم او چنانکه مشك دم میشود تا زمانیکه اقرار راستی کند خلاصی ممکن نیست در آنجا این عمل تاحال معمول است.

## شیخ قلندربابا

شیخ قلندر بابا دمغولو دحکومت په دوره کی ژوند کاوه او دسبز وارد میرانو څخه دی ده دفقه څخه علاوه په تصوف کی هم لوی لاس درلود اوپه کندهار کی یی د شیخی اوپیری حلقه پیره توده ساتلی وه دده اولاده دهند د مغولی پاچاهانوله خوا څخه په کندهار کی داقتدار او حاکمیت درجی ته رسیدلی ده میر معصوم دکندهار حکمران کله چه دده زیارت ته ورغلی ؤ هلته یی یو یادداشت پری ایښی دی چه داده دنیکه مزاردی.

دده زیارت دکندهار دپنجوائی دغونډی دباندی دی سپیروان دولسوالی زیات خلك د زیارت دپاره ورځی په اختر واو ځینی نورو معتبرو ورځو کی هلته میلی کیږی لس پنځلس کاله دمخه دکندهار زیات خلك په موټرو نوکی ورتلل اوپر زیارت باندی یی زیات جم اوجوش وو دی په (۹۳۴) ه دمحرمی په میاشت کی مړدی.

دسند تاریخ په خپل (۱۳۷) مخ کی د سید محمد مشهور په سید شیر قلندر په خصوص کی داسی لیکی:- (ایشان فرزند میر سید حسین

زنجیر پاانداند ودر صغرسن به سیرو سلوك وریاضت شتافته خود را بدرجات عالیه رسانیده اند خوارق عادات و کشف کرامات ایشان از ان متصاعد است که مهندس اندیشه از عهدهٔ استیفای آن تواند برآمدو ماچندی ازان ایراد میکنیم.

مخفی نماند که نام ایشان سید محمد است و ایشان را سید شیر ازان جهت میگویند که هیئت اصلی خود را تغیر داده به هیکل شیر نموده بودند و آنچنان بود که چون در اوایل حال که سید محمد به خوارق عادات و علو مقامات مشهور شدند و مردم قندهار و بلوکات هزاره مرید و معتقد گشتند نذر و هدایای می آوردند سید قشغه نام شخصی به میرذو النون سخنان ناملایم خاطر نشان نمودند میرذو النون را بران آورد که بطلب میر کس فرستادند میر سیدمحمد روزجمعه در مسجد جامع از موضوع اشکلچه آمده بمیر ذالنون ملاقات کردند و چون میر ذالنون ازمجلس برخاست گفت این سید را نگاه دارید میر سیدمحمد راموکلان درخانه جای داده جمعی پاسبانی میکردند لیکن چون میرذوالنون بمنزل رفت از آنجا بی ادبی که از او نسبت به میر واقع شده بود نادم و پشیمان شده چندطبق طعام بدست مردم معتمد نزد میرسید شیرفرستاد چون ایشان بدان خانه آمده هیچ کس را آنجا ندیدند الی شیرعظیمی که بروی نمد میلمطد و آنچه معاینه کردند بمیر ذا لنون رسانیدند گفت که اینها ترسیده اند دو نفر دیگر از مقربان خودرا فرمود که بروند ایشان همان حالت را دیدند پس میر ذوالنون با فرزندان و اطفال برادران خانه رسیده بعین الیقین مشاهده کردند میر ذو النون به تقصیر خود قایل شده و عفو خواستند میرسید شیر بصورت اصلی باز آمد و میرذوالنون دست و پای او را بوسیدند)

ددې کرامتو نه بیغی ډیر دی او دعا شوری په ورغ په ۹۳۳ کی وفات سوی دی.

دمشهورومریدانو څخه یی یو دسفیروان خواجه شهاب الدین دی.

دغه شعرونه دکندهاردسپیروان دغره په کتیبه کی چه دارغنداو پرغاړه دی سید معصوم دخپل جد دپاره کینلیدی.

تاریخ سند ۱۳۷ مخ

Marfat.com

در ین ار آمگاه بی ره و ر و — اگر مر د ی منه دل یکسرمو
ازین منزل که یاران در رحیل اند — ترا آن جمله در رفتن و کیلند
ترا گر آسمان منزل نشین است — هم آخر جای تو زیر زمین است
بیا (نامی) بکار خود بگیرئیم — ز مانی برمزار خود بگیرئیم

د تاریخ افغانستان در عصر کورگانیان هند په (۱۹٦) مخ کی داسی راغلی دی :-

(دیگر از عمرانات دورهٔ مغول یك مسجد و اطاق مختصری است نزدیك مرقد - سیدشیر قلندر سبزو اری بر کوه سکلیچه سپیر و ان ده کروهی مغرب قندهار این کوه بر کنار دریای ارغنداب واقع و در آنجا مرقد سید محمد المشهور به سیدشیر قلندر والد سید میر انصاری است که با ارغونی قندهار معاصر بود در زمیندا و ر ساروان کلاو دیگر صفحات قندهار سکونت داشت و در محرم سال (۹۴۳) ه وفات یافت.)

## (بـابـا هوتك)

بابا هوتك دلوی کندهار یو متعبد او پرهیز گار شیخ ؤ او زیات کـرامتونه یی د خلکو په خولوکی وو دی دبا روزوی او دتولر لمسی ؤ محیطی شرایط او دتفکر طرز داسی وو چه په هغه وخت کی به دپښتنو ولسی مشرد پوهی او هو ښیاری څخه علاوه متدین او متعبد هـم ؤ نو ځکه بابا هوتك دغه دواړه صفتونه در لو دل بابا هوتك په اتغر کی په (٦٦١) ه زیږیدلی د (۷۹) کالو په عمر په (۷۴۰) مـړ دی.

پر بابا هوتك قام او وطن خورا گران و وهغه وخت چه مغولو پر اتغر، او لان او کلات حملی کولی بابا هوتك په قام مین د وطن دسا تنی او دغلیم دشړلود پاره داسی ناره و کړه :-

پرسور غربل راته نن اوردی — و گړیه جو ړ راته پیغور دی
پر کلی کور باندی مغول راغی — هم په غزنی هم په کابل راغی
غښتلیو ننگ کړی داموو اردی — مغل ر ا غلی په تلو ا ر د ی
په پښتو نخوا کی یی تا ر دی — پر کلی کور باندی مغل راغی

---

تاریخ افغانستان در عصر کورگانیان هند ۱۹٦

Marfat.com

آ د مرغی غښتلیو را سی پر ننګ ولاړ د پښتونخواسی
تو ری تیر ی غشی تر ملاسی پر کلی کور باندی مغل راغی
پښتنو هلی پر غر ه جنګ دی سور غر په وینو ددوی رنګ دی
مهال د توری دی د ننګ د ی پر کلی کور باندی مغل راغی
ز لمو په غشیو کړ ی و ار ونه د تیر و تور و ګذا ر و نه
ورور اندی کړی خپل قترونه پر کلی کور باندی مغل راغی
ز ما د ز لمو و ینی بهیږ ی مځکه او غرونه پری سره کیږی
میر خی ز غلی او تر هیږ ی پر کلی کور باندی مغل راغی

## شیخ ملکیار

د بابا هوتک مشرزوی دی چه په (۲۵) کلن سن قو می مشر تابه ته رسیدلی دی یوزاهد او خدای دوست سړی وو دده دکر امتو شخه یودا دی کله چه په (۷۴۹) کی ترنک ډک راغلی وو دز یانو رسولو علاوه یی لاره هم بنده کړی وه دشیخ ملکیار دمناجات له اثره ترنک خپلی مجراته واو ښتاوهم یی یو لرګی راوړی در ود دیوی څنډی او بلی څنډی په غزو کی بند سواو دپل په څیر خلک پر تلله راتلله .

ملکیار ډیر غښتلی او دلاور پښتون وو په جنګ کی دلسو تنو تمام وو خپل کام یی په کر هڼه کاریز ونو کښلو او مالو نـو ساتلـو تر غیباوه دده دتوجه له کبله په سیوری کی زیات کـار یز و نه وکښل سول او زیاتی شاړی مځکی آبادی سوی

دملکیار هغه تصوفی مناجات چه دتر نک رود په آرام سوی او لار یی ور کړی ده دادی :-

تر نک بهیږ ی تر نک بهیږ ی غاړ ی تر غاړ ی
خپل لالی غوا ړی
که رو ده رو ده د تر نک ر و د ه خاو ند د و چ کا
ز ما خپله سو د ه

---

بقه خزانه ۹ مخ ... د پښتو ادبیاتو تاریخ دوهم ټوک ۱۶۸ مخ

غنځنه یو سه — سپینی سپو ز میه — و ر ته وو ایه
چه تر نکث تا ل کړ م — ستا له خو لګیه
که خړو خړ و — او بو سوان کړی — بیل ملګیار دی
پا ته له یا ر د ی — سوب ئی جانان کړی

## شیخ میر شیرانی

دی دولایت او تصرف خاوند ؤ دلیرو او نژ دو خلک تل ددعا دپاره ورته راتله او په مراد رسیدل دی په کا سپفر کی او سید دشیخ میر او لاده تراوسه په خپل قبر کی داحترام وړ ده.

## شیخ محمد صالح رحمت الله علیه

دی یو عابد او پرهیز ګاره شیخ ؤ او د کلات په جلدک کی چه تراوسه د الکوزو مسکن دی د خلکو دهدایت دپا ره په ارشاد او تبلیغ بوخت و و.
وائی چه دکندهار حاکم شاه بیګ خان شیخ محمد صالح ته و لیکله چه خلکو ته دسمی لاری ښودلو او تدریس کولو دپاره کابل ته و لاړ سه ده په ځواب کی ورته ولیکله چه زه دعزت طمع نه لرمه او په دنیا پسی نه ځمه زه عزت لرمه چه دنیا ماته راسی نه داچه زه په دنیا پسی ولاړ سمه که زما عزت غواړی ما پر یږ ده او ما په دنیا پسی مه مسافره وه هغه وخت چه دغه لیک شاه بیګ خان ته ورسیدی هغه وویله زما مقصد ستا عزت دی نه بی عزتی.
ملا الله یار الکوزی په (تحفت الصالح) کی لیکلی دی چه محمد صالح په کام الکوزی ؤ
او په دغه کتاب کی ئی دخپل شیخ احوال او اقوال لیکلی دی:-
په دغه اړ کی هغه دشیخ محمد صالح دغه غزله چه شاه بیګ خان ته ئی لیکلی ده ذکر کوی:-

د لیلی دمینی فیض هر سبا وړم
بیهو ده منت په و لسی د نو ر چا و ړ م
چه آشنای د شپی ناخا په پهلاس کښیوت
روښان زړه په کو ګل پټ لمر په سماوړم

---

مخزن افغانی ۱۴ مخ ... پټه خزانه ۱۱ مخ.
د پښتو ادبیاتو تاریخ دوهم ټوک ۱۶۷ مخ

په د نیا کی تجارت څوك د د نیا کړی
زه د زړه په بازار بار دعشق سودا وړم

د لیلی لیدل د ی رب په بها نه کړی
خزانی که د دی کل جهان په شاوړم

که پر تخت می د سلیمان سپور کړی سر یه
عاقبت خاوروته ښه عمل پیشوا وړم

بیله عشقه خوشحالی پر ما حرامه
زه (صالح) که په خوله خوښ په زړه ژړاوړم

داسی ښکاری چه شیخ صالح تر (۱۰۰۰) هـ د مخه ژوندی و او دشیخ د علمی، فضیلت او تقوای آوازه نه یوازی په کندهار بلکه په تموری هند او صفوی ایران په دربارونو کی پر ته وه.

## شیخ بستان بړیځ

دشیخ بستان پلار محمد اکرم رحمت الله علیه هم دخدای ولی وو چه دښوراو که راغلی او دهلمند په غاړو کی دخدای په یاد اوسیدی.

شیخ بستان دخپل پلار څخه فیض اخیستی دی او په ځوانی کی هندوستان ته تللی دی او هلته ئی دقدرت اثار لیدلی دی هغه وخت چه بیرته وطن ته راغی یو کتاب یی دبستان الاولیاء په نامه ولیکی چه په هغه کی دزیاتو پښتنو ولیاوو او پیرانو حالونه او کرامتونه راوړل سوی دی دغه دشیخ بستان یو مناجات دی :-

او ښکی می څاڅی په گریوان یو وار نظر که پر ما
راسه گذر که پر ما

دمینی اوردی زما زړگی وریت په انگار کی نا
ښی تا ر و نار کی نا

Marfat.com

خود به و یلیزم چه می زړه پرتامفتون کی نا
ځان می ز بو ن کی نا
اوښکی می څاڅی پر گر یوان یووار نظر که پر ما
را سه گذ ر که پر ما
له د ر د ه سوزم سل نار ی اوغلبلی و همه
گرزی سوری وهمه
یوآن می چیری نه آرام نه ښکا و نه و ینم
نه را حت کړ نه و ینم
اوښکی می څاڅی په گریوان یووار نظر که پر ما
را سه گذ ر که پر ما
د خوز وزړ وله حاله ته یی ای باداره آگاه
یی د بی وز لو همر اه
دخپل عزت په روی بستان ته کړه دمهر ښندل
کړی له گناهه گوا ښل
اوښکی می څاڅی پر گریوان یووار نظر که پر ما
ر ا سه گذر که پر ما

نعمت الله هروی چه دده معاصر او مرید دی دده په خصو ص کی وایی :-(شیخ بستان شخص پر دردی بود بسیار میگریست و اکثر اوقات اشعار پشتو بصورت حزین ودرد ناك که سنگ را به گریه آوردی خوانده دریك سفر دریایی نعمت الله باوی همراه بود چون سفر بحریه به احمد اباد و گجرات رسید بتاریخ ۱۱ ربیع الثانی روز جمعه ۱۰۰۲ ه از جهان رفت تجهیز و تدفین وی از طرف همو طنش نعمت الله هروی بجاشد مخزن افغانی دپښتنو او لیاؤ دذکر په سلسله کی په (۱۶) مخ کی دشیخ په خصوص کی داسی وایی :- (پانزده سپاره هر روز ختم میکرد واخر شب وضو تازه ساخته بحق مشغول میشد محرر این تاریخ شب و روز در سفر دریا رفیق بود

شبی در دریای شور طوفان شروع شد چنانچه خلایق کشتی نشین دست از جان شستند وهر کس بدعائی تضرع وزاری بدرگاه حق مشغول شد من طلب مدد کردم گفتند خاطرجمع دارید که دغدغه نیست بمجرد این سخن طوفان فرو نشست وبادمرادوزیدن گرفت جهاز معاودت نموده به احمد اباد گجرات رسیدچون نعش ایشانرا در قبر ماندند آواز خواندن قرآن بگوش من میرسید دیدم که لب های ایشان در حرکت بود درین واقعه اکثر یاران حاضر بودند روزی بمن فرمودند عمر من باخر رسیده وبیماری اسهال عارض شد به تجهیز وتکفین من خواهی پرداخت بالرأس والعین قبول کردم بتاریخ ۱۱ شهر ربیع الثانی روز جمعه سنه (۱۰۰۳) بعد از نمازظهر بمحبوب اصلی واصل شد.)

## شیخ تیمن

دپټی خزانی د (۶۱) مخ په حواله شیخ تیمن (رح) زاهد عابد او ولی سړی تیر سوی دی دشیخ کاکړ علیه الرحمه زوی دی چه دپوب شخه دغور ېری خواته تللی دی او خلك یې اوس او لادپه کاکړ وکی نه شمیري شیخ تیمن دعلاؤالدین حسین سام په زمانه کی مړدی دده اولاده اوس په غور کی سته او پـه تیمنی قبیله اوه لری دغه یې یوه ویرنه ده:-

گهیخ رڼادلمرخپره سوه | زماپر کوردویرناره سوه
دبیلتون ورځ توره تیاره سوه | زړ غسوناځایه‌چه بیلتون راغی
زړه‌می له‌دی‌ویرنی‌شین‌دی | په‌ژړا ژاړم‌څه‌ناورین‌دی
زرغون له‌اوښومی‌شادین‌دی | په‌نول‌نولیزم‌چه‌تاخون‌دی
نه‌به بیایم نه‌به بیا راسی | نه‌به‌تیاره‌شپه‌زمار ناسی
نه‌به شهی‌راته پخلا سی | بیایزی‌پیریی‌اوس‌دیوان‌راغی
دخښتن‌پاردی‌هیرمی‌نه کړی | آغلیه‌مخ‌چه‌په‌یانه کړی
اوربل‌دی‌پریښووی‌واته کړی | پرمادبل‌اور کړوون‌راغی

---

پټه خزانه (۶۱) مخ

دپښتو ادبیاتو تاریخ دوهم ټوك ۱۲۸ مخ

# شیخ متی « کلات بابا »

شیخ متی د شیخ عباس، عباس د عمر، عمر د خلیل، خلیل د غوریا، غوریا د کند، کند د خرشبون زوی دی چه د سړبن قدس الله سره د اولاد دی څخه دی.

شیخ متی ډیر خدای دوسته او پرهیز ګار سړی وو تل به د خدای په یاد او مخلوق ته په خیر رسولو مصروفه وو.

دی په (۶۲۳) ه کی زیږیدلی دی او د (۵۶) کلو په عمر د ترنك پر غاړه وفات سوی دی. او پر هغه لوړه غونډۍ ښخ دی چه کلات بابا له سی.

وایی چه دغی غونډۍ هیڅ او به نه درلودی اولاد او عقیدتمندان به چه ورتلل داو بود نیستی څخه ډیر په عذاب وه څکو به د ترنك څخه په دوبی هغی غونډۍ ته او به خیژولی.

یوه ورځ دده مشر زوی شیخ محمد زهر دده په زیارت کی د نغه ډیر تږی وو که یی کتل د متی بابا د قبر سره او به نژدی را وغورځیدلی او بهانده چینه پیدا سوه چه تر اوسه بهیږی.

شیخ متی په غنډان کی (د خدای په مینه) په نامه یو کتاب لیکلی وو.[*]

هغه وخت چه شیخ وفات سو نو دده ارادتمندانو هغه کتاب دده پر مزار کښیښود چه د کلات د غونډۍ پر سر واقع دی کوم خلك به چه د ده زیارت له ورتلل نو له هغه کتابه به یی د شیخ اشعار لوستل هغه وخت چه مغول راغلل نو لی دا کتاب واخست او اوس ورك دی دا مشهوره کورنۍ د خرښبون ترمرګ وروسته د کندهار په ارغسان، او بیا په پښین کی سره خپره سوه، شیخ متی دوه نور وروڼه هم درلودل چه حسن او امران نومیدل د امران مزار تر اوسه د کوږك پر غره دی چه هغه غر دده په نامه د (خواجه امران غر) هم بلل کیږی او یوه خورلی «بی بی خالا» نومیده چه قبرئی تر اوسه هم په پښین کی مشهور دی او په کلات کی د ترنك پر غاړه د (خالا کلی) هم ددی په نامه تر اوسه باله سی چه دا به په ژوند هلته اوسیده.

د شیخ متی مزار تر اوسه هم د کندهار شمال ختیز خواته تقریباً (۵۰) میله لیری پر یوه غونډۍ واقع دی چه کلات یی بولی او دی په کلات بابا مشهور دی ده خپل ژوند هم د ترنك پر غاړو او د غونډیو په غره او د کلات په حدودو کی تیر کړی دی.

---

[*] د پښتو ادبیاتو تاریخ دوهم ټوک ۱۶۳

Marfat.com

دشیخ متی یو مناجات:ـ

پرلویو غروهم په د ښتو کی　　په لوی‌سهار په نیمو شپو کی
په‌غاړه زغ‌ا وپه شپیلکو کی　　یا د و یر ژ لو په شپیلو کی
ټول‌ستادیادناری‌سو ری‌دی　　دا ستا دمینی نند ار ی دی
جنډی‌زرغون که‌په بیدیا دی　　دبر بن خو اته په خندا دی
ترنګ چه خړدی په ژړاد ی　　دا ټول‌اغیز دمینی ستا د ی

ټوله ښکل دی ستا د لا سه　　ای د پا سوا لود پا سه پاسه
که امررو ښانه‌مخ‌یی‌سپین‌دی　　یادی‌سپوږمیه‌تندی‌ورین‌دی
که غر دی ښکلی پرتیمن دی　　لکه‌هنداره، مخ‌دی سپین‌دی

ستا دښکلا د ا پلو شه د ه　　د ائی یوسپکه نند ار ه د ه
دلته لوی غرونه ز ر غونیز ی　　دژوند وزمی‌پکښی چلیز ی
بوراوی شا و خو ا کړ یز ی　　سترګی لیدوته یی هینبیز ی
لو یه خا و ند ه ټو له ته یی　　تل د نړ ی په ښکلید ه ئی
خاونده ښکلی‌ستا جما ل د ی　　ښکاره‌یی‌لورپه‌لور کمال‌دی

که‌ورځ که‌شپه که پیړی کال‌دی　　ستادقدرت کمکی مثال‌د ی

ستا دلو ر و نو یوه‌ر نا د ه　　دلته چه جو ړ ه تما شا د ه
زړه می داستادمینی کوردی　　سوی دعشق په‌سوځنداور دی

رپ‌یی وتاته‌ستاپه لور دی　　بیله‌دی‌هیخ‌دی‌ورک‌یی‌پلوردی
ستاد جمال په‌لید و ښاد دی　　که نوی د غه نور بر با د دی

Marfat.com

په غرو کې ستا دعشق شپیلکی دی
دد ی نړ ی په عشق سمی د ی
که غټ که و وړ که پنډ نری دی
ستاد جمال ځر ی هر شی د ی
چه پر دنیامې سترګی پری سو ی
ستاد جما ل په ننداره سو ی
نه هسک نه مځکه و ه تو ر تم ؤ
تیاره خـو ره وه ټـول عـدم ؤ
نه دا ا بلیس نه یی آ د م ؤ
ستادجما ل سو چه پر تم ؤ
چه سو ښکاره ښکلی دنیا سو ه
دپنځ پر لـو ری یی رڼـا سو ه
زه چه څر ګند پر دی دنیاسوم
د ښـکلی مـخ پر تما شا سو م
ستاپر جمال با ندی شید ا سوم
له خپلی ستړی ر ا جلا سو م
په ژړا ژاړم چه بیلتو ن د ی
یمه پر د یس بل می تو ن د ی
وګـړ و و لی متی ژ ا ړ ی
سوری ئی اوری غاړی غـا ړ ی
څه غواړی څه وایی څه بـاړی
خپل تون او کو رو کلی غوا ړ ی
چو نی چه بیل سی نیمه خوا سی
تـل یـی دبـڼ په لو ر ژ ړ ا سی

د شیخ متی خلیل په خصوص کی دمخزن افغانی په (۲۱) مخ کی داسی راغلی دی:- «صاحب عبادت وریاضت بود ایشا نرا سر حلقه دوازده خانواده سره بن میگویند وافغانان بسیا ر ارادت می آورد ومرید میشدند چنانچه غلغله کرامت ایشاندر عالم منتشر شد بنابران شیخ حسن کهتر کاسی بجهت امتحان کرامات بملازمت شیخ متی خلیل رسید.

واز روی جلالیت از شیخ متی پرسید کـه خـود را سر حلقهٔ دوازده خانواده سره بن میگویند گفت آری چون بر کنار آب نشسته بودند شیخ حسن گفت دریا هم آب دارد اینهم آب است که بر کنار او نشسته ایم درین آب غطه بزنید ومروارید برآورید شیخ متی فرمود که ای حسن دراز دریا غواص بدر می آرد اما مرد باید که درزیرزمین غوطه زده در بدر آرد شیخ حسن کاسی گفت بسم اله شیخ متی خلیل حسن نام پسر خورد خود را گفت بباد برو درته زمین از خزانه الله تعالی بهردو دست پر کرده در بیار حسن پسر شیخ متی جائیکه استاده بود زمین ترقـید وهما نجا در زیر زمین فرور رفت وهر دومشت پردر برآمد ودر پیش شیـخ حسن کاسی انداخت شیخ نیز خواست که در زمین فرورود ودر بدرآرد تا زانو در زمین رفته بود که شیخ متی دست برزمین زد و گفت مگذار مرحسن کاسی راکه فرورود وشیخ حسن زانوی خود رابد شواری از زمین برآورد وپای شیخ متی خلیل بگرفت و گفت که بزرگی تراقبول دارم.»

## حضرت کابل شاه صاحب

دی داورنگ زیب دسلطنت په اواخروکی دد هلی څخه کابل ته تللی دی او بیا دهغه ځایه څخه کندهار ته راغلی دی دده په لویی او صاحب حالی دکندهار ټول خلك خبر سول او زیاته عقیده یی ورته پیدا سوه دی تل آزاد ګرځیدی مذهبی او سیاسی مکلفیتونه یی په نظر کی نه نیول ځکه دکندهار ملایانو دده دوژلو قصدوکړ اوهرڅه چه یی وکړه په ګیر به نه ورتللی او ټول ټول کرامتونه به ئی ورښکاره کول کابل شاه صاحب دمیرویس نیکه داقتدار رسید لو په زمانه کی وفات سوی دی دده په خصوص کی سید محسن آغا کندهاری داسی وایی:-

---

قلمی مخزن افغانی ۲۱ مخ

چه مجذوب دپاك الله دی
هغه شخص کابل شاه دی
په ظاهر ملامتی وو
په باطن کی ډیر جلی وو
ملایا نو اتفاق کړ
دسید طاقت بی طاق کړ
دی دشرع ووتلی
په ظاهره کی نتلی
ملایان راغله جانانه
د حضرت ترخا نمانه
څوك د باندی څوك درون سوه
پرسید باندی شبخون سوه
شیخ څلور تنه کوره یاره
پاره سوی وهو سپاره
علما حیران سوه وروره
له دی حاله څخه گوره
خپل اوطانو ته رهی سوه
له دی کاره بیزاری سوه
چه دوی ووتل دلبره
له کوټی څخه یکسره
بیا حضرت پر خپل ځای ناست ؤ
تن کی جوړ نه کم او کاست وو
دده اصل دکابل وو
هم سید ؤ هم اصیل ؤ
په دهلی کی سکونت ؤ
پاکیزه بی نحوست ؤ

Marfat.com

چه ز ما ن دعالم گیر شه — له عا لمه ﺋ یر د لگیر شه
په دی ملک کی ا قا مت کړ — قول وطن یی په همت کړ
څو یی نقل له جها ن کړ — لهمخلوق یی ځان نها ن کړ
ز ر سل څو کا له ز ما یا ر ه — د هجر ت و تلی شما ر ه
چه یی نقل د جها ن کړ — او مسکن یی په جنان کړ (۱)

دکندهار داکثرو صاحب حال خلکو په عقیده د ی د ملا متیه ؤ څخه ؤ ابن عربی ددغی طایفی په خصوص کی داسیوایی «دخلکو څخه ددوی دپټیدلو حکمت دادی که ددوی متانت خلکو ته ښکاره سی ددوی احترام به خلک لکه دخدا یانو داسی کـو ی د ا خلک څوك نهسی معلوموولای مگر اهل الله ددغی طا یفی مشهو ر کسا ن ابو حفص نیشاپوری، حمدون قصار، ابوعثمان حیری، اونور دی ددغو ملامتیانو څخه یودا ورنگ زیب په وخت کی چهسرنو میده او لوغ گرزید د عبدالقوی قاضی په حکم اعدام سوده بـه و یل (څه وکړ و چه شیطان قوی د ی) دغه بیت دده د حال موافق د ی

بجرم عشق‌توام‌میکشدوغوغائیست
تو نیز بر لب با م آ که خوش‌تماشائیست.

## شیخ اسمعیل سړ بنی

دی ئل په عبادت اوشاقه ریاضت مشغولهوود طریقت اوحقیقت کاشف اسرار وو دروه په ولایت کی دوخت مقتداووکله چه د سیر او سیاحت څخه بیرته راوگرزید او و طن ته راغی دخو ا جه پـه برخه کی یی هستوگنهغوره کړه دلیر واوزدو ځا یو نو څخه بـه خلك دده څخه دفیض او بر کت اخیستلو دپاره ورتلل اود حاجت دروا کیدلو غوښتنه به یی څنی کول په دغه وخت کی پهروه کی شیخ احمد نشیخ موسی زدی په ارشاد او تلقین مشهور ؤ و هغه وخت چه دشیخ اسمعیل سړبن په راتلو خبرسو په ډیر شوق اومینه دده خدمت ته ورسید او دو مری سر ه گر ا ن او خو ا ږ ه سو ل

(۱) مرادات سید محسن آغا کندهاری
دمخزن افغا نی ٦ مخ

چه بیا هیڅ نه سره بیلیدل حضرت مخدوم العالم بهاؤالدین دوی چېنی دوی مسئلی‌دوی دوا ړو ته ولیږ لی وایی چه ددوی دلنگر دتو دیدلو دپاره هره ورځ پنځوس پسو نه حلالیدل او او مصر فیدل بیا به ددغو پسونو پښی او کلی بیر ته را ټو لیدلی او ژوندی کیدل به څړ ته به بیول کیدل دغه طریقه ددوی تر حیاته لیدله کیدله دمخزن افغانی په شپږم مخ کی دده په خصوص کی داسی لیکلی‌سوی دی «از شیخ احمد بن موسی روایت است که حضرت حواجه خضر علیه سلام میفر مود که جمیع اولیاء عصر آرزوی ملاقات من دارند ومن همواره تمنای صحبت شیخ اسمعیل سړ بنی دارم ومیسر نیست زیرا که هیچوقت از حضور حق تعالی جدا نیست ومقبره شریف این هرد وبزرك بالای کوه سلیمان است وگنبد عالی بالای قبر ایشان بناء نموده وآنجا را مقام وازه خوا میگویند در هوای تابستان گروه و قبائل افغانان وهر اقوام از متوطنان آن دیار گرد وپیش آن گنبد جامیگیر ند وهرسال بارواح این دو بزرك گوسفندان ذبح وخیرات میشوند.

سلیمان ماکوداسی لیکی :- «نقل کاوه شی چه شیخ ملکیار ستانه به تل تتله دشیخ اسمعیل ستر ستانه پاړ کی ویل او بڼغ بـه یی کاوه :-

| | |
|---|---|
| تښتته وکړه له ابلیسه | چه ابلیس لعین ښکاره سی |
| هلته ورکه پلو شه سی | تول نړی توره تیاره سی |
| سړی وران سی له ابلیسه | غوځ دپس په کناره سی |
| که هر چا ابلیس خرځ کړ | نو بی هغه ننداره سی |
| که سړی ابلیس ته پړسی | نو پر کورد ویرناره سی |

## دتوری غاړی زیارت

وایی چه ښا کبر مغولی ددوری دلودیانو یو مرشدوو شپه اوورځ دخدای په عبادت اوریاضت اخته ؤ په تیره بیا پر کوچنیانو اوبی وزلو ډیر مهربان وو اوس دده زیارت ته هغه کوچنیان وروستل کیږی چه دتوری غاړی په ناروغی اخته وی دده زیارت دکندهار دزاړه ښار شمالی خواته دی.

## شیخ دنوسوریانی خویشکی

دځوانی په ابتداء کی دخدای مینه او جذبه ورته پیدا سو له دخپل وطن څخه یی درسنده پیر په پلټلو سفر وکړ اود خواجه مودود چشتی قدس سره درګاه ته راغی اودیرش کاله یی دهغه دتاو خانی له پاره بوټی راوړل هغه وخت چه دحضرت خواجه دو صال وخت ور سیدی خواجه وفرمایل پر هرچا چه زمادغه چو څه برابر پوری وادی غونډی زامنو او مریدانو چه یی چوخه اغوستله پالویه او یاکوچنی باندی کیدل بیا حضرت خواجه وفرمایل چه هغه افغان سوریانی لرګی راوړونکی راوغواړی چه زماد تاوخانی دپاره ئی دا دیرش کاله کیږی بوټی راوړی دی دوی هغه راوست او چوخه ئی په واغوستله بالکل باندی سمه وه لکه خیاط چه ده ته جوړه کړی وه بیایی دی دخپل فیض او هدایت څخه مستفید کړ او رخصت یی کړ او بیرته وطن ته ولاړ (دمخزن افغانی په ۱۵۹مخ کی دده دکرامت په خصوص کی داسی لیکلی سوی دی:-(۱)

(روزی درمجمع درویشان صاحب حال شیخ دنو هم حاضر بود افغانان گفتند - دنو هم خود را درویش میگو ید اگر امروزی جانور پرندهٔ بیاید و بر کتف او بنشیند یقین ما گردد که دنو درویش است بعد از زمانی کبوتری صحرایی آمده بردوش او نشست هرکس را نسبت اعتقاد برا حوال شیخ دنو زیاده گشت واز شیخ دنو یك پسر بوجود آمد آنرا شیخ جون نام نهاد او لاداو بر متکای هدایت اجلاس دارند ایشانرا جو نزئی میگو یند.)

## بابا ولی علیه الرحمه

دی دکندهار مشهور پیر او بزرګوار شخصیت دی چه لویان او واړه په زیات احترام ورته قایل دی زیارت یی دکندهار شمال لوید یز خواته په شپږ کیلو متری کی واقع دی او دکابل په تړو او میسمو نو په تیره بیا به پسرلی کی زیات خلك ورځی په پنجشنبی، چارشنبی او جمعی په ورځو هلته لو یه میله جوړیږی دده اصلی نوم باباحسن ابدال دی دبزرګواری خرق عادت دغر کندولو له کبله خلك بابا ولی ورته وایی په (۹۲۰)ه ق کی په کندهار کی وفات سوی دی .

(۱) دمخزن افغانی ۱۵ مخ

Marfat.com

دده زیارت پخوانی دی دا کبر مغولی پا چا په وخت کی یوه شنخته پردر وله سوی ده چه د هغی څخه معلومیږی چه بابا صاحب دابر اهیم اد هم مرید دی .

په یو روایت بابا ولـی رحمته الله علیه د ترنګز ود حاجی صاحب د نیکه ګا نو څخه دی . دترنګز ود حاجی صاحب اصلی نوم فضل واحد دی د پلار نوم یـی فضل احمد دی

چه دسید انو په کورنی ګڼل کیږی ددوی لوی نیکه حضرت شیخ المشایخ سید بهاؤالدین علیه الرحمه دی چه زیارت یی د ترنګزو شمالی خواته په لکره کی دی او په (پیربودلی بابا) مشهور دی

دحضرت شیخ سید بهاء الدین دپلار نوم بابا ولی کندهاری دی چه په کندهار کی رسنده پیردی .

دراولپنډی مشهور بزرګ شاه عبداللطیف بری امام په پنځم پښت د حضرت شیخ سید بهاؤالدین لمسی دی .

نو هر کله چه حضرت بری لطیف امام په (۸۰۰) ه کی تیر سوی دی نو دی څخه دحضرت شیخ بهاؤ الدین المعروف په پیردلی بابا علیه الرحمه زمانه معلومیږی چه ده د (۶۰۰ - ۶۵۰) زمانی پوری ژوند کاوه په (۶۰۰) ه کی سلطان شهاب الدین غوری المعروف په معز الدین غوری چه دهند وستان دد ریمی ګامیابی حملی څخه راغیی نو ده په لښکر کی چه کوم دوولس زره پښتانه غازیان وه هغه یی په روه ، سلیمان غره ، هشنغر ، او باجوړ کی آباد کړل په دی خلکو کی هغه کورنی چه په کام دمحمد زیؤ (ماموند زی) قبیلی خلک وو په اصل کی دکندهار څخه راغلی دی او په هشنغر کی آباد سوی دی ددوی یو څو مشران کندهار ته ولاړل دبابا ولی کندهاری څخه یی پو ښتنه وکړه چه خپل زوی سید بهاء الدین ددوی سره کړی چه دپیښور دسیمی دهشنغر په علاقه کی د روحانی پیشوا په ډول سره یو ځای آبادسی په دی اعتبار د پیښور سیمی ته د حضرت پیر بودلی علیه الرحمه دور تللو زمانه موږ په (۶۵۰) ه اندازه کولی سو د کندهار څخنی متصوفین او محققین وایی چه دی په اصل کی

Marfat.com

دفراه دشین پالهاو په نسب سیددی باباولی صاحب دسلطان حسین میرزا مرشداو پیر ؤ هغه وخت چه کشمیر یاغی سو دهغه محای دآرا مولود پاره دسلطان سره کندهار ته راغی تر هنده وو سره ملگری وود بیرته راگرزید لو په وخت کی په کندهار کی باباولی صاحب ناروغه اومړسو وایی چه میاصاحب عبدالحکیم دده زیارت ته پیر تللی او پوره اخلاص یی ور ته درلو دده دزیاتی پیژندنی دپاره(۱) دسید ه محمد محسن آغادمزارات درسالی څو بیته دلته راوړل کیږی :-

نوم دده سید حسن ؤ — په‌سوزوار کی‌یی‌وطن‌وو
دشاهرخ‌پاچا مخدوم ؤ — دآفتاب په دود معلوم وو
په تاریخ د نه صد یاره — دهجرت‌تیرشوه‌هوښیاره
شاه‌رخ‌شاه‌ویل زماپیره — زمانیت دی تر کشمیره
تا له ځانه سره بیایم — ستا په دید سره‌ز ه‌پایم
شیخ‌ویل چه ای امیر ه — رب‌دی‌تانه‌کړی‌دلگیره
په‌هرځای‌چه‌ستاگذردی — زما هغه‌خو ا ته‌سفردی
کندهار ته ر ا ر هی‌شه — کل عالم په‌ده راضی‌شه
په جوپان کی راشی‌دله — په منز لو منز لو پخپله
شاه‌رخ شاه‌په‌ده‌شادان‌ؤ — په زر و یی خاد مان و و
له هرا ته را ر وا ن شه — کند هار په ده تابا ن شه
پاچا وو یل‌نو بس دی — زمادغه قد رهوس دی
هندوستان‌لیری‌وطن دی — هغه‌خو اته زمارفتن دی
ته‌یی‌زور دغه‌دی‌ځای‌دی — زیاتی‌مځه‌روی‌دخدای‌دی
څوشاه‌رخ له‌هند وستانه — شورا ستون ترخرا سانه
دده‌روح ووپرو ازکړی — وجنان ته ر سید لی

---

(۱) دمرقع مشاهیر ۱۳۱ مخ

Marfat.com

دسند تاریخ په دریم ټوک کې ۱۳۳ مخ کې د بابا حسن ابدال تر عنوان لاندې داسې لیکي « ایشان از سادات صحیح النسب سبز وارند ودر مبداء حال که ایشان را ذوق دست داده سفر حجاز اختیار نمودند وبزیارت حرمین شریفین وارض مقدس مشرف شده چند سال در آن نواحی گذرانیدند و در زمان سلطنت میرزا شاهرخ و لد ارشد حضرت صاحب قرانی از دیار روم وحجاز مراجعت نموده به سبزوار تشریف آوردند وشاه رخ میرزا نسبت ارادت و حسن عقیدت که به باباحسن ابدال داشته در سفر هند بابا را تکلیف نموده باخود بردند ودر حین مراجعت در موضع لنگر قندهار رحل اقامت انداخته با مریدان ومعتقدان خود اظهار نمود که ازین زمین بوی محبتی بمشام من میرسد تاآخر عمر در آن منزل گذرانیده هما نجا آسوده اند خوارق ایشان بسیار است شمهء

از احوال ایشان ورفتن در غار ( شمشیر غار واقع ولسوالی پنجوایی قندهار) واز طلسم عبور نمودن وخشت طلا بر آوردن است ودر پیش استانهٔ ایشان گنبدی است رفیع مخروطی شکل که از سنگ های ناتراشیکه، هر یك بوزن پنج من قندهار بوده باشد بی گچ واهك وگل ساخته اند میگویند که چله خانهٔ باباحسن بوده است.»

بابا ولي صاحب یوه لوحه لري چه پر دواړو خواو و نوشته لري لومړی صفحه ئې د باندې ده او دوهمه صفحه یې د قبر خواته ده چه دلته دواړې راوړلې کیږي :- لومړی صفحه (هوالحی القایم القیوم سبحان الملك الحی الذی لایموت له الحکم وله الحمدوله الکبریاء والجبروت. بر لوح ضمیر زائران روضهٔ ادراك وخاطر خطیر عاکفان خط خاك ظاهر وپیدا و روشن هویدا خواهد بود که خلاصی از مضایق ایام ورستگاری از مزلت اقدام بزیارت ارباب قبور و استعانت از اصحاب حضور منوط ومربوطاست چنانچه کلام خجسته فرجام حضرت رسالت پناه علیه من الصلواة افضل ومن التحیات اکملها خبر ازین معنی میدهد (اذاتحیرتم فی الامور فاستعینوا من اهل القبور) کاشف این حکایت وشاهداین روایت است اسعاف حاجات وانجاح مهمات زائرین این مشهد مقدس و متکلفان این مرقد منور است اعنی مرقد سلطان الطریقه و برهان الحقیقه قطب فلك الهدایت مرکز دایرهٔ ولایت

---

تاریخ سند ۱۳۳مخ ، دسیدمحسن آغا دمزارات افغانی دکتاب ۲۳ مخ

مهبط انوار الهی مظهر اسرار نا متناهی قدوة الواصلین زبدة الکاشفین سر حلقه ارباب وجد و حال باباحسن ابدال نور الله مرقده وعطر مشهده که در عالم طریقت کسوت وخرقه از حضرت سلطان الاولیاء و برهان الاتقیا فی العالم سلطان ابراهیم ادهم داشته اند و به نیل سعادات ورفع درجات فایز وفایق ۰۰ ومجذوب سالك بوده اند وخوارق عادات از خدمت ایشان بظهور می انجامید چنانچه در افواه والسنه جاری است وارباب ملك وملت واصحاب دین ودولت روی نیاز وابتهال بدین درگاه که کعبهٔ آمال وامالی این دیار است آورده مقصود می یابند

چون کعبهٔ قبله حاجات خلق گردیده نهند روی بدرگاهت از دیار بعید وحضرت خاقان مرحوم مغفور شاه رخ میرزا از روی اخلاص وارادت درین مقام ملاقات کرده آنچه از خدمت بابا شنیده بودند به رأی العین مشاهده آمد واین موضع که موسوم است به قریهٔ لنگر برسم ذکات وقف حضرت بابا فرموده از ما لیه وکل تکالیف معاف ومسلم داشته اند ودرزمان حضرت سلطان مشار الیه بفحوای مصدوقهٔ (المؤمنین لا یموتون بل ینتقلون الی ۰۰) از دار فنا به دار بقا رحلت فرمودند وچون زمان سلطنت مشغل بحضرت سلطان مرحوم مغفور ابو الغازی سلطان حسین بهادر گشت اهل بغی وعنادر بلاد ۰۰ بر آورده گردن کشی آغاز کرده بودند ودور عایا متضرر ومتفرق گشته از اوطان خود جدا میشدند هر چند که فرزندان کامگار وسرداران نامدار می فرستادند این دیار قراری پیدا نمیکرد برین ۰۰ تقدیر حضرت امیر کبیر عالم گیر المؤید من السماء المظفر علی الاعداء افتخار الاعاظم الامیر المرحوم المغفور امیر شجاع الدوله والدین ذوالنون بهادر برد الله مضجعه درین ولا از ولایت ما وراء النهر شان اتفاق افتاد ودر اهل شر و فساد دفع و ۰۰ عالی بنام مبارك حضرت مشار الیه شرف صدور یافت آنحضرت با برادران نامدار وفرزندان کامگار و چند ی از خاصان این حدود گشتند بعون عنایت الهی ویاری دولت نامتناهی بضرب تیغ ابدار این دیار را از شر مفسدان باغی پاك وصاف گردانید دران ۰ از کناره آب سند تا خط کابل واز بلخ تا ناحیت دار السلطنه هرات واز سرحد سیستان تا دامن ۰۰ در قبضه تصرف پادشاهانه در آورده لوای عدالت وشفقت درین اقلیم ۰۰ سلطان غازی سلطان

Marfat.com

محمود بن سبکتگین نورالله مرقده‌از صفحهٔ خاطر جهانیان واهل زمان محو هستی گردیده ٠
دد و همی صفحی ۀ برلیك «و بحمدالله تعالی که این‌دولت ابد پیوند ولد ارجمند عالیحضرت مشارالیه‌وهوحضرت‌امیر روشن رأی صافی ضمیر عالیجاه ممالك پناه عدالت دستگاه سپرالفلك الارتقا میا رزالد وله‌والدین‌شاه‌شجاع خلدالله دولته الی یوم الدین اهل این دیار و بلاد .. بفراغ دل وحضورروزگارمیگذ رانند واوقات بسر میبرند ظل خلیل مرحمت وعاطفت این حضرت الی یوم الفتا د برسرسکان ... عباد افاق گیر باد وهذا . فا صلاح الاصناف ... مشار الیه ... کافهٔ رعایا وبرایا ... ابنیه عالیه معروف ومعطوف است ارکان واعیان حضرت ... مساعی جمیله بظهور میر سانند در این ایام خجستی فرجام تو فیق رفیق حال فرخنده حال حضرت کو کلتاش مشار الیه وهو جناب رفعت‌مآب امارت پناه شجاعت دستگاه امیر عاقل کامل عادل با ذل امیر ناصرالدین فاضل اید دولته بر... لوح‌عرش فرسای . عالی تو فیق یافت و الحمد لله علی التو فیق ٠ (۱)
لکا تبه -

میر فاضل یادگاری ماند در عالم‌زخیر
باد باقی دولت او تا جهان فانی است

چونکه در ماه ربیع الثانی شد اتمام او
سال تاریخش همین‌ماهی‌ربع‌الثانی‌است

## دکندهارنامی کورنی

دغه دبابا حسن ابدال سبزواری کندهاری کورنی ده چه دد وی تیر نیکونه په کندهار کی‌او سید ل .میر معصوم چه تخلص یی نامی دی دا کبر دعصر د حکمرانو څخه دی چه ډیر کلونه یی په سند او کندهار کی حکمرانی کړی ده‌دی‌شاعر، مولف، طبیب، کتیبه‌نویس او فاضل سړی وو چه ډیری تـوږو نـکی او هـنر منـدان په‌تل ورسره وه‌او هرځای به‌یی په‌غرونو او نوروځایونو کی کتیبی او شعرونه لیکل د ده کتیبی دهند څخه ترسکر ، کندهار فراه او ایران پوری ډیری لیدلی کیږی هغه‌وخت چه‌دی په (۱۰۱۲) ه

(۱) دغالی‌ځایونو لیك خراب شوی دی

کسی د د هلی ددربار څخه دشاه عباس صفوی دربارته د سفیرپه حیث تللی ؤ پری کتیبې یې پر لاری لیکلی دی دغه ئی یو شعر دی : -

خدا وند ادلی ده شعله افروز ‌ ‌ ‌ ‌ دروجانی ز برق درسوز
بدل ده شعلهٔ آتش گدازم ‌ ‌ ‌ ‌ بریزان از مژه اشک نیازم
چنان ده در درون سینه سوزم ‌ ‌ ‌ ‌ که دروی خرمن هستی بسوزم
چنان زان آتشم دل زنده گردان ‌ ‌ ‌ ‌ که از غیرت بسوزد آب حیوان
دلی ده سربسر شایسته درد ‌ ‌ ‌ ‌ درونم چون جراحت خسته درد
دلی کاو زخم از هم ندانند ‌ ‌ ‌ ‌ متاع خوشدلی از غم ندانند

تاریخ سند المعروف بتاریخ معصومی چه خپله سید معصوم لیکلی دی د دغه کتاب په مقدمه کی دده پیژندنه داسی ده :-

(اما بعد راقم این صحیفه محمد معصوم المتخلص بـه نـامی بن سید صفائی الحسینی الترمزی اصلاو البکری مسکناو مدفناو المنتسب الی سید شیر قلندر بن حسن ابدال السبزواری مولداو القندهاری موطناو مرقدا) دده د تولد په خصوص کی وایی :-

شد طلوع آن شمس در خانهٔ صفائی ازخدا
از بروج نیک در ساعت سعید آن شد عیان
بود آن تاریخ هفتم لیلی دوشنبه از صیام
سال نهصد چهل بود از وی زواید چاردان

آبا واجداد او سادات ترمذ بودند واز دوسه پشت سکونت قندهار اختیار کردند باشرکت بعضی سادات دیگر تولیت مقبرهٔ باباشیر قلندر یکی از اولیاء الله تعالی وقت بوده داشتند :-
همدا شانی کله چه دی د پلار سره د ایران دربارته تللی پر لارکه یی دفراه په سیمه کی د نبورا ب په غره کی په (۱۰۱۲) هـ کتیبه و کینله .

## شاه آغا

شاه آغا یوستر بزگوار متقی او رسنده پیردی چه په خاکریز کی یی زیارت دی خاکریز د کندهار دولایت یوه ولسوالی ده چه د کندهار د شمال لوېدیز په (۱۷۵) کیلومتری کی واقع ده خپله خاکریز یوه دره ده چه د شاه مقصود د غرونو او د جنوبی لمړی د غرونو په منځ کی شمال لوېدیز خواته غزېدلی ده چه په جنوبی

---

د تاریخ سند مقدمه .

Marfat.com

پای کی یی دمیوند دره مایله پرته ده ددی ولسو الی یوه برخه دشاه مقصود په نامه یادیږی او هلته دشاه مقصود (مسعود) په نوم زیارت سته دکندهار او شاو خوا خلك ده ته ټول په رو حانیت او بزرگواری عقیده لری . دامام ربانی علیه الرحمه په سیرت کی راغلی دی چه شیخ مسعود دحضرت مجدد علیه الرحمه ورور یو وخت دسودا گری په غرض دخراسان او کندهار خوا ته روان سو د دوره خواجه محمد صادق «رح» دحضرت مجدد زوی دخپل نیکه خواجه عبدالاحد قدس سره قبر ته مراقبه سو دمراقبی څخه چه خلاص سو وی ویل نیکه وایی ددی سفر څخه منع سه خو هغه دده دکوچنیوالی او وړ و کتوب له کبله داخبره ونه منله ځکه یی گفته رشتیا سوه او شیخ مسعود په همدغه سفر کی سخت ناروغ سو او وفات سو او دلته ښخ سو ځنی خلك وایی چه دی همغه شاه مسعود دی خودغه نظر په زیاته ضعیفه ده او دشاه مسعود زیارت دحضرت مجدد صاحب دزوکړی دمخه موجود وو.

دکندهار خلك په دوبی کی هلته دزیارت دپاره و رځی او میله هم کوی خصوصاً په اختروکی هلته ښه میله وی ددغه ځای هوا ډیره ښه او په زړه پوری ده په ژمی کی واوره پکښی اوری غرونه یی دومره لوړ اوبه واور وپټ دی چه حتی د کندهار د ښار څخه هم معلومیږی ددغه ځای واوره کله چه په کندهار کی هوا توده سی کندهار ته راوړله کیږی.

دشاه اغا پرزیارت دلمر ختو او لمر لویدو دمخه ډیر جم او جوش وی ملنگان نغاری باندی وهی دده دکراماتو څخه خلك ډیری خبری کوی یویی دادی چه څوك هلته غلا نه شی کو لای او رسوا کیږی. سید محسن آغا په خپل قلمی دیوان کی دشاه آغا په خصوص کی وایی:-

دی اولاد دپاك نبی وو چه خپل جد ځنی راضی وو
بل اولاد د مرتضی وو په سیدانو کی اعلی وو
نوم دده صفی الدین وو شمع دین رکن رکین وو
دی لمسی دهغه شخص وو په ایران کی مشخص وو
محضه نوم یی سید جلیل وو او دپلار نوم یی خلیل وو
سید خلیل دسید احمد دی نازور داره دصمد دی
خلك وایی چه قریش دی په قریشو کی باعیش دی

Marfat.com

دا غلطه ځماور وره — تاریخ واخله و یی گوره
دی اولاددشاه صفی دی — په مسکن ارد بیلی دی
کندهار ته راروان شه — دغزا په نیت سامان شه
په خاکریز کی ئی وطن کړ — داوطن ئی گل گلشن کړ
خوشهیدشو په خاکریز کی — شو دخدای رحمت په غیز کی

دشاه آغا دزیارت او شهرت په باره کی دملامحمدعیسی حکیم دیوان (نجمن عشاق) په (۶۷) مخ کی داسی راغلی دی :-

دښو پیرانو سردی شاه مقصود علی ابدال
بیشانه رسنده دی اوس یی کیږی انتقال
دښو پیرانو سردی کرامات یی دی ظاهره
اوډیرزورور پیردی نوم یی تللی ترکشمیره
ترهنده ترلاهوره ترملتانه تر اجمیره
چه یادیی پر تنگسه کی پیر رسیږی بی مثال
دښو پیرانو سردی چه سهار رانو توئیږی
چینه دکرامت یی هرطرف ته روانیږی
که شاه دی که گدادی پردرباری جمع کیږی
ښه پیران یی سلامی لره راځی په ماه وسال
دښو پیرانو سردی په خاکریز کی یی مکان
که غردی که دامان دی ټوله شین په هرزمان
هرسهار ومازیگر یی نغاری دی په څه شان
آواز دبلندی یی هرځای خپور دایی کمال
دښو پیرانو سردی رب ورکړی مرتبه ده
که فرش دی که پایه ده که چارچوب ودروازه ده
ټول سپین سنگ مرمر دی مناری دی که گنبده
چه شپه دجمعی سی پرلگیږی ډیر مشال
دښو پیرانو سردی زه یی غلام یمه ددره
نیولی می ځنځیر دی خالی نه دی له اثره
زه غریب محمد عیسی یم چه می جوړ کی دادفتر
صفت دکامل پیردی واوری داغه قیل و قال

د سند تاریخ دشاه مسعود ابدال ذکر په (۱۳۳) مخ کی داسی کوی :-
دیگر از بزرگان صاحب کرامات ومقاما تیکه در دیار قندهار آسوده اند یکی از آن ها شاه مسعود ابدال است کوهی که در دامنهٔ مزار فائض الانوار این زبده الابرار واقع است در آن انگور وسیب وبهی وانار واکثر میوه بسیار خود رو است و چشمه های آب جاری است واین محضر در آن دیار همان کوه است ودر زمان حیات خود تاکی نشانده بود که الی منا هذا باقیست .

د تاریخ افغانستان در عصر کورگانی هند په (۱۹٦) مخ کی داسی راغلی دی «دیگر از بقایای عمرانی دورهٔ مغول آبادانی وکتیبه های مزار سید عبدالجلیل بن سلطان خلیل بن سلطان محمد متوفی (۸۵۴) ه است در شاه مقصود خاکریز (۴۰) میل شمالی قندهار که میر بزرگ ولد میر معصوم قندهاری در عصر جهانگیر در آن عمارتی ساخته وکتیبهٔ سنگی را بنام خود کنده است بعد از آن بسال (۱۰۵۵) در زمان شاه صفی صفوی نیز در آنجا عمارتی بوجود آمده وکتیبهٔ سنگی را بنام شاه صفی نوشته اند (مأخوذ از عین کتیبه های سنگی شاه مقصود شمالی کندهار).

## ابراهیم خلیفه بابا

دی په کندهار کی داکبر مغول دپاچاهی په دوره کی ژوندی ؤ ډیر معتبداو پرهیز کاره سړی وو دیوه روایت له مخی دخاکریز دسلطان عطاء بابا ور وردی ابراهیم خلیفه بابا ته دکندهار او شاؤ خوا خلك ډول عقیده لری پیر یا ېنان او مرگیانان یو لی خلك هر کله ورو ستل کیږی او ډیر رسنده پیر دی دده زیارت در واهی پر غاړه در یګ په څنګه کی دی .

## عبدالرزاق بن احمد بن حسن میوندی

هغه وخت چه طاهر مستوفی دخواجه احمد میوندی وروسته مقرر سو او دزړتیا له کبله یی استعفی وکړه دخواجه احمدزوی عبدالرزاق یی پرځای مقرر سو دی لکه پلار دومره لایق او مدبر ؤ او څو کاله دسلطان مود ود وزیر ؤ هغه وخت چه سلطان مود ود د هرات پر لوری لښکری سمی کړی او د قولنج په ناروغی اخته سو عبدالرزاق ته یی دلښکرو قوماندانی ورکړه دی

---

د سید محسن آغا د قلمی دیوان ۲۴ مخ
انجمن عشاق ٦۷ مخ

دسند تاریخ ۱۳۳ مخ
، تاریخ افغانستان در عصر کورگانی هند ۱۹٦ مخ

Marfat.com

لاپر لاری ووچه سلطان مسعود پیرته راو گرزید او د سلطان محمود زوی عبدالرشید یی د بنده شخه راو یوست او د هغه سره یو محای غزنی ته ولاړ .

## حاجی نیک نام بابا

دی دحیدر آباد د کن دعلیز و شخه دی د سید لعل صاحب لاهوری سجاده نشین ؤ محرنگه چه دی یو افغان وو او په کندهار کی یی ډیر تیرونی او دوستان موجود وه ددوی دار شاد او تبی لاری دنبودلو دپاره دخپل پیرپه امر کندهارته راغی او دلته یی دکندهار په شاؤخوا اوز میند او رکی په وعظ او نصیحت شروع وکړه او زیات ارادت مندان او مخلصان یی پیدا سول دی دعمر په پای کی چه ډیر سپین ږیری وو دکندهار دزاړه ښار په شاوخوا کښلیو کی او سیداو دنا خونی په کلی کی وفات سو. وایی د زله خان حاجی بیکر هم دده په وخت کی ژوند کاوه ددوی په مزار باندی داختر په ورځو کی لوی یی میلی جوړیدی چه دکندهاردمرکز او شاوخواز یات خلك په ورتلل اوس د ژوندانه دشرایطو اوفکر دطرزد بدلیدو له کبله دغه میله پاته سوی دی .

## شیخ نیکنام داوی

شیخ نیك نام په قوم داوی دی ډیر متعبد او پر هیز گار بزرگوار ؤ دمخزن افغانیه په (۴۲) مخ کی دده دکرامت په خصوص کی داسی راغلی دی «پسر ایشانراهوس آموختن کیمیا افتاد این حقیقت بسمع شیخ نیکنام رسید فرمود که ای پسر خیال کیمیا داری بیا بتوآموزم برو پاره گاه سبز بیار آن پسر گاه سبز آورد فی الحال بدست خود مالید بر پارچه آهنی بمالید فی الحال طلاء سرخ شد فرمود که ای پسر کیمیا نظر مردان است .

## ملازلی نیکه

ملازلی ډیر پر هیز گار اومتشرع سړی وو دشریعت څخه طریقت ته متمایل ؤ دعمر زیاته برخه یی په زهد او د خدای په ذکر تیره سوی‌ده‌دی دبوری دپوپلزو شخه ؤ اوس دکندهار ښخی دکندهار جنوب لویدیزی خواته نوی ښارته متصل دچهارشنبی په ورځو دده‌دمزار زیارت کوی او دنیکی‌مددغوښتني غواړی خو دده او لاده په

---

داففانستان دتاریخ ددریم ټوك ۵۹۸ مخ

بوری کی دده دزیارت تولی او سر پرستی کوی په ځینو متبر کو ورځو یی عقید تمندان لنگر چلوی

## ابوالفتح بستی

دسبکتگین دعصر دمشهور ولیکو الو او سیاست پوهانو څخه یو ابو الفتح بستی دی چه دده سردفتر وو خو هغه وخت چه د ده کورنی دسبکتگین سره خپل قول مات کړ دی ځنی خفه سو او ابو الفتح هم دد ربارد کار ونو څخه گوښه سوخو سبکتگین دی بیرته را دعوت کړ ابو الفتح ځکه دده دنزدیکت سره موافقه ونه کړه نه چه یی یو ورغ بدخواهان باندی په قهر کړی او ورته یی عرض وکی چه په گوښه کی په رخج کی د حاکم په نامه د سبکتگین دامرونو اطاعت کوی څوچه دده اخلاص و رته څرگند سی سبکتگین هم داو منله دابو الفتح رخج بیخی خوښ سواو ددغه ځای په خصوص کی یی داسی وویل :-

(واذا انتهیت الا السلامته فی مداك فلا تجاوز) دسبکتگین په امر دی

راو غوښت سواو تر هغه وخته ورسره وو چه مړ سو ده تر ۴۰۰ پورې د محمو د خدمت داوه اودسردفتری وظیفه یی اجرا کوله او په داسی علت چه څرگند نه دی غزنی ته بو تلل سواو په اوزگند کی بندی سواو په هغه ځای کی مړ سو.

ابن خلکان دوفیات الاعیان په تاریخ کی دده په خصوص کی داسی لیکی «ابو الفتح علی بی محمد بن حسین بن یوسف بن محمد عبدالعزیز بلحق په (۴۰۱) په بخارا کی وفات سوی دی ابو الفتح په عربی او پارسی ښه پوهید آثار او شعرونه یکښی لری دده نوینه قصیده چه په دی مصرع شروع کیږی :-(زیادة المرء فی دنیاه نقصان) چه زیاتو علماؤ او فضلاؤ هغه ترجمه کړی ده اد بی او روحانی حیثیت لری .دغه جملی په عربی کی دده دی «من اصلح فاسده ارغم حاسده من اطاع غضبه اضاع اد به.»

هغه وخت چه سلطان پرده په قهر سو داقطعه یی وویله:-

---

کنزا لحکمه ۱۵۳ مخ

Marfat.com

فل الا میرا د ا م ر بی عز ه و ا نا له من فضله مکنو نه

انی خبیث ولم یزلی اهل النهی یهبو ن للخدا م ما یجنو نه

و لقد جمعت من العیوب فنو نها فاجمع من العفو الکریم فنو نه

من کان یرجو عفو من کان فوقه عن ذ نبه فلیعف عمن دو نه

عوفی د لباب الالباب په لومړی ټوک کی دده یو پارسی بیت را اوړی دی

گر چه قو ت د ا ر ی رحمد ت بسیا ر

بگر دصلح گر ای و بگرد جنگ مگر د

نه هر که دارد شمشیر حر ب با ید ر فت

نه هر که دارد پاز هر ز هر با ید خو ر د

همه به صلح گر ا ی و همه مدا ر ا کن

که از مدارا کر دن ستو د ه گر دد مر د

یکی نصیحت من گو ش دار وفرما ن کن

که از نصیحت سود آن بر د که فرمان کر د

دیتیمه الدهر په څلورم ټوک کی دده یوه قصیده ذکر سوی دی چه څنګه معلومیږی دی په عقلی علومو، طب، فلسفه، نجوم، کی زیات معلو مات در لو دل ۰

دده دوو عربی بیتونو ترجمه ابو شکور داسی کوی :-

ا ز د و ر بد ید ا ر تو ا ند ر نگر یستم

مجروح شد آن چهر ه پر حسن وملاحت

و ز غمز ه تو خسته شد آ ز ر ده د ل من

و ین حکم قضا ئیست جرا حت بجر احت

## لغړیدونکی بابا

دی د کندهار مشهور ولی او رسنده پیر دی چیر حاجت مند ان یی زیارت ته ورځی دعا او د نیکی مدد ځنی غواړی ده به خلکو ته د خدای لاره ښودله د حلال کسب او روزی تبلیغ به یی کاوه کار کول او د حلالی رزق پیدا کول یی لو ی عبادت او د مخلوق خدمت گڼلی د

---

تاریخ ادبیات در ایران جلد اول ٤٥٧ مخ

کاراو زیار څخه یې بدنه راتله او تل به یې ویل چه باید په کار او زیار د نورو سره مرسته وسي یعنې نور د مرستې او خیر هیله ځنې ولري. خپله ملاصاحب دکندهارد برو درازی دباندی پالان دوزی

کوله تر نور وخلکو یې تینگې او ارزانې پالانې جوړ ولې دکار په وخت کې به اخلاص منداناو مریدان باندی را گرزیدل یې وه وعظ ارشاد د خدای لاره او دمخلوق دخدمت طرز یې ور ښودی او زیات مریدان یې درلودل ده دمیاشیر محمد هوتک څخه برخه اخیستې وه او دده د طریقې پیرو وو دده اصلي نوم ما ته نه دی معلوم خو ځنې یې صوفي گل بابا او ځنې یې لغړ یدونکی بابا بولي.

لغړیدونکی بابا یې ځکه بولي چه حاجت مندان دده زیارت ته ورځي او مراد په زړه کې نیسي کلمه او درود په ځان وایې بیا د قبر قبلې خواته پریوزي او وایي که ولغړیدم په مراد رسیږم ځنې لغړوي. دی د امان الله خان دسلطنت په اوایلو کې دزړښت په سن وفات سوی دی.

## حاجي عارف کندهاري

دهند دکور گانیانو یو مشهور مؤرخ دی چه داکبر په دوره کې اوسیدی او ( تاریخ اکبری ) یې ترڅولو دمخه ولیکی دده نوم محمد ؤ هغه وخت چه دهمایون له خوا بیرم خان دکندهار حکمران وو حاجي عارف دده میرسامان وو محمد عارف دخان خانان بیرم خان سره تر و ژل کیدو پوري ملگري وو او دو ژل کیدو وروسته دگجرات څخه حرمینو ته ولاړ هغه وخت چه بیرته راغلی (۹۸۵)ه د تربتې مظفر خان سره وو په (۹۸۶) ه کې ئې داکبردربارته لاره پیدا کړه او دپنجاب په دیوانې منصب مقرر سو حاجي عارف ددغې وظیفې څخه ژر استعفي وکړه دتاندی په کلاکې دمظفر خان سره او سیدی په غالب گمان هغه وخت چه مظفر خان دتاندی په کلاکې بندی او وو ژل سو (۹۸۸ ه) دغه مؤرخ هم ور سره وو.

محمد قاسم فرشته ( فرشته ۴-۷-۹) دی دحاجي محمد قندهاري په نامه یادوی دده دکتاب په حواله دگجرات سندواقعې لیکي قندهاري عارف په تاریخ کې دوه کتابه لري یو یې مطلع او بل یې مقطع نومیږی دوهم کتاب یې دحاجي محمد قندهاري تاریخ یا تاریخ

---

تاریخ افغانستان در عصر گورگانی هند ۸ ۲۵ مخ

اکبری په نامه مشهور دی ددغه کتاب خطی نسخه لږ پیدا کیږی یوه نسخه ئی دهغه درا مپور په کتابخانه کی ستره چه دکتاب په آخر کی د (۹۸۸) ه واقعی راوړی ددغه کتاب لومړی او د پای ورقی لویدلی دی ددغی نسخی علاوه دکتاب لومړی ورقی دانگلستان دکمبرج په کتابخانه کی ستره چه دجلال الدین اکبر په مدح شروع سوی دی لومړی کتاب د همایون د زمانی واقعی بیانوی دوهم کتاب مقطع دغزنوی محمود دزمانی واقعی دجلال الدین اکبر ترزمانی پوری بیانوی چه په (۹۸٦) ه بشپړ سوی دی او زیات حوادث چه عارف په خپلو سترگو لیدلی دی پکښی ذکر سوی دی امین رازی په هفت اقلیم کی دغه بیتو نه دده بولی :-

صد ارزو است در دل تنگم گره ز دوست
دل نیست در برم گره از روی اوست
ای بسا توبه که چون تو به یی دیرینه من
خوبرویان بشکستند بیک چشم زدن

## حاجی جمال او سردار پاینده خان

بارکزی دکندهار دجنوب خخه بیا تر فراه پوری او سیږی ددغه ټبر خخه د (۱۰۰۰ ه) په حدودو (۱۵۹۱) ع دارغستان په جنوب ختیز کی یو مشر ژوند کاوه چه (محمد) نومیدی دی دکندهار د سیمی د بارکزو مشرو او مرکزیی دهلمند پرغاړه په گرشك کی د بارکزو ناوه وه داحمد شاه بابا د پاچا کید لو په انتخاب کی د بارکزو مشر حاجی جمال خان دحاجی یوسف خانزوی هم گډون کړی وو چه داحمد شاه بابا په دربار کی زیات معززه ؤ دی په (۱۱۸۴ ه) مړدی دکندهار په جنوب کی دذاکر په کلی کی ښخ دی مهن لال دخپل مشهور اثر ( دامیر دوست محمد خان ژوند) په (۳) مخ کی دحاجی جمال خان پیژندنه داسی کوی:-

«حاجی جمال خان دامیر دوست محمد خان نیکه دیو سف هغه دیارو هغه دمحمد هغه دعمر خان هغه دخضر خان هغه داسمعیل هغه ددارو هغه دسیفل هغه دبارك زوی دی فریر د افغانانو دتاریخ په اتمه او نهمه صفحه کی لیکی «احمد دسدو دکورنی خخه

ووسدودمحمد سره دشاه عباس دربار ته دسفیر په حیث لیږل سوی وو حاجی جمال خان بارکزی دمحمد څخه پاته سوی دی همدا شانی دفریر دهستری آف افغانستان په (۱۹۷) مخ کی داسی راغلی دی:ـ

«چه په افغانستان کی دمحمد زو کورنی دڅلورو یا پنځو زرو څخه زیاتی نه دی په داسی حال کی چه دبارکزوعمومی کورنیِ د (۴۵ څخه بیا تر ۵۰) زرو کورنیو پوری رسیږی.

حاجی جمال خان داحمد شاه بابا وروسته ډیر زړ مړ دی او څلور زامن درحیم داد خان، پاینده خان، هارون‌خان چه فارسی دیواز هم لری او بهادرخان په نومو څخنی پاته سوی دی.

دده وروسته زوی یی رحیم داد خان او بیا سردار پاینده خان دبارکزو دټبر مشران وو او سردار پاینده خان ته دتیمور شاه په پاچاهی کی لوی منصبونه ورکړه سوی وه دازاد خان کشمیری په آرامولو دمهمند د(لالپوری) څخه دتیمور دزوی شهزاده عباس دتښتیدلو په خصوص کی یی زیات خدمتونه کړی دی او په (۱۱۸۶هـ) کی ئی د(سر فراز خان لقب وګټی او په (۱۱۹۰هـ) دبنو، کویټی، شال دحاکم په حیث مقرر سوچه دهغه ځای دمالیاتو دراخیستلو وروسته بیرته کابل ته راغلی او څه موده یی په هرات بلخ کی آرامی جوړوله.

دنوای معارك په (۹) مخ کی داسی راغلی دی «چون تیمور شاه روز یکشنبه (۷) شوال ۱۲۰۷ در کابل از جهان رفت و شاه زمان پسر او بجایش نشست رحمت الله خان بن فتح الله خان کامران خیلی سدوزایی را بخطاب (معتمد الدوله) ولقب وفا دار خان رتبهٔ وزارت داد وپاینده خان از دربار شاهی دور شد واز مرا تب اعتبار افتاد در قلعهٔ ادی کنار هلمند متواری گردید وخفیته در برانداختن سلطنت زمان شاه کوشید چون شاه به کندهار آمد سردار پاینده خان امرای دربار مانند اسلام خان ضبطبیگی و حکمت خان سرکانی ومحمدعظیم خان بن میرهزار الکوزای وامیر اصلان خان وجعفرخان جوانشیر ویوسف خان خواجه سرا ومیرزا شریف منشی ونور محمد خان بابری را باخود متفق ساخت تاوزیر رحمت الله خان را قتل نموده و شاه زمان را دستگیر و بجایش شهزاده شجاع الملك را به تخت شاهی نشانند ولی میرزا شریف

---

نوای معارك (۹) مخ ...

دهستری آف افغانستان ۱۹۷ مخ.

Marfat.com

منشی این دسیسه را قبلا به وزیر وشاه خبرداد شاه تمام این اشخاص را خواسته ودرارگ قندهار بکشت (۱۳ رمضان ۱۲۱۴ = ۱۷۹۹ ع) نعش سردار پاینده خان در مقبرهٔ پدر ش نزدیک ذاکر جنوب قندهار دفن است.

دده زوی سردارمهر دل خان مشرقی ددغی حادثی تاریخ په دوو بیتو کی چه د ده پر مزار لیکل سوی دی داسی راوړی:-

زپا فتاد چو بر خاك سر فراز جهان
بلند ناله وافغان شد از همه افغان
زعقل سال وفاتش چو باز پرسیدم
جواب داد که قل هم شهادة الرحمن

## نازوانا

نازوانا دمیرویس خان نیکه مور او دسلطان ملخی توخی لور وه چه په (۱۰٦۱) کی دکلات په تازی رباط کی وزیږیدله.

داد پوهی هوښیاری سخاوت او توریالی توب علاوه یوه عابده او خدای دوسته ښځه وه د پښتنی اخلاقو او فضایلو یوه ښکله نمونه وه.

ددی په مناسبت دپټی خزانی په (۱۷۷) مخ کی داسی راغلی دی :-

نازو انا صالحه عابده ښځه وه او خپلو زامنو ته یی ټول عمر په او داسه شیدی ورکولی او چه علیین مکان حاجی میرخان تولد سو خوب یی ولیده چه شیخ بیټنی رحمت الله علیه ورته وایی دا زوی ښه تربیت که چه لوی سی لوی کارونه به وکا او په زیارت دبیت الله به ځان مشرف کا او له نسله به یی پیدا سی پادشاهان چه دین به روښانه کا نو حاجی میرخان چه وزیږیدی موریی په دیانت او عبادت سره لوی کا او ددین فرایض یی ټول په اووم کال ورونښودل او هر کلمه به یی ده ته نصیحت کاوه چه زو یه دشیخ بیټنی نیکه قدس الله سره له قوله ستا په مخ کی دی لوی کارونه او چه لوی سی دخدای عبادت او دخلکو خدمت وکړه خدای ته پیدا کړی یی ددی دپاره چه لوی کارونه تر سره کړی او خلق الله په خدمت ستا آرام وکا.

---

پټه خزانه ۱۷۷ مخ

روایت دی چه حاجی میرخان علیین مکان به هر وخت ویل چه زمامور ماته دلو یوکار ووصیت وکازه باید هسی کار ونه وکړم.

## میـرویس نیکـه

میرویس نیکه دنبالم خان زوی دی چه د(۱۰۸۴)ه په حدودو کی نازوانا زیږولی دی دملی قیادت او سیاسی پوهی څخه علاوه دی د افغانانو ډیر بزرگوار اومتقی مشراو صاحب حال ؤ. پټه خزانه په خپل (۱۷۷)مخ کی لیکی چه دمیرویس نیکه مور میرمن نازو میرویس ته تیورنه کړه مګر په او داسه سره هغه وخت چه میرویس وزیږید میرمن نازو خوب ولیدی چه دافغانانو سترعابداو پرهیزګار بیټ نیکه دی ته داسی وایی :-

زمالوری ددغه هلك ښه تربیه وکړه هغه وخت چه لوی سی لوی کارونه به وکړی دده په روزنه کی غفلت و نه کړی دده د نسل څخه به ستر کسان او دکام خادمان پیدا سی ستا دغه زوی به د حج په زیارت مشرفه سی میرمن نازو څکه د میرویس روزنی ته زیاته تو جه کوله په شپږ کلنی سن کی یی د دینی او ملی لوی فرضو نه ورو ښودل او ورته ویل به یی «زما زویه د بیټ نیکه په قول ستا په مخ کی لوی کار ونه سته چه باید اجراء یی کړی هغه وخت چه لوی سوی دخدای عبادت او دمخلوق خدمت وکړه ته خدای ددی د پاره پیدا کړی یی چه لوی کارونه وکړی او دخدای خلق ستا دخدمت څخه په آرام وی »(۱)

هغه وخت چه ده وطن او همو طنان : پردو او ظالمانو دسلطی څخه خلاص کړل خدای ته یی شکر وکړاو وی ویل داهغه کاردی چه مورمی راته ویلی وه .

مؤرخین وایی چه میرویس دملایمی طبعی، متین فکر، صائبی رایی، رسا ذهن او دلوړ و اخلاقو خاوند وو ریدی خان مهمند په خپله محمود نامه کی دمیرویس دخولی یو داسی مناجات منظوم

(۱) غلجا ئیها باصفو یها چه کردند؟ ۱۴۷ مخ

Marfat.com

کړی دی چه میرویس له اغیارو څخه دوطن دساتنی اود ظلم دور کولو د پاره د حضرت محمد (ص) په حضورویلی دی:-

ولاړ د شپی یی په یثرب وکا فریاد
رسول د خدای ته چه شو قوم برباد
ستا پر امت راغی د ظلم دوران
واوره رسوله (ص) دغه دی قوم فغان
پښتون خوستا په نامه ځان کړ فدا
ای خیر الناس واوره ته یی ندا
وژغوره ته دوی د ظالم له لاسه
گرگین له منځه د پښتون وباسه
ستا په نامه دی کلمه گویه پښتون
نه به شی هیڅکله له تانه راستون
مرگ او ژوندون مود اسلام د پاره
ستا د دربار ستا د سلام د پاره
مه موکړه هیر خیر الورای رسوله
فخر کونین نور الهدا رسوله
اوښکی می څاڅی پر دربار یم ولاړ
قوم شو په اور د ظلم تور له لتاړ
یو وار نظر وکړه پر موږ چه سوځ
وظالمانو ته ترڅو به یو پړ
ستا لطف او مهر دی شامل پر جهان
هر خراب زړه دی ستا په مهر ودان
که ستا نظر نه وی خراب دی پښتون
په اور د ظلم نور کباب دی پښتون

---

میرویس نیکه

را غلم د لیری ستا در بار ته نبی(ص)
ته می شفیع شه خدای غفار ته نبی(ص)

چه پر پښتو ن کا م نا زل کار حمت
کړی یی خو ندی ناموس پخپل رحمت

لا س د ظا لم یی له گر یوا نه کا لنډ
و چ شی د ظلم د گند و خیر و ډ ند

ستا شر یعت شی ټینگ په منځ د پښتون
و رک شی بیدادا وکم شی رنځ د پښتون

د ا می دی سو ال و لا ړدی د ر ته یمه
محتا ج د ی تش و لږ نظر ته یمه

د قو م حال کړم در ته عر ض په ادب
ته یی ملهم د خو ږ و ز ړ و د پر هر

وژ غور ه ز مو ږ نا م ا ونا موس له بید اد
کړ ه یی نا مو س د ظا لما نو بر با د

سر که را پو ر ته زمو ږ حا ل و گو ره
د ظا لم ظلم بد ا حو ل و گو ر ه

دملی قاید میر ویس نیکه د مزار فار سی لیك دا سی دی : -

«مرقد راد مرد بزرگ تاریخی محرك آزادی افغان مرحوم حاجی میر ویس خان علیه الرحمه هوتك است که بامر دا نگی ا فغا نی خود متجاوزین متسلطین را از وطن خود بدور کرد وافغانستان را از استیلا و تسلط آزاد کر ده پس از (۸) سا ل حکو مت خو د در (۱۱۲۷ هـ ق) وفات یافته اگرچه لوحه قمت داری برسرمر قد ش موجود بود ولی در حین تجاوزات اجانب ومحار بات مع الا سف تلف گردیده بود اینك در (۱۳۱۱) هـ ش در (۱۳۵۱) هـ ق در سال سوم سلطنت محمد نا در شاه افغان به تو جهات ع ج ا نشا ن محمد گل خـا ن ر ئـیس تنظیمه قـنـد هـا ر بـه یـا د گـا ر حـمـیـت

ومر دانگی این مرد بزرگ تاریخی بنام احیای افتخارات ملی ریاست بلدیه قندهار مرقد ذات معظم را سراز نو بصورت مناسب تعمیر واحاطه اش را توسیع واطراف آن باغنچهٔ ترتیب و این لوحه را نصب نمود.

بر سر تربت ماچه بگذری همت خواه

که زیارتگه مردان جهان خواهد بود

## میرمن زینبه

دادپښتنو دملی مشر حضرت میرویس نیکه هغه عالمه فاضله او پرهیز گاره لور ده چه دخدائی احکام او قومی خدماتو دپر ځای کولو له کبله یی شهرت دکندهاره بیاتر اصفهانه پوروت وو پټه خزانه ددی په خصوص کی داسی وایی:- «بی بی زینبه دحاجی میر خان علیین مکان لور ده چه دکوچنیو الی یی په حرم کی دعصمت او عفت لوست وکاپس له هغه چه قرآن کریم یی ولوست داحکام اسلامی او فقه کتابونه یی هم ولوستل او دفارسی مشهور کتب یی ضبط کړل هسی روایت کاچه بی بی زینبه ډیره هوښیاره او په مهماتو دامور وعالمه ښځه ده اودپادشاه جمجاه شاه حسین په امورو کی تدبیر کا او هر کله په رأی صائب مشکلات دامورو حل کا پادشاه دزمان یی په خبر وعمل کا او نصایح ئی آوری.

افشار نادر که څه هم دشاه حسین دکورنی سخت دښمن وو او غوښته یی چه هغه پاچا او ددهٔ آل او عیال قتل او وتال کړی خود زینبی دلویی او میړانی له کبله یی سپکاوی ورته ونه رساوه او په دی یی اکتفاء وکړه چه مازندران ته یی فرار کړی. (۱)

ددی یوه مشهوره مرثیه داعلیحضرت شاه محمود دمړینی په خصوص کی داده:-

زغ سو چه ورور تیر له دنیا سو نا کندهار وارده په ژرا سو نا

زړه می په ویر کی مبتلا سو نا چه شاه محمود له دنیا جلا سو نا

---

(۱) انقراض سلسله صفویه وایام استیلای افاغنه در ایران ۹۸ مخ

پښتنی میرمنی ٤ مخ

Marfat.com

❀❀❀

داروڼ جهاڼ راته تورتم دی نا زړه دبیلتون په تیغ کړم دی نا

هوتک غمجن په دی ماتم دی نا دپاچاهی تاج موبرهم دی نا

چه شاه محمو د تیر له دنیا سو نا کندهار واړه په ژړا سو نا

(لو یه مرثیه ده)

# ملا نورمحمد غلجی

میرویس نیکه چه دملی مشر تابه علاوه یو متقی او خدای دوسته شخصیت و د خپلی کورنی د نرو او ښځو علمی او عرفانی تربیه ته یی هم زیاته توجه کوله چه دهمدغی توجه له کبله وو چه ملا نورمحمد توخی دملایار محمد زوی یی دخپلو ماندینو او کوچنو دشرعی علومو په ورښودلو مامور کړی وو.(۱)

ده په فقه او اخلاقو کی یو کتاب د(نافع مسلمین) په نامه لیکلی دی ملا نور محمد غلجی په پنجوایی کی او سیدی او هلته یی فقه او تفاسیر تدریس کول ملا صاحب په شریعت کی طریقت لټوی او ځانته دراه یی خاوند وو ده په نصیحت یو نظم دادی:-

ته مومن ژوندی په دین یی زما یاره

ته ژړ افریاد کوه په څو کو کاره

استغفار توبه کوه دځان دپاره

ته هم ځان سا ته پناه غواړه له ناره

بیداری کړه په سهار کی زما دلداره

په هر وخت له مسلمانه دلداری کړه

په دریمه شپه کی ډیره بیداری کړی

هم په خپل صورت وژاړه هم زاری کړه

دا خپل ځان لکه حباب تری بیزاری کړه

(۱) بقیه خزانه ۱۶۱ مخ

Marfat.com

بیداری کړه په سهار کې زما دلداره
ته دخدای له حکمه مه غږوه غاړه
نیک اخلاق کړه ته طلب اوښه خوی واړه
تضرع کړه خپل صورت کړه وچه ناړه
ته لهختوبی جوړ سوی تن ویجاړه
بیداری کړه په سهار کی زما دلداره

## ملا پیرمحمد میاجی

ملا پیر محمد دملاسرور هوتک زوی دی چه په تصوفو، اخلا قو او عقاید وکی دخپل عصر مشهور پوهاند او پیاوړی عالم و دده پلار دمیافقیر الله صاحب مرید وو اوخپله هم دپلار سجاده نشین وو (۱)

ملا صاحب دهوتکو په لومړی پاچاهی کی دا علیحضرت شاه محمود هوتک سره اصفهان ته ولاړ او هلته یی د امام اعظم د مذهب په تائید اود روافضو په تردید زیات تبلیغات او علمی مباحثی وکړی چه له همدغه کبله په اصفهان کی دروم علما ؤ ده ته (پیر افغان) لقب ورکړ ملاصاحب مؤلف او لیکو نکی هم ؤیو کتاب یی د (افضل الطریق) په نامه په عقاید و او اخلا قو کی لیکلی دی او بل یی د (الفرایض فی ردالروافض) په نامه لیکلی دی دلته یی یو حکایت دافضل الطریق څخه را نقل کیږی :-

شیخ متی چه خلیلی وو دی له آره لوی ولی وو
یوه ورځ روان پر لار ؤ لوی ښبتن په استغفار وو
کړ ده ذکر دغفار یوه شیبه نه ؤ وزګار
پهدی لار وی تیزی ګڼی لاری مخکی وی په پڼی
هیری شپی راغی روبدار چه یی صافه کړله لار
یودهقان بهآبیاری کړه شپه پهشپه بهیی خواری کړه
ده به لید په توره شپه شیخ متی په زیارا خته

---

(۱) د افغانستان تاریخ دریم ټوک ۶٤۷ مخ.

له را حته به بیزار وو — تو له شپه به هم بیدار ؤ
یوه شپه راتیر ما ایا ر شه — شیخ متی ته په گفتار شه
ای دخدای رویداره څه کړی — دومره زور زحمت په څه کړی
ته با داری دولیا نو — ته قوه د صا لحانو
ستا د درخاوری سره زردی — د هر چا کحل البصر دی
په شپو شپویی ته بیخواب — په زحمت په اضطراب
پاکوی د لار ی گټی — په دی خاورو څه دی گټی
داسی ووی شیخ متی — د مولا په عشق پتی
چه خدمت د خلق الله — یو گړی په یوه سا
ترهر څه بهتر دی وروره — زده کړه دا خبره گوره

## احمد بن محمد ابراهیم بستی (ابو سلیمان خطابی)

سمعانی وایی :- «ابو سلیمان قوی الحجت ومتدین وصادق القول بود در عراق وحجاز مسافرت نموده و خراسان را وجب وجب دیده است بمال حلال خویش تجارت میکرد وآنرا نفقهٔ برادران و خویشاوندان خود صرف مینمود.» دده دنامه په خصوص کی اختلاف ستهٔ ځنی یی احمد او ځنی یی حمید بولی دا بو عبید هروی او ابو منصور ثعالبی دقول څخه ځرگندیږی چه دده نوم احمد دی دنیشاپور په کتاب کی دده نوم احمد لیکل سوی دی زموږ د هیواد دلویو علماؤ او محققینو څخه گڼل کیږی تألیفات یی دا دی:- معالم السنن فی الحدیث، غریب الحدیث، اسماء الحسنی، شرح ادعیه ماثوره، اعلام السنن؛ شرح بخاری، کتاب العزله، کتاب اصلاح الغلط للمحدثین، کتاب اعلام الحدیث، کتاب شرح اموات ابی خذیمه، کتاب العروس، کتاب الغنیه من الکلام.

خطابی چه په هرځای کی اوسید ډیر شاگردان او ارادتمندان یی موندلی دی چه ددغی جملی څخه په بست کی عبید بن احمد بن غفیر هروی په غزنی کی ابو بکر بن محمد بن حسن مقری په سجستان کی ابو الحسن علی بن حسن فقیه سجزی، خطابی د ثعالبی سره دوستی او مراوده درلوده ثعالبی په خپل کتاب کی دده زیات صفت کړی دی خطابی په عربی شعرونه هم ویل.

Marfat.com

# لوی میا صاحب (میا عبدالحکیم کاکړ)

میاعبدالحکیم علیه الرحمه دمیا سکندرشاه زوی وو چه دجنوبی پښتونستان دکویټی ضلع دپښین په خانوزیو کی په (۱۰۷۰) ه پیدا سوی وو دمیا صاحب مورهم یوه پرهیزگاره او خدای دوسته ښځه وه او میاصاحب لاکوچنی وو چه داوفات سوی وه دمیاصاحب مبارک مور دخپل زوی په خصوص کی تل ښه خوبونه لیدل او خلکو دمیا صاحب دلویی او بزرګواری په خصوص کی زیری باندی کول دمیا صاحب مورچه وفات سوه ده ته نور کورنی ژوند خوند نه ور کاوه او میره یی هم دده په منزلت اوقدر نه پوهیدله ځکه یی مخ په مسافری او پردیسی و نیوی په لور لایی، کندهار، ننګرهار او پښورکی یی علم او عرفان حاصل کړ په طریقت کی دسید لعل پاچامرید وو چه هغه بیاد شیخ عبد الغفور نقشبندی مجددی قادری کشمیری پیښوری پیروو. میا صاحب دشیخ عبدالغفور صاحب په خدمت کی هم حاضری دی او دهغه دار شاداتو او فیوضاتو ځخه به هر کله برخوردار کیدی حضرت شاه محمدغوث قادری پښپلو دوو تالیفو نو کی: (روضةالاسلام) (شرح غوثیه) چه د صحیح بخاری شرح ده را وړی دی هغه وخت چه به حضرت شیخ عبدالغفور صاحب میا صاحب ته توجه کوله د خانقاه شاو خوا او رخره مه کورونه به ریبردیدله او خلک به پوهیدله چه حضرت شیخ خپل مرید د کمال درجی ته رسوی ځرنګه چه دده مرشد په ده کی داو یی تقوا او روحانیت زیات استعداد ولید نودزیات برکت او فیض حاصلولو دپاره ئی خپل استاد او مرشد مولانا شیخ الله یار په حضور لاهور ته واستاوه دهغه دبرکتونو او ارشاداتو ځخه ښه مستفیض سو میا صاحب ته چه دعرفان او خلیفه توب درجه حاصله سوه نو کندهار ته راغی په دی وخت کی دمیرویس نیکه حکومت ؤ او دهغه ملی قاید او ستر لار ښوونکی له خوا په قدر او حرمت ورته کتل کیدل او کله به یی دملایانو سیدانو او صاحب حال خلکو سره دربارته راغوښت او کله بیا هم خپله دده خانقاه ته ورتلی دعرفان تصوف او خدای پیژندنی په خوږو مجلسو نو به یی محظوظ کیدی.

دملی قاید میرویس نیکه دمړینی وروسته چه دیوی خوا څخه دهوتکو په کورنی کی داخلی نفاق پیښ سو او دبلی خوا څخه شاه حسین هوتك په کندهار کی داصفهان دافغانی حکومت څخه بیل دیوبل مستقل سلطنت اعلان کړی وو او غوښته یی چه خپل مرکزی حکومت قوی او مستحکم کړی دملا یانو پیرانو او خانانو دنفوذ څخه د سلطنت چاری تر یوی اندازی پوری خلاصی کړی په دی لړ کی میا صاحب دزیات روحانی نفوذ لرلو علاوه په زرودو مره مریدانو او اخلاص مندان پیدا کړی وه چه په ځینو مواقعو کی یی دحکومت په اداری او سیاسی چاروکی مداخله کوله شاه حسین څوځله میا صاحب دخپلو مریدانو او پیروانو دسلوك په نسبت مستحضر کړ خو دا یادونه دمیا صاحب درنجیده ګی او ازرده ګی موجب وګرزیدله او ځینو مخالفینو دا وخت غنیمت وګاڼه او شاه حسین یی میا صاحب ته زیات بدبین کړ چه په آخر کی یی له کندهاره دوتلو امر ور وکړ (خورشید جهان او سلطانی تاریخ هم د دغه اختلاف څخه یادونه کړیده) (۱)

په یوه مجلس سندره کی دکندهار دخلکو ذهنیت او اخلاص مندی دمیا صاحب دښرلی او ددغی ناوړی پیښی په خصوص کی داسی څرګندیږی :-

میاصاحب چی ویوست شاه حسین ددی ښاره

غرق یی پاچاهی سوه دپیرانو دګفتاره

میاصاحب دخپلو پیرو مریدانو او اخلاص مندانو سره دکندهار څخه هجرت وکړ شاه حسین چه په (۱۱۴۲) کی پاچا سوی وو ده د پاچاهی په څلورم کال په (۱۱۴۶) کی میاصاحب دکندهار څخه هجرت وکړ کندهار ته دمیاصاحب راتګ په ۱۱۳۱ کی منلی سوی دی نو په دی حساب میاصاحب (۲۵) کاله په کندهار کی تیر کړی دی هغه وخت چه میاصاحب دکندهار څخه راوتلی په زرګونو مریدان او اخلاص مندان دښار څخه ورسره راووتل میا صاحب نصیحتونه ورته وکړل چه بیرته خپلو کورونو ته ولاړ سی ځینی دده په امر بیرته وګرزیدل او ځینو تر څو چه

---

(۱) فتح محمدی ۲٤ مخ . . تاریخ سلطانی

Marfat.com

میا صاحب ژوندی ؤ خپله ملګری یې ورسره ونښلوله او په هیڅ حال ور څخه بېل نه سول او د میا صاحب پلار نیکه مېنې (خالوزی) ته ور سره ولاړل. د کندهار ځینی خلک وایي چه د میا صاحب د تګ په وخت کی ونې دده پر لوری کږې سوې او ریګونو حرکت پسې وکړ خو د میا صاحب په اشاره بېرته پر خپل ځای پاته سول.

میا صاحب چه خپل پلار نیکه مېنې ته ورسېد په دې وخت کی یې پلار مړ سوی وو میا صاحب د خپل پلار زیارت جوړ کړ او د څنګه سره یې باغ او مسجد هم ودان کړل په اړخه کم یو کال یې هلته تېر کړ او بیا یې مخ په غرو او دښتو ونیو، د یوسف کښ، کهو اس، بقاء ؤ سملین، بوری او تل نومی کلیو څخه تېر سو او چوټیالی ته ورسېد او هلته یې استوګنه غوره کړه او د خپل ژوند وروستی شپږ کاله یې هلته تېر کړه او په (۱۱۵۳) کی وفات سو او خانقاه یې اوس د ترین کام یو مشر حاجی صورت خان پخه جوړه کړې ده او دده پر شو کالو راهیسې یې د خانقاه خرڅ یادروړ چه په کال کی دوولس سوه ګونی غنم او دوولس سوه نقدی روپۍ دی ور کوي.

د میا صاحب د مریدانو او اخلاص منډانو په عقیده د شاه حسین هوتک پاچاهي د میا صاحب د ښېرا له کبله چه ویلی وو ددې ښار د ودانیو خاوره دې په توبړو یووړه سي درو کالو وروسته ړنګه سوه شاهي قصر (نارنج) د ټولو ښایسته او ټینګو ماڼیو سره افشار نادر وران کړ اوس دغه ښار د نارنج قصر او زاړه نړیدلی کورونه د ویرانی او ابتری په حال باقی پاته دي. د میا صاحب خانقاه هم ددغه ښار په ختیزه څنډه کی ده او خلک یې د جمعې په ورځو زیارت کوي او په نیکۍ یې ننګه وي.

د کندهار ځینی اثری ناجوړیان او ښځې د میا صاحب خانقاه ته ځي او هلته یې په دروبړ کولو سره چه توره چرګه یا تور پسه دی د خپلې ناجوړۍ د علاج خواست کوي زیاتره پیریانیان او پیرګیانیان هلته مرض خرا بوی او په اخلاص او عقیده بېرته ځینی راځي هوسایی او خوښی حس کوي.

د میا صاحب په ښه سړیتوب او بزرګواری کی روایت دی: —
یوه ورځ میا صاحب د کندهار په کوم بازار کی تیری دی چه د ورایه یو زلمی هلک ولید نو هغه یې را وغوښت او دعایی ورته وکړه

Marfat.com

او بیایی رخصت کړ یو مرید یو بشتنه څخنی و کړه چه ستا قربان سم دا څوک وو؟ده ورته وویل چه داڅ یر نیک بخته زلمی دی دده په تندی کی د بزرګواری او لویی رڼا ځلیږی دمیاصاحب د غه خبره رښتیا سوه دده مبارك د وفات څخه اوه کاله وروسته په (۱۱٦۰) کی همهغه هلك داحمد شاه ابدالی په نامه پرتخت کښیناوست دمیاصاحب په ظاهره څخه اولاد نه دی پاته خو مریدان او اخلاص مندان یی بیخی ډیر دی اودروحانی اولاد په لړ کی یی شمیرل کیږی دده په مریدانو او اخلاص مندانو کی دغه دخدای نازولی دخلیفه توب درجی ته رسیدلی دی :-

حضرت میانور محمدصاحب (نورزی).

د پوپی میاصاحب(میانور محمد) (داوی).

ملامحمد عثمان اخند(یسین زی)دپښین(جنوبی پښتونستان کوټه)

حضرت میامحمد حسن دپښین.

لوی میاصاحب دصوری اومعنوی فضایلو اوکمالاتو خاوند وو په صرف ، نحو، منطق، ادب، اصولو، حدیثو، تفسیر ،کلام اوفقه کی دخپلی زمانی پیاوړی او زبردست عالم وو او زیات شاګردان یی درلودل طریقت او معرفت کی دخپلی زمانی بزرګواراورسیده پیرو دخدای پیژندنی په ډیر واسرارو او رموزو پوه وو متعبد او پرهیز ګاره شخصیت وو زیات مریدان او شاګردان پر راټول وه .

دده لیکلی او چاپ سوی کتابونه په عقایدو او تصوفو کی زیات مشهور دی مشهور تالیفونه یی دادی:-

حسن الایمان په دری ژبه ، په دغه کتاب کی دعقایدو دعلم مسایل په ساده عبارت او دلایلو راوړلو سره په تعلیمی طریقه بیان سوی دی اوبیا خپله حضرت میاصاحب دغه کتاب مختصر کړی دی او مختصر حسن الایمان نوم یی باندی ایښی دی ددی کتاب یوه قلمی نسخه چه خپله میاصاحب لیکلی ده په (۱۳۷۲) ه کی دکویټی یو کتاب خرڅوونکی چاپ کړی ده.

مجموعه رسایل :-

په دی مجموعه کی شپږ رسایلی دی چه ټولی دتصوف دعلم په مختلفو موضوعګانو اړه لری اوپه دی کی د تصوف د مختلفو

Marfat.com

طریقو د تزکیه او تنزیهه د طریقو دفیوضاتو دکیفیت وضاحت د لمونځ حقیقت دفقر حقیقت او حقیقت محمدی دنفی او اثبات بحثونه سوی دی داکتاب پر پنځو فصلونو باندی مشتمل دی :-

لومړی فصل داذ کارو او وظایفو په بیان کی.
دوهم فصل دنهی او اثبات په بیان کی.
دریم فصل دتنزیهاتو په بیان کی.
څلورم فصل دفیوضاتو په بیان کی.
پنځم فصل په سفر کی دذات اود طریقت دمراتبو سیر.

میاصاحب دقادریه او نقشبندیه دطریقی لوی سالك او مرشد ؤ او په دواړو کی دکمالاتو اوا سرار ودرجی ته رسیدلی ؤ د میا صاحب استادان او دطریقت او سلوك رهنمایان هم ددغو دواړو طریقو پیروان وه لکه چه دمیاصاحب استادشیخ عبد الغفور دخپل پیر مولانا شیخ سعدی بخاری لاهوری علیه الرحمه څخه چه هغه په څلور وواړو طریقو یعنی قادریه، نقشبندیه، چشتیه، سهروردیه کی دخلافت درجی ته رسیدلی ؤ (۱)

او خپله مولانا شیخ عبدالغفور ته دقادریه او نقشبندیه دواړو طریقو نسبت کیدی او دشیخ عبدالقادر جیلانی او مجدد الف ثانی په طریقی او سلوك ښه پوه ؤ د اشارو او ارشاداتو سره ئی پوره بلدیت درلود.

تاریخ سلطانی په ۹۶ مخ کی دمیا صاحب په خصوص کی وائی :-

«اصل ایشان ازطایفه کاکړی است که شعبه است از غرغښت و در طفولیت بحکم فطانت فطری ولیاقت جبلی از برای تکمیل علوم و تحصیل فنون په درس خواندن پرداخت بعداز فراغ عبودیت و بندگی خالق خود را بمطالعه کتب مشغول می ساخت در اشتقاقات علم صرف دقواعد ونحو د قوانین منطق و آئین حکمت ونکات بدیع معانی و بیان اصول ومیزان وحدیث ودلایل تفسیر ومسایل فقه و قواعد احکام وفواید کلام سرآمدعصر شد بعداز آن ازمجاز به حقیقت پی برد »

---

(۱) تذکره اولیاهند ۱۱۳ مخ

Marfat.com

## ابی بکر احمد بن حسین بن علی البهیقی

امین احمد رازی او تحفة الکرام بهیقی د کندهار بولی او داسی لیکی:-

«بهیق شهرچه ایست از ضمایم قندهار نزدیك بقلات که آنرا مقر نیز گویند مردم نیك از آنجا بر خاسته چون ابو بکر بهیقی استاد سلطان محمود غازی که سنن کبیر از تالیفات اوست» بهیقی دحدیث دلو یو عالمانو څخه ګڼل کیږی سلطان محمود ده ته اخلاص درلود دحدیثو علم ئی دده څخه زده کړ او دسلطان استاد ؤ شیخ عبدالحق دهلوی دمشکوة په شرح اشعة اللمعات کی دده په خصوص کی زیات بیا نونه کوی بهیقی په ۴۵۸ کی وفات سوی دی.

## ملا شیر محمد هوتك

دی دکندهار یوعالم او متصوف شاعر دی چه په ۱۰۹۲ ه کی زیږیدلی دی دځوانی په وخت هرات اوایران ته دزده کړی دپاره تللی دی وروسته په کندهار کی په تعلیم او درس ورکولو بوخت ؤ ملا صاحب دپښتو ښه شاعر ؤ او شعر ئی ټول مثنوی دی دشعر ژبا ته برخه ئی پر عالمانه اخلاقی اوعرفانی مسایلو مشتمله ده یو اثر ئی اسرار العارفین نومیږی چه تصوفی او دینی بحثو نه لری بل کتاب یی پر عقایدو فقه ، اصولو کی لیکلی دی بل اثر یی تجوید افغانی نومیږی چه منظوم دی :-

دده دتصوفی غزلو څو بیتونه دادی:-

نه یی شکل نه صورت شته — نه یی خوب نه یی غفلت شته
نه یی پلارشته نه یی مور شته — نه یی مور او نه یی خور شته
نه دی جسم نه جو هر دی — نه عرض نه مصور دی
نه بالا دی نه پائین دی — نه یسا ر دی نه یمین دی

---

تاریخ افغانستان در عصر گورگانی هند ۳۵۵ مخ
دطلوع افغان ۱۳۱۳ کال (۲) گڼه

Marfat.com

له تجوید څخه څو بیتونه :

ته اصلی حرفونه ورو ره دقرآن اته ویشت گوره
همزه الف را وړ یکسانه دو یی نشته له دا میانه
بیا هرحرف سره مقام دی چه مخرج د هغه نام دی

ملا شیر محمد اخند دعمر په (۸۴) کالو مړ دی او دکندهار دملاشاهو اخند په تکیه کی ښخ دی.

دحسد په باره کی وائی :- (۱)

سو د دی نشته بی لهز یانه په حسد کی ای نادانه
یو دی زیان پکښی ددین دی بل خاطر دی اند وهگین دی
پرېږده پروت وړی نعمتونه ستا په زړه کی زحمتونه
که هر څو ماتم پرو کړی یوویښته به یی خم نه کړی
چه ور کړی پاک الله دی ستا پر ځله افسوس آه دی

## زرغونه انا

زرغونه اناد احمد شاه بابا هغه خدای پاری او دین دوسته مور ده چه اعلیحضرت احمد شاه بابا ته یی په وړو کوالی کی دپښتنولی او عالی اخلاقو شیدی ور کړی دی او دده تربیه یی په ملی او دینی شعایرو برابره کړی ده ځکه چه اعلیحضرت احمدشاه بابا دخدای او قومی فرایضو دادو له کبله قوم ده ته دپښتانه دټول کهول دمشری یعنی (بابا) لقب ور کړی دی همداشانی یی دا دکام دوستی او مهربانی له مخی د(انا) په نامه یاده کړی ده هغه وخت چه اعلیحضرت احمد شاه بابا پر تخت کښېنوست داژوندی وه او دی په زیاتره وسلطنتی چار و کی د دی د نیکو او مصیبو افکارو څخه برخوردار وو وایی اعلیحضرت احمدشاه بابا چه دکندهار په نوی ښار باندی اوه دیوالونه او خوخندقونه جوړول دی ورته وفرمایله زویه دا خبره ټینگه په غوږ کی ونیسه چه

(۱) اسرار العارفین ۲۰۷ مخ

احمدشاه بابا ۲۵ مخ

پښتون هیڅکله دخاورو دیوالو ته پناه نه وړی او نه په خندق ځان دغلیمه خوندی کوی پښتون دخدای په مرسته او په خپل وچ موټ ځان او وطن ساتی په دی دیوالو نوزه اوته او دښار دننه اوسیدونکی شاید مدافعه سی دښار دباندی هم زموږ کام ستړه ته باید دو مری انتظار و نه باسی چه دښمن تر ښاره راورسیږی.

زرغونه انا په کام الکوزی وه او زیارت یی دارغند او درود پر غاړه دکوهک په کلی کی دی او یوه زړه خاورینه ګنبده هم پر ولاړه ده.

## اعلیحضرت احمد شاه بابا

احمدشاه بابا دتوری جهانګیری او ملی مشری څخه علاوه پخپله لوی متصوف او مبارک افغا ن وو. دی په (۱۱۳۵) کـا ل کی چـه دمسیحی (۱۷۳۳) کیږی په هرات کی زیږیدلی دی او په ۱۱۸۶ کی چه دمسیحی ۱۷۷۳ کیږی دکندهار په توبـه کی وفـات سوی دی فیض محمد دعبدالکریم څخه نقل کوی چه نادر شاه افشار په خپلو مجلسو کی زیات داویل «ماپه ټول ایران توران او هندوستان کی لکه احمد خان داسی حمیده خصاله او پسندیده افعاله څوک نه دی لیدلی «سراج التواریخ په (۹) مخ کی داحمدشاه بابا داخلاقو په خصوص کی داسی لیکی:-

«از آنجا که آثار بزرگی از چهره اش ظاهر بود روزی اعلیحضرت نادر شاهش پیش خوانده بوی گفت که نشان سروری از جبهه ات هویداست وپس از من بر سریر حکمرانی خواهی نشست اینرا گفت گوش او را بیاد داشت قول خویش بدست خودمالش داد و گفت که پس از من رعایت حقوق مرا نموده با اولادم برفق ومدارا سلوک نمائی و آخر الامر بسیاق (ارباب الدول ملهمون) چنان شد که اعلیحضرت نادر شاه گفته بود سراج التواریخ په خپله ۳۰ صفحه کی داحمد شاه بابا داخلاقو په باره کی لیکی« آن پاد شاه خلدآرا مگاه بـا حشمت ومکنت سلطنت ضعفا را هرگز تحقیر نمی فرمودو اقویا پارسارا توقیر نموده زبردستان زیردست آنرا تو بیخ مینمودو احاد وافراد سپاه را با افسران صاحب جاه مساوی میدید و فعلی که به شریعت غرا مذموم بود

---

سراج التواریخ ۹ مخ

احمدشاه درانی ۳۴۹

Marfat.com

بخود واحدی نه می پسندید ودر طریقت هم مسلك فقرا بود علما وسادات را نیك پرورش داده وفقرا را با اوشان در مجلس خویش بدست راست جای نشین تعین کرده اعیان و اشراف را بد ست چپ مقرر میداشت و بقدر کفاف آنها را معاش میدادند پاکی طینت او ضرب المثل افاغنه بود روزی از راه امتحان یار سائی و حقیقت سرائی علمائی بار آلهٔ از آلات ساز خواسته بنواختن در آورد و ملا ارادت معروف بملاشاهو ویکی دیگری که حاضر بودند از آواز ساز دل گداز گشته از مجلس بر خواستند وملاشاهو زبان حقیقت بیان کشوده به جرئت وجسارت گفت احمد این چه کار است که مرتکب شده ئی؟ اعلیحضرت احمدشاه درجواب گفت چه میشود وضرر اینکار چیست؟ وی بپاسخ گفت که همین کلمه که گفتی گویا حرام را حلال شمردن کافر شدنست این را گفت قدم به بیرون شدن نهادو اعلیحضرت احمدشاه گفت که مباشر این امر شدن وآن گفتم که برای ایثار و پاکدامنی علما بودنه دیگر حرام را حلال دانستن پس ملاارادت گفت حالا کار امتحان درمیان آمد دیگر حاضر محفل حضور پادشاهی نخواهم شد چنانچه در کوه سرخ رفته منزوی گشت.(۱)

## داحمد شاه بابا تصوف :ـ

داحمدشاه بابا په کلام کی دتصوف رنگ غالب دی او دده دشعر لویه برخه هم دتصوف گڼله کیږی.

دامانت دروند بار:ـ

دا هغه دروند بار دی چه په (انا عرضه الامانة علی السموات والارض والجبال فابین ان یحملنها واشفقن منها وحملها الانسان) قرآن عظیم داحزاب سورت په آیت ۷۲ـ کی ئی ذکر کیږی دا انسانیت عام مسئولیت اود خلافت الهی دمقام اهمیت خور ادروند او لوړ یږدی حافظ وایی :ـ

آسمان بار امانت نتوانست کشید قرعه فال بنام من دیوانه زدند

احمدشاه بابا دانسان دغه دروند دمسئولیت بار په دا سې ډول ښئی

خه ضعیف تن ئی (احمده) حیران ستا و دا نه بار ته

بل ځای ددغه درانه بار په اخستلو پوری سخت حیران دی

څه دروندبار دامانت دی زه به څه پوری احمد شاه کرم

داپه زړه کی ولری چه داسلام ځنو مفسرینو دامانت تفسیر په

(۱) احمد شاه بابا د بناغلی غبار تالیف

سلطنت هم کړی دی نو که په دوم بیت کی احمد شاه بابا ددغه لوی اجتماعی مسئولیت ذکر کړی وی لیری نه ده.

دانسان اصل:-

انسان فقط له مادی او دمادی له مظاهرو څخه مرکب نه دی بو روحانی مقام هم لری چه احمد شاه بابائی داسی ستایي:-

دا ځماد صورت خته پخلو رعنصرو پته
که خلور عنصره وا خلی پخپل ځیر ده د اکټ مټه

کله کله متصوفین دغه روحانی مقام وطن بولی او په یادئی ژاړی احمد شاه بابا ددغه معنوی مقام یادداسی کوی:- (۱)

اروا ح طوطی دی وطن به مومی
بیا که دی مات د نفس قفس که
نه پوهیزم زړه ځما دکوم وطن وو
د یار مینی بیگانه له خپله کورکړم
چه ورځ په رڼا ورك سوم ځکه ما لید لی یا رؤ
احمد اوس که یک تنهاشوی ستا وطن دیار کنار ؤ

احسن تقویم:-

داهغه مسئله ده چه په (ان الله خلق آدم علی صورته) کی څرگنده سوی دی احمد شاه باباو ایی:-

په خپل خم دی احمد رنگ کړ ځکه سو هسی مشهوره
یا ـ شه عجب دی د خپل حسن په خم رنگ کړ
په عالم دی ښکاره کړی دا خمیان ستا

کاته او نظر:-

صوفیان دنیا او ماده د قدرت مظاهر گڼی نو هر کله د مظهره د مظهر قدرت وینی دا تدقیق او نظر د عرفان اساس دی:-

چشمی داری وعلم درنظر است دیگر چه معلم وکتابت باید

خوشحال خان خټك ویلی دی:-

که دی سترگی د عرفان شته مبارك شه
دگلزار په ننداره چه استقلال کړی

احمد شاه بابا هم دغه تدقیق او نظر لری لکه چه وایی:-

---

(۱) دلوی احمدشاه بابا مقدمه «پوهاند حبیبی»

Marfat.com

ز ه چه تل نظر د ا هسی لو ر په لور کړ م
په هر لوری دخپل ز ړه صیقل بیانور کړم

مثبت تصوف : ـ

لکه دمخه چه مو وویل احمدشاه بابا دتصوف مثبته خوا در لوده یعنی دده تصوف (فلسفی تصوف) نه ووچه دد نیا ترك او رهبانیت پکښی اخیستلی دی بلکه دده تصوف اسلامی او شرعی وو چه د جهاد دروح اودتقوا اوخدمت خلق خوایی غایه وه لکه چه پخپله دفنا اوبقا په خوا ووکی داعتدال لار نیسی اوفنا د بقا کمال بولی : ـ

داد سر کاسه پری مکړه　　د فنا کمال بقا ده

دجهان تطورات ـ

احمد شاه بابا ددنیا نقشه په فلسفی نظر داسی کاږی : ـ

کله سر ناوی بیا ډمامی وی　　کله ژړاوی خه غرغړی وی
دا جهان طور طور ښکاری　　خوك په سر تورو ی دچا پکړ وی

علم او دعلم تشویق : ـ

دانسان د سعادت لار علم دی هیڅ سړی او ملت پر دنیا بی له علمه لار نه سی پیدا کولای : ـ

داحمدشاه بابا له سوانحو اوویناوو څخه ښکار یږی چه ده په دینی علوم ، تصوف او فلسفه کی معلومات در لود په عربی ژبه هم پوهیدی په پارسی او پښتو کی یی شعر هم ویلای سوای په عربی ژبه چه په هغه عصر کی دمشرق د علم منبع وه تر دی حده عالم ووچه لیك او لوست یی هم په کولای سوای مرحوم شاه فقیر الله صاحب د ښکارپور دده ته عربی مکتوبونه هم لیکلی دی

علاوه پردغه احمد شاه بابا په عربی ژبه ځینی کلمات اری چه محمد غوث ابن ترکمان ابن تاج خان په هندوستان کی یه پارسی ژبه شرح په لیکلی ده چه شرح الشرح نومیږی (۳۰۰) مخه ده

احمدشاه بابا خپل گران ملت ته په خپله وینا کی د علم پر پر تشویق او ترغیب فرمایی نن ورځ ښایی چه پښتانه دخپل پلار دغه نصایح په ښی غوږ واوری او په د غه عصر کی چه بی له علمه ژوندون ممکن نه دی عملی یی کړی اودعلم زده کړی ته خور ا توجه وکړی دی وایی :ـ

Marfat.com

خو لویوی دعلم دی همیشه بلی
دغفلت په تیاری خوگرزی عجوزه
داتعین علم له ځا نه سره مله کړه
دهمت په وزر الوزه الوزه

بل ځای دعلم فواید اوګټی داسی ښیی:-

له ځلور خوا به در درته ځلیږی
که دعلم رڼ څراغ ته درته بل کړی
روح له عامه رنا اخلی هله زده کړه
(احمدشاه)چه بدخوئی په ښه بدل کړی

لوی احمد شاه بابا دحضرت میا عمر «قدس سره» سره اخلاص درلود او دهغه په مریدانو کی وو هغه وخت چه احمد شاه بابا په پانی پت حمله کوله داحمد شاه بابا په نورو لښکروکی یوازی اووه لس نیم زره کسان دمیاعمر صاحب مریدان اوخلیفه ګان وه.

دنوای معارف په (۷۸۸)مخ کی دده دتعلیماتو په برخه کی داسی راغلی دی«احمدشاه مرد متشرع وپابند امور دینی وحنفی مذهب عالم وباسوادی بود دیوان اشعار پشتوی او در کابل بسال (۱۳۱۹) ش از طرف عبدالحی حبیبی طبع شده که کلام عشقی و تصوفی وحماسی واخلاقی دارد ودارای تقریبا دو نیم هزار بیت است از قسم غزل ورباعی وقطعه ومخمس ومربع درکلامش رنگ تصوف بخوبی آشکار است برخی اشعار اخلاقی ووطنی نیز دارد علاوه براین احمدشاه برخی کلمات وملفوظات منثور نیز داشت که ملا محمد غوث بن ترکمان بن تاج خان قاضی پشاور بامروی شرحی برآن کلمات بزبان فارسی بنام (شرح الشرح) نگاشته است.»

دده دمزار د ګنبدی کتیبه داده:-

شاه والاجاه احمدشاه درانی بود
درقوانین امورسلطنت کسرای منش

---

احمد شاه درانی دکندا سنګپه لیکنه.

از نهیب قهرمان سطوتش در عهد او
شیر آهو را به شیر خویش دادی پرورش

میرسد از هر طرف در گوش بد خواهان او
از زبان خنجرش هر دم هزاران سرزنش

چون روان شد جانب دار البقاء تاریخ بود
سال هجری یکهزار و یکصد و هشتاد و شش

## خرقه مبارکه

دسراج التواریخ په ۲۷ مخ کی داسی راغلی دی: (۱)
دحضرت رسول (صلعم) خرقه چه دویس قرنی (رح) شخه وه او بیا وروسته لاس په لاس بخارا ته راغله شاه مراد بیگ د لو رنی او اعزاز دپاره اعلیحضرت احمدشاه بابا ته ورکړه یوو خت دامیر حبیب الله خان شهید شخه دخرقی مبارکی په خصوص کی پوښتنه وسوه هغه پا چا دغه سوال داو ریدو شخه وروسته داسی وویل چه امیر تیمور کورگان دغه مبارکه خرقه دعراق عرب شخه ماوراًالنهر ته راوړه او په سمرقند کی یی یو ښکلی عمارت باندی جوړ کړ او صحیح النسب سیدان، متولیان یی ورته وټاکل او دغه منوره قبه تراوسه دخواجه خضر په نامه یادیږی او مبارك تعمیر یی په (۱۲۹۷) هـ کی په خپلو ستر گو ولید او امکان لری چه دامیر تیمور دمړینی وروسته د ده اولادی چه په هغو سیمو کی حکومت کړی دی دغه مبارکه خرقه بخارا ته وړی وی او دهغه ځای شخه دی دده د زامنو شخه یوه جوزجان ته راوړی وی او شا بیگ خان دی ولی او متولی با شی ټاکلی وی.

بیا وروسته اعلیحضرت احمدشاه بابا په ډیره درنا وی د اوښ په غاړه چه ایله وواو په هر ځای کی یی دوی دری ورځی تیرولی خیرات ونه او صدقات یی ورکول دکابل ترشما لی پوری یی راو رسوله خرنگه چه زیات خلك یی زیارت.

(۱) سراج التواریخ ۲۷ - ۲۸ مخ
نوای معارك ۷۸۸ مخ

ته دهر لوري څخه راتلل نود کابل په علی آباد کې دغه خرقه (۹) میاشتې دخلکو دزیارت کولو دپاره کښېښودله سوه چه اوس دغه دخرقې شریفې ځای په سخی مشهور دی او هلته یوه شنه گنبده پرجوړه سوې ده او وایی چه دلته دشاه مردان قدم ایښود سوی دی هغه وخت چه خرقه په کابل کې وه دا علیحضرت احمد شاه بابا په امر په کندهار کې یو تعمیر ورته جوړ سو او دکابل څخه یې بیا په شاندار ومراسمو دغه خرقه یووړه او هلته یې امانت کښېښوله او معمار انود احمد شاه بابا په امر دوه پوړیزه گنبده پرجوړه کړه چه په لوړه طبقه کې خرقه او کښته طبقه کې دا علیحضرت احمدشاه بابا مزار دی اعلیحضرت تیمور شاه دخرقې دمتولیانو دمصارفو دپاره دوې ته دشاه واله او مځکې وقف کړې میا فقیرالله صاحب په خپل مشهور مکتوبات کې د خرقې شریفې په خصوص کې داسې وایی:-

«در باب خرقه که حضرت پیغمبر (ص) وهم اهل بیت آنرا بدست خود دوخته اند وحضرت علی کرم الله وجه بعد از رحلت آنسرور بامر سید جن والبشر باویس قرنی (رح) اش تسلیم کرده او وآنرا پوشیده بعد از انتقال او از دنیا درمکه معظمه برده درغار حرا نهادند وسالها در آنجا بوده بعد جناب شیخ دوست محمد به مژده اینکه خرقه پیغمبر است از آنجا باخود دربغداد آورده پس از وی او لاد ش آنرا با خودها در بخا را نقل داد ندو ۸۰ سال در آنجا بوده سپس شیخ آقا محمد ونظر محمد از بخارا باخود در بلخ آورده ۳۵ سال در آنجا ماند از آنجا شیخ محمد ضیا ء و شیخ نیاز در روز یکشنبه ۲۴ محرم ۱۱۰۹ در خانقاه جوز گون آور دند.

واز انجاء در نهم شهرر بیع الاول سال ۱۱۸۲ وزیر شاه و لیخان بامیزایی در قندهار آورد» دخرقې شریفې زیارت بالعموم او مخصوص دجمعې په شپه مازیگر کیږي ټول صوفیان او ملایان دخرقې شریفې زیارت کوي اوتر تیر ماښامه هلته مراقبه وي دبست حیثیت لري چه گنهکاران یې حریم ته ننوزي او هیڅوك یې په زورو یستلای نه سي

هغه وخت چه خرقه شریفه کندهار ته راوړه سوه دخرقې دصندوق کلی حاجی عبدالحق الکوزی ته چه یو نیك عمله او خدای دوسته سړی وو وسپارله سوه او احمدشاه بابا امر وکړ چه دده دحکمه پرته دصندوق سر خلاص نه سي.

خرقه خپله یوه داوبش دوړیوقاقمه‌ده دواړه مبارك لستوڼی یی دقاقمی دلمنی‌داوږدوالی په نسبت لنډ دی اسمانی رنګ‌لری برق‌او مخصوصه تجلی لری دانسان دقـامت په تناسب لنډه ده استراو. فرا ویزنه‌لری دمخ دوه بره یی څه شوږ یدلی‌او په وړین تارګنډل سوی‌دی

اعلیحضرت امیر حبیب‌الله خان چه په (۱۳۲۸) ق کی کندهار ته راغی دنورو عامه خدمتو په لړکی یی دخرقی شریفی ګنبده هم ترمیم کړه لکه‌چه‌دده‌دیو فرمان څخه چه‌دخرقی‌په‌دننه کی‌لیکل سوی‌دی‌دغو کارونو کـول څخنی معلـومیږی فرمـان دغـه دی «از آنجا کـه توجـهات شنشه‌شهنشاهی‌شاه سعادت بنیان‌المؤید بتائید الملك الدیان سلالته السلاطـین ال افغا ن الـتـی بتهجت بهم القرون والا زمان اعلیحضرت سراج الملت والدین دام ملکه دایما مصروف ترقی اعمار بلادواحصار شاهانه شان‌است ازابتداء آمدن موکب مسعود او به قندهار بسی‌آثار عمران‌وترقیات‌نمایانی بروی کار آمده است که‌برخی ازآنها بیان کرده میشود چنانچه تعمیر قلعه‌قندهار که‌بمرورزمان‌برهم‌ورخنه‌ګردیده‌بود از سرنو بطرز جدید ترمیم ګردیده که‌در صفائی وزیبائی رشك دلبران عالم‌ګردیده‌وارګ‌شهرقندهار وسلام‌خانه‌مبارکه‌وعمارت برج وکوتی جدیدارګ وګلدانیها و فواره‌ها درآن ساخته شده است وبازارها به‌کمال‌آرایش انجام یافت‌واماکن‌متبرکه‌چنانچه خرقه شریفه که‌در دایره وصحن‌اووسعت‌کرده‌سراهای‌طرف شرقی اورا خریده در دایره اش داخل کردند وصحن اورا وسعت‌دادند دالانهائی سمت جنوبی‌او راآباد نمودند وامام ومو زن و خدمه ومدرس‌وطلبه‌رامقرر فرمودند ونیزمسجد جامع شاه که‌آبادکرده احمدشاه بابای‌مرحوم‌است جانب شمالی آن زمین های خالصه سرکاری وخریداری‌درآن‌داخل‌کرده دایره او را وسعت داده دالانهانهای شمالی او را سراز نوتعمیرنمودندونیزمسجد جامع سردارکهندلخان مرحوم از طرف‌شمال وجنوب او سراهای به قیمت بسیار خرید دایره ومسجد او را دوچند ازسابق کلان نموده ونهر پاتاب رادر اواسط او اجرا داده ودوصد باب دوکان که‌در حقیقت یك‌بازار طولانی است برای مصارف وی آباد وجای مومبارك را درآن بقعه شریف نهادند ومسجد عثمان آباد واقع‌بازارشکارپور

Marfat.com

وغیره مساجد را تعمیر نمودند وعمارت کو هکران و کوتی سر بند وحفر نهرها وساختن سرك وپل ها از آن جمله یکی حفر نهر مبارکه سراجیه است که از دریایی هلمند اراضی حالیه غیر مزروع را به زحمت زیاد درظرف چهار سال که موازی هشت هزار مرد در آن کار میکرد تا حفر آن انجام یافت که یکی از آثار عظیمه عصر سراجیه است واز نتائج مستحسنه سفر خیرت اثر همایونی علی هذا لقیاس درهر ولایت که قدوم میمنت الزوم والا رسیده یك آثار ترقی نشان بیاد گار مانده این همه به سعی و اهتمام عا لیجاه سردار محمد عثما نخان نایب سا لار ملکی سردار درجه دوم به انجام واتما م رسید .»

په (۱۳۱۳) کی چه دامیر عبدالرحمن خان زوی سردار نصرالله خان قندهار ته راغی دخرقی مخصوص دالان چه په گنبده کی دننه دی دسپینو زرو پنجره یې ورجوړه کړه ددالان مخ او مخصوصه دروازه یې هم په زرو ورجوړه کړه بیا دسردار محمد عثما نخا ن په امر صوفی عبد الحمید خان بارگزی چه په کابل کی دصکوکو رئیس هم وو دنقش او نگار علاوه شاؤ خوایې (یس) شریف اود (انا فتحنا) سوره په اعلی کوفئی خط باندی ولیکلی او دالاندنی شعرونه یې ددرو ازی دپاندی په دالان کی په ډبره کی کیندلی او په (۱۳۲۹) کال کی یې نصب کړی دی :-

زهی خرقه با سعادت — که شد خراسان زفیض قدومش منور
معلی جناب احمد آن شاه والا — که به رتبه اش برتر از بام اخضر
بباز و چو رستم به هیبت چو دارا — به حشمت سلیمان به تمکین سکندر
مطیعش ز مه تا بماهی جهانی — به پابوسی اش آسمان حلقه بر در
از آنجاء که اندر دلش داشت مسکن — حب حق تعالی وحب پیمبر
فرستاد درجوزگون بهر تعظیم — ولیخان وزیر خود آن نیک اختر
که تا آورد خرقهء شاه لولاك — حبیب خدا شافع روز محشر
بیاوردش از جوزگون آن نیکونام — به صد عز و تکریم بسیار و صدفر
نهم از ربیع اول و روز دوشنبه — که شد کندهار از نزولش معطر
بالف وما ئة و ثما نین اثنا ن — خرد گفت بنویس تاریخ از زر

Marfat.com

نباغلی عزیزالدین وکیلی (دسوابق خرقهٔ مطهره) تر عنوان لاندی داسی لیکی :- ( این همان خرقهٔ مطهره است که حضرت محمد (صلعم) مختار وهم اهل بیت اظهار آنرا بدستان مبارک خود دوخته اند وحضرت خاتم المرسلین صلی الله علیه وعلی اله واصحابه وسلم در اواخر عمر مبارک شان به بر میکردند درحجة الوداع ووقت مریضی ودرحالت موت در بدن مبارک شان بوده ودرلحظات اخیر زندگانی به امیر المؤمنین عمر رضی الله تعالی عنه وصیت فرمودند که این جامه را به ابن عمر اویس بن العامر القرنی که نادیده برمن عاشق شده است بسپارید.

پس ازارتحال سرد ارانبیاء صلی الله علیه وآله واصحابه قرار امر مبارک رسالت پناهی عمر فاروق وحضرت علی کرم الله وجه خرقهٔ مبارک باسیدالتابعین اویس بن عامر القرنی سپردند آن دوست خداوند تبارک وتعالی پیش از آن که خرقه مطهره در بر کنند دو رکعت نماز بجاء آورده و طلب آمرزش امت حضرت سرور کائنات نموده و خرقه معظمه راشفیع آورد وتا وقتیکه ابی عمرو اویس بن عامر القرنی حیات داشت لباس واجب التعظیم حضرت نبی الکریم صلی الله علیه وسلم را در بالای سرخود نگاه میداشت بعد ازارتحال اویس بن عامر القرنی بندگان خاص حضرت پروردگار عالم خرقهٔ مبارکه را ازملک یمن انتقال داده احتراما وشرعاو تعظیما در غار حرا گذاشته وسالهای متمادی درآنجاء بامانت وحفاظت بود تاآنکه جناب شیخ الاولیا قطب الاتقیا دوست محمد قدس سره که مرد بزرگی از صالحان وقت بوده آنکه خرقه پیغمبر جلیل القدر اسلام وحضرت رسول زمانی است آنرا باعزت وعظمت تمام ازغار برداشته در بغداد بجهت زیارت عموم خلایق اسلام نقل داد و تا زمان سلطنت (یلدرم بایزید) بن سلطان مراد بن سلطان ارحان بن سلطان قراعثمان لو(مؤسس سلطنت عثمانی روم وتازمان ظهور قدرت ابوالمنصور امیر تیمور کورگانی که فاتح ملک بغداد گردیده شرف پرتونزدل داشت وکافهٔ اسلامیان عرب و عجم بجهت تقدس و زیارت خرقه صدقه زرو مال بگردان امانت اعطای پروردگار می شتافتند.

سلطانی تاریخ په (۱۴۲) مخ کی دخرقی مبارکی په خصوص

Marfat.com

کی داسی لیکلی :-«شاه‌مرادبی خرقه متبرکه رادرکمال عزت وعظمت نزداحمد شاه فرستاد واحمد شاه اورا درفتوحات غیبی وعطوفات لاریبی دانسته بعداز تبذیرو تذورات تصریف صدقات به‌زیارتش مشرف شد.

چون میدانست که خرقه حضرت رسول صلعم درتحت ملکیت احدی نیست هرکه اورا به تعظیم نگاه دارد عزت و تجلیل روا دارد درخور تولیت است پس آنرا با خود برداشته مراجعت قندهار کرد متولیان آن خرقه مبارك که اکثر مردم از بك بودند، وچون حال را بدینمنوال مشاهده نمودند پس در شبی صندوق مبارك را کشودند وموضع بین اکتفین خرقه راکه حمل لمس مبارک که مهر نبوت قطع نموده جادهٔ بخارارا پیمودند واحمدشاه خرقه را از جاده کابل به قندهار آورد وتامدت حیاتش در مسجد جامع کهنه که در جنب جنوبی محله بردرانیست موضوع بودو بعد ازرحلتش تیمور شاه پسرش درجنب شرقی مقبره پدر گنبد ومسجد و حوض ساخته او رادراین جایی که هست نقل نموده.

دسفینت الاولیا په (۳۸) مخ کی داسی راغلی دی چون پیغمبر صلعم وصیت کرده بودند که خرقه مرابه اویس قرنی رسانیده بگوئید که امت مرا دعا کند امیرالمؤمنین عمر در ایام خلافت با امیرالمؤمنین علی رض عنهما خرقه مبارکه رابه‌نزد اویس برده و درخواست دعا بجهت امت نمودند.[۲]

گویند که به دعای ایشان حق تعالی بعددموی گوسفندان قبیله ربیعه ومضر که درعرب هیچ قبیله آنقدرگوسفندان نداشت از امت پیغمبر صلعم بخشید.

در تذکرة الاولیا چنین آورده‌اند که ویس نزد امیرالمؤمنین علی رض عنهما آمد بموافقت ایشان درصفین حرب میکرد تاشهیدشد تاریخ وفات ایشان در سوم رجب سال ۳۲ ه است.

د تذکرة الاولیا په (۱۲) مخ کی‌دخرقی شریفی او ویس قرنی په بارهٔ کی داسی لیکلی‌سوی دی:-«آن قبله تا بعین وآن قدوه

---

تاریخ سلطانی ۱۴۴ مخ

سفینت الاولیا ۳۸ مخ

اربعین و آن آفتاب پنهان آن هم نفس رحمان آن سهیل یمنی اویس قرنی (رح قال النبی) صلی الله علیه «وسلم اویس القرنی خیر التابعین» باحسان ستایش کسی که ستاینده او رحمة العلمین بود بزبان من کجا راست آید گاه گاه خواجه عالم روی مبارك سوی یمن کردی و گفتی «انی لاجد ونفس الرحمن من قبل الیمین» یعنی نسیم رحمت از جانب قرن همی یابم باز خواجه انبیاء صلی الله علیه وسلم گفت فردای قیامت حق تعالی هفتاد هزار فرشته بیافریند در صورت اویس تا اویس درمیان ایشان بعرصات آید و به بهشت رود تا هیچ آفریده واقف نگردد والاماشاالله که دران میان اویس کدامست که درسرای دنیا حق تعالی را زیرقبهٔ نواری عبادت میکرد وخود را از خلق دور میداشت در آخرت از چشم اغیار محفوظ ماند که او لیای تحت قبای لایعرفهم غیری.

نقل است که چون رسول صلی الله علیه و سلم وفات خواست کرد گفتند رسول الله مرقع شمارابه کی دهیم؟ گفت باویس قرنی بعداز وفات رسول صلعم چون عمر (رض) وعلی (رض) بکوفه آمدند فاروق درمیان خطبه گفت یا اهل نجد برخیزید همه برخاستند ودر میان شما از قرن کسی هست گفتند در وادی عرفه شترمی چراند وشب نان خشك بستاند ونفقه مادر پیر را ازان حاصل میدارد ودر آبادانی نیامده وباکسی صحبت ندارد وآنچه مردم خورد او نخورد وغم وشادی نداند و چون مردم بخندد او بگرید وچون بگریند او بخندد پس فاروق ومرتضی بدان وادی رفتند او را درغار یافتند وحق تعالی فرشتگان را امر کرده بود تا شتران وی می چرانیدند چون جنبش آدمی بیافت غار را کوتاه کرد وسلام داد فاروق جوابش گفت و بعد ازان گفت نام تو چیست؟

گفت عبدالله گفت ما همه بنده خدائیم نام خاص تومی پرسم گفت اویس گفته دست راست بنمائی بنمود آن نشانه که رسول (ص) گفته بود دید دستش را ببوسید وگفت رسول خدا ترا سلام رسانیده است ومرقع خود بتو فرستاده وصیت کرد که امتیان رادعا کن اویس گفت تو به دعا کردن اولی تری که از تو عزیز تر کسی نیست فاروق گفت من همین کارمی کنم تو وصیت رسول خدا بجاآر اویس گفت

---

تذکرة الاولیا ۱۲ مخ

یاعمر تو بنگر تا آن کسی غیر شاید غیر من باشد فاروق گفت رسول خدا ترا نشان داده است مرقع پیغمبر را بمن دهید تا دعا کنم مرقع رابدو دادند بگرفت وگفت صبر کنهد واز ایشان دورتر رفت وروی برخاك نهاده گفت الهی این مرقع را نپوشم تا همه امت محمد رابمن نبخشی که پیغمبر بمن حوالت کرده است ورسول و فاروق ومرتضی همه کار خود کردند اکنون کار تو مانده است آوازی آمد که تنه چند رابتو بخشیدم گفت اگر همه را نبخشی نپوشم گفت چندین هزار دیگر بخشیدم گفت همه را میخواهم همچنان می گفت ومی شنید.

عمدهٔ اولیا اویس قرن  قدوهٔ دهر مقتدای زمین
سال نقلش باتفاق بخوان  حسب هادی بیرون شده زجهان

## امیر بلندصاحب

دپخوانی گرش دگرمسیر په سیمو کی (چه لومړی لوی حکومت بیا اعلی حکومت او ولایت سو) ترټولو مشهور او بزرگوار پیر دی چه د کندهار، هلمند او دفراه شاؤخوا مریضان او حاجتمندان ورځی او دنیکی مدد ځنی غاړی.
ځلور پښت پنځوس کاله دمخه ددغو سیمو زیاترو صاحب حال خلکو ملایانو او متصوفینو په کال، شپږ میاشتی او یاهفته کی دامیر بلند صاحب زیارت کاوه او سرلی ورته پټاوه اوس هم پیریانی او میرګیانی مریضان ډیر وروستل کیږی امیر بلند صاحب داسلام داشاعت او بلاغت په وختو کی دلته راغلی دی دوفات نیټه نی دهغی شنختی ځخه چه دده دقبر د پښوخوا ته ولاړه ده (۶۰ ه) ځرګندیږی.

دامیر بلند صاحب کورنی ځانونه عربان ګڼی او خپله امیر صاحب درسول صلعم داکا امیرحمزه صاحب زوی بولی. دزمانی په مرور دغه کورنی اوس ډیره لویه شوی ده او دزیارت سره ورځرمه کلی کی اوسیږی چه دخلیفه ګانو په نامه یادیږی دده زیارت ددرویشان دکلی دشمال ختیز خواته په وټو کورریګنه ځکه کی دی.

Marfat.com

# ملکیار غرشین

غرشین د پښتنو یو ستانه کام دی د دغه کام یو نیکه و چ غر سر سبز کړی وو نو یې ځکه غرشین بولی ملکیار د پښتنو پخوانیو مؤرخینو د اولیاوو په ډولی کی ذکر کړیدی نعمت الله او خانجهان لودی لیکی:-
چه شیخ ملکیار پران غرشین ډیر ستر ولی وو یو ورځ دا بابکر طوسی له ځایه سره په ډلی کی یری دی د هغه ښځه یې یو ځای و غوښت خو ابا بکر عذر وکړ چه دا ډول ځای و نه د پاچا دی ملکیار ژر ملتان ته راغی او له سلطان غیاث الدین ښځه چه په هغه وخت کی یې پر ملتان یرغل کړی وو هغه ځای واخیست او اوس یې هم هد یره هلته ده داقصه مخزن او خو سوه کاله د مخه سلیمان ماکو هم ذکر کړی ده شیخ ملکیار په غزاکی دا پاړکی ویلی ده :-

غــاز یــا نــو گــو ری ښـښتن مــو مل د ی
توری تیری کړی دښمن موپری کړی منگلی سری کړی
خــلــه بــه تــښــتــو ښـښتن مــو مــل د ی
که ټینگ کړو زړونه پر بری یو نه چه زمـری یـونه
اسلام را ښخه دی
ښښتن مو مل د ی
غاز یا نو را سی ډول شاو خواسی د شهاب پر ملاسی
دښمن مو غو ښ کی ښښتن مو مل د ی

دزهد او تصوف له کبله ملکیار نبه شهرت لری او مؤرخان د ده د نامه سره ( پران) لیـکی ، د وه نیم سو ه کا له و رو ستـه سلطان فیروز شاه (۷۲۵ - ۷۹۰) ډهلی ته نژدی فیروز آباد بنا کړ نو هلته دی پاچا دشیخ ملکیار پران په یاد گار یو سرای جوړ کړ چه د هغه عصر مؤرخ ضیاؤ الدین ئی (۷۵۸) ذکر کوی

---

پ ښنا نه د ر او دی زول (۵۴) مخ

یاعمر تو بنگر تا آن کسی غیر شاید غیر من باشد فاروق گفت رسول خدا ترا نشان داده است مرقع پیغمبر را بمن دهید تا دعا کنم مرقع را بدو دادند بگرفت و گفت صبر کنید واز ایشان دورتر رفت وروی برخاك نهاده گفت الهی این مرقع را نپوشم تا همه امت محمد را بمن نبخشی که پیغمبر بمن حوالت کرده است و رسول و فاروق ومرتضی همه کار خود کردند اکنون کار تو مانده است آوازی آمد که تنه چند را بتو بخشیدم گفت اگر همه را نبخشی نپوشم گفت چندین هزار دیگر بخشیدم گفت همه را میخواهم همچنان می گفت ومی شنید.

عمدهٔ اولیا اویس قرن — قدوهٔ دهر مقتدای زمین
سال نقلش باتفاق بخوان — حسب هادی بیرون‌شده زجهان

## امیر بلندصاحب

دپخوانی گرش دگرمسیر په سیمو کی (چه لومړی لوی حکومت بیا اعلی حکومت او ولایت سو) ترټولو مشهور او بزرگوار پیر دی چه دکندهار، هلمند او دفراه شاؤخوا مریضان او حاجتمندان ورځی او دنیکی مدد غواړی.

ځلو پنځوس کاله دمخه ددغو ځیمو زیاترو صاحب حال خلکو ملایانو او متصوفینو په کال، شپږ میاشتی او یا هفته کی دامیر بلند صاحب زیارت کاوه اوسرلی ورته پټاوه اوس هم پیریانی او میرگیانی مریضان ډیرورو ستل کیږی امیر بلند صاحب داسلام داشاعت اوبلاغت په وختو کی دلته راغلی دی دوفات نیټه ئی دهغی شنختی څخه چه دده دقبر دپښو خوا ته ولاړه ده (۶۰ ه) څرگند یږی.

دامیر بلند صاحب کورنی ځانونه عربان گڼی او خپله امیر صاحب درسول صلعم داکا امیرحمزه صاحب زوی بولی. دزمانی په مرور دغه کورنی اوس ډیره لویه شوی ده او دزیارت سره ورځرمه کلی کی اوسیږی چه دخلیفه گانو په نامه یادیږی دده زیارت ددرویشان دکلی دشمال ختیز خواته په وړو کوریگنه ځکه کی دی.

Marfat.com

## ملکیار غرشین

غرشین د پښتنو یو ستانه کام دی د دغه کام یو نیکه و چ غر سر سبز کړی وو نو یی ځکه غرشین بولی ملکیار د پښتنو پخوانیو مؤرخینو د اولیاوو په ټولی کی ذکر کړی دی نعمت الله او خانجهان لودی لیکی :-
چه شیخ ملکیار پران غرشین لوی پرستوولی وو یو وو رځ دا بابکر طوسی له ځایه سره په ډهلی کی پری دی د هغه څخه یی یو ځای وغوښت خو ابابکر عذر وکړ چه داټول ځای ونه د پاچا دی ملکیار ژر ملتان ته راغی او له سلطان غیاث الدین څخه چه په هغه وخت کی یی پر ملتان یرغل کړی وو هغه ځای واخیست او اوس یی هم هدیره هلته ده داقصه مخزن او خو سوه کاله د مخه سلیمان ماکو هم ذکر کړی ده شیخ ملکیار په غزاکی دا پاړکی ویلی ده :-

غاز یا نو گو ری ښتن مو مل دی
توری تیری کړی دښمن موپری کړی منګلی سری کړی
خله به تښتو ښتن مو مل دی
کډ ینګ کړوزړونه پر بر ی یو نه چه زمری بونه
اسلام را ځخه دی
ښتن مو مل دی
غاز یا نو را سی ټول شاؤ خواسی د شهاب پر ملاسی
دښمن مو غو ځ کی ښتن مو مل دی

دزهد او تصوف له کبله ملکیار ښه شهرت لری او مؤرخان د ده د نامه سره ( پران) لیکی ، دوه نیم سوه کاله وړو سته سلطان فیروزشاه (۷۲۵ - ۷۹۰) ډهلی ته نژدی فیروز آباد بنا کړ نو هلته دی پاچا د شیخ ملکیار پران په یاد گار یو سرای جوړ کړ چه د هغه عصر مؤرخ ضیاؤ الدین لی (۷۵۸) ذکر کوی

---

پښتانه شعراول ټوک (۵۴) مخ

# پیرمحمد کاکړ

دکندهار مشهور متصوف او خوږ ژبی شاعردی چه داعلیحضرت احمدشاه بابا په وخت کښی ژوند کـاوه او دشهزاده سلیمان استاد وو ده یو کتاب د(معرفة الافغانی) چه دپښتو صرف او نحو لغت او محاوره ده دشهزاده سلیمان دپاچاهی په وخت کی دده په نوم لیکلی دی دشهزاده سلیمان دروزنی په خصوص کی وایی:ـ

پس له حمده له درودو　　　شوه دشاه مدحه مقصودو
شاه سلیمان دحکم لمر دی　　　کل عالم پری منور دی
شهزاده دعلم کان دی　　　نن رونق ددرست جهان دی

دده دیوی تصوفی غزلی څو بیته دادی:ـ

ناز دخوبانو پر لیمه وړشی　　　چه څوك یی نه وری په حق به پرشی
پر سجده ژاړه وخپل حبیب ته　　　څو دی پر او ښکو مځکه چکړ شی
رتبه که غواړی فروتنی کړه　　　چه پورته خیژی آخر به زوړ شی

دی دخپل عصر ستر عالم او متصوف وو په کندهار کی حضرت جی صاحب ته نژدی دشا ولی بر غاړه ښخ دی.

دژوندانه نیټه یی دپښتانه شعرا لومړی ټوك (۱۱۲۰) هـ تخمینوی مځکه چه دی داحمد شاه بابا په عصر کی سپین ږیری وو دده ژوند داعلیحضرت احمد شاه دوفات له کاله (۱۱۸۶) لس کاله نـور هم یقینی دی ولی چه خپل دیوان ئی په ۱۱۹۶ هـ تمام کړ ی دی.

# ملافرح الدین آخند

ملا صاحب دکندهار دمشهور وعلما او او لیا څخه دی چه د اعلیحضرت احمد شاه بابا په وخت کی اوسید خلکو په تقوای او خدای پیژندنی پیژاند او هر چا دنیکی مدد څخه غوښت خپله ملا فرح الدین اخند دمشهور میا فقیرالله صاحب حصارکی مرید ؤ او زیاته مکاتبه او مراسله ئی ورسره درلوده.

---

دسروش مجله ۱۳۴۳

Marfat.com

میا فقیر الله صاحب د ننگرهار د حصارک څخه په (۱۱۵۰) هـ ښکارپور ته ولاړ مشهور مؤلفات ئې قطب الارشاد، فتح الجمیل، براهین النجات، فیوضات الهیه، طریق الارشاد، منتخب الاصول، فتوحات غیبیه فارسی مکتوبات او نور دی.

ملا فرح الدین اخند په (۱۱۵۹) هـ ئې په کندهار کې زیږیدلی او دعمر په (۸۲) کالو دذیقعدی په ۱۱ په (۱۲۴۱) کې وفات سوی دی او په کندهار کې په خپله جامع کې په هرات بازار کې ښخ دی.
دده دوفات نیټه دابجد په حساب دامصرع ده چه دده مرید علامه حبو اخند زاده ویلی ده:-
رفت قطب زمین مدار زمان.
د (ولی الله) دکلمې څخه ئې دعمر (۸۲) کاله استخراجیږی
ملا صاحب په اخلاق او تصوف کې تالیفونه لری یو منظوم کتاب ئې (تعداد الکبائر ) نومیږی.

دتعداد الکبائر مثنوی :-

بل حلال حلال گڼل دی هر حرام حرام منل دی
شفقت پر مسلمان کړه له هر چا سره احسان کړه
په ښادی د ده ښاد من شه هم په غم د ده غمجن شه
چه د کفر موجبات دی په دوه کونه مهلکات دی
له همه ؤ احتراض کړه بیاد شرعی ته اعزاز کړه
که افعال دی که اقوال دی یا چه نور پاته احوال دی
محرم چه دا شرعی وی پر وارد دلیل قطعی وی
اجتناب ورځنی فرض دی واوره څماو تاته عرض دی
ته تهذیب ښه داخلاق کړه مخلق خوی دی داخلاق کړه
اکتساب حمیده کړه اجتناب له رزیله کړه

Marfat.com

# حضرت جي بابا

محلي روايتونه وايي چه حضرت جي بابا د سرهند څخه داحمدشاه بابا دفتوحاتو په وخت کي راغلي دي او په کندهار کي ئې د نقشبندي طريقي رواجولو ته زيات خدمت کړی دی د مريدانو حلقه به بانـدي راګرځيدلـي وه ارشاد او تـوجه يې زيا ته مؤثره او ګيرنده سوي وه دي دحضرت مجدد الف ثاني سرهندي

دکورني څخه دی په دي وخت کي دکندهار افغانان د خپلو قومي شيخانو په حلقو را ټول وه او دده درباري نفوذ ته نه متوجه وه

وائي چه حضرت جي بابا ډير بزرګ او مشهور تقوای دار سړی وو يوه ورځ چنګبنو د ده په مسجد کي په زوره ناري وهلي او دده حضوريي خرابا وه حضرت جي بابا باندي راووت او ورته وي

وويل :-

تاسي نه ياست خبر چه زه نقشبندي يم او په زوره ذکر نه کوم وايي چه دهغه وخت راهسي دده خلوت ته نژدي چنګبنو په زوره ناري نه وهلي زيارت يي دکندهار دښار شمالي خواته دی.

مجددي کورني چه په هند، افغانستان اوماوراالنهر کـي شهرت لري په اصل کي دکابل ده چه لوی نيکه ئي د کابل په شمال کي د پنجشير دفرخشاه په دره کي ښخ دی او شهاب الدين فرخ شاه نوميږي دغي کورني يوغړي چه امام رفيع الدين نوميږي او دمجدد صاحب پنځم نيکه دی دکابل څخه هند ته تللی دی خود دغي کورني شهرت دشيخ احمد مجدد الف ثاني دمولاناعبدالاحد دزوي څخه شروع کيږي چه د نسب سلسله ئي په ۲۸ پښت حضرت عمر فاروق رض ته رسيږي مجدد په ۹۷۱ هـ کي پـه سرهند کي زيږيدلی دی او په نقشبندي طريقه کي دخواجه محمد باقي کابلي (چه په ۱۰۱۲ هـ) په ډهلي کي مړ دی مريد دی په چشتيه، قادريه او سهروردیه طريقو کي هم ماذون دی په ۱۰۳۴ هـ دصفر په ۲۸ دسه شنبي په ورځ د عمر په ۶۳ کال مړ دی او په سرهند کي ښـخ دی.

Marfat.com

دغی کورنی پیر غلام محی الدین په ۱۷۹۰ ع کی د پیښور رخچه سند ته ولاړ دا محکه چه سکانو پر پیښور غلبه پیدا کړه او په (۱۸۰۶) کی ئی په ښکار پور کی هستوګنه غوره کړه د سند د تالپور میرانو چه عقیده ور ته درلوده مځکی ئی ور کړی او آنخواه ئی ور مقرره کړه د پښتنو پاچاهانو تیمور شاه، زمانشاه، محمود شاه او ایوب شاه سدوزیانو هم په ښکار پور کی دده احترام او عزت کاو پیر غلام محی الدین د (مونس المخلصین) د ۵۳ مخ په حواله په حیدر آباد کی ښخ دی او پیر نظام الدین د ۱۲۷۳ ه د رجب په ۱۷ دشنبی په ورځ مړ او په ښکار پور کی ښخ دی او زیارت ئی د پیر مشهور دی اولاده ئی تر اوسه سته د نوای معارك په ۸۵۸ مخ کی داسی راغلی دی:-

«پیر نظام الدین مرد عالم و شاعر متنفذی بود در فارسی دیوان اشعار داشت محتوی مناجات ها و مناقبت نبوی (نظام) تخلص او بود» دنسب سلسله ئی داسی ده:-

حضرت مجدد صاحب (۹۷۱ – ۱۰۳۴ ه) زوی ئی خواجه محمد معصوم عروة الوثقی (دشوال ۱۱ (۱۰۰۷) دربیع الاول ۹ (۱۰۷۹) زوی ئی محمد صبغت الله (دربیع الثانی ۱۱ – ۱۰۳۳ دربیع الثانی ۹ جمعه ۱۱۲۲ ه) زوی ئی شیخ محمد اسماعیل چه په ۱۱۳۶ کی مړ دی زوی ئی غلام محمد معصوم چه دشوال په ۴ (۱۱۵۹) کی مړ دی دغه دری مشهور زامن لری شاه غلام صادق (۱۲۰۰ ه) شاه غلام محمد چه دشوال په میاشت په پیښور کی په ۱۱۷۸ کی مړ دی عزت الله (دیار کند دحضرا تو جد) دشاه غلام صادق زوی شاه غلام محی الدین (چه دشکار پور د مجددیانو نیکه دی).

دی دوه زامن لری چه پیر فدا محی الدین چه په شکار پور کی په ۱۲۲۰ ه کی مړ دی شاه نظام الدین چه (نظام) یی تخلص دی او درجب په میاشت په ۱۲۷۳ ه کی مړ دی د پیر فدا محی الدین زوی پیر محمد اشرف دی چه په (۱۲۹۵) دشاه نظام الدین «نظام» زوی پیر امام الدین چه په ۱۲۹۵ ه شاه غلام محمد دوه زامن لری یو یی شاه غلام حسن دی چه په پیښور کی په ۱۲۰۴ ه کی مړ دی بل یی شاه غلام حسین حضرتجی دی چه په کندهار کی مړ دی چه دی د نهر کاریز، دهراوډ، دقندهار، کامی او جلال آباد دحضراتو پلار دی.

---

نوای معارك ۸۵۸ مخ

Marfat.com

دشاه غلام حسین زوی شاه غلام نبی (چه په جمادی الاخر ۱۲۲۶ کی په کندهار کی مړ دی دکندهار او سند دحضراتو نیکه دی) دشاه غلام نبی زامن چه شاه ضیاءالحق (ضیاء) شهید چه په (۱۲۰۰) ه او شاه فضل الله (چه په ۱۱۸۴ - ۱۲۳۸ کی په کندهار کی ښخ دی.) دشاه ضیاء الحق (ضیاء) زوی عبدالرحیم په حضرت آغا مشهور چه دسند په مټاری کی دجمادی الاول په (۲۴) (۱۳۱۳) عبدالرحیم دری زامن لری چه فدای مجدد (دکندهار دده خواجی حضرت چه د رمضان په (۵) ۱۳۳۰ ه کی مړ دی) عبدالحلیم حاجی آغا (دسند د مټاری دحضراتو نیکه چه دجمادی الاول په (۲۴) ۱۳۱۳ ه کی مړ دی) ضیاء مجدد معروف په میا نجی دچار اکار او دلغمان دحضراتو نیکه.) دشاه فضل الله زوی شاه عبدالقیوم (چه په کندهار کی په ۱۲۲۰ تولد او په ۱۲۷۱ مړ دی) د شاه عبد القیوم زوی شاه عبد الرحمن دی (چه په کندهار کی په ۱۲۲۴ ه زیږیدلی او دجمعی په ورځ دذیقعده په (۲) په ۱۳۱۵ ه کی مړ دی) دشاه عبدالرحمن زوی محمدحسن جان دی چه په ۱۲۷۸ کی زیږیدلی او په ۱۳۶۵ کی مړ دی) دغلام محمد معصوم زوی شاه صفی الله (دده تخلص صفی دی دفارسی دیوان خاوند چه د (۱۱۵٦ د ذیقعده په ۴ زیږیدلی او د ۱۲۱۲ کال دذیقعدی په (۲) دیمن په حدیده کی وفات سوی دی.

دشاه صفی الله زامن ولی الله، قدرت الله، کرامة الله میاعبد الباقی (باقی) چه د ۱۲۸۷ دربیع الاول په (۲) مړ دی ښه شاعر دی او دشور بازار دحضراتو نیکه دی. ذکرالله، مطیع الله، ظهورالله، امین الله دفارسی شاعر دمیان عبدالباقی (باقی) زامن غلام حیدر چه دربیع الاول په ۱۷ ۱۳۰۵ ه کی په کابل کی مړ دی غلام صدیق چه دجمادی الاخر په (۵) ۱۳۰۵ ه په کابل کی مړ دی (غلام عمر (عمر) دفارسی شاعر چه په (۱۲۹۰) په سند کی تولد او په کابل کی مړ دی دتکمله مقالات ۴۰۵) د غلام صدیق زوی غلام قیوم دی چه په کابل کی دشعبان په (۲۴) ۱۳۳۰ ه کی مړ دی. دغلام عمر (عمر) زوی ناصر الدین (جانان) دی چه دفارسی ښه شاعر دی.

سفینة الاولیا په ۳۳۹ مخ کی دحضرت مجدد دپیژندنی په خصوص کی داسی لیکی :- از اولاد حضرت امیر المؤمنین عمر فاروق رضی الله تعالی عنهما حنفی مذهب بوده اند.

---

نوای معارک ۸۵۸ مخ

Marfat.com

در سلسلهٔ نقشبند یه مر ید خو اجه با قی بو د ند و ا یشا ن مر ید مولانا خواجگی امکنکی وایشان مر ید پدر خود مولا نا درویش محمد واز مشایخ قادریه، چشتیه نیز اجازت ارشاد حاصل کرده بودند ۰ (۱)

ددغی کورنی یو بل صاحب حال اوخدای دوسته سړی محمد حسین مجددی دی چه په ۱۲۸۸ ق کی په کندهار کی زیږ بدلی او دپارسی ښه شاعر تیر سوی دی لکه چه وائی :-

اگرشبی مه‌روی‌ترا نظاره کنم　　کتان هستی‌خوداز شوق پاره کنم

یقین که‌معجزه‌شق القمرشود ظاهر　　چو ماه‌را به‌سوی‌عارضت‌اشاره کنم

دی په ۸۰ کلن سن دصفری په میاشت ۱۳۶۸ کی دسند په سکهر کی مړ دی.

## حاجی کاشانیکه

وایی چه کاشانیکه دسدو زود پاچاهی او دمحمود سدو زی په وخت کی په کندهار کی ژوند کاوه یو گوښه گیر او تقوای داره سړی وو دکندهار ټولو خلکو عقیده او ارادت ور ته در لود او دښار صفا رباط ته نژدی یی زیا رت دی دده زیارت ته زیات ناروغان ورځی او دزیارت څخه یی ډیرو خور دی ټولوی.

## بازمحمد

باز محمد په اصل کی دکندهار وو په ښو او پېښور کی او سیدلی‌وو ده دمولینا غلام جیلانی څخه دخوشنو یسی فن زده کړ د ده دآخر کنز شرح په (۱۲۸۷) ه کی دشرح عینی په نامه دپېښور په مصطفی مطبعه کی میامحمد امین دمیان عبدالصمد زوی ور چاپ کړ ه پردی کتاب باندی دپېښوری سید میر حسن شاگرد مولینا غلا م جیلانی حاشیه لیکلی ده دا کتاب د باز محمد په قلم لیکلی سوی دی او د طبعی سوی نخی په آخر کی ئی

دباز محمد یو شعر هم چاپ کړی دی هم‌دا شانی یو پښتو منظوم کتاب دتهکال دمحمد امین تألیف چه په ۱۲۹۵ ه کی په هلی کی چاپ سوی دی دغه کتاب هم دباز محمد په قلم لیکل سوی دی دده شعر و نه عشقی او تصوفی دی نمونه ئی داده:-

---

(۱) سفینت الاولیا ۲۲۹ مخ

مو ز محتاج یو الله تا نه — ته محتاج نه یی هیچا ته
وحدانیت ستا په ما فرض دی — لازم شوی لکه قرض دی
پیغمبر می محمد دی — چه دی دوست دپاك احد دی
بل دده څلور یاران دی — چه هغه بیا جنتیان دی
بل څلور مذهب دی جا نه — بهترین کی دی نعما نه
بل څما مناجات دا دی — چه و تا ته هو یدا دی
خپله مینه می په زړه کی و اچوه ته — غیری مینی می له زړه لیری کوه ته

دی ددیار لسمی هـ سدی متصوف دی . (۱)

## حبو اخند زاده

په ۱۱۳۰ کی په کندهار کی دخارجی سلطی دلیری کولو

دپاره دمیر ویس په مشری سیاسی، ادبی او ثقافتی نهضت شروع سو او دهر پلوه دغه ملی مرکز ته سیاست پوهانو ادیبانو او نظامیانو مخ را نیولی وو په ملتان او اصفهان

کی یی لوی ثقافتی او حربی مرکزونه جوړ کړی وه.

په دغه لړ کی دکاکړستان دږوب څخه چه په هغه وخت کی دلوی کندهار جزو ګڼل کیدی یو ملا چه ملا بابړ نومید کندهار ته راغی.

هغه وخت چه افشار نادر دپښتنو دغه ملی مرکز ویران کړ پر لویانو، مشرانو او پوهانو باندی یی ډول ډول کړاونه راوستل ملا بابړ هم په کندهار کی دنوی ښار (نادر آباد) دجوړولو په بیګار امر سوی و.

ملا بابړ یوزوی دملافیض الله په نامه درلود چه په ۱۱۶۰ کی یی دکندهار په احمد شاهی ښار کی ښه نوم درلود او دجلال آبادی حصار کی ښکارپوری میافقیر الله دعلمی او عرفانی مدرسی سره یی اشنایی او نژدیوالی درلود او مکاتبه یی ورسره درلوده او پروزیرشاه ولیخان زیات ګران وو.

---

(۱) تیر هیر شاعران ۲۰۶ مخ

ملا فیض الله په عربي د منطقو په مبادیو کې یوه رساله د خپل زوی حبیب الله په نامه لیکلې ده.

علامه حبیب الله په ۱۲۱۳ هـ کې د کندهار د بامیزو په کوڅه کې زېږېدلی دی او ابتدایي تحصیل یې د خپلې کورنۍ د غړو څخه کړی دی د ځوانۍ په وخت کې یې ادبي او اسلامي علوم لکه صرف نحو، بلاغت، فنون، تفسیر، حدیث او فقه زده کړي دي د منقولو علومو علاوه معقول علمونه لکه ریاض او نجوم یې هم زده کړي دي په هند او ایران کې ګرځېدلی دی او د هغه ځای د پوهانو او نوبانو سره یې لیدلي دي او حج یې کړی دی

علامه حبیب الله د معقولو او منقولو علومو د زده کړې وروسته د کندهار، هرات کابل، غزني د پوهانو سره په تماس کې سوی دی او د احمد شاهي ښار قاضي القضات ملا احمد الکوزي په ځینو عقلي علومو کې خپل استاد بولي دی ملا فرح الدین اخند (چه د کندهار په هرات بازار کې په خپله جامع کې ښخ دی) په روحي تصفیه او اشراق کې خپل پیر بولي او د دغه ملا او شیخ په واسطه د میا فقیرالله حصارکي د عرفان د مکتب سره پېژند ګلوي پیدا کوي.

علامه حبیب الله د شاګرد ګیرو دستر عالم او محقق ملا محمد اعظم اند ې سره علمي رابطه او ارادت درلود او په خپل مکتوبات کې د هغه نوم په احترام او اخلاص یادوي سردار مهردل خان (مشرقي) چه ښه ادیب او نومیالی شاعر وو تل د علامه د مجلس څخه مستفید کېدی او د خپلې کورنۍ استاد یې بالله ده د دغه سردار په خواهش د موضوعه احادیثو په تخریج کې د (نقدالثقات) کتاب ولیکی د هند او پېښور د مشهورو پوهانو لکه مولوي اسمعیل د هلوي د پېښور قاضي خیلانو د کورنۍ سره یې علمي روابط درلودل د ده د مشهورو شاګردانو څخه یو مولوي عبد الله غزنوي دی چه په پنجاب کې یې د اسلامي علومو د تحقیق د مرکز خښته کېښوه له چه تر اوسه په هند کې د دغه مکتب شاګردان سته د ننه په هیواد کې علامه کندهاري په هرات کې څه عمر تېر کړی دی او د هغې سیمې د فاضلانو او پوهانو سره یې لیدلي دي ده د هغه ځای په ښېګڼه او د پوهانو په ستاینه کې په عربي د غه بیتونه ویلي دي

---

د آریانا مجله ۱۳۲۵ کال (۱) ګڼه

زر یاصبا! سکان ارض هرات بلغ سلامی مجمع الحضرات
قل داعیا مستد عیا لدعائهم سقیاً لکم من فضله مطرات
فانزل بقرب فنا (زیارتگاه‌ها) واستنزل البرکات بالزورات
وبباب شیخ الطاق ردمستعبراً ثم احکٔ عنی مسکب العبرات
واقصد حریم جناب (گازرگاه‌ها) والزم بشوق محجر الحجرات

ترجمه: ای دسهار وږمې دهرات دسیمې پر اوسید ونکو باندې تیره شه زما سلام دهغې سیمې یارانو ته ورسوه د هغوی څخه دعاوغواړه او ورته ووایه چه دتل دپاره دهغې مځکې د پوهنې څخه مالامال وا وسه دزیارتو نو زیارت وکړه او دهغه حریم د برکت څخه فیضونه واخله دشیخ درگاه ته اوښکې جار کړه زما ارادت وروړاندې کړه.

دگازرگاه پرسیمه هم ورسه اودښه وخت دپاره دفضیلت په هغه حریم کې په ارامه سه.

دچنگیز په وخت کې دافغانستان لوی اوښکلي ښارونه لکه بلخ، بست، زرنج، غزنی، بامیان وران سول دخراسان علمي مدرسې چه دسامانیانو، غزنو یانو او غوریانو په وخت کې پرانستلې سوې وې ټولې تباه سولې نودهمدغه کبله علمي رشد او ذهني انکشاف وځنډ یدی او داسې پوهان لکه البیرونی او ابن سینا پیدانه سول خلکو یوازې په دیني منقولو اکتفاء کوله دعلمي درسونو اوروشونو سره چاعلاقه نه ښووله.

په اتمې، نهمې اولسمې هجری پیړی کې موږ په افغانستان کې دتصوف، فقې، ادبي فنونو او اخلاقو لوی او مشهور پوهان لروچه دهغو څخه حضرت جامي، کاشفي او نوردیا دونې وړدی خو دوی دمعقولو علومو لکه ریاضی، هیئت، نجوم، فلسفې او منطقو سره لږ علاقه سا تله کله چه اعلیحضرت احمدشاه بابا په کندهار کې دیاد پښتنو سلطنت مرکز جوړ کړ په دغه مرکز کې دا سلامي تصوفو او دیني علومو تدریس رشد وکړ دمنطقو او معقولاتو

مطالعې او تدریس ته څه وخت نه پاته کیدی په همداسې محدود ډول نوکی بیاهم کندهار دمعقولو او منقولو پوهانو څخه خالی نه وو حبواخند زاده خپل ځان زیاتره دمحیط په طرز تفکر او پیځایه قیدونو پابندنه باله دمنقولو علومو سره یې یوځای معقول علوم هم مطالعه او تدریس کول او دخپلو معلوماتو اومطالعاتو دزیاتوب دپاره یې دهیواد دننه او دباندې سفرونه وکړه دهغو سیمو دعالمانو او ملایانو سره یې وکتل چه ددغو سفر وپه نتیجه کې دی دریاضي، هندسې، نجوم، هیئت او منطقود زیر دست عالم په حیث وپیژندل سو.

د حبواخند زاده تاءلیفات :-

حبو اخند زاده په دینی او علمي بیلوبیلو موضوعاتو کې په عربي پښتو، فارسي، دروديرش كتابونه او رسالې لیکلې دي چه د لته په لنډه توګه ذکر کیږي :-

(۱) په حدیث کې یې (شوراق) په عربي ژبه دصاغاني مشارق په طرز د صحیحینو احادیثو داستیعاب په زیاتوب لیکلې دی .

۲-په فارسي ژبه په عرفان او اخلاقو کې (اقسام ومحاري وآفات غرور)

۳ - په فارسي ژبه په اخلاقو ،عرفان او دتفکر دګټې په خصوص کې د(رساله تفکر) په نامه .

۴ - په فارسي ژبه دمنقولو اومعقولو علومو په اساس (رسالهٔ نماز و اسرار آن) په نامه .

۵ - په فارسي او عربي ژبه موعظې اوخطبې .

٦ - په فارسي ژبه په اخلاقو کې د (رساله صبر وشکر ) په نامه .

۷-په فارسي ژبه په تصوف او اخلاقو کې د(رسالهٔ محبت الهي) په نامه .

۸ - په فارسي ژبه په کلامي او ديني تحقيق د ( رسالهٔ تمیز مؤمن و کافر) د تنګ نظره مکفرانو په خصوص کې .

۹ - په فارسي ژبه د(تواريخ وفيات مشاهير اسلامي در قرون ثلاثه) په نامه .

۱۰ - په فارسي ژبه دوحدت وجوداو دوحدت شهود په خصوص کې د (شمعهٔ بارقه) په نامه په دغه کتاب کې حبوا خندزاده په شپږو فصلونو کې دقدر وړ څیړنې او تحقیقات کړي دي .

۱۱ - په فارسي ژبه دملامحمد اعظم اندړ دسوالونو په ځواب کې د(څهل مسئله ديني )په نامه .

Marfat.com

۱۲ - په‌عربی ژبه دامام غزالی صاحب پر (محصل فیصل التفرقه) باندی د(احکام الملة فی احکام اهل القبلة) په‌نامه څه‌نور تحقیقات.

۱۳ - په‌عربی ژبه دتشریح او دفقی پر اصو لو باندی یو انتقادی نظر د (مغتنم الحصول فی علم الاصول) په‌نامه دغه کتاب د ده د ټولو تالیفاتو څخه دی. او دهغه عالمانو زیات خوښ کړی دی ځکه دغه کتاب په اجتها دی نظر تالیف‌سوی‌دی‌دغه تالیف ختم په ۱۳۵۷ کې دی.

علامه محب‌الله بهاری د مسلم الثبوت په عوض کې ددغه کتاب تدریس په‌خپله مدرسه کی‌منلی دی پر دغه کتاب باندی په شلمه پیړی کی مولینا سیدانور شاه‌کشمیری یوه شرحه لیکلی ده‌او اوس دغه کتاب دپیښور درفیع الاسلام‌د مدرسی‌په کتابخانه‌کی دمولینا سید همدانی څخه سته دمغتنم پر یری خطی نسخی نوری هم سته اوپه‌دی‌را وروسته کی په هرات کی‌ملامحمدعمرسلجوقی پرمغتنم باندی دالملهم په نامه شرحه لیکلی ده.

۱۴ - انموزج العلوم.

۱۵ - رسالة مغالطات.

۱۶ - په عربی ژبه په څلورو څپرکو کی دفقه، عقاید واو کلام په‌علم کی د(ابانه الملة فی التوقف‌عن تکفیر اهل القبلة) کتاب چه په‌د غه کتاب کی د مؤلف وسعت نظر او کامل تبحر څرگندیږی او دغه کتاب یی په فارسی ژبه‌هم لیکلی دی.

۱۷- په عربی ژبه په اوو فصلو نو کی د(قید الحیثیة ابحاث) چه په ۱۳۶۲ ق کی‌یی تاءلیف کړی دی

۱۸- په فارسی ژبه وحدت وجود اووحدت شهود چه دملامحمد اعظم اندړ په ځواب کی یی لیکلی دی ده د غه لیکنه دمسلکینو د شرعی حیثیت په خصوص کی کړی‌ده په تصوف او اشراق کی دده تبحر ځنی معلومیږی.

۱۹- په فارسی ژبه د فقی او ریاضی دلایلو په واسطه (مستحقة القبول ؤالقبلة فی تحقیق سمت القبلة) رساله دقبلی‌خواد ښودلو په خصوص کی

۲۰- په فارسی ژبه (رسالة موسیقی)

۲۱- په عربی ژبه (تنقیح التهافت الفلاسفة)

۲۲- په فارسی‌ژبه‌پر الغ بیگی زیج باندی نوی تحقیق‌او حاشیه

۲۳ په عربی ژبه دابن سینا پر اشارات باندی شرح نمط تاسع.

۲۴ په عربی ژبه دمنطقو پرځنو مباحثو باندی د(بسط البسایط) په نامه شرح.

۲۵ په عربی ژبه منتخب تحریر اقلیدس.

۲۶ په فارسی ژبه دتحریر اقلیدس ترجمه.

۲۷ داکروثاو دوسیوس ترجمه.

۲۸ مختصر کشف القناع.

۲۹ ریاض المهندسین.

۳۰ دمقامات حریری فارسی ترجمه او شرح.

۳۱ دسردار مهر دل خان (مشرقی) په خواهش دموجوده احادیثو په تخریج کی د (نقدالثقات فی تزییف الموضوعات) رساله.

۳۲ په پښتو ژبه په اخلاقو او عرفان کی د (منهاج العابدین) منظوم اشعار چه په قصیر بحر کی په اوو زرو بیتو کی ویل سوی دی (۱۲۳۶ ق) حبوا خند زاده دخپل ژوند په پای کی دتحقیق او تفکر عمیقی مرتبی ته رسیدلی وو ده دهغه وخت دا خوند انو تعصب تنګ نظری او کم حوصلګی ته اهمیت نه ورکاوه ددی سره چه حبوا خندزاده په اخلاقی فضایلو او دینی او امرونه پابند وو بیا یی هم په علمی څیړنو او فکری پلټنو فتوای ورکوله او په آزاد فکر صحیح رایی به ئی دپخوانیو مبادی جرح او انتقاد کړه په هغه وخت کی چه خلکو علمو ازی قدوری، کنزو یل ګڼلی حبوا خند زاده دمعقولو علومو په تدریس او آزاد علمی انتقاد بوخت وو دی په خپله یوه عربی قصیده کی چه دابوالفتح بستی دقصیدی په اقتفا یی ویلی ده خپل کشرانو یاران دعقلی علومو زده کړی ته داسی تشویقوی:ـ

ولا تذمن علما لیس عنه غنی  للناس فی عیشهم دافیه نقصان

طباً حساباً وتنجیما وهندسته  فللمعایش هذا الجنس بنیان

ترجمه په ژوندانه کی د کوم علم څخه چه چاره نسته په بد نظر مه ورته ګوره طب حساب نجوم هندسه زده کړه ځکه دژوند اساس پر دغو علومو ایښوول سوی دی حبوا خند زاده په نورو علومو او فلسفه کی هم کتابونه لیکلی دی چه په دغه لړکی ئی یو کتاب په عربی (انموزج العلوم) نومیږی دغه کتاب د (نمازج ثلاثه) محصل او متضمن دی چه یوه

برخه ئې محقق دواني بله ئې شیرازي میرزا حبیب الله او دریمه ئې ترکي خواجه افضل لیکلې ده.

حبوا خندزاده په نوموړي کتاب کې دپخوانیو عالمانو او پوهانو پر افکارو باندې مطالعې او څیړنې کړې دي.

همداشانې دامام غزالي صاحب پر تهافت های ثلاثه (۵۰۵ هـ) او اندلسي ابن رشد (۵۹۵ هـ) او درومي خواجه زاده پر حکمیت (۷۹۳)(دتنقیح التهافه) په نوم یو ملخص لیکلې دی په فلسفي مناظراتو کې ئې پر دوی دانصاف په رعایت او آزاد فکر درلودلو حکمیت کړې دی او په څو مواردکې ئې خپله رایه علیحده په دلائلو ذکر کړې ده او په علمي مسایلو کې ئې دانتقادي روش څخه کار اخستی دی.

حبوا خندزاده د(لسان المیزان في تقویم الاذهان) په مقدمه کې لیکلي:ـ ما دخدای په مرسته دعقلي علومو ذوق داعتبار په مذاق حاصل کړ او په غور سره مې ئې و پای ته وکتل دعلومو د ګټو د حاصلو د پاره مې زیات زیار وویست او دذخیرو په برابرولو کې مې هر ډول زحمتونه او خواري ومنلې دزحمت او خوارې په دغه مرحله کې چه په نتیجه کې ئې لوړ و موفقیت ته رسیدلی وم دهغه علومو دمقاصدو غایاتو ته ځیر شوم چه د پوهنې نور دهغه څخه وځلیږي او دهغه په رڼا حقیقت ته ورسیږم.

دفکر او څیړنې په پای کې مې دهغو په غوامضو کې دا ومونده چه ددغې لارې پای حیرت او سرګرداني ده او انسان دخپلې ناپوهۍ داعتراف مراحلې ته رسوي.

نو بیله ژورو کتنو او دعقل او فکر د په کار اچولو څخه بله چاره نشته.

حبوا خندزاده خپل شاګردان دتعصب په پرېښولو او محض تقلید نه کولو ته رابولي چه صحیح او اساسي فکر وکړای سي او فکر دظنونو او اوهامو څخه وژغوري.

لکه چه وائي:ـ

«والمامول من الناظرين بعين الانصاف المتجنبين عن الجور والاعتساف ان يرفضوا حين مطالعة هذه الاوراق طريق التعصب وينخلعوا عن ربقة التقليد، ويلتزموا سلوك جادة التحقيق والتسديد فما تحققوه بمذاق التحقيق حقاً حقيقاً بالقبول لا يتلقونه بمحض

التقلید بالردوالانکار وماجدوه فی مشرب الوجدان صحیحا مستأ هلا للتصدیق والاذعان لایحملنهم علی تکذیبه التعصب والاستکبار وما وجدوه فیما ممالا یساعده الوجدان التسلیم وینبو عنه الطبع القویم فلیا خذو بالمثل السایر من قول الاکبر خذ ما صفا ودع ما کدر.

دحبو اخند زاده شاگردان او معاصرین:-

دعلامه حبیب الله اخند زاده (حبو اخند زاده) د استادانو څخه د وه نفره یو د کندهار قاضی القضاة مولوی احمد بن اسماعیل یعقوبزی الکوزی دی چه (په ۱۲۳۳ ق د ربیع الثانی په ۲۶ مړ دی).

نوموړی د (رساله کاشفه، رساله فارقه، بیان الوافیه لطوایف الصوفیه) مؤلف دی علامه حبیب الله دده په خصوص کی لیکلی:- «فضایل انتساب اخند ملا احمد مرحوم بعضی از علوم عقلیه استاد فقیر بودند.»

دحبو اخند زاده روحانی مرشد او استاد په نقشبندی طریقه کی ملا فرح الدین اخندزاده دی چه په (۱۲۴۱ کی دذیقعدی په ۱۱ مړ دی او دکندهار په هرات بازار کی په خپله جامع کی ښخ دی) خپله ملا فرح الدین اخند دسید فقیر الله حصارکی مرید ؤ (دسند په ښکارپور کی مړ دی).

په کندهار کی ئی نور معاصرین پیر محمد بن اسماعیل د مشهور ملا احمد قاضی القضاة ورور دعقیدة المشایخ والعلماء مؤلف (چه په ۱۲۴۳ ق کی مړ دی) عبدالحکیم کاکړ د (رد حلیمیه علی مطاعن احمدیه (چه په ۱۲۳۴ کی مړ دی) قاضی غلام محمد هوتک د (ارشاد الحق مؤلف چه په (۱۲۶۴ کی مړ دی) ملا عبدالحق بن عبدالغفور خروټی دپښتو د (یاقوت السیر) ناظم او دشرح اربعین مؤلف چه په (۱۲۵۰) کی مړ دی ملاکټه اخند تره کی او خان ملا قاضی عبدالرحمن بن خان ملا قاضی محمد سعید بارکزی دنصیحته المؤمنین وفضیحته الشیاطین مؤلف او دخرقی شریفی ملا عبدالحق دی.

بل معاصر ئی په غزنی کی دگیرو مولوی محمد اعظم اند ړ دی چه څو رسالی ئی هغه ته دعلمی سوالونو په مقابل کی لیکلی دی

---

دخطی لسان المیزان مقدمه

دخطی دسابلو دمجموعی ۱۹۶ مخ

Marfat.com

اوهغه ئـی دمخدوم مـعظم پـه لقـبونـو ستـایـلی دی چـه داستادی مقام لری دغه ملا هغه مشهور پوهاند دی چه د امیر دوست محمد خان په وخت کی په حبس او اخراج محکوم سوی وو او دامیر شیرعلیخان تردوری پوری هم ژوندی وو.

د سید جمال الدین په اسناد واو مدارکو کی (۱۴۶) نمبر یوه عریضه سته چه پورتنی مطلب څخه ئی څرګندیږی.

همداشانی هغه سفر چه دهند مجاهدینو سیداحمد بریلوی او محمد اسمعیل دهلوی په ۱۲۴۱ ق کی کندهار ته کړیدی په دغه سفرکی یی دحبو اخندزاده سره لیدلی دی د منشی محمد جعفرتهانسری په قول (سوانح احمد په ۱۸۴ مخ) کله چه یی د مولوی محمد اسمعیل دهلوی سره علمی مذاکره وکړه دواړه یو د بل ارادتمندان سول دکابل په سفرکی د مجاهدینود کاروان سره یوځای ووچه خپله لیکی (روزی در کابل خدمت مولوی اسمعیل شهید رحمت‌الله تعالی فقیر در نماز عصر پیش کرد و در عقب فاتحه خواند (دخطی رسایلو مجموعه ۳۶۳ مخ)

دعلامه حبواخندزاده دمشهورو شاګردانو څخه یو مولوی عبدالله غزنوی دی چه په هند کی زیات شهرت لری دامرتسر دغزنویانو کورنی دده داولادی څخه ده او دهند دمسلمانانو یوه خاصه فرقه تراوسه ده ته منسوبه ده سید سلیمان ندوی او تهانسری دواړه وایی چه د هند خلک د مولوی عبدالله غزنوی دعلم اوعمل له کبله کندهاری استادیر پر ګران دی دغه غزنوی دتحقیق اوپوهنی مشعل امرتسر او پنجاب کی بل کړی وو دمحمد منصور نومی دیوی خطی لیکنی له رویه چه دپیښور دفضل همدانی په کتابخانه کی سته داسی څرګندیږی چه دغه غزنوی پوهاند په ۱۲۷۹ ق کی دپنجاب څخه غزنی ته راغلی دی او دهلتاغ په کلی کی اوسید امکان لری چه دمولوی محمد اعظم اندړ سره دی یی څه قرابت درلودلی وی خوځینی خلک وایی چه دواړه یوسړی دی مولوی محمد اعظم وروسته چه پنجاب ته تبعید سوهلته دعبدالله په نوم و پیژندل سو.

دحبواخندزاد بل شاګرد پیښوری مولوی غلام جیلانی دی چه په ۱۲۷۳ کی کابل ته راغی اودخپل استاد زیاتره تالیفونه یی په خپله ولیکله چه دده په لویه کتابخانه کی سته.

Marfat.com

د مړینې وروسته یې د غه کتابونه د پېښور په اسلامیه کالج کې دده په نامه قید دي ډېرې او نادرې خطي نسخې لري چه په دغه کتابخانه کې د حبو اخندزاده څخه قلمي رسالې هم دده په خط هلته موجودې دي .

حبو اخندزاده په ۱۲۶۳ ق کې د روژې په میاشت په کندهار کې وفات شوی دی . د کندهار په شمالي لویه هدیره کې د عیدگاه ته نژدې ښخ دی .

د حبو اخندزاده د پاته کسانو څخه یو زوی ئې مولوي عبدالرحیم دی چه د امیر شیرعلي خان د زوی سردار عبدالله جان استاد او لمسی ئې مولوي عبدالرؤف د امیر حبیب‌الله خان د حضور ملا د سراج الاخبار د لومړۍ گڼې ناشر ۱۳۳۳ق او د زیاتو نورو کتابونو مؤلف او کوسی ئې مولوي عبدالواسع شهید د پښتو مرکې رئیس د زیاتو قضائي قوانینو او دولتي نظامنامو او رسالو مؤلف او مولوي عبدالرب د کابل دابتدائیه ښوونځیو مدیر او د حضور ملاؤ چه ده هیواد په قضاء پوهنې او مطبوعاتو کې د قدر وړ آثار لري : -

د علامه یو پښتو حمد دادی .

کل ثنا چه ئې څوک وائی ... پر خالق د جهان ښائی

چه صانع دی هم حکیم دی ... هم جواد دی هم کریم دی

کل منقوش چه د کیوان دی ... چه پر لوح د امکان دی

په قلم ئې د قدرت ... نقش ئې کړی په حکمت

په عرصه د کائنات کې ... په صفحه د موجودات کې

چه هر څه مشهور موجود دی ... ټول قائم دده په جود دی

دا جهان وارد عدم ؤ ... د عدم غولی تورتم ؤ

تول اشیا پکښې مستور ؤ ... نه تمیز و نه ظهور ؤ

توره شپه وه د عدم ... نور د حق شو صبحدم

رنگ پر رنگ اشیا اعیان شوه ... څوک اعراض شو د څوک اعیان شوه

په هر شي کې تجلی ... شان په شان گڼه جدا

---

د منهاج العابدین څخه

گو ښی شان دی په هر آن — کل یوم هو فی شان
چه څه خیر یا کمال دی — یا څه حسن یا جمال دی
ټول همه حقه مستعار دی — په ممکن کی نمودار دی

## ملا ولیداد «کاکړ»

ملا ولیداد یو زاهد او عارف سړی ؤ او د طریقت په سلسله کی د ملا حلیم او بیا د ملا فرح الدین اخند مخلص او مرید ؤ چه د وی دواړه بیا د میا فقیر الله صاحب حصار کی لاس نیوی کړی وو ملا صاحب یو کتاب په لنډه مثنوی (زین الحلم) په نامه تر ٦ زرو بیتو پوری لیکلی دی دا کتاب د ملا عبد الکریم د (زین العلم) په اقتفا مفصلا د (عین العلم) پښتو منظومه ترجمه ده چه په چهار شنبی د صفر په ۲۷ (۱۲۲۴) کی ئی د نظمه فارغ سوی دی فقی او تصوفی بحثو نه لری د زین الحلم یو عرفانی ټوټه :-

فرض د علم زده کول دی — ضروری ئی هم لوستل دی
په هر چا چه مسلمان وی — که میړو نه که زنان وی
هر هغه څوک چه دانا وی — په سود زیان چه د عقبی وی
له هغو نا برابر دی — چه په دین کی ئی خبر دی
سخت عذاب چه په قیامت دی — پر عالم په دا جهت دی
چه ئی علم وی بی سوده
روی گردان وی له معبوده

## مولوی عبدالمجید «کاکړ»

ملا صاحب یو عالم او بزرگواره متقی وو او په طریقت کی د مشهور حبو اخند زاده پیرو وو ده په فقه حدیثو اخلاقو او سیرو کی زیات معلومات او مطالعات درلود دل د پخوا نیو مفسرینو زیاتره آثاریی په غور او علمی تحلیل کتلی دی :
او د خپل وخت په لومړنیو مفسرینو کی گڼل کیدی دده یو اثر پښتو سیرت نبوی چه تر پنځه لسو زرو بیتو پوری رسیږی او د نبوی صلعم د ژوند ټولی واقعی یی په سنه کال په کال راوړی دی زیات مشهور دی ده دغه کتاب په کندهار کی په کال (۱۲۸٦) لیکلی دی.
د دی څخه علاوه ملا صاحب د پیا وړو خوشنو یسانو او خطاطانو

شخه گڼل کیږی چه دکندهار په زیاترو هنر دو ستو او مذهبی کورو نو کی دده دنستعلیق خط نمونی مو ندلی کیږی ·
دده د سیرت شخه څو بیتو نه :-

| | |
|---|---|
| روایت دی چه سرور | غوښت روان سی دی پیشتر |
| کړه غاتره یی هیبت | و د ښمن ته په سرعت |
| نو رعباس ابو سفیان | نه پر ینښو چه شی روان |
| او ویل به پاك نبی | بی پروا په دا کړی |
| زه نبی لاکذب یم | ابن عبد المطلب یم |

مولوی صاحب په ۱۲۲۶ کی په کندهار کی د بلندی په کلی کی زیږیدلی او د اویا کالو په عمرهم هلته وفات سوی دی ·

## عبدالکریم « کاکړ »

دی هم متصوف او هم عالم و چه په ۱۱۵۱ کی په کندهار کی زیږیدلی دی دده پښتو یو نظم سوی کتاب زین العلم نومیږی چه دعین العلم ترجمه ده دده دیوی تصوفی او اخلاقی غزلی څو بیتو نه :-

| | |
|---|---|
| د ښه خوی ګټه ده ډیره | له ګټلو تر اند تیر ه |
| داسلام خو ازه اخلاق دی | چه په درست لویانو طاق دی |
| ښه اخلاق که نه وی یار ه | نو په دین وی ډیر بیکار ه |
| نه حاجت به د دین وینه | نه به څوك اسلام غواړینه |
| نه به وحی نه انزال وی | نه به فقه نه کمال وی |
| که علوم دی که حکمت | ټول به شی بی منفعت |
| دا خلاقو تکمیل دین کړی | هه ښه خوی پوره آئین کړی |
| په خو یو انسان انسان دی | که نه دی خو تش حیوان دی |
| مکارم انسانیت دی | رزائیل حیوانیت دی |
| زه خو غواړمه پښتو نه | چه بیان کړم ښه خویونه |
| په ښی ئی ته و نغوزه | په بد خوی می زړه مه توزه |

دی په (۱۲۳۵) د(۸۴) کالو په عمر په کندهار کی وفات سوی دی ·

Marfat.com

# دملاعبدالحق صاحب «علیزی» کورنۍ

ملاصاحب په استاد کل یاالوی ملا عبدالحق صاحب مشهور ؤ څنو به اخند صاحب هم ورته ویله نیکه ئې ملا گلاب دکندهار دمعروف دعلیزو څخه ؤچه دهلمند دولایت موسی کلاته تللی ؤ او دموسی کلا په سر بینه او بیا په زمینداورکی دعلومو په تدریس بوخت ؤ هلته ئې دڅه وخت تیرولو وروسته په سر بینه کی مځکه واخستله او پر اوسیدی که څه هم دکندهار دمعروف په برخه کی ئې ترا وسه مځکه او جایدادسته ملا صاحب په زمینداورکی وفات سوی او هلته ښخ دی ملا صاحب دعلمیت او پوهی څخه علاوه په طریقت او سلوك پوره پابندی درلوده او زیات مریدان ئې درلودل.

دملاکلاب وروسته زوی ئې ملا گلستان پر ځای کښیناست چه دموسی کلا په سر بینه کی په تدریس بوخت ؤ او هلته وفات سو.

دملاگلستان دمړینی وروسته زوی ئې مولوی عبدالحق صاحب چه په دغه وخت کی شل کلن ؤ او پر پلار ئې دنحو په علم کی کافیه لوستله پاته سوده چه دعلومو تحصیل ته زیات ضرورت درلود کندهار ته راغی او پر مولوی احمد صاحب الکوزی ئې دده په مسجد کی چه دخرقی شریفی شمالي خواته دی او اوس دبارگزو دمسجدپه نامه یادیږی درس شروع کړ مولوی احمدصاحب الکوزی هم دکندهار دډیرو علماؤ استاد کل ؤ دکندهار دغودوومشهورو عا لما نو لکه حبو اخندزاده او ملا کټه اخند دمولوی احمدصاحب دمدرسی څخه استفادی او استفاضی کړی دی.

مولوی احمد صاحب دعلم او تبحر څخه علاوه یومتعبداومتقی ملا ؤ په طریقت اوسلوك کی دپوهی دمیاصاحب (میانورمحمدداوی) خلیفه ؤ روحانیت او معنویت ئې خو راقوی ؤ دکندهار زیا تو خلکو عقیده او اخلاص ورته درلود.

مولوی عبدالحق صاحب علیزی ددغه مولوی احمد صا حب الکوزی دعلمی او معنوی فیوضاتو څخه پوره برخه اخستی وه او په لږ وخت کی ئې په موهوبی علوموکی زیات شهرت پیدا کړ څرنگه چه دمولوی عبدالحق صاحب ځای خرقی شریفی ته نژدی ؤ اوملا محمدصدیق اخندزاده الکوزی دعبدالحمید اخندزاده متولی پلار دمولوی عبدالحق صا حب علیزی د درس په حلقه کی ؤ نو څکه

Marfat.com

ملا محمد صدیق اخند زاده الکوزی دتبرك اواخلاص په غرض دخرقی شریفی دتولی وظیفه او دخرقی مبارکی دمسجد دجمعی خطبه اوامامت ئی ومولوی عبدالحق صاحب ته وسپارل چه په دی ډول دیړی خوا څخه دمولوی عبدالحق صاحب علیزی دملا محمد صدیق اخند زاده علمی تر بیه په غاړه وه او له بل پلوه ئی شاګردانو اواخلاص مندانو ته تدریس او روحانی ملکات ور ښودل.

دمولوی عبدالحق صاحب مشهور تألیفات دادی:-

۱ - پر قاضی سلم باندی ئی حاشیه لیکلی ده.

۲ - په نحو کی ئی دمولینا جامی پر شرح عبدالغفور باندی شرحه لیکلی ده.

۳ - پر بخاری باندی ئی دکشاف البخاری په نامه په خپل قلم شرحه لیکلی ده.

۴ - پرعلم الا وقاف باندی ئی هم پوره رسا له لیکلی ده

۵ - دقرآن عظیم د۱۴ سپارو تفسیر. مولوی عبدالحق صاحب علیزی کله چه د تدریس او تألیف څخه خلاص سو دخلکو شخصی دعوای ګانی ئی هم فیصله کولی او خلك دارادت له مخی دده دفیصلی څخه په هیڅ توګه نه اوښتل.

دمولوی عبدالحق علیزی دقضا په مهر کی داسی لیکلی سوی وه:-

زند برفرق دشمن تیغ بران　　عبد الحق غلام شاه مردان

دغه مهر او تالیفونه ئی دکورنی دپاته کسانو په لاس کی سته دمولوی عبدالحق صاحب علیزی دمشهور وشاګردانو څخه یو ملا عبدالحق الکوزی چه په ملا اکا مشهور وو دی چه دوه لس کاله دده دشاګردی په حلقه کی ؤ بل مشهور شاګردئی دهلی د ملا صاحب (اندړ ملانجم الدین اخند) ؤ. دمولوی عبد الحق اخند علیزی څخه دوه زامن پاته سوله چه یو ئی ملامحمد غوث اخند زاده نو میدی چه خپل تحصیلات ئی دپلار څخه تکمیل کړل او دعلومو په تدریس بوخت ؤ او څه وخت وروسته وفات سو او په کندهار کی ښخ دی

بل زوی ئی حاجی ملا عبدالله نو میدی چه په (عبدو) سره ئی شهرت درلود دی یو متقی او متعبد سړی ؤ او زیاتو خلکو په روحانیت او ښه سړیتوب پیژاند دی دخدای کعبی ته په پښو تللی او راغلی ؤ همدا شانی ئی بغداد ته هم په پښو سفر کړی ؤ او د حضرت غوث الاعظم قدس الله سره العزیز په زیارت کی ئی څلو ښت

Marfat.com

ورځي چله کښلي وه.

حاجي عبدالله په قادریه او نقش بندیه طریقو کې ماذون او خلیفه ؤ دقادریه خلافت ئې د بغداد دجای نشین پیر عبدالرحمن صاحب نقیب او دنقشبندیه خلافت ئې دشاه ابوالخیر دهلوي ځخه درلود چه دواړه سندونه ئې په کورني کې سته.

دحاجي عبدالله ځخه دري زامن پاته دي چه یو ئې محمد عبدالکریم حقاني «چه دافغانستان ځخه پرته دمنځني ختیز لوی عالم دبیلو تألیفاتو او تصانیفو خاوند» بل ئې عبدالرؤف بېنوا چه دپښتو ژبې نومیالی ادیب اوشاعر او بل ئې مرحوم قاضي عبدالوهاب ؤ.

## ملاعبداللطیف اخند زاده «اسحق زی»

دخپل وخت مشهور عالم ؤ دملا جامي پرشرحه ئې یوه مستقله حاشیه د(ملا غریب) په نامه لیکلې ده دی په کندهار کې زوکړی او مړ سوی دی دصوفي صاحب زیارت ته نژدې ښخ دی.

## میا نورمحمد صاحب «نورزی»

میانور محمد نورزی داحمدشاه غازي دسلطنت په وخت کې ژوند کاوه په کندهار کې په تقوای او زهد زیات مشهور وؤ او دلوی میا صاحب میاعبدالحکیم دخلیفه گانو ځخه گڼل کېدی ده دمیا عبدالحکیم صاحب خدمت دوولس کاله په صداقت او اخلاص وکړ په فیوضاتو او دطریقت په ټولو مزایاؤ ئې ځان پوه کړ میا نورمحمد صاحب په طریقت کې ځني آثار لري چه مشهور ئې (مقامات عالیه) دی او په دغه کتاب باندې ملااحمدالکوزي دتعلیم السلوك په نوم یوه شرحه هم لیکلې ده دلوی میا صاحب او میا نور محمد نورزي پېژندگلوي د محلي روایاتو له مخې په تصادفي ډول سره سوې وه او دکندهار دکدني په برخه کې دسهار داو داسې په وخت کې ئې پېژندگلوي سره پیدا کړې ده او هم هلته ئې د لوی میا صاحب لوني او پیرۍ ته سر کښته کړې دی او دمعنوي فیوضاتو ځخه ئې برخورداره سوی دی دواړه ځه وروسته کندهار ته راغلل یو په اوسني زاړه ښار کې او بل په ده باغ کې ډیر سوله او دخدای په ذکر او ستاینه لگیا سول میا نور محمد نورزی په ۱۱۷۲ کې وفات

سوی دی او د کوچنی کاریزك د کلی دخنگه په مناره کی چه د ډند
په ولسوالی مربوط دی ښخ دی او دده یوه خلیفه د پوټی میاصاحب
یوه مناره دخلو ینبتو مترو جگوالی په اندازه دده پر قبر جوړه
کړی ده دده کرامتونه او خارقه عادتونه په کندهار کی تر اوسه دخلکو
په خولو کی ستهوالی چه احمدشاه بابا ده ته د بادو اوده ورکړی وه
میانورمحمدصاحب زوی نه درلود.

دفتح محمدی رسالی په (۳۸) مخ کی د(دراحوالات میانورمحمد
صاحب رح نورزی) داسی راغلی دی:- «منازل سلوك
طریقهٔ عالیه مجدد یه با نوریه تا انتهاء طی کرده بود و خلافت
مطلقه از میان عبدالحکیم صاحب یافته بود وعشق او بغایت کمال
بود وقتیکه حضرت میان عبدالحکیم صاحب به امر شاه حسین هوتك
از قندهار اخراج میگردید در وقت وداع حضرت لوی میا صاحب
رخ به جانب میان نور محمد صاحب نورزی گشتاند و گفت که
تماشه وسیر باغهای قندهار را شما بکنید وما میرویم بمجرد شنیدن
این کلام بصد گریه وناله وآه وافسوس گفت هر دوچشمم بیا ئیداز
کاسهٔ سر برزمین تا غیر از محبوب کسی را وچیزی را به شما نه بینم
فی الحال چشم آن عاشق عارف برزمین افتادند حضرت لوی میا
صاحب چون صدق معامله وفرط محبت از خلیفهٔ خود دید فرمود
که چشم باطنت کشاده باد وکشاده شد بفرمان وقدرت حق تعالی.
میگویند یکروز طالبان علم در مسجد او را امتحان کردند و
گفتند میا صاحب هرگاه چشم شما کور است وافتاده است پس نماز
در پس اعمی مکروه است پس تو چرا نماز جماعت مردمان را
میدهی؟ گفت بیشك چشم سرم افتاده اند وچشم سرم به لطف حق تعالی
کشاده اند به طفیل آن پیر عرفان پس طالب العلم یك مور چه
سرخ در درون کفش او انداخت وکفش او را نهاد که به پای
میکرد حافظ به نور باطن ملاحظه کرد و آن مورچه از
میان کفش او کشید وگفت دیگر چیزی نیست و بپای کرد
میا صاحب تمام عمر مصروف احیای سنت وقطع بدعت بود.

---

د حاجی عبدالغفور خرقی یاد داشتونه

دفتح محمدی رساله ۳۸ مخ

## ملا محمد حافظ «بارکزی»

دی په شریعت او طریقت ښه پوهیدی په ټولو وختونو مخصوص دجمعې په ورځې ئې د کندهار په جامع ځانوکې خلکوته وعظ او نصیحت کاوه امر معروف او نهی عن المنکر یې ور ښودل د تقوای او عبادت ښیګڼې یې ور ښودلې په رشتیا ویلو او د امیرانو اولویانو څخه د نه ویریدلو او حق طرفداری کولو کې زیات مشهور ؤ او هم ئې یو کتاب په وعظ او تصوف کې د (تحفهٔ واعظ) په نامه لیکلی دی.

ملامحمد حافظ د محمد اکبر بارکزی زوی ؤ چه د کندهار په خشکاوه کې د بارکزو په مینه کې اوسیدی په طریقت کې دی د میا نور محمد نورزی مرید ؤ د ده ئې په وعظ یو شعر دی:-

کم بخته مکره پر دنیا ونګونه　　که دی زړه غواړی د جنت ګلونه

کم بخته مه وز یو میلمانه پر دنیا　　وطن مو بل دی اخرځو په رشتیا

هم به بدسی رامعلوم په عقبی　　خوله سره اورکی په امان ځانونه

کم بخته مکوه حرام بد دی　　چه کړی حرام هغه باطن کی دد دی

اعمال ئې ټوله په عقبی کی رد دی　　په اویه ورځ به ئې وی تور مخونه

کم بخته مکوه حرص قرارسه　　ثنا درب کوه صبور په کارسه

توښه د دین وړه په دی کاروبارسه　　چه بی تو ښی نه سی پیدا سودونه

کم بخته مه څه د حرام پر لوری　　خدای به وتاته په غضب وګوری

که دی زړه غواړی ښایسته ښی حوری　　بیځا یه مه زده بی پروا پلونه

## د پوهی میا صاحب میا نور محمد «داوی»

دی د مشهور میا نور محمد نورزی مرید او خلیفه وو په کام «داوی» اوده ترنګک او سیدونکی وو دی ډیر متقی او پرهیز ګاره سړی وو شپه او ورځ د خدای په عبادت او ریاضت لګیا ؤ ده د بزرګی او تقوا کیسی تراوسه خلک کوی په تیره بیا د جوګی سره یې

مقابله او دهغه دماتولو قصی یی دخلکو په خولو کی دی .
میانور محمد داوی هم داحمدشاه بابا دزمانی دمشهورو

عالمانو او پیرانو څخه دوزیارت یی د کندهار خنیزی خواته د اخوند په کلی کی، دیچه دغه کلی هم تراوسه دده په نوم یادیږی او خلك یی زیارت کوی.
میاصاحب دمیان فقیرالله حصار کی ئمشکار پوری سره لیدلی

وه هغه وخت چه میان فقیرالله صاحب داحمدشاه بابا په غوښتنه دشکارپور څخه کندهار ته په ډولی کی راتلی دکندهار په سیمه کی یی حضرت میانور محمد داوی هم تر ډولی لاندی سوی ؤ میان فقیر الله دستی په پوهیدلی ووا ود ډولی څخه راښکته سورو غیږ او مینه یی ورسره وکړه او ورته وی ویله چه ته دخدای دوست یی زه نه غواړم چه زماتر ډولی لاندی ولاړسی باید زماسره یو ځای کښینی خود پوهی میاصاحب ورسره نه منله په آ خر کی یی یو دبله رخصت سره واخست .
دفتح محمدی رسالی په ۳۹ مخ کی د(دراحوالات سخی میان

نور محمد صاحب رح)دعنوان لاندی داسی راغلی دی «وی مشهور به میایی پوځی است که از اعظم ترین خلفای حضرت حافظ نور محمد صاحب است در اصل قوم اورا داوی میگویند غایت متورع متقی ومتشرع مقبل علی المولی مدبر علی الدنیا وراضی ومرتاض وصابر بود. روزی نشسته بود بایاران همدم خود ناگاه گفت که دوشخص برای استفاضه روانه این طرف شدند یکی رانام ملا عبد الاحد است ویکی رانام میان ادریس است هرچه نسبت زهد بود درمن آنراهمه ملاعبدالاحد برد وهر چه نسبت عشق بود در من همه میان ادریس برد همان بود که یك ساعت بعد یازیاده از آن که آن دو شخص وارد گشتند ومرید شدند وهمانطوریکه تشریح فرموده بودند به آن طورمستفیض شدند وهر یك حصهٔ خود که زهد وعشق بود برد یعنی هردو خلیفه مطلق شدند

# حضرت میان ادریس صاحب

دی دمیا نور محمدصاحب«داوی»دخلیفه گانو څخه دی چه ډیر پرهیزگار او خدای دوسته سړی وو دشریعت په احکامو زیات پابند وو کرامتونه او خرق‌عادتونه یی دخلکو په خولو کی تراوسه موجود دی دده دخلیفه گانو څخه میان فتح‌الله صاحب او میان تاج محمد صاحب زیات مشهوردی ددوی قبرونه هم د کندهار دجلدك په سیمه کی اخند صاحب ته (پوټی میا) نـژدی دی لکه احرار چه وایی :-

به آن نور محمد جو د آئین
سخی مشهور بود آن خواجه رنگین
به کامل در طریقت خواجه ادریس
که کر دی گرم اندر عشق تدریس
به فتح الله محمد تاج یاری
ثناء گو بلبلان قندهاری
بمارحمی طفیل اولیاء کن
شفاعت با لقاء مار اعطاء کن

## ملا صالح محمد «داوی»

دی‌دمیانور محمدصاحب‌داوی‌مریدؤاودکندهار ختیزی خواته داخندپه کلی کی اوسیدی داحمد شاه بابا او تیمور شاه په‌عصر کی ژوندی‌ؤ او ډیر خدای‌دوست او پرهیزگار سړی وو.

دده یومناجات‌دغه دی:-

کشکی زه نن ددلبر تر روضه جار شوای
دغه پسه یی بیا خاوری ددربار شوای
په بانو می کړ ای جار و د حرم غولی
په ژړامی اوپاشی درو دیوار شوای

Marfat.com

طو افو نه می مد ام پرېنجر و کړای
دبلبل په شان لهشوقه په چغار شوای
په شهپرد عشق طائر دلا مکان شوای
پهلیندیدخپل محبوب دمینی ښکار شوای
چه روزی‌می‌شوای زیارت دحرمینو
مشرف د همه وا ړو په مزار شوای
زهصالح په ز ړه کی‌نلرم ار مان بل
که روزی‌می‌ددلبر دمخ دیدار شوای

## جان صاحب

جان صاحب دکندهار دعلماؤ اوعرفاؤ څخه ګڼل کیږی دفقی حدیثو، تفاسیرو اواخلاقو دتحصیل وروسته دتصوف اوعرفان مینه ورولاړه سوه او دکامل پیرپه موند لو لګیا سو چه د میا ن محمد ادریس صاحب حضورته ورسید او د هغه څخه یی د طریقت او اخلاص فیضونه حاصل کړل ده دمیافتح محمد اومیا تاج محمد خوند یا نو سره صحبتونه کړی دی جان صاحب پـه شپو او ورځو فاقه کشی کوله دزهد او ریاضت له کبله دومره ړنګر سوی ووچه دمړینی او غسل ورکولو په وخت کی یی نس دملا دهډو کو سره موښتی ووده اصلی نوم ملار حمدلؤ او په جان صاحب سره مشهور وو جان صاحب په کام ناخیل تره کی وو دصاحب حالی او ښه سړیتوب قصی یی تراوسه په کندهار کی کیږی دی په ۱۲۴۵ ه په کندهار کی مړدی دعیدګاه دروازی دباندی دعیدګاه شمالی خواته متصل یی زیارت دی چه مسجد اومجاور ان هـم لـری او زیاتره صاحبحال خلک هلتهسهار اومابنام لمونځونه رسوی.

---

دفتح محمدی رسالی څخه

# میا عبدالحمید صاحب دذاکر

دی ډیر متقي پرهیز ګار او دمولی نازولی پیر وو د کـو چنی والی څخه په ده کی دلویی او کرامت نخښی ځلیدلی او ددغو نخښو له کبله خپله میا عبدالحکیم صاحب ذاکر ته تشریف یو وړ او ددغه معصوم هلك فکر او ذوق یې د کو چنیوالی څخه دلـوی خـدای عبادت تقوا او بزرګواری ته متوجه کړ د خپل فیض او معنوی اسرارو لاندی یې ونیوی د ده سره د ننګرهار د حصار ک یـا دښکار پور میا فقیر الله صاحب مراوده او مراسله جا ری وه او دښځو په مریدو لو باندی یې تفصیل څخنی غوښتی وو؟ چه ورو سته میا عبدالحمید صاحب په خپل کرامت او د پیری په طاقت دغه رویه په میا فقیرالله صاحب ومنله دغهنی روایاتو له مخی ذاکر تـه ځکه ذاکر وایی چه هلته دمیا صاحب په کرامت دریګو څخه دخدای دذکر آواز پورته کیدی ذاکر کندهار ته نږدی جنو بی خواته په (۴) میلی کی پروت دی.

میا عبدالحمید صاحب هم دلوی میا صاحب معتقد او په طریقت

کی یی پیرو ؤ وایی چه په تصوف کی دی ځنی غیر مطبوعی رسالی لری چه د لمسیانو په لاس کی یی د ی میا صا حب هم داحمدشاه بابا دعصر دپیرانو او مشا یخو څخه دی دی په ذاکر شر یف کـی وفات سوی دی او مزار یې دډول ډول ناروغیو او اثرونو شفاء ده مخصوص میر ګیانیان او اثری خلك بی ډیر زیارت ته ځی دذاکر میا ګل بابا چه یو پرهیز ګار او بزر ګو ا ر طا لب و و هـم د ده دمریدانو څخه ؤ ورو سته ئی میا نور محمد صاحب پر ځای کښینستلی دی.

## ملا عبدالنبی «بیتهنی»

دی دکند هـار دذاکر شریف دمیان عبدا لحمید صا حب زاده دمریدانو څخه یو عارف او سالك سړی وو او تل به دخدای په یاد مصروفه وو دمحلی روایاتـو لـه مخی ده دخلکو سره لږ کتل او خوښه یی وه چه خدای ته په توبه او استغفار پروت وی او اخلاص مندانو هم تل دی دسجدی په حال کی لیدلی پښتانه شعراء (دوهم ټوك ۴۲۳ مخ) په قول ده د(۱۳) هجری پیړی په لومړ یو بر خو کی ژوند کاوه او دذاکر دغره په خواکی ښخ د ی ملا صاحب دتصوف

او عرفان یو معروف دیوان هم لری دده یوه تصوفی غزله داده:-

چه‌د کن فیکون حکم د معبو د سو
له عدمه کل ممکن وا ړه موجود سو

بر ابر یسی پر قضاءقسمت وا قع سو
دځنو په بر خه زیان د ځنو سو د سو

انقیا د یی په نصیب دملا یک کړ
دشیطان په برخه کبر له سجود سو

منعمان دښه ایوان په سوری‌خوب کا
دملنګ پر سر مایه دد وهی دود سو

دآدم له پښته واړ و ظهو ر وکړ
دیوه لقب مسلم د بل جهو د سو

دجمال لـه اقتضاء حـکم پیدا سو
دجلال له‌اقتضاء ګـوره مرد ود سو

په وحدت کی‌مبرا له کیفه چون دی
په کثرت کی‌یی دفیض ډیرو رودسو

لون لون کالی رنګ سوه‌له‌دی خمه
ځنی سره‌شوه‌ځنی‌ژړ ځنی کبود سو

په احدکی یی تل نازوی بی نیا زی
په عددکی تل‌قاصددخپل مقصودسو

اناالحق یی مبدل په هو ا لحق سو
پرنبی دا د معنیو ر چه کشو د سو

---

پښتانه شعرا دوهم ټوک ۲۳ ٤ مخ

# ملامحمد ایاز «نیازی»

دی یو زاهد او پرهیز گاره ملاوو په غرو اودبنتو کی بهٔدخدای په یاد ورك ؤ دکندهار خلکو دده په پیری او و لیتو ب عقید ه در لوده ·

ملا صاحب بهٔویلهٔچه دجمال او کمال دمظاهر و تاب نهٔ لرمه څکه نو تښتم ملاصاحب پهٔ تصوف او خدای پیژ ند نه کی دا سی سوز لده شعرونه لری چه او رید ونکی ژړوی ·

ملامحمد حلیم چهٔ دملاصاحب شاگرد او مرید ؤ وایی چهٔ ملاصاحب پهٔ یر عمر کورته نهٔ راغی اوزهٔ چهٔ دده دلید لو او احوال څرگند ید لو سخته لیو ا له وم د ده پهٔ پلټلو پهٔ غرو کی گرزیدم که گورم پهٔ یو ځای کی می زیات نبرمښان ولیدله چه یو پهٔ بل منگو لی اچوی ما ځان پټ کړی کله چه شرمښان دهغهٔ ځای څخهٔ رهی سول زه ورغلم که گورم ملاصاحب پهٔ درانهٔ خوب ویدهٔ دی او هغو وحشی حیوانا نو هیڅ ضرر نهٔ وو ور رسولی او نهٔ ددوی پهٔ غا لمغال راویښ سوی وو زه ورغلم او له خوبه می را و پاڅاوه او ددغه حال عرض می ورته وکړ ده وویل هغه زړهٔ چه دخدای پهٔ محبت ودان وی دحیوانا نو پهٔ غاښونو نه ورا نیږی دحقیقی انسانیت مرتبه هسی هسکه ده چه دحیوانیت لاس هم هلته نهٔ رسیږی او لکه نفس اماره د نفس مطمئنه څخه تښتی او فانی کیږی هغسی هم دحیوانیت پهٔ در یاب کی لاهو مخلوقات دانسانیت سره جگړه نهٔ سی کولای او له پرتمه نی تښتی · ملاصاحب دکندهار پهٔ ښارکی او سیدی او پهٔ طریقت کی دمیا عبدا لحکیم صاحب کاکړ مر ید وو ·

دده څومنا جا تونه در باعی پهٔ شکل دادی :-

زړه هغهٔ دی چه لری دعر فا ن بر خه
د غه ښه ده پسر د نیا د ا نسا ن بـر خـه
هغه ز ړ ه چه نه یی مهرنه عر فا ن وی
ور ی پهٔ ژوندکی دنا څیزه حیوان برخه
محبت دآب و خا ك د ی بی بنیا د
را ته څه کړ ی د د نیا خو نهٔ آ بـا د

Marfat.com

که دی زړه سپین وی دخدای له محبته
په صحرا به یی بی کوره اوره بناد

## خوجك بابا

دمحلی روایاتو له مخی دی دشاه محمود سدوزی‌همعصره‌ؤ او دکابل دشاؤخوا څخه کندهار ته راغلی‌دی یوصاحب‌حال او بزرگوار سړی وو اوتل به دخدای په عبادت‌اخته‌وو کوچنیان به یی ډیر دروږیان کیدل وایی چه د(ده خواجه) د کلمی د تسمیی وجه هم له‌دی کبله دی چه دده زیارت دده خوجی ختیزی خوا عمومی سړك ته‌ور څرمه دی دتو تانو بنه تکیه‌لری ښځی یه په چهار شنبی زیارت ته‌ور ځی .

## میافتح محمد صاحب

دی او دده کورنی په کندهار غزنی او مقر کی په زهد او تقوای زیات شهرت لری او خپله میا فتح صاحب دمیار حمدل صاحب تره کی خلیفه‌ؤ چه دطریقت‌سلسله‌یی میاعبدالحکیم کاکړ ته رسیږی میا صاحب په ملاخوندی هم مشهور و او ځان یی د موسی خیل په کام گڼلاوی چه داندړ یوه پښه گڼله کیږی میا صاحب خپل تحصیلات په غزنی مقراو کندهار کی پای ته رسولی دی په فقه او حدیث بنه پوهیدی په تصوف او اخلاقو کی یی لوی لاس درلودی یوه قلمی شرح وقایه ښی په یوه اوبښ راتیو لی وه دمیا صاحب دزهد تقوای او صاحب حالی په خصوص کی زیاتی قصی کیږی میا صاحب د عمر په (۱۲۰) په (۱۳۰۰) ه کی مړ دی او زیارت یی په مقر کی دبرجگی په کلی کی دعمومی‌سړك‌ختیزی برخی ته نژدی دی دمیا صاحب څخه شپږزامن دمحمدامیر صاحب زاده،شاه ولی الله صاحب زاده،خواجه شیر علی صاحب زاده (پیر قلندر شاه صاحب) مولینا مهرعلی صاحب زاده،مولینا محمد علی صاحب‌زاده، خواجه محمد عثمان صاحب زاده ،په‌نوموړو پاته سوی دی‌چه دوی په کندهارکی په صاحب حالی او تقوای زیات شهرت لری. (۱)

---

(۱) فتح محمدی (۵۰) مخ .

Marfat.com

# لویه ادی

داهغه غیوره او نجیبه پښتنه‌وه چه دخپل وخت دولسی چاروده ښځو او پښتني عالي اخلاقو خوندي کولو په لار کي يي د توجه وړ مداخلي کړي‌دي مخصوصاً خپل زوی وزیر فتح خان دبریالی کیدلو او هسك شخصیت جوړولو کي ددی تربیه دیادوني وړ ده او زوی ته یي تل د میړاني لويي پښتني او اسلامي سجایاو او شعایرو ساتلو دپاره دیوی پوهي او ننګیالی میرمني په څیر درس ورکړی دی‌او دهغه شخصیت یي دپښتني شخصیت علاوه‌افغاني شخصیت او هیرو جوړ کړی دی.

لکه څنګه چه دنیکه او بابا نوم په پښتني‌ټولنه کي‌دروند‌دی او په مفته نه حاصلیږی همداشاني دادی په تیره بیادلويي ادی نوم محض نه ګټل کیږی ترڅو چه واقعاً داد ټول کام او ټبر دادی حیثیت پیدا نه کړی‌اود خپلو پردو تو پیر پرونه سي او ټولو ته‌دیوی ګراني او مهرباني ادی په څیر منزلت پیدانه کړی‌او په‌غم‌او ښادی کي دکام شریکه نه‌وی داډیره سخي مهمان نوازه او درنه پښتنه وه ددی په‌نامه څیری خیریه مؤسسي او نیك شګومونه موجودوه چه په دغه لړ کي په زمیندا ور، نوزاد او داسي نورو ځایونو کي تراوسه دادی په نامه کلاوی،ویالی،اومسجدونه سته.

دلويي ادی‌داختر کړیچي دنیك شګوم‌په څیر تراوسه دمحمد زوپه کورنیو کي رواج‌دی‌په‌دغه‌ورځ‌دکور ټول‌زاړه‌او‌واړه‌ددستر خوان‌پر شاو خوا حاضر یږی خپل ورځني مشکلات یو د بل د مفاهمي دلاری په اتفاق او ور ور ګلوی رفع کوی وايي چه د همدغه کچړی فلسفي د وزیر فتح خان غچ د شهزاده کامران‌اوسدوزو د نوروکور نیودغړو څخه‌واخیستل‌سو‌اوددی په اراده‌اوپوهي ددی زامنو ته دولس قومي او اداری چاری و سپارلی سوی.

لویه ادی دبارکزی کلان خان لور‌اود‌منصور خان چه دفتح‌خان په وختو کي دکندهار دیوی سیمي حاکم ؤلمسی‌ده اوس هم‌هغه ځای ته نژدی یوه غونډی د (منصور غونډی) په نامه سته چه‌زیاتره او سید ونکي یي بارکزی دی.

---

پښتني میرمني

# قطب الدین «بختیار»

بختیار د پښتنو یوه ستانه قبیله ده چه تر اوسه د سلیمان د غره په شاوخوا کی او سیږی د کندهار په دننه ښار او د باندی کی د دغی قبیلی کورنۍ او کلی هم سته لکه د بختیارانو کوڅه او یاد بالا آرز د بختیارانو کلی پښتنو مؤرخینو قطب الدین بختیار په پښتنو مشایخو او بزرگانو کی شمیرلی دی لکه چه نعمت الله په مخزن کی دده په مناسبت داسی لیکلی :- «حضرت خواجه قطب الدین بختیار کاکی قدس الله سره نام پدر ایشان احمد بن موسی است ساکن اوش بود از توابع بغداد و تولد آن برگزیده در سنهٔ پانصد و هفتاد و پنج اتفاق افتاد چون سال عمر ایشان به بیست و پنج رسید حضرت معین الدین سجزی به آن مکان تشریف آورد و خواجه قطب الدین بختیار دست انابت بذیل هدایت ایشان در آورده شد.

بعد بوقت شیخ جلال الدین متوجه هندوستان شدند در بلدهٔ ملتان به غوث العالم شیخ بهاؤ الدین ذکریا ملاقات نمودند»
په دی ډول نعمت الله قطب الدین بختیار د خپل کتاب په ډیرو ځایو کی (اقطب افغان) بولی او دده د نور و همقومانو مشایخو نوم نه هم راوړی نور و مؤرخینو ته چه دده اصلیت نه دی معلوم نو د پښتنو الی په اصلیت ئی نه دی پیژندلی فقط وایی چه دی د سند په «اوچ» یا د ما وراء النهر په (اوش کی) زیږیدلی دی. سلیمان ما کو د دغی کورنی د مهاجرت په خصوص کی داسی لیکلی :-
« نقل کاوه شی چه بختیار ستر ستانه وو له ده څرگندشوی

دی هغه کرامات چه موږ وکښل او وویل موسی چه ستر پلار وو قطب ته تللی وو له بختیارانو څخه او میشت ؤ پرایوواد چه سند باله سی» په سند کی هم په دغه وخت کی یو ښار د(اوچ یا اوچه) په نامه وو دا نو و مؤرخین یی د سلطان معز الدین غوری په فتوحاتو کی د ملتان سره یو ځای راوړی په دغه ښار کی دده د پلار او نیکه گانو عرفانی معاصرین هم او سیدل.
غلام سرور لاهوری په خپل مشهور اثر خزینة الاصفیا په لومړی

ټوک ۲۵۳ مخ کی وایی :- شیخ د توچه پیر کبار ئی لقب ؤ د نوره بن خویشکی زوی ؤ چه هغه پښتون وو او حضرت خواجه قطب الدین بختیار کاکی د دغی کورنۍ څخه وو چه په لومړی سر کی د پښتنو

لوی ټبرسور یاڼي شیراڼي ته منسوب دی. همداشا نی افضل خان خټك په خپل مشهور اثرقلمي (تاریخ مرصع) کی لیکی :-
اتو (عطاؤ اله) ؤ وچه په خپل ټبر شیراڼیو کی داتو په نامه یادیدی او د نسب سلسله ئی داسی بیا نوی :-
شیخ اتو ، سور یاڼي خویشکی غورغښتي او حضرت قطب الدین بختیار (دتو) اتوخیل پښتون بولی .
دوطن دمشهور مؤرخ پوهاند حبیبي دتحقیق په اساس قطب الدین بختیار پښتون وو او په پښتو کی یی خوند ور شعرونه ویلی دی او دپارسی شعرونه یی ځکه چه دپښتو ژبی ویو نکی وو کمزور دی سلیمان ماکو چه دده معاصر دی دده په خصوص کی وایی :-
«بختیار په پښتو سندری کړینه اوښی تو یوینه خدای ته ناری کړی غلبلی کړی .

ویر می زړه سوری سوری کړ    راته وگوره ملو کی
په بیلتو ن کی دی و با سم    له خوز منه زړگی کو کی
راته وگو ره ملو کی    راته وگو ره ملو کی

قطب الدین دمخزن افغانی ، آئین اکبری او مجرالو اصلین په قول دلی ډیری خوړپه (۱۴) دهجری «کال په ۶۳۳ ه کی» او فرشته ۶۳۴ ه» دعمر په ۴۸ کال مړ دی او په دهلی کښی ښخ دی .

## ملا الله یار «الکوزی»

ملا صاحب اصلا دکندهار وو او دخپل پیر او مرشد شیخ محمد صالح الکوزی په نامه یی یو کتاب د(تحفهٔ صالح) په نامه لیکلی دی په دغه کتاب کی ده دخپل شیخ او نورو پښتنو مشاهیرو حال او احوال لیکلی دی محمد هوتك دده دکتاب څخه دشیخ محمد صالح سوانح لیکلی د ه دده دژوندانه حال د (۱۰۰۰) ه په حدود کی تخمینیږی .(۱)

## شیخ قاسم

دا عارف او عالم هم دشیخ متی له علمی کو رنی څخه دی چه پلرونه ئی شیخ کته ته داسی رسی قاسم دشیخ قدم زوی دمحمد زاهد لمسی دمبرداد کړوسی دشیخ سلطان کوسی او لکه دمخه چه ذکر سوه سلطان دشیخ کته زوی ؤ .

(۱) دپښتو ادبیاتو تاریخ دوهم ټوك ۲۴۹ مخ

Marfat.com

دشيخ قاسم مور نيکبخته نوميده چه دشيخ الله داد مموزی لوروه داد پښتو شاعر ه او ډيره لويه عارفه ښځه وه چه محمد هوتك ددی اشعار را نقلوی او ليکی چه په ۹۵۱ هـ دشيخ قدم په نکاح سوه او په ۹۵٦ هـ کی ئی شيخ قاسم وزيږاوه او په (۹٦۹هـ) کی ئی (ارشاد الفقراء) نومی کتاب وليکی ددی کتاب نسخه د محمد په روايت دده پلار داؤد خان هوتك ليدلی وه علاوه پردغه محمد هوتك د(اولياى افغان) له کتابه چه شيخ امام الدين متی زی ليکلی دی هم ددی عالمی ميرمنی احوال را نقل کوی.

نعمت الله ليکی چه شيخ قاسم دعبدالقادر جيلانی (رح) داولادی دمريدانو څخه وو او د(۹۵٦) کال په پسرلی دبدنی رود پرغاړه (دپيښور ختيز ته) وزيږيدی او په ۱۰۱٦ کی وفات سو.

شيخ قاسم په پيښور کی په معرفت او روحانيت مشهور سو او په نفوذ ئی پيدا کړ دميرزا محمد حکيم ماموريٰن څخنی ويريدل او وئی غوښتل چه دا پښتون عالم او عارف مړ کړی، شادمان خان هغه وخت دپيښور حکمران ؤ او دشيخ قاسم دوژلو نيت ئی وکړ شيخ مجبور سو له پيښوره کندهار ته راغی او له ده دی ځايه د حرمينو په زيارت مشرف سو او په قادريه طريقه کی داخل سو تر ددی سفر وروسته بيرته دپيښور دولايت ته ولاړ علمی او روحانی اقتدار ئی ټينګ کړ او په شيخ قاسم سليمانی مشهور سو دمغولو پاچاهانو بيا داشيخ نه پرينښودی دعيسی نومی په چوغلی اکبر پاچا دی لاهور ته وغوښت خو شيخ قاسم په لاهور کی تر پيښور لا زيات نفوذ پيدا کړ نو جهانګير دی دچنار ګلهء په کلا کی بندی کړ او هم هوری وفات سو مزار ئی تر اوسه هلته مشهور دی دشيخ قاسم يو مشهور اثر (تذکرة الاولياء افغان) دی چه دپښتنو روحانيو نو احوال پکښی ليکلی سوی دی دده يو لمسی شيخ امام الدين بن محمد عنايت الله نومیږی چه په پيښور کی زيږيدلی دی او (د تاريخ افغان) ليکونکی دی.

## محمد هوتك

محمد هوتك دکندهار دعلمی او ادبی شخصيتونو څخه ؤ چه په ۱۳ درجب (۱۰۸۴ هـ) کی دکندهار په کوکران کی وزيږيدی او داعليحضرت شاه حسين ددربار يو مهم علمی او عرفانی غړی ؤ دی دداؤد خان زوی دقادر خان لمسی ؤ چه اصلا په مرغه کی اوسيد او قادر خان له هغه ځايه څخه سيوری ته راغلی ؤ او له ده دی

ځای ئې یون وکړ او دکندهار په کوکران کې ئې هستو گنه کوله دمحمد مشهور اثر (پټه خزانه) ده چه دپښتو دادب په تاریخ کې یو مهم او معتبر کتاب دی او بل اثر ئې (خلاصت الفصاحت) دی چه په پښتو ئې دفصاحت علوم ذکر کړی دی بل علمی پښتو اثر ئې خلاصت الطب دی چه په (۱۱۳۹) کال کې ئې بشپړ کړی او اعلیحضرت شاه حسین ته ئې وړاندی کړی دی چه دهغه دحضوره سل طلا وی جایزه ورکړه سوی ده محمد دشعر دیوان هم لری دغه څو بیتو ئې د ده دی:ـ

ساقی پاڅه دسر و مینو ډک یو جام را
ستا له غمه ناآرامه یم آرام را
نه نشاط سته نه مستی سته نه رندی سته
چه سم رند هغه او به علی الدوام را
په او بومی سوړ زړ گی لزڅه راتو دکه
محمد ته داورډک یو هسی جام را

# شیخ ملی

دشیخ ملی نیکونه دکندهار په ارغسان کې اوسیدل او له دی ځایه ننگرهار او پېښور ته تللی دی هغه پښتانه تر اوسه وایی چه موږ له غوړی مرغی څخه راغلی یو (مرغه) هم لوی ځای دی چه اوس یی یوه برخه په ارغسان او بله په کد نی اړه لری مرغه دکوړی دغره شا وخوا څخه تر رود به رسیږی دغه نظریه اخوند درویزه ، افضل خان خټک او ملی روایات تصدیقوی.

---

د تذکرة الابرار ۱۸۳ ـ ۱۸۰ مخ . د یو هاند حبیبی یاد داشتونه

Marfat.com

شیخ ملی یو روحانی او مذهبی سړی وو چه اصل نوم ئې آدم بن ملی دی خو په شیخ ملی یې شهرت درلود دده د پلار نیکه نوموړه دادی ملی بن یوسف بن هندی بن خښی بن کند بن خرښبون. شیخ صاحب یو کتاب (د دفتر) په نامه لري چه دراورټی په قول یې په (۱۴۱۷-۸۲۰) کې لیکلی دی په دغه پښتو کتاب کې د پښتنو تاریخ د یوسفزو د هجرت حال او د مځکو ویش په مفصل ډول راغلی دی اخوند درویزه وایی چه تر دغه وخته د شیخ ملی ویش معتبر دی د دغه کتاب په باره کې خوشحال خان وایی:-

په سوات کې دی دوه څیزه که جلی دی که خفی

مخزن د درویزه دی یا دفتر د شیخ ملی

دده د ژوندانه وخت د (۸۰۰) هجری په شاؤ خوا کې وو دی په کښته سوات کې د ملك احمد آرامګاه ته نژدې ښخ دی.

## ابوهاشم سروانی

دی د هلمند په سروان (ساروان کلا) کې په ۲۲۳ ه کې زیږیدلی او په بست کې په ۲۹۷ ه کې مړ دی

د پټې خزانې مؤلف د شیخ کټه له لرغونی پښتانه څخه داسې نقل کوي:- ذکر دزبدة الفصحا ابو محمد هاشم ابن زید السروانی البستی رحمة الله علیه په لرغونی پښتانه کې هسې حکایت کا شیخ کټه رحمة الله علیه وائی چه ابوهاشم د هلمند په ساروان کې په سنه ۲۲۳ ه کې زیږیدلی او په بست کې ئې له علماء او فصحاء څخه لوستنه وکړه او وروسته ولاړ په عراق کې یې په کلو کلو د لویو ائمه و څخه سمع وکړه او ابن خلاد چه څرګند وو په ابی العیناء د هغه مره یې په بغداد کې عمرونه تیر کړل او له هغه یې د عرب بلاغت او اشعار ولوستل او په ۲۹۴ ه ق کال له عراقه بیرته راغی دری کاله وروسته په بست کې وفات سو ابو محمد په پښتو، پارسی شعرونه هم ویلی دی پټه خزانه لیکی:-

---

د پښتو ادبیاتو تاریخ دوهم ټوك ۹۲ مخ ۱۵۵ مخ

ابن خلاد چه یو ظریف او ادیب سړی وو په یوه شعر کـې یې ددرهم ستاینه کړی ده او ابومحمد هغه شعر په پښتو داسې اړولی دی.

ژبه هم ښه وینا کا ندی چه یې وینه
دخاوند په لاس کې زر او در همونه
ژبوروړله ورځی و ینا ئې او ر ی
ددرهم خاوندان تل وی په ویاړنه
که درهم یې ځنی ورك سوسی نتلی
بر نړ ی یې وی په خړو پیژندونه

دده یو مشهور پښتو اثر د(سا لوو رمـه) نومیږی چه دعر بو داشعارو د بلاغت او فصاحت په بیان کې دی.

## کامران خان سدوزی

کامران خان د احمد شاه بابا دنیکو نو څخه دی چه د شاه جهان مغولی پاچا معاصرو (۱۰۳۷-۱۰۷٦) د پټې خزانې په قو ل دی یـو یو عـالـم او فـا ضـل سړی و و او دشاه جهان له خوا دقندهار په حکمرانۍ په رسمی تو گه پیژندل سوی وو. محمد هـو تك وایی چه ده یو کتاب د(کلید کامرانی) په نامه لیکلی دی چه پـه دغه کتاب کې یې دشیخ احمد بـن سعیدالمودی دکتا بـه چه (اعـلام المودعی فی اخبار المودی) نومیږی دملتان دلودی کورنی تاریخ او هم ددوی پښتو شعرونه را نقل کړی دی کـامران خـان خپل کتاب دکندهار په ښار صفا کې په (۱۰۳۸) ه کې لیکلی دی!

## محمد بن علی البستی

دپټې خزانې په قول دی یو عالم او فاضل سړ ی وو چه دهلمند پر غاړه دبست په ښار کې اوسید یو مشهور اثر یې د(تاریخ سو ری) په نامه لیکلی وو چه دپښتو ژبې درنه او تاریخی و ثیقه پټه خزانه هم شیخ کټه دتاریخ سوری څخه را نقل کړی ده دغه کتاب دسوریانو او غوریانو ددربا رونو دوضع، ادبی نهضت او سیاسی حالا تو څخه رغیدی چه متأسفانه اوس نه موندل کیږی دشیخ کټه دلـر غونی پښتا نه اثر هم زیات دتا ریخ سوری څخه اخیستل سوی دی دپښتو ادبیاتو تاریخ دوهم ټوك دپوهاند حبیبی اثر دمحمد بن علی البستی د ژ و ا ند ا نه و خت د(۵۸۰ ه تـر ٦۵۰ ه) پـو ر ی ټـا کی .

دپښتو ادبیاتو تاریخ دوهم ټوك (۲۲۹) مخ

# دحافظ رحمت خان «بړیځی» کورنی

نواب حافظ رحمت خان دشاه عالم خان زوی د محمود خان لمسی دشهاب الدین کوتا بابا کړوسی دی چه په اصل کی دکندهار دښور اوك بړیځان دی .

شیخ شهاب الدین بزرگوار او روحانی سړی وو د پښور دیو سفزو پیر او مرشد وو چه تر اوسه یی مزار د سرحد ی صوبی په هزاره کی دی تر ده وروسته یی کورنی مشهوره سوه او په بدایوان او بریلی کی یی د پښتنو مشر توب کاوه او د اعلیحضرت احمد شاه بابا په عصر کی ددی کورنی مشهور مشر حافظ رحمت خان ؤ دی عالم، فاضل، لیکوال او شاعر سړی وو او په روهیل کنډ کی یی حکمرانی درلوده داعلیحضرت احمدشاه بابا ټینگ ملگری وو او د پانی پت په جنگ کی یی ور سره گډون کړی و ودی په (۱۱۸۸) کال په یو جنگ کی شهید سو او په بریلی کی ښخ دی .

حافظ رحمت خان یوه لویه کتابخانه درلوده دکتور سپرینگر مشهور مستشرق دهغو کتابو فهرست په (۱۸۵۴ ع) کی په یوه ټوك کی خپور کړی دی دا کتابونه څلوېښت صندوقه او زیاتره په پښتو ژبه وه لویه برخه یی په (۱۸۵۷ ع) دلکنهو په اړو دوړ کی تلف سول حافظ رحمت خان د پښتو او پارسی دشعر دیوانونه لری چه د برټش موزیم په ختیز اثارو کی ستړه دده مشهور تالیفات دادی :ـ

۱ ـ تواریخ رحمت خانی په دی کتاب کی د پښتنو تاریخی احوال او دیوسفزو راتك د کندهاره کابل او بیا پیښور ته بیا نیوی .

۲ ـ خلاصت الانساب چه نسخی یی زیاتی موندلی کیږی یوه یی د کابل د پښتو ټولنی په کتابخانه کی په ۱۲۳۴ لمبر خوندی ده مؤلف وایی :ـ

دا کتاب محکه ما ولیکی چه د هند پښتانه خپل اصلیت هیر نه کړی دده یو مشهور زوی مستجاب خان بړیځ نومید چه د خپل پلار په څېر عالم او متقی مشر وو په پښتو عربی پارسی کی ماهر لیکوال او مؤرخ ؤ او یو کتاب یی په پارسی د (گلستان رحمت) په نامه لیکلی دی ده په دغه کتاب کی د خپل پلار د ژوند احوال او د هند معاصرو پښتنو احوال لیکلی دی په دوشنبی د شوال په دوهمه (په ۱۲۴۸ ه) کی

Marfat.com

په بریلی کې وفات سوی‌دی او په هغه باغ کې چه دده په نا مه یادیږي ښخ دی‌ده اوه زامن در لوده یو لمسی یې محمد عبد الرزاق دشعر ددیوان او نورو ډیرو تالیفاتو خاوندی دحافظ رحمت خان بل لمسی سعادت یار خان نومیدی چه د (۱۳۲۹) هـ په حدود و کې یې یو کتاب په دری د (گل رحمت) په نا مه ولیکی چه په هند کې د بړیځو دکورنی احوال ښودی دی کله چه حج ته تللی دهند په بروده کې وفات سو دحافظ رحمت خان یو کړوسی نیاز احمد خان (هوش) نومیږي چه دډیرو تالیفو نو خاوند دی چه مشهور یې په اردو د او هیل کنلوتاریخ، کلیات هوش، ترانه هوش، حدیقه نعمت او نوردی دی تر (۱۲۵۰) هـ ژوندی وو. دحافظ رحمت خان بل کړوسی محمد سلیمان اسد دمحمد موسی خان دنواب محبت خان دحافظ رحمت خان زوی دی‌ده په اردو ژبه یو کتاب د (تاریخ افغانستان) په نا مه لیکلی دی :

دحافظ رحمت یوزوی نواب محبت خان دی چه دپلار دشهادت په وخت (۲۴) کلن وو دی لکه خپل پلار په پښتو، عربی، سنسکرت، پارسی او اردو ښه پوهید په پښتو کې یې یوا ثرد (ریاض المحبت) په نامه یادیږي چه دپښتو یو لغوی او گرامری کتاب دی راورتی وایي دسرجارج بارلو په خواهش (۶-۱۸۰۵ ع) کښلی سوی دی او (۷۰۰) کوچنی صفحی لری د پښتو مهم لغت دی او د افعالو گردانونه لری.

دده دشعر ونو دیوان د (۱۸۵۷) هـ ایږودوړ په وخت کې ضایع سوی دی همدا شانی ده یو پارسی مثنوی د (اسرار محبت په نامه) او هم یې د (آمدنامه) په نامه د پارسی ژبی قاعده، صرف او نحو لیکلی دی.

دده دپارسی شعر یوه نمونه دا ده :-

گر کشش من اثری داشتی — یار به سویم گذری داشتی
آنکه جهان را به نگه زنده کرد — کاش بما هم نظری داشتی
زیستمی بی تو اگر مثل تو — مادر گیتی پسری داشتی
دانهٔ مهر ار بدلش سرزدی — نخل امیدم ثمری داشتی
گر رخت از پرده بیرون آمدی — شام (محبت) سحری داشتی

---

حیات حافظ رحمت خان ۱۳۱۹ - ۱۳۴۹ مخونه

## محمد رسول هوتك

داسېړی دېټې خزانی په قول دکندهار دکلات هوتك و و دده یو بیاض دمحمد هوتك شخه وو په پټه خزانه کی هم دری ځایه ځنی مطالب ددغه بیاضه رانقل سوی دی محمد هوتك دده دبیاضه د سلطان بهلول او خلیل نیازی اشعار رانقل کړی دی همداشانی یې درحمن بابا سوانح دخوشحالخان اشعار دمحمد رسول دبیاضه را نقل کړی دی

## قاضی ابوالبرکه کندهاری

دی په صرف، نحو، منطق او ادبیاتو ښه پوهیدی، ددری ژبی مقتدر او خوږ ژبی شاعروو په شعرکی ئی ډیری معماوی او اعجازونه ستل، قاضی صاحب دنصر آبادی طاهر معاصر ؤ دنصر آبادی تذکره ئی دادوی معمی وی دقل بابا په نامه دراوړی :-

چو از دلبر بر آمد، آمد آمد     دل بی پاؤ بی سر خود بر آمد

دچاهی په نامه سره :-

ماه من نادیده قربان ساخت مجروح را

ای سهی آنچه محتاج نظر نبود نکوست

## واصب کند هاری

دنصر آبادی تذکره دی دتهرانی سلیم معاصر گڼی او وائی چی دعبدالله نومی وزیر په دربارکی دخاصو مقربانو شخه ؤ دا بیت دگلستان مسرت دکتاب لیکونکی دواصب په نامه سره راوړی دی خواصلا دغه واصب دی نبائی چه نوم ئی ځنی غلط سوی وی.

گفتم مگر زنا مه بخاطر رسم او را

آن هم ورقی جز وفرا موشی من شد

---

روز روشن ۷۳۱ مخ

Marfat.com

در کام اهل ذایقه شیرین نمیشوی
تا نشکنی بسان عسل خان خویش را

وله.

نقش زمن بسراغ تو دمی در پیش است
نقش پادرو هست ازمن قدم درپیش است

مگزار ای دل بخم کاکل آن زلف سیاه
که بلائی بقفا و ستمی در پیش است

پایم زسر کوی تو نام به کعبه
میرفت وز مرآبله چشمی به قضا داشت

روز روشن لیکی :- «واصب قندهاری همچنین است در شمع انجمن و در ید بیضا نوشته که واصب در لغت بمعنی دایم است ودر آفتاب عالمتاب واهب بهاء موز بجای صاد مهمله آورده وگفته که نامش ملامحمد واهب بمعیت محمد قلی سلیم بملازمت میرزا عبدالله در لاهیجان بسر می برد.

## ملامحمد هاشم کندهاری

په منطقو، فلسفه، اخلاق، حکمت او ادبیاتو کی لوی عالم ؤ

دبیرم خان ددوستانو او مصاحبانو څخه ؤ خزانه عامره دتاریخ «بدیوانی» په حواله لیکی چی بیرم خان دده یوه غزله په خپل نامه کړه او په عوض کی ئی د (۶۰) زرو تنگو زرور کړه هغه وخت چه دده څخه پوښتنه وسوه چه دا مبلغ به ستا په نظر څونه وی؟ یعنی دغزلی بیله به دی درنه وی که دیسو؟ نو ئی فی البدیهه دغه لطیفه په لوړ آواز وویله: چی دخان ډیره خوښه سو له او دځلو ینتو زرونه ر وتنگو وعده ئی ور سره وکړه چی ځو ئی یو لک تنگی سوی.

روز روشن لیکي :- «هاشم قندهاري برادر زادهٔ ملا شاه محمد انسي بود اولا بسملي و بعد از آن وافي ودر آخر هاشم تخلص اختیار نموده در هندوستان برفاقت بیرام خان خان‌خانان بکمال جمعیت وفراغت اوقات میگذرانیدند تا آنکه درسنه سبعین یاتسع وستین وسبعمائه در لاهور یا اکبر آباد به کنج لحد گوشه گزید.

من کیستم عنان‌دل از دست‌داده‌ئی
وزدست‌دل‌برده غم از پا فتاده ئی
دیوانه وار در کمره کوه گشته ئی
بی اختیار سر به بیا بان نها ده ئی
گاهی چو شمع ز آتش‌دل گر فته ئی
گاهی در فتیله با د ل آ تش فتا ده ئی
بیر م زفکر اندک و بسیار فا ر غیم
هر گز نه گفته ام یکی یاز یا ده ئی
صراحی دار هاشم دمبدم بی اعل میگونش
سرشک‌ارغوانی‌برنوای‌ارغنون ریزم

## انسي کندهاري

انسي صاحب مولانامحمدشاه نومیدی‌دخپل‌عصر دجیدوعالمانو او زبر دسته شاعرانو څخه ګڼل کیدی دریاض الشعرا دکتاب‌مؤلف لیکي چي دهمایون په زمانه‌کی‌دماوراء لنهر څخه هندته راغلی دی انسي ئی لقب و داغستانی واله دا مطلع دده په نامه ضبط کړی ده:-

سر شکم رفته رفته بیتو دریا شد تما شا کن
بیا در کشتي چشمم نشین وسیر در یا کن

---

روز روشن ۷۷۳ مخ

شبلی نعمانی دشعر العجم دکتاب مؤلف دا بیت آتشی کندهاری نه چه داکبر ددربار شاعر ؤ منسوبوی.
دده په شعرونو زیا تره جونګونه او بیاضونه ښایسته‌دی فخری امیری دده یوه غزلی د«تحفت الحبیب» په کتاب کی درج کړی‌دی چه دا لاندنی غزله یوه له هغو څخه ده:-

دمی کان لعل آتشناک جان من نه می سوزد
چراغ کلبه تاریک من روشن نمی سوزد

به گلشن هرگز آن سروخرامان در نمی‌آید
که از گلزار آتشناک او گلشن نمی‌سوزد

خواص شمع فانوس است گوئی عاشق او را
که می سوزد سر تا پا وپیراهن نمی سوزد

شگاف سینه می‌دوزم بصد زاری و حیرانم
که چون از آتش دل رشته وسوزان نمی‌سوزد

جهان هر شب می‌سوزد زآهم وین عجب حالی
که شمع بخت خون آلود من روشن نمی‌سوزد

در آن مسکن که می‌سوزد شب هجران اوانسی
بغیر از شمع کس بادر آن مسکن نمی سوزد

## عشرت کندهاری

دعشرت صاحب ددیوان څخه داسی معلومیږی چه ده په اجتماعیاتو، ادبیاتو او سیاسیاتو کی زیاته مطالعه درلوده او دوخت دحکومت څخه ئی ښه زړه نه درلود دهمدغه کبله دده بدخواهانو امیر عبدالرحمن خان ته سعایت وکی او امیر دی کابل ته وغوښت دعسرت په ځای ئی عشرت تخلص باندی کښیښوده په ظاهره که څه هم امیر صاحب نظر او فهم باندی درلود خو په باطن کی ئی نظر بند په کابل کی ساتلی ؤ حتی دآل او عیال دلیدلو دپاره ئی هم نه پریښود چه ددغی بی مبالاتی او جبر څخه دی‌ډیر پتنګ سوی ؤ او سوزونکی شعرونه ئی ویلی دی دشعر دیوان ئی نه دی چاپ سوی قلمی نسخی ئی زیاتی پیدا کیږی دی په ۱۳۳۴ هـ ق کی مړ دی دغه ئی دشعر یوه نمونه ده:-

Marfat.com

بیا ساقی ز کف مگذار امشب دامن مینا
که شمع بزم عشرت میشمارم گردن مینا
گلستان نشاط خاطرم را تازه او دارد
مگر رنگ بهار جان بود گل گردن مینا
نشاط نشه می را غنیمت‌دان دمی درکش
همین ایمان ساز پرده و خندیدن مینا
خمار حسرت دلگشت پرزادو پر عنقا
چه شمع باده افروزد ز فانوس تن مینا
نوای مد شکست او پرده های ساز دل خیزد
اگر درخواب بینم برم برهم خوردن مینا
مرنجان خاطر عشرت کجایی ساقیا برخیز
که بینم تیغ خون‌آلود دامن چیدن مینا

## سردار هارون خان

حاجی جمال خان محلور زامن در لودل سردار رحیمداد خان او سردار پاینده خان (سرفراز خان) دیوی موری څخه وه او دوه نور زامن ئې سردار هارون خان او سردار بهادر خان « حاجی درویش ) دبلی مور څخه وه .

سردار بهادر خان متقی او متصوف سړی وو شپه او ورځ په ریاضت او دخدای په عبادت مصروفه‌و وخو سردار هارون خان دمشر ورور سردار پاینده‌خان له‌طرفه دګرش حکمران‌وو .

سردار هارون خان دسدوزو او محمدزو اختلاف نظر له کبله زیات تکلیفونه لیدلی دی لکه چه‌دی خپل ځان په‌محلو یښت کلښ‌ن زو په‌ګفی : ـ

پیرشد هارون زجور روزگار   ورنه‌درچهل سالگی کس پیر نیست

Marfat.com

همدا شانی وائی :-

دلم بگرفته هارون بس بملک قندهار از غم
نسیم نوبهار کابل و کشمیر می یابد

خوداسی وخت هم رسیدلی دی لکه چه وائی :-

بلبل همچومنی را صیاد در قفس بندی کابل داری

دغه شکایت څخه معلوميږی چه دی دوروردشها دت وروسته په کابل کی بندی پاته سوی دی نو څکه دی د ۱۲۱۴ ه یا ۱۲۱۵ ه په حدودو کی څلو ینت کلن دی .

هارون په هرات کی هم څه عمر تیر کړی دی لکه چه وائی :-

دل ربودند از کف هارون نازنین دلبران شهر هرات

سردار هارون خان متصوفینو او روحانیو ته زیاته عقیده درلوده او ددوی په زیارت ئی خوښی او مسرت احساسوی لکه چه وائی :-

توره بمطلب خود چوز همتش که دستگیر همه خلق پیر انصار است

هارون هند ته هم تللی دی :-

یکی هندی پسر دل بر ده ازمن جفاجویی سیه چشمی پر ازفن
همه سوی وطن رفتند و مارا زهر سو بسته آن مه راه رفتن
از فراق همنشینان وطن دل نمیگیرد قرارم در بدن
گر کند هارون گهی یادگر شکک نیست عیب ای دوستان حب الوطن

سردار هارون خان دشعر دیوان اری لکه چه دپاکستان دکراچی دسروش مجله لیکی :-

«دیوان : در ۴۰۴ صفحه فی صفحه ۱۱ و ۱۲ بیت دارد کاغذ خوقندی خط نستعلیق دارای ۶۱۵ غزل مردف و در آخر یك ترجیع بند ویك تخمیس غزل شاهی سبزواری و ۲۱ رباعی تا حرف (س) عدد ابیات تمام دیوان (۴۵۰۰) آخر چندورق افتاده تاریخ نوشتن ونویسنده آن معلوم نیست .»

سردار هارون خان په پښتنوالی زیات افتخار کوی لکه چه وائی :-

Marfat.com

بی فغانم چو بلبل تصویر
گرچه هارون ز نسل افغانم
لب بسته ام ز افغان از بیم آن ستمگر

هارون اگرچه هستم از نسل خاص افغان
گر تو از هارون نشان و نسل میجویی بیا
آن گل بیخار از گلدسته افغان بود

دشعر نمونه ئې : -
بر لعل لبت خال سیه ای بت بد خو
گویا که مقیم لب کوثر شده هندو
خواهی که کنم سر بفدای دم تیغت
بر بنده اشارات بکن از گوشهٔ ابرو
جامم بده ای ساقی گلچهره خدارا
سرمست مرا ساز از آن نرگس جادو
از خانه برای و پی صد فگندن
بسمل شود از ناوک مژگان تو آهو
در فکر دهان تو دل غمزده دائم
بنهاده سر خویش بر آئینه زانو
بیرون روی از باغ اگر جلوه کنان تو
سرو از پی قد تو زند نعرهٔ کوکو
خوش بوی دماغ و دل هارون شود ای دوست
آرد ز سر زلف تو چون باد صبا بو

---

مجله سروش ۱۳۳۷ ه گڼه ۱۵ ، ۱۶ ، ۱۷

Marfat.com

## اتشی قندهاری

دی دکندهار دمشهورو شاعرانو او ادیبانو څخه ؤ چه په عربی ادب کی داستادی درجی ته رسیدلی ؤ دروز روشن په ٦ مخ کی داسی راغلی دی:-«بر کاب محمدظهیر بن بابر پادشاه بهندوستان آمده بخدمت وقایع نویسی سر فرازی یافت و در سنهٔ ۹٦۷ بدار البقا شتافت» از واست:-

از اهل وفا بیخبری را چه کند کس
مایل بجفا سیمبری را چه کند کس
تا با غم تو دست در آغوش کرده ایم
از هر چه غیرتست فراموش کرده ایم

## الهی قندهاری

دده په وخت کی په کندهار کی دشعر او ادب لیکو الی او مشاقی ذوق زیات موجود ؤ په دغه لړ کی ده هم ښه لیکل او ښه لی ویل دی دبابر پاچا په وخت کی ژوندی ؤ.
دشعر نمونه ئی داده:-

ماه عیدابرو نمود وخاطرم را شاد کرد
شکر لله کز غم سی روزه ام آزاد کرد

## سلطان محمد

سلطان محمد دکندهار دسیلک او سیدوئکی ؤ ارباب ظرافت هغه ته سلطان سیکلی وایه یا شر موښکی ویله روز روشن دده په خصوص کی لیکی:-«گویند که خان زمان سیستانی متخلص به سلطان خلعت واسپ وهزار روپیه نقد پیش سلطان محمدفرستاد که ازین تخلص دست بردارد وبرای منش بگذاروی دست روبر سینهٔ ملتمس او زد» دی ددکن په جنگ کی شامل ؤ.
از واست:-

هر که دل را صدف سرالهی دانست
قمت گوهر خود را بکماهی دانست
گر بدل دار درقیب از من غباری پاك نیست
روشن است این پیش ما کائینهٔ او پاك نیست

---

روز روشن ۲۹۷ مخ

## فـدائـی

دی دکندهار دمخو رو شخصو څخه و چه زیات عزت ئی کیدی اصل نوم ئی رستم میرزا او دصفوی پاچاهانو داولادی څخه و وده هند ته هم سفر کړی دی اودهغه ځای دادبی محافلو څخه برخوردار سوی دی.

دغه ئی دشعر نمونه ده:-

از خانه گرخیال برون آمدن کنی
دل میطپد ز شوق خبر میدهد مرا
قدم ز تربت آن بیکسی دریغ مدار
که جز توشمع دگر برسر مزار ندید
من ساکن هندم دلم ساکن نیست
کس خوار چو من زکافرو مؤمن نیست
افسوس (فدائی) که بگلزار وطن
گر مرغ شوی پرید نت ممکن نیست

## تائب قندهاری

دده اصلی نوم محمد تقی قندهاری دی خو تائب ئی تخلص دی تکمیلهٔ مقالات الشعرا دده په خصوص کښی داسی لیکی :-
«چندی به کراچی گذرانده بعده پیش حاکم لسبیله جام میر خان میر منشی شده کلامش بسیار دیده ام ولیکن درین وقت این مطلع وی بیادم است

منه:-

دبستان را گلستان کرده از گلهای رخسارش
نزاکت میشود نذر قدم از طرز افتادش

اخند محمد شریف قندهاری چه په دی وخت کی په کراچی کی و د تائب مدح داسی کوی:-

---

طبقات اکبری ۰۰۰ مخ

Marfat.com

می زمینائی تو در جام بسر میریزد
کزدم کلک توصد گونه هنر میریزد
هر که در شعر بروی‌تو مقابل گردد
آ بر و می‌نهد و خاك بسر میر یز د
گفت(عاجز) که کلام توزبس‌شیرین است
(تائبا) طبع تو گو یا که‌شکر میریزد

## نورمحمد خان ( نوری )

نور محمد خان‌چه«نوری» ئې تخلص دی دلـوی کند هـار او سیدونکی ؤ ده په پښتو او کندهار کی‌زیات عمر تیر کړی دی‌او په اصل کاکړ دی، ښاغلی نوری دپښتواو پارسو ښه شاعر دی‌په‌عربی انګلیسی او اردو پوهیږی‌یو کتاب ئې په(۱۲۸۰) ه کی‌په کندهار کی دخپل دوست نور احمدپه خواهش د(تحفت الامیر)په نامه په‌پارسی لیکلی دی پښتو ګر امر ئې هم‌لیکلی دی چه په دغـه ګرا مر کی‌ده پر راورټی او محبت خان بړیڅ ډیر انتقادونه کړی دی.

تحفت الامیر دامیرشیرعلیخان په مدح کی‌لیکلی‌سو ی دی دختم تار یخ ئی داسی د ی :ـ

چون گرفت اختتا م این نسخه    از اعانات فضل رحما نی
گفت پیر خر د بتا ر یخش    رهی بیان زبان افغانی
(۱۲۸۰ ه)

تکملهٔ مقالات‌دده په‌خصوص کی لیکی:ـ «او نور محمد کاکړی نوری است کـه کتاب (جمع الجمع) تـا لیف سر دار مهر د لخان تخلص به مشرقی‌را در مباحث‌اخلاق‌وتصوف در(۸٦٦) صفحه‌فراهم آورده ودر سنه ۱۲۸٦ ه آن را بخواهش‌سردارمحمد حسین‌خان بن سردار مذکور درقندهار نوشت که نسخه خطی آن در کتب خانه شاهی کابل‌موجود است»

---

د کراچی مفرح القلوب جریده ۱۸۷۳ . ۱٦ نومبر
مقالات الشعرا ٦۲۰ مخ

# میا فقیر الله صاحب

میاصاحب که څه هم دننگرهار دحصارك اوسیدونکی ؤخو په لوی کندهار کی ئی دعرفان او روحانیت نفوذ زیات پروت ؤ او هغه وخت چه سند، پنجاب، کشمیر دپښتنو پاچاهانو اداره کاوی دده دعلم او عرفان پلوشی هم هغو سیموته نقل کیدلی دا ځکه چه اعلیحضرت احمدشاه بابا ، دکلات حکمران نصیرخان بلوچ او دسند دکلتهوری حکمران محمد سرفراز خان دری سره دشیخ مریدان او اخلاص مندان وه .

دده دیو مکتوب څخه داسی څرګندیږی چه شاه فقیرالله دشاه عبدالرحمن زوی دشمس الدین لمسی دی چه په ۱۱۰۰ ه کی په روتاس کی زیږیدلی او په جلال آباد کـی او سیدلـی دی ده په افغانستان او هند کـی اسلامی علوم و یلی دی د علم ، عرفان او خدای پیژندنی هسکو مراتبو ته رسیدلی دی .

میاصاحب دافغانستان څخه علاوه عربی هیوادونه هم لیدلی دی او دحرمینو زیارت ئی کړی دی ده د نقش بندی طریقی بیعت د پیښوری شیخ محمد معصود دایم الشهو دسره کړی دی چه دی بیا د لاهوری شیخ محمد سعید مرید ؤ او محمد سعید دشیخ سعدالله په واسطه دحضرت مجدد الف ثانی دخلیفه شیخ آدم بنوری څخه فیض اخستی ؤ .

میاصاحب ته په قادریه کی هم اذن سوی وو دتفسیر ، احادیثو او تصوفو دزده کړی دپاره دهری خوا خلك ورته راتلل په (۱۱۵۰ ه ) ه کی دسیر او سیاست وروسته شکارپور ته راغلی او همدلته ئی یوه خانقاه جوړه کړه چه وروسته دمنځنی آسیا خانقاه ځنی جوړه سوله دهمدغه میاد ارادت او اخلاص له کبله وو چه د اعلیحضرت احمدشاه بابا سره بلوچ نصیر خان دقلات حکمران محمد سرفراز خان دکلهوره دسندحکمران اود هند نوابانو لکه نجیب الدوله او نورود مرهټی په جنګ کی مرسته ورسره وکړه او بریالی ئی کړی .

داحمد شاه بابا پرته په کندهار کی میاصاحب ډیر مریدان او اخلاص مندان درلودل یومسجد او کوچنی خانقاه ئی او سه دده په نامه ستره ده هلته درس و یلی او درس ور کړی دی .

میا صاحب د افغانستان او هند مخصوص دکندهار د زیاتو عالمانو اوروحانیو نوسره مکاتبه درلوده او دده روحانی مر

محمد مسعود پیښوری ده ته دمحبته ډك مکتوبونه لیږلي دي .
ملافیض الله کاکړ د حبو اخند زاده پلار میاعبد الحکیم کاکړ (ناناجیو صاحب) ملافرح الدین اخند همدا شاني ئي ملا عبد الله کاکړ ، ملاصاحبداد، سیدموسی شاه ، عظمت خان ، محمد صالح محمد سلیم فاروقي ، سید محمد یوسف ،ملامحمدعثمان ، میا گل محمد ته عرفاني لیکونه لیږلي دي ، ده خپل یو معاصر عالم ملا رحیم داد سنزر خیل کاکړ ته چه دیروب او سید و انکي ؤ یو لیك لیږلی ؤ او هغه ئي په ځنو کاکړ انوکي دالحاددورکولو دپاره مامور کړی وو په دغه وخت کې ئي په پارسي یوه رساله د(ردملحدان) په نامه دمحمد بن محمد الجامي الماسي له خوا دملا رحیمداد په خواهش ولیکله .

مشهور تالیفات ئي :-

۱ - فتح الجمیل في مدارج التکمیل (په عربي) په تصوف کې .
۲ - براهین النجاة من مصایب الدنیا و العرصاة (په عربي)
۳ - فیوضات الهیه .
۴ - طریق الارشاد في تکمیل المومنین والا ولاد .
۵ - منتخب اصول ( په فقه کې )
۶ - وثیقت الاکابر ( حدیث )
۷ - قطب الارشاد .
۸ - فتوحات الغیبیه في شرح عقاید صوفیه .
۹ - قصیده مبروره .
۱۰ - محمود الابرار ( د سعاد قصیدی شرح )
۱۱ - ملفوظات
۱۲ - فواید فقیر الله ( طب )
۱۳ پښتو اوراد، محمود الاوراد .

میا فقیر الله حصار کې شمشکار پوری دصفري په دریمه ۱۱۹۵ھ کې مړ دی .
ده په پښتو پاړ سوا و عربي ښه شعرونه ویلي دي یوه نمونه ئي داده :-

---

مکتوبات ۰۰۲۷ ۲۸۷مخ آریانا مجله

مصدر فیض که عالم راترو تا زه نمو د
فی الحقیقت هست چون مرآة در جسم شهو د
حا کی از زیبا رخ سلمی است گر خود بنگری
لب دا نا را از ین ره بین در معنی کشو د
می پرست ازمی نیاشامد نمیگردد درست
با م جا م می بیکسر عقل صو فی د ر بو د
سر مهٔ چشم عز یز ان است خا ك میکد ه
یادری بخت فیروز است کاو این کردسر
لب اگر تر سازد این رند خرابات به می
جامه وجان را نثار جام می خو اهد نمو د
مست با عقل آنچنان گردد که تاررز جزا
جزرخ دلبر نباشد دیگرش گفت و شنو د
دردمی یابد شفا از صدق دل گرمی خو رد
درد مندی گرچه در امراض بس مرهون بو د
روبخمار آورد انکو که از ر وز او ل
از نقوش این وآن لوح دل او ساده بو د
در دوعالم نیست جز میخانه دل را راحتی
ر وز وشب دردی همی باید دلی باچنگ [illegible]
لطف باشد یا (فقیر) خویش گر از مکرمت
در زمان خلوت ازیادش کن ای یارزود

---

آ ر با نا مجله

Marfat.com

# حافظ خان محمد

که څه هم دی دجنوبی پښتونستان دکوټی دښار یـوو یښ او دردمند عالم ؤ خو څرنګه چه یی دکندهار بانو دعلمی علایقو او پښتنولی دروحیاتو سره زښته علاقه ساتله نو ځکه که په کندهار کی چاپښتو کتاب اودیا اثر پیدا کاوه یو ځله به یی دحافظصاحب دخوشحاله کولو دپاره دهغه تر نظر تیرا وه دا ځکه چه حافظ صاحب په کوټه کی دپښتو خدمت ته ملا تړلی وه او دخپل دکان نوم یی (بلوچستان بکډپو) ایښی وو.

حافظ صاحب دپښتون په خالوزی کی دملا عبدالرحیم په کورکی زیږیدلی وو په کام کاکړ او په کاکړو کی پـانیزی وو. دحافظ صاحب چاپ سوی اثار دادی:-

۱ ـ دمیا عبدالحکیم کاکړ دعقایدو په رساله کی دمیا صاحب دژوند حال

۲ ـ دنور ظلم پارسی او پښتو ترجمه

ناچاپ سوی اثار ئی دیوزرحدیثو نو پښتو ترجمه.

۱ ـ اسلامی ژوند.

۲ ـ الانسان دابن عربی د(الانسان) پښتو ترجمه.

۳ ـ دپښتو بېنظیر چمن

۴ دپښتو دمصر یو او لنډیو مجموعه.

۵ ـ دپخوانی بلوچستان دپښتنو شاعرانو تاریخ.

حافظ صاحب دپښتو ژبی سره زیاته مینه درلوده او پښتانه یی ترل دپښتو ژبی خدمت کولو ته را بلل لکه چه وایی:-

نوری ژبی په ادب دی پوره پټی
دپښتو دسر لنګی تـار تـا ر پښتو نـه
دپښتو خدمت ته ملاوتړه ټینګه
کړه روزنـه دپښتو شاند ار پښتونـه

حافظ صاحب دیني علوم دملا آدم خـان او علامـه عبدالعلی اخندزاده څخه زده کړیووه دی په ځوانی کی اته کاله دمخه د(۴۸) کالو په عمر مړ دی.

Marfat.com

# امام یزید

پلار ئې امام یحیی نومید چه دجوزجان په سرپل کې ښخ دی دشهادت علت ئې خلاف دامویانو او عباسیانو داختلاف ښخه ګڼې هغه وخت چه امام یحیی شهید شو دده سر ئې په نیزه باندې په ښار ګرزاوه څو چه تالقان ته ورسیدی د تالقان حاکم دغه سر په ډېر احترام سره دآمو دریا په ساحل کې ښخ کړی چه اوس په حضرت امام صاحب مشهور دی

امام یزید دغه امام یحیی زوی دی چه دکندهار دهند دولسوالۍ جنوب خواته د(ولکان) په کلي کې ښخ دی.

اخندزاده عبدالحسین (خادم) دکندهار یو فارسی زبان شاعر دده په خصوص کې داسې وائي:-

نور چشم مصطفی چشم وچراغ عالمین
زید بن یحیی بن زید بن علی ابن الحسین

# سید حسن زنجیر پا «شاه حسینی بابا»

دی دبابا ولی دغره پرسر پروت دی وائي کله چه وزیر یعقوب دواړو پښو یې تر زنګانه ځنځیر در لودی دسبزوار دسیدانو ښخه دی او دبابا ولی علیه الرحمه خوریی کېږل کیږی او دنسب سلسله یې امام موسی کاظم ته رسیږی هغه وخت چه بابا ولی صاحب دحجاز ښخه بیرته سبزوار ته راغی خپله خور فاطمه یې دسبزوار یو مشهور سید (سید عین الدین) ته په نکاح ورکړه (۱۹) کاله ورو سته خدای سید حسین زنجیر پا ورکړ په اوه کلنۍ سن دمور او پلار ښخه غایب شو او داوو کالو غیابت وروسته بیرته کورته راغی مور او پلار یې پوښتنه ځنې وکړه چه چیری وی؟ دده ور ته وویله چه زما دماما باباحسن ابدال په اشاره زه پیر یا نانو هند ته بیولی وم او بیا دماما په اشاره زه دوی د درویشانو خانقاهو ته بوتلم شپږ کاله مې هلته تیر کړ ماته ئې فرایض او سنن را زده کړل. دروسته دسیر او سلوک ... تیت او په کامل پیر پسې ګرزیدچه دخپل ماما باباحسن ابدال لاس نیولی ... دسند تاریخ په ۱۲۶ مخ کې دده په خصوص کې داسې لیکي «آورده اند که صباح روزی که در وقت چاشت آن میر سید حسین له ملاقات بابا

حسن ابدال در موضوع لنگر میرسید بابا حسن را وجدی وحالتی دست داد به مریدان خود گفتند که بوی مردی بمشام من میرسد که از ملاقات او دیدهٔ دل را روشنی حاصل میشود باستقبال او بشتابید بعد سید حسن بسعادت ملاقات بابا حسن ابدال مشرف گشتند بابا حسن سر وروی او را بوسه داد وبر تکیه‌گاه خود جای داد به استماع قدوم میرسیدحسین مشایخ واولیای قندهار بملاقات وی حاضر آمدند وآنروز بسیار مردم جمع شدند بابا حسن ابدال فرمودند که فرزند سید حسین جمع کثیری ازاعزه واکابر آمده اند ایشانرا درباب برای ایشان طبخ بغرا مهیا نمای. سید حسین بر خاسته دیگ بر دیگدان نشانده پنج سیر گوشت و ده سیر آرد قندهاری بدست آورده در پی طبخ شدند چون موجود شدند بابا حسن فرمودند میتوانی که از این بغرا درویشانرا سیرگردانی سید حسین قبول این خدمت نموده بر خاست واز ثقات مروی است که از آن دیگ محقر یکصد وپنجاه طبق بغرا پیش درویشان کشید چنانکه همه سیر شدند و آن دیگ همچنان پر بود.»

دده دخرق عادت شخه دابیانیږی چه یوه ورځ لنگر ته نژدی یو اوبښ والا پو څه را بار کړی وه ده پوښتنه څنی وکړه چه دادی څه شی را بار کړی دی هغه په دی فکر کی سو چه دا خو یو فقیر دی نه چه یو څه را شخه وغواړی ئوییی ورته وویله چه ډبری کلمه چه هغه اوبښ والا خپل ځای ته ورسید که گوری چه ټوله یو څه یی ډبره سوی دی.

دتاریخ افغانستان در عصر گورگانیان هند په ۱۶۹ مخ کی داسی لیکلی سوی دی:ـ«درسال۱۰۰۰ ه میرمعصوم قندهاری کـه از احفاد اوست بنای بر مزار او ساخت وتا عیدقربان (۱۰۱) ه باتمام رسانید ودر آن کوه کتیبهٔ را نیز کند که تا کنون موجوداست»

## ملامزمل (دصریخ ملاصاحب)

ملا مزمل پر قاضی‌سلم باندی په عربی ژبه نفیسه حاشیه لیکلی ده نورآثار یی په کندهار کی دکورنی شخه سته دی دعمر په ۴۵ په ۱۲۹۹ کی دپیښور دصریخ په علاقه کی مړ او هلته ښخ دی.

Marfat.com

# صوفی عبدالحمید (بارکزی)

صوفی عبدالحمید دکندهار دهغو صوفیانو څخه دی چه دنیا او آخرت ته یی یو شانی کتلی دی یعنی څومره یی چه په دنیا کی کوله آخرت ته یی هم هغو مره ذخیره کوله ددی سره چه اهل دنیا ګڼل کیدی خو په صوفی مشهور وو په پاکی او تقوای هرچا پیژ اند متدین متعبد او خدای پاری سړی وو د اسلامی نظام او د حکومت نوکری یی یوهول ثواب ګڼلی دهمدغه کبله تر مرګه په بیلو رسمی چارو لګیا وو په ریښتینتوب او ایماندار ی یی خپله وظیفه اجرا کوله دی میانه قده متواضع خلیق دعزت نفس خاوند سړی وو پرلار کرار کرار تلی او کراریی خبری کولی صوفی صاحب په (۱۲۰۷) کی دکندهار په چهار کوڅه کی زیږیدلی دی په (۹) کلن سن دخپلی کورنی سره هرات ته تللی دی دهرات مشهور محقق او کتیبه نویس مرحوم فکری سلجوقی په خپل یو اثر (دیبا چهٔ دوست محمد هروی) کی داسی وایی «مرحوم صوفی پسر یکی از معماریف قندهار بوده وی همراه پدر در کود کی هرات آمده درمدرسهٔ مسجدجامع ملك غیاث الدین به تحصیل نشست در آن مدرسه علوم متداوله را تحصیل نموده در طلب خط شد آنگاه بمحضر خلیفه ملا محمد حسین به تحصیل خط نشست و رنج بیشمار برد تا بدرجهٔ کمال رسیده و مرحوم صوفی علاوه بر خوشنویسی در فن تذهیب و نقاشی استاد هنرمند بوده و در فن نقاشی ازشاگردان استاد عبدل هروی است.»

دهرات دوستی له مخی ده خپل ځان دکندهار دخرقی شریفی په مدخل کی عبدالحمید هراتی معرفی کړی دی.

صوفی صاحب په ۱۳۲۷ هـ ق کی داعلیحضرت امیرحبیب الله خان په امر دمنزلباغ دتخت دتیار ولو دپاره کندهار ته راغی او هغه تخت یی درخام اوله ګرانیته څخه مینا تور کړ دهرات دجامع جومات په ډول یی دخرقی مبارکی دننه ودانی او دموی مبارك ګنبده په راز راز نقاشیو، مثلث، ریحان، نستعلیق، کوفی او نورو خطو ښایسته کړ. صوفی صاحب دتصوف او طریقت دآثار و دمطالعی

او پیروی علاوه په ریاضی، طبیعی، هندسه، پخوانی هیئت، جغرافیه
ښه پوهید او وروسته یې کمیاء فزیك او نوی هیئت کی هم پوره
دسترس پیدا کړ په تجربوی علومو او تخنیکی چارو هم انګیاء
وو چه ددغی جملې څخه یې دنصف النهاراتو ماتیکی توپ او هم
دکشافت ښکاره کوونکی آلې دبانك نوټو دواټر مارك کولو او
داسې نور اختراعات دیادوونې وړ دي دامیر حبیب الله خان ددربار
یو مقرب شخصیت وو صوفی صاحب دحرمینو شریفینو علاوه امریکا
جاپان روسیه جرمنی انګلستان او سویتزرلیند هم
لیدلې دی خپل یاد داشتو نه یې په پښتو او دری ژبو لیکلې دی
صوفی صاحب که څه هم دربار ی سړی وو خود علما او مشا یخو
سره یې زیا ته ناسته ولاړه او دوستی ورسره درلوده او په مخصوصو
احوالو کی به په ذکر او مراقبه لیدل کیدی که چا په رسمی
لباس کی نه وای لیدلی څکه چه ساده کالی او بی تکلیفه ژوندیې
درلود نو دکار داره سړی ګمان یې هیڅ نه شو پر کیدلای صوفی
صاحب په را وروسته کی دکابل دصکو کو دمطبعی رئیس وو
او په ۱۳۴۱ کال دسرطان په (۴) دځو ورځو ناروغی وروسته وفات
سو او په قولچکان کی ښخ سو.

۱۳۸۲ دمحرم الحرام ۲۲ - ۱۹۲۶ د جون ۲۵

گیرم که فلا طون وارسطو باشی، در حکمت و فن
بالفرض زهر که هست نیکو با شی، در نظم سخن
مشهور زمانه یگانه وقت شوی، همچو سقراط
هیچ است که بی محبت او باشی، کو تاه سخن
صو فی نه د لی د ار د ونه سو دا یی
و ز سو د و ز یان نیستش سو د ایی
یکعا لم نیستی است ا ز خو د فانی
نا می شد ه ء به صوفی سو د ا یی
بی روی تو عیش و شادمانی سخت است
وراز تو حیات و کامرانی سخت است
ا ی ما یه ء عیش و آرزو ی صو فی
زود آی که بیتو زندگانی سخت است

---

(معاصرین سخنور ۲۵۹ مخ)

# علومی کورنی

علومی کورنی دکندهار دعلم، تقوای اوقضا تو کورنی ده او په ټول افغانستان کی علمی، قضائی او تشریعی حیثیت او شهرت لری مخصوص افغانی دربارونو ته زیاته نژدی ده.

دا علیحضرت احمدشاه بابا په عصر کی هر ولایت ځانته قاضی درلود خودقاضی القضات په نامه څوك موجودنه ؤ دغه منصب هغه وخت علومی کورنی ته ورکړه سوچه بارکزی عبدالله خان دارغستان قاضی سو ده څه مده دغه منصب په عدالت او پاك نفسی وساتی داسلامی او پښتنی شعایر و سره سم ئی دخلکو خدمت کاوه خلکو د علمی او قضائی منزلت څخه علاوه خپل ملی اوقومی مشرهم ګڼلی دده وروسته زوی ئی عبدالوهاب خان بارګزی قاضی سو بل زوی ئی چه عبدالعزیز خان نومیدهم دقضا وظیفه اجرا کوله.

محمد اسمعیل خان (ژلی نیکه) هم دکندهار قاضی ؤچه په دغه وخت کی دقضا او قاضی القضاتی لقب دغی کورنی ته ورکړه سو.

لومړی وارد شاه محمود سدوزی او اعلیحضرت امیردوست محمد خان په وخت کی محمدسعیدخان (خان ملا) دقاضی القضات په حیث مقرر سو بیا دده زوی ملاعبدالرحمن خان چه انګریزانو دده داجراآتو په خصوص کی تبصری کولی او ویل ئی چه ملا په سیاست څه پوهیږی مقرر سو دده دمهر سجع داسی ده :-

تا قیام رکن ملت ازامیر با فراست
عبدالرحمن قاضی القضات شرع انوراست

ملاعبدالرحمن (خان علوم) دامیر محمد افضل خان او امیر عبدالرحمن خان په دربار کی زیات عزت اوقدر درلود دده دمړینی وروسته دقضا چاری دقاضی عبدالودود خان او قاضی عبدالشکور په نائبی اجرا کیدلی

سعدالدین خان چه دهرات نائب الحکومه ؤ او ۱۹ کاله ئی په شرافت او ایمانداری کار وکړ دامیر حبیب الله خان شهید په دوره کی دقاضی القضات په حیث مقرر سو او ۱۵ کاله ئی وظیفه اجرا کړه دغه کسان ئی نائبان وه فیض الله خان، بابه مراد خان، عبدالحمید خان عبدالمجید خان، میا شرف خان، عبدالشکور خان قاضی

Marfat.com

سعدالدین خان داعلیحضرت امیر امان الله خان په وخت کی مړ سود
کابل په شیوه کیو کی ښخ دی بیا ئی پرځای ورور قاضی عبدالشکور
قاضی القضات مقرر سو دامان الله خان دسلطنت په پای کی دقاضی
القضاتی مسند دتمیز په ریاست واوښت چه قاضی عبدالرحمن پغمانی
ئی رئیس سو دا علیحضرت محمد نادر شاه شهید په وخت کی قاضی
عبدالشکور خان دده دشرعی مشاور په حیث مقرر سو دده دمړینی
وروسته بیله قاضی احمد علیخان څخه چه په هرات کی ۲۳ کاله
دمرافعو قاضی وو بل څوك په دی کورنی کی قاضی نه دی تیر سوی
په ۱۳۴٦ کال کی د اعلیحضرت محمد ظاهر شاه د فرمان په اساس
غلام علی کریمی دقاضی سعدالدین خان لمسی دستری محکمی په
غړیتوب مقرر سو دامیر شیرعلی خان دسلطنت په دوره کی هغه وخت
چه امیر محمد افضل خان مړ سو قاضی عبد الرحمن زیات تکلیفونه
ولیدل دقاضی القضاتی منصب دده مشرورور قاضی عبد السلام
بارکزی ته وسپارلی سو هغه وخت چه امیر عبدالرحمن خان پاچا سو قاضی
عبدالرحمن بیا قاضی القضات مقرر سو دجلال آباد قاضی ،قاضی
عبدالعزیز خان دمزار شریف قاضی ، قاضی عبدالودود خان دتمیز
رئیس محمد اکبر خان دهرات قاضی، قاضی احمد علی خان ټول
دعلمی کورنی څخه وو.

## دقاضی غلام «هوتك» کورنی

دی دکندهار دمشهورو قاضیانو او پیاوړو عالمانو څخه ؤ چه
د امیر شیر علیخان د سلطنت په دوره کی ئی ژوند کاؤ قاضی
صاحب په شرقی او اسلامی علومو کی استاد کل په فقه ، حدیث ، تفسیر
صرف ، نحو اخلاقو کی د تبحر درجی ته رسیدلی وؤ په زهد او تقوای
کی په ټول افغانستان مخصوص په کندهار کی زیات مشهور ؤ
تر اوسه ئی د شریعت پروری او عدالت خواهی قصی هر چیری
کیږی په کندهار کی دا متل گرز یدلی دی «چه ډیره زماده اختیار
ئی دقاضی غلام دی» یعنی قاضی صاحب هیڅوك نه پریښو دی چه
دشرع څخه مخالف څوك ډیره پریږدی همدا شانی دده دقضا په
وخت کی خرکارانو، چوپانانو او سارو انانو ته دلرگی پالښتی

مجموعه اسنادو مدارك چاپ نه شده

گرزو او اجازه نه وه نه چه هغوی حیوانان ووهی ځکه خروا لاړ په خروته ویله «اشه اشه داسی غاور اری لکه قاضی غلام» سید جمال الدین افغان په خپلو یاد دا ښتو نوکی وا ئی چه زه په کندهار کی د قاضی غلام کورته دده د لیدلو دپاره ولاړم او د مجلس څخه ئی مستفید سوم.

امیر شیر علیخان هم دقاضی صاحب علمی منزلت او شریعت پروری ته په قدر گتل زیاتره وختونه به دده کورته «چه اوس دکندهار دقاضی غلام په کوڅی مشهور دی او په شنه ماڼه کی ؤ» ورتلی او دقاضی صاحب په صحبت به ئی ویاړ کاؤ.

قاضی صاحب په فقه او تصوفو کی چاپ سوی او ناچاپ سوی آثار لری چه مشهور اثر ئی (ارشاد الحق) نومیږی.

دی په کندهار کی په (۱۲۳۴) کی وفات سوی دی قبر ئی دشا ولی پیر غاړه دحضرت جی سره دی د مزار لوح هم لری د قاضی صاحب نیکونه د کندهار د زابل د سیمی د سیوری په علاقه کی او سیدل (دمجموعهٔ اسناد ومدارک چاپ نه شده در باره سید جمال الدین افغان) دکتاب په ٦ مخ کی داسی راغلی دی:-

«درقندهار در بازار شکارپور در سرای حتن هند و در شهر رجب نوشته شد مربوط کاغذ ملا عبدالاحد پسر قاضی غلام ۱۲۸۳ همچنان سید جمال الدین افغان در اخیر این صفحه اسمای عده از فضلائی مردم قندهار قرارآتی یاد آور میشود:-

ملا عبد الحق خرقه، ملامحمد صدیق تلمیذ ایشان، قاضی غلام ملا عبدالاحد پسر ایشان صوفی بردرانی، ملا خواجه محمد تلمیذ ایشان، ملا محمد رحیم اسحق زائی تلمیذ صوفی. ملا عبدالرحیم پسر ملا حبو، ملا عبدالحق طال، ملا محمدی، قاضی عبدالرحمن خان ملا، قاضی سعدالدین پسر ایشان، قاضی عبدالسلام برادر قاضی عبدالرحمن (علومی کورنی).

پر او روسته کی دقاضی غلام دکورنی څخه قاضی کوچی په کندهار کی په ۱۳۰۷ کی قاضی ؤ په علم او تقوای زیات مشهور ؤ په تصوف او اخلاقو کی

---

مجموعهٔ اسناد ومدارک چاپ نه شده.

ئې لوی لاس درلود حتی دهغې پرهیز ګاری شخصه به لګي پښې کرار کړ او پر مځکه تللی او کښته به ئې کتل چه میږی ئې تر پښو لاندی نه سی او یاد هوا او هوس خواته ئې فکر متوجه نه سی په اوس کې دده دکورنی شخصه شیر محمد شعشعی ژوندی دی چه

په صرف، نحو او خطاطی کی ښه شهرت لری ددی کورنی د نسب سلسله ښاغلی نیکه ته رسیږی چه دهو تکو د ښاغلی خیلو څانګه ځنی را بیلیږی .

## علامه عبدالعلی آخند زاده (کاکړ)

تقریبا ۵۵ کاله دمخه دجنوبی پښتونستان له ږوبه کندهار ته یو کاکړ عالمی راغی چه دکسی دغره دشادابو لمنو شخصه ئې حساس زړه پوړ دماغ او زیرک ماغزه دځانه سره راوړه دی خالوزی کاکړو او دکندهار دټولو علمی، ادبی او اجتماعی ټولنو غړی وګرزید په اخلاقو او ددوستی په احساساتو سره ئې دټولو په زړونو کی ښه ځای نیولی ؤ عشق او جذبی دومره تر تاثیر لاندی نیولی ؤ چه له وجده شخصه به ئې په بزم کی نڅاکوله درحمان بابا او خوشحال خان اشعار او الهامی نغمی به ئې په داسی ږغ ږغولی چه مړه به ئې په نڅا راپورته کړل دپښتو دنونهالانو یو مشفق مربی، مهربان استاذ، رهنما او معلم ؤ دده دځوانی دوره دارغنداب په ګلستان کی تیره سوه کله چه زمانی دده دیارانو بڼ تالا کړ او دیارانو بزم ئې مات کړ دعشق او جذبی یاران ئې په ابدی سفر ولاړل نو داعندلیب له کندهاره ولاړ او خپل اصلی وطن پښین ږوب او دکوټی باغونه ئې په خپلو نغمو معمور کړل دده په کوټه کی دطبابت دکان خلاص کړ په دی وخت کی دخپل وطن دآزادی دتحریک یو ستر مجاهد سو په ۱۳۴۹ کی دی د قلات دپوهنی وزیر سو.

علامه عبدالعلی په سو تره قیمتی او سپین کالی اغوستل په هغه باندی به ئې قیمتی سپینه چترالی چوخه اغوستی وه په تکه سره بڼه باندی ئې سپینه ږیره ښایسته ښکاره کیدله د جسمانی او

مکانی صفائی هم ډیر پابند ؤ او په دی باره کی به ئی هرچاته تلقین کاوه چه و ګوری پنځه وخته لمونځ په هر بالغ مسلمان فرض دی او لمونځ تر هغه وخته نه کیږی چه دادری بیرونی فرائض یعنی دبدن صفائی دلباس صفائی او دمکان صفائی په ښه ډول پوره نه کړی. دعلامه خوش خوراکی مشهو ره ده دډیر پراخ دستر خوان خښتن ؤ غریب، امیر، لوی او کوچنی به ئی ګردیو ځای کښینول دډوډی په وخت به ډیر په خند اؤ د ا سی لطیفی به ئی بیانولی چه ټول به دخندا شنه سول دماښام پردستر خوان به ئی اکثره عالمان، فاضلان او ولسی مشر ان ناست وه علامه به هغه علمی نکتی بیانولی چه ټول به حیران سول.

دعاید اتو ذریعه ئی زمیندار ی وه له خان ولات څخه واخله تر کابله پوری چه څه لوی خلک او سوداګران وه هغوی به دعلاج دپاره علامه صاحب ته راتلل دبیماریانو څخه به ئی زیاتی پیسی اخستلی چه د غو و قارو سماتل سی او دغریبانو علاج به ئی مفت کاوه علامه خپله یوه لویه کتابخانه درلوده چه هرډول کتابونه پکښی موندل کیدل دعلامه پوپښتو دیوان دشاخ ګل په نامه په کو ئټه کی چاپ سوی دی دی په ۱۲۸۹ - ۱۸۷۲ کی زیږیدلی او په ۱۳۶۴ - ۱۹۴۴ وفات سوی دی.

دغه ئی دشعر یوه نمونه ده:-

مخ ګرزوی په بیرته ، ستمګر ولی له ما؟
جهان په تا رو ښان پټوی لمر ولی له ما

نعمت دی دوصال که را بدل په اور دهجر
غواړی ولی جزا ته دمحشر ولی له ما

معلوم دی ؤ له تاته که اخلاص وی که غرض
منزل دی درقیب که برابر ولی له ما

خفقان به په سبب سره کیدلی دچا له چا
مالګی په تشه خوا کوی دلبر ولی له ما

نن بیاد سپین بارخو دنیمی مچی په عوض
نه اخلی گل اندامه مال او سر ولی له ما

سری شونډی جلا کړی دعبد العلی دلبو
بی نیازه جام دی ټول کی دکو ژر ولی له ما

دعلامه دفارسی غزلی یوه نمونه:-

زوصال تو بشارت که به شب شنیده باشم
به هوای روی تو چو سحر دمیده باشم

ز نظر گهت که آید سوی سینه راست تیرم
زخیال ابروی توچه کمان خمیده باشم

دل عاشقان که دزدد به نگاه چشم شوخش
به فراق اوست سینه چو کفن دریده باشم

چون شکست رنگ شبنم که به پرتو جمالت
چو نظر کنی نگار از گلست پریده باشم

## صوفی صاحب

دی دمولوی محمد جان صاحب زاده د میر بازار مریدو دکندهار مشهور نقش بندی پیر او پرهیز گار ملا وو دده اصلی نوم ملا محمد رسول دی چه په کام ساکزی او په کندهار کی د(۱۲۳۵) په حدود وکی زیږیدلی او پر صوفی صاحب ډیر مریدان او ارادتمندان را ټول وه د ماسپښین و روسته بیاد شپی تر نیمایی پوری به یی ذکر کاوه پخپله یی یوازی شپی دخدای په ذکر تر سهاره تیر ولی او په کندهار کی یی ډیر عقیدتمندان او مخلصان

دمرقع مشاهیر د ۱۸۵ مخ

Marfat.com

درلودل صوفی صاحب داولیا وو تذکری او تصوف زیات مطالعه کول دامام ربانی مکتوبات او مثنوی شریف یی درس کاوه او پر مثنوی شریف باندی یی یوه نا چاپه سوی فارسی شرحه هم لیکلی ده.

صوفی صاحب دعمر په (۵۵) کال په (۱۲۷۸) کی په کندهار کی وفات سوی دی او زیارت یی دکندهار دشمال په یوه سیمه کی دی اوښه معبر او دیوال باندی را گرزیدلی دی.

دصوفی صاحب زیارت ته په هر وخت کی دکندهار متصوفین ملایان او عوام ورځی او دنیکی مدد غوښتنی غواړی زیارت یی ډیر تأثیر ناك او روح خوشحاله وونکی دی دده پر ځای ور وسته ملا قطب اخند کشانی کښینوست چه زیارت یی دکندهار په شمال کی چوڼی ته نژدی دعمومی سړك پر غاړه دی

دصوفی صاحب پر شنخته داسی لیکلی سوی دی.

«مرقد منور برهان المحققین وقطب المرشدین خلیفة الهی و علامهء نامتناهی اکبر مشایخ واعظم اولیاء صوفی محمد رسول قوم اسحق زی منددین زی ریاضات وکرامات او بسیار بود در اسرار و حقایق نظر ثاقب داشت در مقام قرب غرقهٔ محبت بود پیوسته تن را در مجاهده ودل را در مشاهده داشت درسیر الی الله پیر ونبی بود ودر سیر من الله قدم بقدم شیخ بهاؤالدین نقشبند داشت در حسن خلق وادب عدیل در علوم شرعی فقهی نظیر نداشت بسی از علماء وصلحاء سر بر آستان او داشت که تحقیقات علوم شرعی وکتب علوم حقیقی از وی میکردند و صحبت او تقرب الی الله ونفرت از ماسوای اثر تمام داشت (ودر حالت وجد وی) جذبهء قوی به ظهور می آمد که بعضی از آن مجذوبان تا به آخر عمر در همان سکر میبودند و بعضی به همت وی به صحو و هوش می آمدند

و رحلت این مقتداء در صبح دوشنبه سیزدهم شهر ذی الحجه بوده در حالتیکه سن وی پنجاه پنج و سنهء هجری یکهزار و دوصدو هفتاد وهشت بود.

---

نوشته شیر محمد عمل فیض محمد ولد محمد حسن

Marfat.com

ښاغلی محمد ابراهیم خلیل داریا نا مجلی د۱۳۲۸ کال د دلوی په لومړی شماره کی د صوفی صاحب د مزار په باره کی داسی لیکلی :-« مزار صوفی صاحب که یکی از اجلهٔ عرفای عصر خود بوده این مزار واقع است در قریب شهر بشمال مغرب شهر کهنه اصل احاطهٔ مزار که دارای مسجد پخته کاری ومزین وجدید است و باطراف آن قبر ستانی احداث یافته تقریبا پنج جریب وسعت دارد در وسط این احاطه احاطهٔ دیگری که دیوارهایش بیش از یک فت نیست بخشت پخته فرش شده که تقریبا پنج بسوه خواهد بود در این مزار ک است دارای لوحهٔ سنگ سیاه دبل و پخته وچهار کنج بطول دومتر که در چهار طرفش نوشته میباشد.

دور مزار چهار طرف دیوار به خشت پخته و گچ ساخته شده وچهار طرفش بصورت پایه نیز از خشت پخته ترتیب یافته وهر کدام پایه تقریبا بطول سه متر سنگ مرمر در اسرار هر چهار طرف خود به تسمیه وکلمهٔ طیبه وآیات قرآنی مزین است »

د صوفی صاحب د وفات وروسته ملا نصر الدین اخند اسحق زی او بیا جمال الدین اخند زاده او بهاؤ الدین اخند زاده کښیناستل.

## ملا شیر اخند

د ددا امیر حبیب الله خان شهید په دوره کی ژوندکاوه اصلاً د نوزاد د سیاه پشتی د نورزو شخه ؤ د ده د عسکری مسلك سره مینه درلوده چه په عملی توګه د کلمی طیبی داعتلاء او د وطن د ساتنی د پاره خدمت وکړی ده تل ددین او وطن د ساتلو د پاره د خدایه غزا غوښته او په وزلی عسکری کی یی په رشتینتوب او نارینتوب خدمت کاؤ او بیخی لږ د عسکری چوپړی شخه د بالندی وت هغه وخت چه په دپیری او ګزمی شخه خلاص سو په یوه ګوښه کی به د خدای په عبادت او ذکر مصروفه وو.

وایی چه په دی ترځ کی ملا صاحب ته کشف الحال ور پیښ سو او مر بوط کسان یی کرار کرار په خبر یدله چه په بای کی صاحبمنصبانو نه په ده ملا ته له او نه یی پیره او ګزمه په کولهځکه دی د عسکری خدمت شخه ووت او د پاتا و پرغاړه د چوڼی پر مخامخ په یوه کوڅه کی د خدای په عبادت او ریاضت بوخت سو تر څو چه هلته د پیری سپین ږیر تیا په عمر په ۱۳۳۰ کی وفات سو او د چوڼی لویدیزی خواته دغره په لمنه ئی ښخ سو.

زیارت یې ډیر مشهور او رسنده دی.

## ملا دوران آخند

دی یو متشرع او خواری کښ ملاؤ دکندهار په جنوب لویدیځ کې د رمباسی په کلي کې اوسید فقه او حدیث ئې طالبانو ته ویل کلیوالو او شاؤخوا خلکو دیو ښه عالم څخه علاوه صاحب حال سړی هم باله دجمعې په ورځو کې په حسب عادت ملاصاحب دجمعې دلمونځ د؛ داکولو دپاره دکندهار ښارته راتلی دښکار پور دروازې دباندې چه یو مجذوب ملنګ ؤ او دروزني بابا یې باله ده دشرع مخالف هر څه ته ویل او ښکنځل کول ملا صاحب دروزني بابا ښکنځل په خپله وریدل ده او طالبانو هغه ته لاس واچاوه او سخت یې دواهه په نتیجه کې دی لاکور ته نه وو رسیدلی چه دروزني بابا په حالت ګرفتار سو کالي یې پر ځان څیري کړه او بیخي مجذوب سو خلکو به حاجتونه په زړه کې ورته نیول او ده دښکنځلو په اساس او مناسبت به یې تفسیرول وایي چه دی ناڅاپه ناست ؤ او س ئې زیارت دښکارپور دروازې دباندې دی دکندهار ټول خلک عقیده ورته لري ده دامیر عبدالرحمن خان دسلطنت په اوایلو ورځو کې ژوند کاؤ.

## ملا محمد صدیق (کاکړ)

ډیر ریاض او زاهد سړی ؤ په ځوانی کې داسي سکر او استغراق ور پیښ سو چه غړوته ئې مخ دنیوی او خلوو کالله کلي او کورته رانه غلی او دوا بنه ئې خوښل دی چه په طریقت کې دمشهور ملا علم اخند دزوی احمد جان صاحب زاده (په ۱۴۱۱ ه ق مړ دی) مرید ؤ کله چه دخپل پیر حضور ته راوستل سو پیر ... حال راغی دسیر او سلوک په زیاتور مزو نو ... صاحب دسوزه ډک شعرونه لري دکندهار په زاړه ... کې په (۱۳۴۷ ه ق) مړ دی د ده یوه نعتیه داده -

Marfat.com

دخدای پرپار وا صلو وکړی دادعا پهحرم
چهخوار صدیق دیمشرف کړه بوواربیاپهحرم

کو گل یی شوسوی سکاره دمحبت په لمبو
زړه یی په خیر دپروانی په شوق فدا په حرم

او ښکی یی ځی په لپو لپو بی اختیار ه پر مخ
غواړی له خدای څخه خاته دوروستی شاه په حرم

دعقل اورته به په هیڅ توگه راستون نه شی بیا
زړه یی داخل دعشق اثر کړ دغه ستا په حرم

ستا دوصال په تصور کی هسی ډوب دی همیش
چه بی له تا بی نشته هیڅ د تمنا په حرم

نور څه آرزو په ژوند کی نه لری له خدایه غریب
که یی لیمه یوو ار ور ونهسی دآشنا په حرم

وایه سلام دخوار صدیق په هزار عجز اوادب
چه مشرف دخدای رویداره شی صبا په حرم

## حاجی جمعه

حاجی صاحب یوعابد اومتقی سړی وودخدای په لار کی ئی زیاتی خوارۍ کښلی او درسول صلعم حضورته به په پښو تللی.

که څه هم حاجی صاحب دکندهار دزوړ ماشور په کلی کی اوسید خو دکندهار په زیاتو برخو کی په بزرگواری اوصاحب حالی مشهور ؤ اوهر چا دنیکی مددغښتنی غوښت او په لوئی یه مانه حاجی صاحب دخدای پهمینه اود رسول صلعم په یاد سوزنده شعر وته ویلی دی او د مشهور میا عبد الحکیم صاحب مرید ؤ.

Marfat.com

دغه ئی یوه عرفانی بدله ده :-

فن دباغ په لوری تله کا صنم ور وو رو
په خمار خمار کاته کاهمدم وروو رو
سره گلان به دباغ حسن ځنی پور کا
که ئی و لیده دحسن ارام ورو ور و
چیری نه وی‌چه دی پښی‌سی‌پری از اری
پرگلانو باندی یاس زده قدم ور وو رو
دبهار گلان به خاوری په مخ موزی
نازنین که په خنداسی خرم ورو و رو
تازه والی دگلانو په شبنم وی
یار دځان په خولو ولو هردم ورو ورو
خماری سترگی چه پورته کړی خماری
نرگس گوری پښت پاته هر دم ورو ورو
د دیدن طاقت دی نه وینم په ځان کی
و افتاب ته څوك کتلای سی سم‌وروورو
دمعشوق په مدحه دمه دعاشق سی
ځکه لیکم ئی صفت په قلم ورو و رو
جمعه خاوری نن د تلليو عا شقا نو
لا ندی باسی اوسنی تر قدم ورو و رو

حاجی صاحب په کام گرجیزی بارگزی ؤ او په (۱۲۵۹) کی هغه وخت چه‌حج ته تللی ؤ دراز او نیاز په وخت کی وفات سوی دی .

Marfat.com

## ملا عبدالباقی (کاکړ)

دی یوعابداو پارسا عالم ؤ شپه او ورځ دخدای په یاد اودمخلوق سمی لاری ته وستلو ته لگیا ؤ.

د ملا صاحب پرو ینا او کړو خلکو زیاته عقیده درلوده ارشاداو تبلیغ ئی زیات اغیزه ناك اوجذب کوونکی وو د همدغه کبله ملا صاحب زیات مریدان او اخلاص منډان درلودل.

ملاعبدالباقی آخند متشرع متصوف ؤ دشریعت د لاری څخه ئی طریقت غوره کړی ؤ دهغه وخت څخه چه په څه پوه سوی ؤ تهجداو شب خیزی ئی نه وه پری ایښی اود حق په اظهار کی ئی د وخت د حکمرانانو او لویانو څخه ستر گه نه کوله ملا صاحب د خلکو د ارشاد او رهنمائی دپاره یواخلاقی او تصوفی کتاب په نظم دتهذیب الوا جبات لتخریب العادات په نامه لیکلی دی دده تصوفی شو بیتونه دادی:-

دساقی شراب دعشقه عالم ټول وینم گلرنگه
خوشحالی پر حال دهغو چه ئی زړه پاك شوله زنگه
خم په جوش پیاله په دور قلقل شو دصراحی
مستانه په رقص راغله درب ودرب دپا کوبی
دلته محضی عکس وظل دی حقایق غواړه هوری
چاچه شاکړه دی نشی ته ژر به وکړی ننداری

ملاصاحب دعمر په (۱۰۰) کلن په چار شنبی ددلو په (۶) په ۱۳۰۴ ش وفاته سوی او دکندهار په عمومی ادیره کی ښخ دی دپاته پیروانو څخه ئی ملا عبدالخالق اخند زاده دی چه دکابل درو ازی دچنو په مسجد کی هر ماز یگر دور کوی.

هغه وخت چه سردار محمد داؤد خان دکندهار نائب الحکومه او عسکری قوماندان ؤ دملا عبدالباقی اخند قلمی دیو ان ورته ور کړه سوی ؤ او بیا هغه سردار حبیب الله خان طرزی ته دمطالعی دپاره ورکړی ؤ چه دده څخه بیا عبدالرزاق خان ټولیمشردحربی

---

دملا صاحب دخطی دیوان څخه چه دبناغلی بینوا څخه وی او په ۱۳۲۷ کی خیال شوی دی.

ر شدیه معاون اختستی‌ؤ اوپر هغه باندی ئی په دری داسی تبصره لیکلی‌وه:-

«مولینا عبدالباقی صاحب ولد مولینا عبدالرسول صاحب مرحوم قوم کاکړی ساکن قندهار تولد قرن ۱۳ هـ در سن ٦۰ و ۷۰ قریبا ۱۲٦۵ هـ . این شاعر علوم مروجه را از صرف ونحو منطق و حکمت وفقه واصول وتفسیر واحادیث مروجه اتم واکمل در خود قندهار نزد پدر وسائر علمای همان بلده شریفه تحصیل نموده لیکن در علوم احادیث وتفسیر مهارت زیادتری داشتند در سن (۵۱) سالگی ایران، هند، عربستان سعودی، عراق، مصر را سیاحت نموده در ماندگی و تنزل مسلمین را سخت متأثر نموده کتابی بزبان افغانی (تبیین الواجبات) به نظم کشیده که مشتمل بردوبطن است بطن اول (۵) بنای مسلمانی بطن دوم کتابش اخلاقیات است بشدت تمام رذایل مثل ریأ ،غیبت، تعصب قومی، کذب نمامی، غش، خیانت، رشوت، سود، احتکار، بخل، حسد، بغض، کینه، اصراف وغیره عادات پست ورذیل تنقید ونهی مینماید.»

د کلام نمونه یی.

څه به وایم خپل الله ته تی راوښیه پښتو
مردی دمیره نه‌ده‌مرد به‌نه‌سی‌په بریتو
چه مرداری غوښی نه خورم عادتگی ترگر زولی
رشوت خورم په خلور لاسه چه عادت رخصت راکړی
خلق ویښ کړی له غفلته سترگی رو نی شی له خوا به
په ډیر غم په واویلا وو په حسرت کی گرفتار
ډیر اسلام تر کفر لاندی کلمه سوه ځنی ور که
چه دینی غیرت تری تللی ځکه شوه په خواری خوار

خلاصه هرگاه به نظر حقیقت دیده شود تمام اوصاف حسنه را ملا صاحب موصوف مالك بوده وخیلی بجا است که اگر جناب شانرا یك مسلمان متقی وحقیقی بگوئیم جناب مرحوم ملا صاحب مدت بکسال وهفت ماه در وقت نائب الحکومگی سردار داؤد خان امرار حیات داشت جناب شان در قرن ۱۴ هجری (۱۳۳۵) هجری تقریبا به عمر (۷۰) سالگی وفات یافته ودر قندهار مدفون است.

دده تبیین الواجیات لتخریب العادات په ۱۳۴۱ ه کی حاجی غلام محمد خجندی کندهاری تاجر په لاهور کی طبع کړی دی ددغه کتاب په دریم مخ کی (در بیان دعاگویی پادشاه اسلام) په عنوان کی داسی وایی:-

ضیاء الملته والدین دی له غفرانه بهر ورسی
هغه ځوك چه خلیفه دی په قرآن دی منور سی
فخر دین شمع دولت احمدی ملت سراج
دخلت په خلعت سناد شه له حکمته بی شه تاج
ته راضی شی په دره کونه میسر دهرعیسر
له امیر ابن الامیر ابن الامیر ابن الا میر
شه امیر حبیب‌الله ته کسب وکار دحبیب ور که
معاون‌دی نصر الله‌سی په‌نصرت ئی‌مظفر که
که په خپل‌عمر یوه دعالرم په خدای قبوله
دپادشاه په شان کی سنایی هم مشروع شوه هم‌معقوله
سعادت‌دسلاطینو لکه ابر دنیسان
مشترك ددرست عالم سو که انسان دی که‌حیوان

دسجدی په مسئله کی وایی:-

پر مردار ځای دی لستوڼی یا لمن و غوړ وله
نور سجده دی باندی وکړه اعاده شوه پر تابله
ته نوژرتندی را واخله په ثابت محل یی کښیږده
او که نوی ناروا سو دغه لمونځ دی بالکل پریږده

که پر عینی نجاست باندی تندی کښېږدی دیندار ه
ژر دستی بی بیرته واخله لمونځ دی بایلود برخوردار ه

دد غه کتاب په (۱۰۰) مخ کی د(من غشنا فلیس منا و ا لمکر والخداع فی النار)

خیانت له مسلمانه سره منع دی په دین کی
فریبنده وحیله گرشو په انکار بی آتشین کی
چاچه غش په مال کی وی هغه نه دی ز موز له ډلی
داحدیث دمصطفی سو چاله نشته چه داولی
که موچنه که ځپلی شوه چه په میان کی خرڅوړی
دکومک لحاظ یی تویی په قیامت به سکته گوری

## سید یعقوب بابا

دمحلی روایاتو له مخی دامیر شیرعلیخان دپاچاهی په اومړی دوره کی ژوندی ؤ دکندهار دامارت دکلی چه دکندهار ښار جنوبی خواته پروت دی او سیدو نکی ؤ:

دغه سیداو دخدای نازولی دخدای په عبادت او ریاضت شپی او ورځی تیرولی ددنیا اودژوندانه شیانو سره ئی هیڅ علاقه نه ساتله او زیاتره عمر ر وژه ؤ وائی کله چه دی سخت نا جوړه سو نو اخلاصمندانو ته ئی وویل چه خدای ته می پر ابر دی او څه چه دخدای څخه دی په راضی یم خو هغه وخت چه ناجوړی زیاته وربانډی غلبه وکړه او بی هوښه سو ارادتمندانو دی ښار ته د معالجی دپاره راوړ خو دلته یی معالجه ونه سوه او دوفات ویره ئی زیاته سوه هغه وخت چه دی ئی کورته بیوله پر لاری دنوښ جان والی غاړی ته نژدی چه دکندهار دښار په جنوبی خواکی پرته دی وفات سو

دده پرزیارت به مجمر را گرزیدلی او څنګ ته ئی دتوتانو ونی ولاړی سته دجمعی په شپه زیات خلک زیارت ته ورځی او دنیکی مدد ځنی غواړی

## سید عطو جان آغا

دی د کندهار د مشهورو سیدانو او پیرانو څخه دی په ښه سړیتوب او بزرگواری زیاتو خلکو پیژندلی دی پخی کورنی او نازولو سیدانو ته منسوب دی دې د سید یعقوب اغا چه د خپلی زمانی یو زور ور او منلی سید ؤ لمسی دی په کابل، کندهار، هرات کی ئی زیات مریدان درلودل تر طریقت په شریعت پابنده ؤ شریعت ئی د طریقت لار ښوونکی گڼلی دی اصلا د کندهار د بلده او سیدونکی وو چه د کندهار جنوب خواته یو کلی دی او د ډند په ولسوالی اړه لری چه هم هلته وفات سوی دی دده په خصوص کی سید محسن آغا کندهاری داسی وائی :- (۱)

چه رحمت پر کل افغان دی　　　سید یعقوب ماه تابان دی
او نمسی ئی عطو جان دی　　　نورانی پر دی جهان دی
په لکوئی مریدان ؤ　　　په زړوئی مخلصان ؤ
بلده دده مسکن ؤ　　　وعالم ته مبرهن ؤ
شه مدفون په بلده کی　　　سیال ئی نه ؤ په فانی کی
دوولس سوه د هجرت ؤ　　　څو لا نور پر زیادت ؤ
چه پدرود ئی د جهان کړ　　　ډیر روښان ئی آسمان کړ

## سید طوطی آغا

سید طوطی آغا په کندهار کی ډیر متقی او د بدو څخه بیزاره سید وو تل به ئی د خدای او رسول نوم و نه به خوله کی وه بشاش او نورانی سړی وو خلکو به دده څخه د نیکی مدد غوښت د به په عجز او الحاح ورته ویله چه زه څه نه یم خدای ته رجوع وکړی

دسید طوطی په گفتار خلکو زیاته عقیده درلوده څه چه ئی ویل

---

(۱) سید محسن د سید عبدالرحیم زوی د کندهار مشهور ادیب او منشی ؤ په سراج الاخبار کی ئی زیات شعرونه شته په ۱۳۴۱ په کندهار کی مړ دی .

هغه په کیدل سید طوطی د جنوبی پښتو نستان د پښین د علاقی شخه کند هار ته راغلی ؤ او د کندهار دده خوجی په کلی کی د خدای په ذکر او عبادت اخته وو په ۱۳۰۰ کی مړ دی او دده خوجی شمال ته په هدیره کی ښخ دی او تر اوسه ئی درو پیان ورځی ددده په خصوص کی سید محسن آغا کند هاری داسی وائی : -

چه د کل سید صوفی دی هغه شخص سید طوطی دی
تل مشغول په لا اله ؤ نا ز و ر داره د مولا ؤ
د ده اصل ؤ له پښینه ای زما و رور ه امینه
د ه خواجه د ده مسکن ؤ چه معلوم ؤ مبرهن ؤ
نما یانه ئی زیارت دی د خالق پر ده رحمت دی
د شمال پر طرف واوره هدیری ته ئی وگوره
پر سنه دد یر لس سل دی وفات شه زما دل
پاک سبحان دی په جنان کړی پرخپل کام دی فیض رسان کړی

## دهرات دروازی شهیدان

هغه وخت چه انگریزانو د بولان له لاری ځخه پر کند هار حمله وکړه په دی وخت کی دکندهار حاکم سردار کندل خان نو میدی .

دغه سردار دانگریزانو دمنظمو قواؤ سره جنگ ونه سو کړ ای او کندهاریی بی مدافعی پریښودی په دی وخت کی د کندهار وطن پرستانو ډلو ډلو په بیلو ځایو نو کی دانگریزانو دلښکرو سره جنگو نه شروع کړل دهرات د دروازی په جنگ کی د کندهار د مسجد ونو ځینو طالبانو او د ښار شو ننگیالو ځلمیانو دانگریز پر یوی مجهزی مفرزی حمله وکړه او دیوه سخت جنگ ځخه و روسته زیاتره یی شهیدان او څه یی تپیان سول .

Marfat.com

دغه شهیدان د هرات د روازی د بانـدی چه یـو خاورین دیوال پر اگر ځیدلی دی پراته دی اوسرته یی د اوی تو ت و نه ولاړوه چه مخصوص دجمعی په شپو کی شمان باندی لگول کیدل او دتوت په اکثرو ښاخونو کی پوئی رنگ رنگ ټو کران ځړیدل ځینو په سره بیر غونه در لودل خو په کندهار کی دعصری عمرانی نهضت دشروع کیدلو اود مفاخرو دیادولو او حرمت کولو په لړ کی په ۱۳۳۷ کی ددغو شهیدانو زیارت همجوړ شواو په افتخار یی یوه ښکلی مناره ور باندی تعمیر سوه چه شنه گنبد ه یی دلیر ی ځخه توجه جلبوی ۰ وایی ددغو شهید انو شمیر اویا تنو ته رسیږی چه دافتخار دځلی ختیز خواته پراته دیچه اوس ټـو لـو ته په یوه لوبرین قبر کی ځای ور کړه سوی دی ۰

دکند هار خلك دغو شهیدانو ته زیاته عقیده لری اووایی چه زیاتره کسان یی طالبان دی ددغو شهیدانو په ځلی سره دهرات در وازه لویره ښکلی او متبرکه سوی ده ځلی دهرات دروازی دچوك په منځ کی واقع دیچه د هری خوا خلك اوموټ ونه باندی ځرخی او را ځرخی

## ملا علم اخند

ده خپل ابتدایی تحصیلات دجنو بی پښتو نستا ن په ږ وب او کویټه کی پای ته رسولی او بیا کندهار ته راغلی دی ، فقه، حدیث اخلاق یی طالبانو ته درس ور کاوه کله چه ددرس ځخه په خلا ص سو بیا به دخدای په عبادت اوریاضت بو خت وو او د غسی کرا ر کرار دزهد او تقوا نهایی مرحلی یی طی کولی دی په طریقت کی دمیا شیر محمد هوتك مرید وو دطا لبانو علا وه د کند ها ر زیا ت خلك یی اخلاص مندان وه خپله ملا صاحب دکا کړو یوی مذهبی او صاحب حال کورنی ته منسو ب دی ۰

Marfat.com

دزړ تیا په سن په ۱۲۶۹ کی وفات سوی دی او په خپل کلی کی دده خواجې شما لی خوا ته چه همدغه کلی دده په نامه یاد یږی ښخ دی او تر اوسه یی نر او ښځی زیارت ته ورځی.

دده دمعرفی دپاره دغه دوه بیتونه دلته را نقل کیږی:-

به علم شریعت آمد به دهر   به علم طریقت عجب بحر نور

## سر دار مهر دلخان «مشرقی»

که څه هم سردار صاحب دشعرا وادب په دنیا کی زیات شهرت لری او دده کور په کندهار کی دشعراؤ او ادباؤ لکه میرزا حنان، حاجی عبدالله پوپلزی، صدیق اخند زاده هوتك، ملامیران طرزی مرکزؤ خو بیاهم یو ښه متصوف او متقی سړی ؤ په اخلاقو او تصوفو کی ئی زیات معلومات درلود.

ده په تصوف کی د(جمع الجمع) په نامه یو کتاب لیکلی دی او دشعر دیوان ئی هم زیاتره تصوفی رنګونه لری او عارفانه نکتی پکښی زیاتی دی.

دغه خدای یاری او خدای دوسته سردار په کندهار کی په (۱۲۱۲ه) دمحرمی په میاشت زیږیدلی او دجمعی په ورځ ددریمه خور په ۲۷ (۱۲۷۱ه) د ۵۹ کلو په عمر وفات سوی دی او دحضرت جی بابا په مزار کی ښخ دی.

میرزا احمد نومی شاعر دده دوفات نیټه داسی ذکر کړی ده:

احمد از هر کس تفحص می نمود   سال فوت آن شه اقلیم جود

هاتفی بنهاد سر بر پاش گفت   منزل او باد جنات خلود

میرزا حنان دده په مرثیه کی داسی وائی:-

وجوار ته دمولا سردار قرین و لاړ

چه مرغوب دکل عالم ؤ په تحسین و لاړ

دهنر او علم کان د حیا بحر

په خلقت د نیکنامی څه ښه رنګین و لاړ

په جیفه ئی د د نیا ځا ن ککړ نه کړ
د عمل په صا بون پاکه جا مه سپین و لاړ
فیض رسا نه لکه لمر و کل جها ن ته
مستقیم پر شر یعت حا می دد ین و لاړ
په حکمت ئی ا فلا طو ن شا گر د دعصر
چه تقر یر ئی ؤ شیر ین ترا نگبین و لا ړ
اعتما د با ند ی د کړ و نه د ی (حنا نه)
چه سر د ار مهر د ل له د ی د نیا یقین و لا ړ

پوهاند عبدالحی حبیبی په خپله یوه تحقیقی مقاله کی چه پر مشر قی ئی د ۱۵ ۱۳ کا ل د کا بل مجلی په ۶۳ گڼه کی لیکلی ده داسی وائی :-

«وحدت مسئله ایست که شالوده تصوف را بر آن ریخته اند اهل تصوف وعرفا در موضوع توحید دو دسته اند شهودیها ووجودیها سردار مهردلخان نیز همچو عرفا واساتید سلوک ومعرفتش شئون ماومن وکثرت را انعکاس همان وحدت صرف می بیند وجز این را تماماً وهم وخیال می شمارد لکه چه وائی* :-

وحدتست اینجا واز کثر ت همین ما و من است
خلق ر ا سر گشته می د ار د چنین ا و ها مها
د ر حقیقت سایه ر ا شخص است هر جا متحد
ظا هر کثر ت ز و حد ت گر جد ا افتا د ه ا ست

مشر قی بعد از اینکه کثر ت را انعکا س از آئینه و حـد ت می شمارد با متانتی تمام درین میدان تنازع طا ئفین قدم میگذ ارد واین دو مسلک متباین را بزیر یک نگاه انصاف کارانه میبیند واین رایی است که مشرقی را از برکت فیو ض انفا س قـد سه مر شد

* یا د ی از رفتگان ۱۰۹ مخ

بزر گوارش(که از فیض یا بند گان با ده سر شا ر تحقیق حضرت مجدد رح بو د) نصیب شده است مثلا درین ر با عی هر دو دسته را خوب ستوده اند:ـ

گلز ا ر (شهو د) ر ا بها ر د یگر ا ست
صهبای (و جـو د) ر ا خما ر د یگر ا ست

گر د ید ه ا لف به چشم من و تو
د ر عا لم تـو حید شعا ر د یگر ا ست

ظا هر یظهو ر همه ا شیا است عیا ن
بـا طن ز بطـو ن جمله گـر د یـد ه نها ن

د ر جمله جها ن او ل وآخر همه او ست
بی ا و ل و آ خر نه نها ن و نه عیا ن

همچنین درین ر باعی بمیدان نزاع طرفین چه خو ش منصفا نه قدم می نهد:ـ

خلقی (همه زو) گو ید وجمعی (همه او ست)
فر قی نبو د که ( او است) یاجمله(از و است)

گر نیک و بد ی هست ز کسرت مید ان
د ر عا لم تو حید نه ز شت و نه نکو است

هر قطر ه که ا ز بحر جد ا گر د ید ه
بحر ی ا ست که از قطر ه د و تا گر د یده

نه مو ج و حبا بست و نه بحر ا ست نه آ ب
خو د بو د خو د آ مد خد ا گر د ید ه

کا بل مجله ۱۳۱۵ کال ( ۶۳ ) کنه

Marfat.com

(مشرقی) پردی عقیده لری چه صاف زړه بنده ګان ټول کائنات یو شانی وینی لکه چه وائی :-

مشرب اهل صفا را کفر و دین یکسان بود
عکس یکسان می نماید پشت ورو آئینه را

«مشرقی» دغه فلسفه چه پوه سو م چه په څه نه پـو هیږم داسی ادا کوی :-

عالم همه در فکر محال است اینجا
پیدا نه ره قرب و صال است اینجا
هر کس که زند دم از وصال تحقیق
وهمست و قیاس است و خیال است اینجا

دده یو عرفانی غزله :-

لب از تشنگی خشک همچون صدف
ز چشم اشکریزان چو در خوشاب
دلش داغ چون لاله از تشنگی تشنگی
جگر ز آتش جسر تش چـون کباب
در آن دشت دیدش یکی عاقلی
بسی مستمند و حـزین و خـراب
بدو گفت کای خسته بینوا
چه داری ز بهر چه این اضطراب
جوابش همی داد آن تشنه لب
که هستم درین دشت جویای آب

Marfat.com

بخندید دانا و در خنده گفت
یکی نکته روشن ترا ز آفتاب
بموج سرابی چه دل بستهٔ
که غیر فریبی در و نیست آب
بگردان ازین ره عنان طمع
که لب تشنه میگردد ازوی سحاب
بجز خون دل نیست آبی درو
جز آبله نیست در وی حباب
جهان (مهر دل) چون سرابست و بس
نگردیده ازوی کسی کامیاب

* مشرقی خپل ځینی شعرونه د (مهر دل) په نامه هم ویلی دی او داسی ګمان کیږی چه تر تخلص د مخه یی ویلی دی لکه چه وایی:-

شهره گشتن بجهان غیر سیه رویی نیست
(مهر دل) کاشکی نامت ز نگین بر خیزد

## ملا اکو اخند

ملا صاحب ډیر عابد او پرهیزګاره سړی وو هیڅ بی اودسه او د خدای بی یاده نه ګرزیدی د کندهار په سرپوزه کی یی په یوه کلی کی ملایی کوله او د خدای مخلوق یی د بدی او ګناهونو مخه را ګرزاوه ملا صاحب د پوپلزو د کام دستانه ؤ مخه وو او خپله سردار کهندل خان زیاته عقیده ورته درلوده د مرغان خلک یی کرامتونه یادوی وایی دی د ډیر سپین ږیرتوب په سن وفات سوی دی زیارت یی د هلند د ولسوالی د مرغانو د کلی د چمن په ختیزه خوا کی دی ډیر خلک ورځی.

# سردار پردل خان

سردار پردل خان دامیر دوست محمد خان یو ادیب فاضل او عارف ورور دی چه په (۱۲۰۰) ه کی زوکړی او په (۱۲۴۵) په کندهار کی وفات سوی دی او دحضرتجی صاحب په هدیره کی ښخ دی پردل خان په پښتو او پارسو شعرونه هم ویلی دی چه یوه نمونه یی دا ده:-

وی گوری دگل په شان می ژړ رخسار دیار دی　　عالم یی تمه دار دی

یو دی بوی دگلاب راغی　　زړه می په تاب راغی

پروت په بیغمی وم یو بشرمی په خواب راغی　　پر مخ می سیلاب راغی

وینښ یی کړم له خوبه بیا پیری که انسان راغی　　او پر مخ می باران راغی

پری خوبه یی نزدم چه په مینه کی می یار دی　　عالم یی تمه دار دی

د ده په منقبت کی دسردار غلام محمد خان طرزی مور وائی:-

«سردار غلام محمد خان می دزوکړی په وخت کی خپل مشرا کا سردار پردل خان ته چه په ظاهر او باطن کی دمعرفت خاوند ؤ او دقطب زمان حضرت جی صاحب دبا کماله مریدانو څخه ؤ حضور ته ور وست چه دده دعمر دبقا دپاره دعا وکړی ده غلام محمد نوم باندی کښیښودی چه دمجدد صاحب داولادی دنومانو څخه دی او دده ددعا په برکت زما اولادو پائیدی.

# سلطان محمد (خالص)

دی دکندهار دمشهورو پوهانوا او فاضلانو څخه و و چه د اعلیحضرت امیر شیر علیخان په دربار کی ئی ښه قدر او منزلت درلود او دمشهور حبو اخند زاده دزوی عبد الرحیم اخند زاده دشاگردانو څخه گڼل کیدی.

ددی سره چه اهل دنیا وو نسبتی تقوای او عبادت یی نه پریښاوه دعقبی او دنیا چاری یی متوازنی سره ساتلی وی.

خالص صاحب دغازی محمد ایوب خان سره دمیوند په جهاد کی گډون کړی وو او په کندهار کی دده دپاچاهی دلویو طرفدارانو څخه گڼل کیدی.

---

مقدمه دیوان طرزی افغان

Marfat.com

د۱۲۹۷ کال په روژه کی چه سردار محمد ایوب خان ایران ته ولاړ دخالص صاحب ژوندهم په کندهار کی تنگ سواو دپاکستان دکراچی په ښار کی او سیدی خالص صاحب دحرمینو په زیارت مشرفه سوی دی او دمنځنی ختیز زیاتره عربی هیوادو نه ئی لیدلی دی او په ترکیه کی مړ دی.

خالص د«سلطانی تاریخ» په نامه دوه ټوکه دپښتنو تاریخ لیکلی دی چه لومړی ټوک یی دپښتنو دسیاسی حال څخه تر (۱۲۷۹) هجوری پوری او خپله ده په ۱۲۹۸ کی په بمبی کی چاپ کړی دی او دوهم ټوک یی چه معاصر تاریخ دی دځینو سیاسی ملحوظاتو په اساس دامیر عبدالرحمن خان په وخت کی ضایع سوی دی.

خالص صاحب دپارسی شعر یو دیوان لری چه زوی یی محمد ابراهیم دده دمړینی وروسته راټول کړی دی دا دوه بیته دده دیو مناجات څخه دی:-

اگر فضلت نگردد دستگیرم　　ز شر نفس خود دردم بمیرم

ز شر نفس و شیطان ده امانم　　مگردان جز به ذکر خود زبانم

خالص صاحب په قوم نصرت زی بارگزی دی

## میرزا حنان

میرزا حنان دسردار مهردل خان دعلم، ادب، تصوف دانجمن بل مشعل ؤ.

دی دمحمد حسن بارکزی زوی دی چه دېند دولسوالی په مرد کلا کی اوسیدا او دسپینږوتیا په سن په کندهار کی وفات سوی دی لکه چه وائی -

دحنان قراری څه غواړی دلبره

چه رسوا کړ داستا عشق په کندهار کی

په دولت کی دخوانی یی رحم بویه

مین شو پر تا حنان په سپینه ږیره

میرزا حنان په پښتو او فارسی زیات شعر ونه او مرد ف دیوانونه لری دده یو پښتو شعر دادی:-

Marfat.com

په جنت نه یم خوښ بې ده په در دیار مې قسم
خوښ په لذت یم دخوارۍ په اعتبار مې قسم
زړه مې له تاوعده دوصل هر گز ونه لیده
په نا میدی دتورې شپې دانتظار مې قسم
پروا په گلو په خارنه لرم دجنون له فیضه
په سینه صافه آئینه د نوابا د مې قسم
که مې سرو لار سې ستا په مینه لاخوشحا له یم زه
په تیره تیغ داستاد ورو ځوجو هر دار مې قسم
تور بخت مې ونه لیده هیڅ ستا دکاکل شب قدر
په تورو مشکو ستا د زلفو په هر تار مې قسم
ستا دگلگون رخسار له شوقه زه (حنان) دا وښکو
گلان کرمه هرگړی په لاله زار مې قسم

## ډنگر بابا

دمحلي روایاتو له مخې دسردار محمد ایوب خان دمیوند په جنګ کې پنځوس کلن وو او دمیوند غزا ته یې کندهار یان او ځوانان تحریکول ور وسته په زهد او تقوای مصروف سو او دده خوجې په سر کې په یوه جونګړه کې دخدای په عبادت او ریاضت لګیا وو دده زیارت او س په دې شهرت لري چه خور ده یې کوچنیان دخاورې خوړلو څخه را ګرزوي.

## شمس الدین «کاکړ»

شمس الدین کاکړ دکندهار دګلچا بات په کلي کې زوکړی او لوی سوی دی لکه چه وایې:-

لکه لعل په ایروکې وي بې قدره
هسې پروت دی شمس الدین په قلیچ آباد

شمس الدين کاکړ د شعر او ادب څخه علاوه په فقه، حديث، تفسير رياضي، فلسفه او تصوفو کې کامل معلومات در لود او په خپل ديوان کې يې د دغو علومو اصطلا حاتو ته اشاره کړې ده لکه چه وايي :-

که يې ستاشوندې روانه کړې په شرع
شمس الدين نور نا ملا دی ملا مه شه

ده (دسراج المواتی) په نامه په فقه کې يو کتاب ليکلی دی شمس الدين دخپل ديوان په لومړی مخ کې دخپل ديوان نيټه ۱۲۳۸ ﻫ ښودلی ده لکه چه وايي :-

له تاريخه د هجرت کړم و تاته روايت
دهجرت کلونه څه وو دوولس سوه ديرش اته وو
ماتمام دوهم دفتر کړ تر اول مې مختصر کړ

شمس الدين لاهور او پنجاب ته سفر کړی دی او په يوه غزله کې يې دسکانو او پښتنو جنگ بيان کړی دی د پښتنو د والي سردار محمد عظيم خان ئې ستاينه کړې ده او د پښتنو په شکست او کمزوری يې افسوس کړی دی لکه چه وايي :-

ربه ته په پښتانه وکړې نظر په عزت د خپل حبيب خير البشر

دده يوه غزله دا ده :-

برايي مې خوب ليده چه مخ پر کور ځم
په هوس لکه بلبل د باغ پر لور ځم
چه د خپلو مريي و تښتي بيا راسي
زه دا هسې و خپل يار و ته مختور ځم
کندهار چه دا ستو گنې وطن نه دی
باری څه کړم په زيارت د پلار او مور ځم
په نصيب به مې ديدن له ياره کيږي
شمس الدين چه اوس له ښاره دلاهور ځم

---

پښتانه شعرا دوهم ټوک ۴۷۳ مخ

# ملا حسن آخند دتلو کان

ملا حسن اخند په کا م سا کزی دی چـه خپله سا کزی دپښتنو ستا نه او پرهیز گار کام دی. او ټول یی احترام کوی او دنیکی مدد غوښتنی غواړی دغه متقی او پرهیزگار اخند دکندهار لویدیزی خوا ته د۲۲ میله په فاصله په تلو کـان نو می کلی کی اوسیدی دموسیقی او ساز په وخت کـی به د خـدا ی مینی او محبت ډیر په شور راغستی او شدیده جذبه ورته پیداسوه دده دپښتو او فارسی شعرونه ډیر مهیج او سوز وونکی دی دفارسی شعرونو دیوان یی په (۱۲۰۱) ه کی چاپ سوی دی او په پښتو یی د هرچا په خولو کی سندری پاتی دی وایی څو کاله ئی په پښو د کعبی او مدینی زیارتونه کړی او دعمر په (۶۸) کال په ۱۲۴۵ کی وفات سوی دی او په تلوکان کی ښخ دی.

دپښتو څو مناجاتونه یی دادی:-

هغه چاری چه زما په خا طر او ری
شیخ یی نه وینی په خوب ملا په تو ری
چه چند ڼ لره ور ځی خپل سر به با یلی
دا فعی ما را نو ځا ی د چند ڼ سیو ر ی
سپینی پښی می د رباط په پو ټی وسو ی
خپل ا شنا په تش نظر نه ر ا ته گو ر ی
ما و یل ز ه به لا د یدن کړ م د یا ر انو
چه و رته راغلم یار ان نه وه مینی تو ر ی
دحسن زړ گی هغی معشو قی یو و ړ ی
چه مد ام تر پلو لا ندی ستر گی تو ر ی

Marfat.com

د ملا حسن اخند يو بل مناجات :-

رسول خدا يا حيات النبی　　صفا مرحبا يا حيات النبی
عليك صلوة عليك سلا م　　عليك ثنا يا حيا ت ا لنبی
امين دو عالم رسول كريم　　كثير العطايا حيا ت النبی
بملك رسالت كسی چو تو نيست　　امام الو رای ياحيات النبی
كنند در قيامت همه مرسلان　　بتو التجاء يا حيا ت النبی
شفاعت تر اهست خير البشر　　بروز جزاء يا حيات النبی
رسول الهی تو يی خود شفيع　　به شا ه و گدا يا حيات النبی
جمالت بخوبی ندارد نظير　　ضياء در ضياء ياحيات النبی
جهان ر ا ببوی تو جان مير سد　　ز لطف عطا يا حيات النبی
حيات تو ايجاد ماوی هست　　بهر دو سرا يا حيات النبی
ز هر انبياء پيش بر دی سبق　　بدر س لقاء يا حيا ت النبی
نديده زمانه بعد ل و كرم　　چو تو باد شاه ياحيات النبی
توئی گو هر گنج اسر ار حق　　با مت عصا يا حيا ت النبی
زما در نه زاده بمثلت كسی　　بدا ر فنا يا حيا ت ا لنبی
زبان تابود در دهن يار من　　كنم اين نو ايا حيات النبی
بروحت هز ار ان درود سلام　　بهر دم ز ما يا حيا ت النبی
من خسته زارم برد ، گهت　　بغم مبتلا يـا حيا ت ا لنبی
بانفاس پاك تو دارم اميد　　ز علت شفاء يا حيا ت النبی
خدار ا به شفقت نظر كن بمن　　به بين حا ل مايا حيات النبی
رسيده ز فيض كمالت نصيب　　بهر بينو ا يا حيا ت ا لنبی
خدا را دل درد مند (حسن)　　شفاء ده شفاء يا حيات النبی

---

د ملا حسن ديوان ۶۲ مخ

دملاحسن اخند بله تصوفی سندره:

چه راووتم دبحره و حیا ت ته
دنافی معنی می راو ړه تراثبا ته
مابه ولی اناالحق نار ی و هلی
چه‌تمام صورت می‌سودحق له‌ذاته
مهتر خضرما ته هسی پیاله را کړه
د سکند ر ملکو نه و ینم بی مر آ ته
تجله پر کو ه طور شوه ور څر گند ه
لن تر انعر ه یی و کړ ه و مو سی ته
زه حسن‌په خو له خبری کو م‌لوڅی
دا خر اب ز ړگی می وا لو ت و هو اته

دملاحسن اخند ځلوریزی:

که‌یون دی‌یون‌دی‌زړ گیه یو ن د ی
د فا نی سر ا یه آ خر بیلتو ن د ی
ر ا شه ز یا ر ت به د مد ینی کړ و
په مدینهٔ کی حضر ت مد فون د ی
زه چه پرلو ر ی د خپل د لبر م ځم
ستر گی نعلینی‌ا و پا س پر سر ځم
لکه جها ز چه پر لو ی د ر یا ب ځی
داسی تیز روه پر بحر و بر ځم
د سها ر با د ه خو شبو نسیمه
ا حو ا ل می یو سه د یا ر تر سیمه
ور ته می عرض کړه د خدای دپا ر ه
په صورت ایری شوم په ز ړه د و ه نیمه

Marfat.com

زړګیه مه څه پر بیا بانو نه
سر که د ننه د زړه په خونه

دروغو زړو نو ژړا محا له
په ژړا اژاړی و یشتلی زړونه

یاره چه ته یې پر هغه لوری
غم خودی نه دی ښادی دی اوری

دمخ بریښنا دی یوار ښکاره کړه
چه ښه جمال دی خواران وګوری

## مولوی احمد جان (تاجر)

دی د کندهار دمشهورو علماؤاو شعراؤ څخه ؤ چه داعلیحضرت امیر عبدالرحمن خان دسلطنت په وخت کی اوسیدی په ادبی علومو عربی، دسیاق په فن او رقم ښه پوهیدی حکومتی دفترونه او ددفترداری اصول او قوانین ئی وضع کړل د دولتی حسابونه ئی کنترولول په قضائی مسایلو هم ډیر پوهیدی.

تاجر صاحب دپاڼسو ژبی دمقتدرو شاعرانو څخه شمیرل کیږی غرا قصیدی او فصیح غزلیات لری په عراقی او هندی سبکونو ئی شعرونه ویلی دی کله به ئی په شعر کی دحافظ سعدی او کله به ئی د صایب پیروی کوله.

مولوی صاحب په (۱۲۶۰ هـ ۱۸۴۴ ع) کی په کندهار کی زیږیدلی دی او د (۱۳۲۰ هـ ۱۹۰۲ ع) کال په شاؤ خوا کی په کابل کی مړ دی

یوه قلمی تذکره چه په پاړسو لیکلی سوی ده دده په خصوص کی وائی «مولوی احمدجان تخلص به تاجر ازقوم الکوزی قندهار

است که در علوم ادبی وفقه‌حنفی وقضا دارای مطالعه وصلاحیت کافی بود و برای تنظیم اجراآت قضائی افغانستان مصدر خدمات شایانی گردیده است.)

مشهور تالیفات ئی دادی:-

۱ - دپارسی شعرونو خطی دیوان چه غزلی او قصیدی لری.

۲ - اساس القضاء چه په ۱۳۱۱ هـ ۱۸۹۳ ع کی ئی تالیف کړی دی په شرعی محاکمو کی دقضا قواعد بیانوی دغه کتاب په کابل کی دامیر عبدالرحمن خان په امر لیکل سوی او چاپ سوی دی.

## مولوی محمد سرور (واصف)

مولوی صاحب دکندهار دوطن دوستو او مترقی ملایانو څخه ؤ چه داعلیحضرت سراج الملته والدین امیر حبیب الله خان په عصر کی اوسیدی.

ده دریاضت او عبادت مزیت دخلکو په خدمت او دوطن داولاد په روزنه کی پیدا کړی ؤ څکه دهغو لومړنیو ملایانو دډلی څخه ؤ چه دحبیبیه په دارالعلوم کی په تدریس لگیا ؤ او دهغو ملایانو اعتراضونه ئی ردول چه په ښوونځیو کی ئی درس ورکول ناروا کار گڼلی

دی په فقه، عقایدو، تفاسیرو، صرف، نحو ښه پوهیدی دفلسفی او سیاسی موضوعاتو دڅیړ لوسره ئی علاقه درلوده دهمدغه ذوق او علاقی له کبله ؤ چه د (۱۹۰۶) میلادی کال په لو مړی میاشت کی (ذیقعده ۱۳۲۳ ق) دافغانی منورانو دټولنی غړی سو په‌دغه ټولنه کی مولوی عبدالرؤف کاکړ کندهاری، مولوی نجف علی مولوی محمد سرور دمولوی احمدجان الکوزی‌زوی، غلام نقشبند حافظ حیدرعلی، عبدالرحمن بیگ، میرزا غلام قادر، میرزا محمد اسحق، قاری نیک محمداو نورشامل وه دغی ټولنی داعلیحضرت امیر حبیب‌الله خان څخه په یوولسو مادوکی دسراج الاخبار په نامه‌یو اخبارو غوښت چه تر هری فقری لاندی د (دسخط سردار والا) په عنوان لنډ لنډ هدایتونه دمرحوم سردار عبدالقدوس‌خان اعتماد الدوله په خط او امضاء لیکلی سوی وه.

Marfat.com

په دی فقرو کی څنی جغرافی کتابونه اونقشی، انگریزی، اردو عربی، ترکی، اخبارونه هم غوښتل سوی وه او په دریمه فقره کی وائی:- چه دکابل احوال دی دکورنو الی په وسیله خاص بیت الشوراته واستول سی چه اهل شورا دنشر وړ وا قعات اخبار ته ورکړی او ټول مضامین دی داسی وی چه دمسلمانانو په منځ کی اختلاف را نه ولی او دغه لاندی یو ولس قسمه مضامین په دی اخبار کی چاپیږی:-

۱ - دینی مسایل.

۲ - رسمی اشتهارات او تبلیغات.

۳ - خارجی خبرونه.

۴ - داخلی خبرونه:

۵ - ددارالسلطنه خبرونه.

۶ - نرخونه.

۷ - دموسم کیفیتونه.

۸ - شعرو سخن.

۹ - طبی مسایل.

۱۰ - تجارتی اشتهارونه

۱۱ - دپاد شاه احوال لکه جشنونه او رسمی دربارونه او دافواجو معاینه.

دا اخبار په شپاړسو مخو کی دمیاشتی دوه واره په فل سکیپ قطع په نستعلیق خط او سنگی چاپ خپریدی مؤسس او مدیر ئی مولوی عبدالرؤف کاکړ او محرر ئی مولوی محمد سرور (واصف) ؤ داخبار لومړی گڼه په پنجشنبه (۱۵ ذیقعده ۱۳۲۳ ه ق ۱۱ جنوری ۱۹۰۶ کی چاپ سوه او په سرمقاله کی ددی ملی ټولنی هدف داسی ښکلی سوی ؤ:-

Marfat.com

«اوس هغه وخت را رسیدلی دی چه دافغانستان خبرونه نورو ملتو نوته ور سول سی او هم پخپله د افغانستا ن خلك د دنیا په احوال خبر کړ ل سی :»

« و باید فرزا نگان دا خلی علاقه مملکت از اطوار و اد وار اهل عالم وبلند ی ایشان از حضیض ضعف و پستی وو حشت و زیر دستی باوج مرتبه ناز ونعمت و اقتدار وسلطنت ووسعت تدریجی منافع و ممالك ورفعت روز افزون مداخل ومسالك در بحر و کرهٔ خاك آگاهی یا بند .. عزم تکمیل قواعد آمدن بشر ی و تزئین مصاحبت ومعا شرت ایشان جزم گردد »

ددغې سر مقالې په پای کې وائی - « حضرت پا د شاه اسلام پناه ممانعت نفر مودند و راه اختیار دادن را براي اعضاء انجمن کشودند ) په دی ډول او مړی سیاسي انجمن په افغانستا ن کې جوړ سو او فقط یوه شماره سراج الاخبار افغانستان ئی نشر کړه چه وروسته نشر نه سوه په دغه شماره کې دمولوی محمد سرور (واصف) یوه خورا فصیحه قصیده نشر سوی ده دا قصیده دبیدارۍ وغ او دبیده او متوقف کاروان جدی خوانی ده خلکو ته ناری وهی چه ویښ سی او جهان ته وگوری دی وائی :-

بلی ای عالم ایمان ! نگاهی کن به کیهان
روان بیدار دار از نشهٔ خواب گرانجانی
بلی بادیدهٔ عبرت ببین اقوام دنیا را
که از عبرت همی گیرد زهول دامن افشانی
بنال از پستی سستی، باوج پایهٔ بینش
گرایان سو بسوی جمعیت از ملك پریشانی
ببین اصناف عالم را ترقی های پی درپی
چه نمسا وفرنسا وچه جرمانی چه جاپانی
کسی کزدوحهٔ تهذیب باز کام دل چیند
بگیتی فایق آید از همه اقران انسانی

Marfat.com

ښاغلی محمد حلیم (سلیمی) چه د واصف د کور نی سره نـژ دی قرابت لری د خپل پلار د خو لی وائی چه د غه فلسفیانه رباعی چه دوه بیته ئی زما په یاد دی هم د مولوی واصف د پښتو اشعارو د نمونی تحفه دی:ـ

ای فلکه جفا کاره کار دی نشته بی آزاره
گل لانه وی خندیدلی چه ئی پری کی د شاخساره

د سراج الاخبار انجمن ور وسته په منظم ډول په یوه سیا سی مفکوره بدل سو.

مولوی صاحب د احمد جان تاجر زوی د آزاد خان الکوزی لمسی دی چه په کندهار کی زیږ یدلی دی دده پلار هـم د افغا نستان دقضایی چارو د تنظیم د پاره ښه خدمتونه کړی دی د قضاء د پاره ئی نظامنامه یا دستور العمل لیکلی دی.

مولوی (واصف) د ۱۳۲۴ هـ ق کال د حوت په میاشت کی د مشروطه خواهی په تور د خپل ورور سعدالله خان د عبدالقیوم خان د عظیم خان زوی د آزاد خان الکوزی لمسی سره په توپ کی والوزول سو.

هغه وخت چه ئی د توپ خو لی تـه در ولی د عمر خیا م دا رباعی ئی ویله :ـ

روزیکه شود اذا السماء انفطر ت
واندم که بود اذا النجوم انکدرت
من دامن تو بگیرم اندر عر صات
گو یم صنما با ی ذ نب قتلت

پـو هند و ی عبدا لشکور (رشاد) پـه یو ه نظم کی دد غو شهیدانو د شهادت واقعه د آزاد خان د لور د خولی د اسی بیانوی:ـ

آ غښتلو خښمید لو جلا د ا نـو
چه تاو کړی مو بر یتو نه بیا کا ز ه دی
راته وایاست بیا موکومی غاړی پری کړ ی
چه لاسونه موتازه په وینو سر ه دی

Marfat.com

را ته وایا ست بیا دچا دغو لی غم شو است

لوټی کړی موښادی دکوم کاله دی

را ته‌وایاست بیا دکوم بهار خزا ن شو است

کوم گلونه مو په ساسوی سکاره د ی

نیمه خوا مو بیاد چا بر ندی څوانی کړی

غز ولی مود کو م لښکر سپا ره د ی

ارما نونه مود چا کړه په مر گٹ خاو ری

څو کٹ دی دا چه مود توپ خولی ته پراته د ی

آظالمو! دا مو بیا خو ا خو زی میند ی

بوری کړ ی پر څلمو با ندی پر خه د ی

داچه رنگٹ موئی په وینو در ست شیر پو ر کړ

دا دچا په‌فتوی مړه دی چاته پړه دی

دا چه غو ښی ئی ټوټی ټو ټی خپری شو ی

داله قام سره په کومه در وهه مړه دی

دا چه سو ی ئی هډونه دی با ر وتو

دا دملکٹ په نام مجرم په کوم نامه دی

دا چه پر وتی ئی تنی د ی پر ملا غو ځی

دا محکو م وجا معی ته په کوم کړه دی

جو اب را کړ ی مگر هو ریښتیا به وا یا ست

دا دوستان دی ددی خاوری که دښنه دی

Marfat.com

ستاسی زړونه دا منی په زړ وزخمی‌شیء
دا چه مړه دی داخیر خواه ددی ملک نه دی
دو ی دانه غو ښتل چه دا خلک را ویښ شی
چه په ژ و ند کی د مر گی په خو ب بیده د ی
دوی دانه غو ښتل چه دا سترې هو سا شی
چه له لو ږ و ئی بو خو نسه ما ړه دی
دوی دانه غو ښتل چه دا وطن آز اد شی
چه مغز ی ئی دز مر و بل ته کا ږ ه د ی
هی افسوس چه درته حا ل ویلای نه شی
دو ی خوړلی داجل دلا س را نجه د ی
را سی وا ور یء زه بی حا ل دغم بیا ن کړ م
د ا څوڅی ددی بد مرغی دما ت زړه د ی
ز وړ عظمت ئی ستنا وه محکو م افغان ته
بی له‌دی گناه محکو م په نور څه نه د ی
با بد و نا ز ی په د و ی تـا ر یـخ د فکر
دا چه نن په و ینو رنگ دلته پر انه د ی
دا ځلمی د ی فد ا ئیا ن د حق د لا ر ی
دوطن پـر نـام دقـا م پـر ننگه مـړ ه دی
شهـید ا ن د حـر یـت د آ ز ا د ی د ی
پتـڼا ن د ملیت د و ینبـتا بـه د ی

دا پلو چه زما ږ کث و ینیٔ بید ردو
ماتهول کړی دور یرو غوښي ماغزه دی
ځلمو هلیٔ نژ دی راسی و یی گوری
دا کو لمی د(سر ور جان) دلړ ما نه دی
گوری دا د سعد الله ما ته کو پړی ده
گوری دا دقیوم جان ښکلی لیمه دی
گوری دا دی د هغو سپیڅلی زړونه
چه په اور دا ستبد اد سوی سکاره دی
اوس لاهم دملک په وینه کی تړ پیږ ی
اوس لاهم دقام په عشق سره تاو ده دی
اوس لا هم د حال په ژبه در ته وایی
آخ چه زړونه موله دره خالی نه دی
هر فرعون ته موسی دی پید اشوی
آخر خیژ ی دا پریشان پریشان خو بونه
دا متل د پښتنو دی هیر ئی نه کړی
و هیچا ته نه پا تیږ ی کسا تونه
لکه نن چه دا میدان په وینو رنگ دی
هسی رنگ وینم سبا دنا ز تختونه
د وطن د شهید انو روی ته گوری
هیر مونو کړی دا نامراده ارمانونه

---

مساوات جریده

Marfat.com

# مولوی عبدالرؤف «کاکړ»

مولوی عبد الرؤف د مولوی عبد الرحیم زوی دعلامه حبیب الله اخند زاده (حبو اخند زاده) لمسی دی چه په کندهار کی د ۱۲۶۷ ه ق کال دصفری په ۵ زیږیدلی دی ده تفسیر، حدیث ادبیات، فقه دخپل پوه پلار مولوی عبدالرحیم څخه چه داعلیحضرت امیر شیرعلی خان ملا او دوایعد عبدالله جان معلم و زده کړل او دقرآن عظیم ډیر ښه حافظ او مفسر ؤ هغه وخت چه پلار ئی د ۱۲۹۸ ه ق د شوال په میاشت کی شهید سو (سراج التواریخ دریم ټوک ۳۸۲ مخ) دی د وطن څخه وشړل سو او په ۱۳۰۰ ه کی دمرحوم سعد الدین خان قاضی القضات او مرحوم سردار عبدالقدوس خان اعتماد الدوله په واسطه داعلیحضرت امیر عبدالرحمن خان حضور ته ورغی او په کابل کی د حضور د ملا او د شاهی مدرسی دمدرس په حیث مقرر سو.

مولوی صاحب په عربی، فارسی، پښتو کی ادیب، لیکوال او شاعر وو او په شعر کی ئی «خاکی» تخلص ووده د ټو او هغو عربی مجلو مهم موضوعات چه شاهی دربار ته راتلی ترجمه کول او ټول قاضیان چه امیر مقرره ول باید لومړی ده امتحان څخه اخستی وای ده ددینی آثارو دخپرولو او دعربی تدریس داصولو داصلاح او دقضائی چارو د تنظیم دپاره ډیر زیار ویوست او دهمدغه کبله اعلیحضرت امیر عبدالرحمن خان او اعلیحضرت امیر حبیب الله خان ده ته په قدر او احترام او داستادی په سترګه کتل او په مهمو قضائی مسایلو کی ئی مشوری څخه غوښتی

دمولوی صاحب تألیفونه :-

۱- کشکول (په دوه ټوکه کی) په دغه کتاب کی ئی خپل پښتو فارسی او عربی شعرونه او هم د نورو فارسی، عربی شاعرانو نفیسی ادبی پارچی علمی او فلسفی موضوعات راټول کړی دی

۲- خردنامه امیری (په فارسی) دامیر عبد الرحمن دوینا او وپه شرح کی چه دخپل ځان او دعقل دمراتبو په خصوص کی ئی لیکلی ده دغه کتاب د ۱۳۰٦ کال د محرمی په میاشت دامیر حضور ته

وړاندی سوچه دهغه څخه ددغه پاچا سیاستمد اری فکری شخصیت ښه ترا څرگند یږی د دغه کتاب په شروع کی وائی :- «امابعد زاویه عجزو خاکساری عبدالرؤف قندهاری چون در پیشگاه حضور باهر النور اعلیحضرت والا قدرت خلافت مقام سلطنت قوم امیر کشور گیرد سلطان صاحب تدبیر ...

امیر ابن الا میر عبد الرحمن خان خلدالله ایام دولته وابالته بار یافت باالمعا ینه دید که پیوسته مکنون ضمیرو مرکوز خاطر خطیران باد شاه سکندر نظیران است که جمله رعایا وکافهٔ برایا خواه ملازم کرسی سلطنت باشند وخواه از افراد سایر رعیت روز بروز در مدارج و معارج تکمیل عقل بشری کلمات حکمت سمانی را عجالتاً بقلم زرین رقم خود نوشتند لا جرم فقیر هیچمدان آن کلمات عالیات را متن ساخته بقدر فهم ناقص خود شرح برآن نوشتم وبه خرد نامه امیری آنرا موسوم ساختم ..)

۳ - تفسیر سوره حشر (په فارسی)

۴- سلامنامهٔ عربی دمزار شریف دپاره چه یوه برخه ئی په ۱۳۰۶ کی دمزار شریف پردر وازی ددغه امیر په امر په طلائی لیک ولیکله سوه زیارت کوونکو ته هغه وایه اوور ته تل به دغه ډیر فصاحت او بلاغت لری .

۵ - تفسیر آیات العهود (په فارسی)

٦ - دناسخ التواریخ دیوی برخی رد (په فار سی)

۷ - رسالهٔ افغانستان (دعربی څخه ترجمه)

۸ - رساله مصافحه چه په ۱۳۳۱ ق کی دمصافحی د مشروعیت او اوگټو په خصوصی کی دامیر حبیب الله خان په امرو لیکله سوه .

۹ - عقد اللامی فی تتبع بداء الامالی عربی قصیده ، په عقاید او کلام کی :

۱۰ - کلمات امیر البلاد فی الترغیب الی الجهاد چه دضیائی په عصر کی چاپ او خپور سوی دی .

۱۱ - دفاتحی دصورت تفسیر اود قرآن عظیم اخیر جز و په پښتو مولوی (خاکی) دافغانستان دپخو انیو ژور نالستانو څخه دی چه په ۱۳۲۳ کی ئی یوه پنځلس ورځنی جریده دسراج اخبار په نامه په کابل کی تأسیس کړه او لومړی گڼه ئی په پنجشنبی د ذیقعدی په (۱۵) ۱۳۲۳ کی چه د جنوری ۱۱ - ۱۹۰۶ ع کیږی په ۳٦

مخو کی دفل سکیپ په قطع په برین چاپ دمیرزا غلام قادرخان او میرزا محمد اسحق خان په لیك طبع سوه .

ددغه اخبار پر لومړی صفحه د مدیر نوم عبدالرؤف خان دشاهی مدرسی مدیر او مهتمم ئی منشی حافظ حیدر علیخان لیکل سوی ؤ ددغی جریدی مدیر او د تحریر هیئت په لاندی ډول داعلیحضرت امیر حبیب‌الله خان څخه دسراج الاخبار غو ښتنه کړی ده : -

فقره (۱) اسم اخبار سراج الاخبار میباشد که بر صفحه اول اخبار بقلم جلی بصورت نقشه نوشته شود و مهر بهمین مضمون کنده شده و به‌مهتمم مطبع اخبار سپرده شود (دستخط سرکاروالا)

۲ - منظور اشتراك پنجاه جریده جریده انگلیسی واردو و عربی و ترکی وکتب لغت وجغرافیا ونقشه برای اداره اخبار که از آن جمله جراید عربی الظاهر، نبراس والمشارقه والمضاربه ومستشار مصر واسلامیه کالج ماهوار لاهوروبمبئی گزت ودهلی گزت وکرزن ونصرت الاخبار ومهر در خشان واخبار سوداگر (اردو) است .

۳ - احوال دار السلطنه از کوتوالی وبیت الشوراى خاص گرفته شود .

۴ - تهیه مضامین به صوابدید مدیران ورعایت این نکته که حتی الوسع از مسایل اختلافی احتراز کرده شود ودر تطبیق مذاهب سعی کرده شود خصوصاً مسایل اختلافی اهل اسلام را بدلایل و براهینی تطبیق داده شود تااختلاف جزئیات رفع شود و ما بین کافه اهل اسلام عقد مواخات وبرادری قائم شود .

۵ - مضامین اخبار حسب ذیل خواهد بود .

۱ - مسایل دینی (۲) اشتهارات که برای بهبود رعیت وسررشته داخلی ملك وقتا فوقتا از طرف صاحب دولت شایع میشود (۳) اخبار خارجه (۴) حالات ممالك محروسه افغانستان .

(۵) حالات مقامی یعنی واقعات دار السلطنه (۶) نرخ غله و غیره

(۷) کیفیت موسم وعلاقه های مختلفه ممالك محروسه (۸) شعر و سخن بعد از صوابدید مدیران اخبار (۹) اشتهارات تجار (۱۰) حرکات حالات ذات مبارك سرکاروالا مثل جشن و دربارهای کلان رسمی ومعاینه افواج وغیره

۶ - تقطیع اخبار به این شکل باشد که نقص کاغذ نشود واگر برابر حبل المتین باشد بهتر است

(۷) در ابتداء اخبار فی‌ماه دو دفعه شایع شود.

۸ - با لفعل اخبار از هشت ورق علاوه نباشد و تعداد قطعات اخبار نظر به تعداد نفری منصبداران ملکی و نظامی و خدمتگاران دولت سنجیده ومقرر کرده شود و یکصد قطعه علاوه چاپ شود وروز ۱ ساعت اخبار یوم چهار شنبه باشد (دستخط سرکار والا (قیمت آن چه خواهد بود ؟)

۹ - سر رشتهٔ تقسیم اخبارات به کار داران ارگ خانه داده میشود و نفری پیاده داگخانهٔ به‌قدر ضرورت افزوده میشود.

۱۰ - اگر احوالات داخله وخارجه و مضامین متفرقه که قبل از چاپ شدن اخبار و به‌مطبع اخبار رسیده برای هشت ورق اخبار که مقرر شده است اکتفا نکرده کمبود اوراق مقرره از اقتباس مضامین بعضی کتاب های نادر مثل تاریخ افغانی و غیره که هنوز به زیور طبع پوشیده است کامل کرده خواهد شد وکتابهای عجیب و غریب از بهر حصول این مدعا به‌مطبع اخبار سپرده میشود تامضامین آنها سلسله وار درج اخبار شده مثل کتاب چاپ شده برود.

۱۱ - سیاههٔ نفری که علاوه از کار کنان مطبع برای سر رشته سراج الاخبار بکار می باشد.

(۱) ایدیتر یعنی عنوان گذار که تصحیح وترتیب عبارات و مضامین را میکند مولوی عبدالرؤف‌خان :

(۱) سب ایدیتر یعنی نائب عنوان گذار مولوی نجف علی.

۳ - محرر پاکنویس زیر دست ایدیتران که تنخواه هشت صد روپیه داشته باشد مولوی محمد سرور پسر مولوی احمد جان الکوزائی مرحوم.

۴ - ترجمان زبان ترکی حاجی غلام نقشبند خان.

۵ - مهتمم اخبار که مترجم اخبارات اردو هم است منشی حافظ حیدر علی خان.

۶ - معاونان ترجمه اخبارات اردو عبدالرحمن بیگ وعبدالرحیم بیگ.

۷ - چهار نفر محرر وصاف نویس که املای صحیح داشته باشد بواسطه مستوفی الممالک مقرر شود

Marfat.com

۸ - دونفر کاتب از جمله کاتبان مطبع عام برای خدمت کتابت اخبار مخصوص شوند میرزا غلام قادر خان ومیرزا محمد اسحاق خان قابلیت این کار واستحقاق تنخواه هشتصد وشش صدروپیه فی سال دارند (دستخط سرکار والا) زیاده تنخواه خوران ملکی مقرر فرموده شود .

۹ - مصحح کاپی بعد از نوشته شدن بتصحیح وبااصل مسوده مقابله کند قاری نیک محمد .

۱۰ - یک نفر تحویلدار از جمله تنخواه خوران ملکی مقرر فرموده شود .

۱۱ - یک نفر میرزای حسابدار برای جمع و خرج دفتر اخبار که درجه تنخواه هشتصد روپیه داشته باشد بواسطه مستوفی الممالک مقرر شود .

(دسخط اعتمادالدوله صاحب) سرشته قیمت اخبار چنان رای زده شد که برای نظامی تاکمیدان و برای مردمان ملکی تادرجه هزار روپیه تنخواه داشته باشد فرمان شود بقرار درجه قیمت گذاشته شود . اول مرحله این ملاحظ شود که آنچه خرج سر کار شود یک حصه برای خرج آن برسد ویک حصهٔ برای بیت المال یعنی دو چند خرج آن ریزش شود بقرار اندازه نفری تنخواه خوران و منصبداران فقط تحریر تاریخ ۲۵ صفرالمظفر (۱۳۳۲) عبدالقدوس.

دستخط کاروالا :- محصول داک ونفری پیاده و غیره سنجیده شود که چیزی از قلم نماند زیاده بران یک روپیه دو روپیه شود

(ختم دوسیه خاص)

ددغی جریدی په خپرید و کی انگریزانو موافقه ونه کړه او تر ۱۳۲۹ ق پوری معطله سوه چه په دغه سنه کی بیا مرحوم محمود طرزی هغه خپره کړه د ۸ کال تر ٦ گڼی دربیع الاول (۱۵) ۱۳۳۷ ق دسپتمبر ۱۹۱۸۱۹ پوری دوام وکړ.

مولوی عبدالرؤف دپښتو فارسي او عربي ښه شاعر دی عربي شعرونه ئې منظوم مکتوبونه دي چه خپلو پوهودوستانو مخصوص سیدمحمود قندهاري او نورو ته لیکلي دی.
ددغو منظوم مکتوبونو یوه نمونه دا ده:-

الی المخدوم مفصاح الانام سلام فی سلام فی سلام

تصدارسلت من مکتوب نظم بدیع کاللام فی انتظام

هغه جنگي سفر چه اعلیحضرت امیر عبدالرحمن خان شمالي سیمو ته وکړ په دغه کې ئې یوه مزاریه قصیده دخدای دنعمتونو په شکر او دهیواد دآرامي په خصوص کې امیر ته وړاندي کړه چه مطلع ئې دا ده.

کی توانی ایدل پراضطراب سوگوار
شکر نعمت های بی پایان و عصر کردگار

په دغه قصیده کې دخپل حال شرحه وائي :-

بندهٔ (خاکی)ز بدو عمرو از اصل و جود
بوده ام ز اطوار ابناء زمان دور وکنار

قال و قیل علم رسمی گرچه بوده پیشه ام
تن ز دم درگوشه‌گیری‌خوش به عجز و انکسار

من بدعوای فصاحت در مجالس اشتغال
من به اظهار فضیلت در مدارس اشتهار

من ز تلقین مشایخ لاف زهد و فکر کشف
نی ز طامات گزاف نشر بینی طبل وار

نی به دفترهای شاهان قدیم اسم و رسم
نی بدیوان های اشعار قدیم دخل و کار

درنخست از آشیان خود فتا نده بـا ل عجز
کر ده ام پرو از سو ی آستا ن شهر یـار
زاید الو صف استواجب شکر انعامات ولیک
تنگی و قم بـد ا ر د بر د عـا و اختصا ر
تانماید بدر از خورشید انور کسب نو ر
باز بو روی زمین افشا ند ش شبها ی تار
حضر ت و ا لا مظفر با د بر رو ی زمین
هم بحق حرمت تشریف بخشش این مز ار
از خدا جذاب لطف وبر خلایق فیض بخشش
شرح را فرمان پذ یر وخلق را فرمان گذار

په دغه سفر کی ئی د(نو روز) قصیده هم دامیر په حضور ویلی ده چه مطلع ئی داده :-

تا که بـا شد حکمت یـز د ا ن
د ر حمل ر و ز و شب به یک میز ان

ده داعلیحضرت امیر حبیب الله خان شهید په عصر کی درسول «ع» په حضور ر د غه نعتیه قصیده ویلی ده مطلع ئی داده :-

مدح کلا م خود کنم از نعمت مصطفی
و ر نه کجا ر سم که بحقش کنم و فا

د پیغمبر دنعمت څخه دی داسی ملی مقصد وته مخ گر زوی :-

ای سر و ر خلا یق و ا ی فخر کا ئنا ت
ا ی را ز دا ر خـا لـق و ا ی شا ه انبـیا

ما امتان دور فتاده زدر گهت
داریم پیش خاک رهت عرض مدعا
شد ملت فراق تو بس دوروبس دراز
آمد به دوره چارد هم صد زسالها
گردید ضعف عارض ارکان دین ودل
شیطان چو نفس در رگ و پی کرده است جا
حبل المتین دین مبین راکر ستیان
خواهند بگسلند به تزویرو حیل ها
بکسی بیک اشاره انگشت مه شگاف
این تار خام مکر نصارای پر دغا
امت به شرق وغرب جهان زین گروه غیر
در اضطراب و تب تا بند مبتلا
روم ومراکو و عربت را چو غم خوری
افغانستان جز و ضعیف قرن ها
گشت کشت تخم اما لم زللغام تو سبز
رفت رفته رفته اکرام تو از چهره غبار
سلطان وقت امیر جبیب الله سراج
از باد فتنه دار نگاهش بلطفها
حامی دین و حافظ شرع خودش بدار
بر دین اهل غیر ظفر خواهش از خدا

فی‌الجمله باز گوشهٔ چشمی به این فقیر
(خاکی) تخلص که غبار نیست بر هوا

خلقش زطرز خلق عظیم تو منحرف
رسمش زرسم سنت پاک تو ماسوا

از لاف مدح بگزرم و خوانم این درود
یارب‌نا فصل علی افضل الورا

دخاکی دیوی مستی غزلی څخه دغه دوه بیته پاته دی:-

خاک کند مشکبو ساحه مشکوی تو
باد شود روح بخش گرد سر کوی تو

بست به زنجیر و تیغ بر جگرم زدریغ
طره هندوی تو غمزدهٔ جادوی تو

دغه عالم، ادیب او شاعر دشنبې دشپې په ۱۱ بجو دشوال دمیاشتې په ۱٦ - ۱۳۳۳ ق کې د٦۷ کالو په عمر په کابل کې وفات سو.

مرحوم محمود طرزي دسراج الاخبار په جریده کې دده دمړینې خبر په (موت العالم موت العالم عنوان الاندې دده دسوانح سره یو ځای خپور کړ امیر حبیب‌الله خان دده په مړینه‌پیر خواشینی سو او پر ځای ئې زوی مولوی عبدالرب دکابل دابتدائې ښوونځیو او دارالمعلمین مدیر د حضور امام مقرر کړ سراج الاخبار دده دمړینې په خصوص کې داسې لیکلي:-

«به تمام افسوس و کمال یأس و حسرت با چشم اشکبار و قلم ماتم بار خبر کدورت اثر ضیاع ابدی عالم علامه و فاضل کامل فرزانه فضایل همراه عالیجاه عبدالرؤف خان صاحب را درج صحایف غم و اندوه می‌نمایم علامه فاضل مشا را لیه یوم جمعه ۱۵ ماه شوال المکرم بمرض وبا مصاب شده و بعمل ۱۰ بجه شب ترک دنیای فانی نمود چون این خبر حزن آور وقتی که این شماره اخبار ما از طبع بر آمده بود رسید از آن سبب بهمین قدر

Marfat.com

اخبار کیفیت پرداخته انشاءالله‌درشماره آینده از سوانح عمری مشار الیه و درجه فضل وکمالات تفصیل عرض‌معلومات‌خواهیم نمود.

محمود طرزی دده دمړینی په‌خصوص کی یوه لویه‌مقاله لیکلې ده چه‌ځینې نکات ئې دلته راوړل کیږي:-

« ز دیده زما نه چون روان است جوی خون ها، ای دیدهٔ زمانه بگو چه دیده یی در این ایام یك سانحه رو داده که از تحریر آن قلم می‌لرزد پنجه مسترخی میشود ودل می‌طپد حواس پریشان میشود یعنی زندگی علم وعرفان حیات ادبیات بیك صدمه جانگاه ویك تزلزل همراهی بر خورد.

لنډه ئې دا چه‌دې‌هغې‌علمي،عرفاني‌او ادبي‌کورنۍ‌ته‌منسوب‌دی چه‌په کندهار کې‌خلك‌وائي (علم‌د‌کاکړ کورنۍ‌ته ورکړه‌سوی‌دی).

## مولوی عبدالرب

دی‌د‌کندهار دهغو عالمانو څخه ووچه په افغانستان کی‌یی دعلم او معارف دپر اختیا د پاره زیات‌زیار ایستلی‌دی‌او دحکومت سره‌یی دنوی ښو ونځیو په تاسیسولو‌او‌دخلکو‌دذهنونو روښانولو او مرستې کولو په لارکې دقدروړ خدمتونه کړي دي.

مولوی صاحب ابتدایي تعلیم په خصوصي مدرسو کې کړی‌دی په‌تفسیر، حدیث، فقه، ریاضی، فلسفه، حکمت او منطق کی د استادی درجې ته رسیدلی ؤ دی په‌کابل کې‌په ۱۳۳۰ هـ - ۱۹۱۱ع کی‌دا علیحضرت امیرحبیب الله خان دحضور ملا ؤ او د کابـل د لومړنیو ښوونځیو او دار المعلمین (ټیچرز کالج) دمدیر په‌حیث یی‌هم کارکاوه‌او دحبیبیه په‌مدرسه کی یی اسلامی فلسفه دینیات او عربی درس ور کاوه مولوی صاحب دکابل په شاهی دربارکی د (ریاست شریعت) مقام درلود.

یوه شخصي تذکره دده په خصوص کی لیکی:- (مولوی عبدالرب قندهاری در افغانستان به‌نشر علم ودانش میکوشید و یکنفر ریفارمر در امور تعلیمی و قضایی افغانستان است)

---

دسراج الاخبار ۱٦ مخ (۵) گڼه ۱۲۹٤ ش کال

Marfat.com

دی دمولوی عبدالرؤف زوی او دعلامه حبیب الله کاکړ دکور نی شخه دی چه په ۱۲۹۴ ق په کندهار کی زیږیدلی دی او په ۱۳۳۷ ه ۱۹۱۹ ع کی په جلال آباد کی مړ او هلته ښخ دی دامان افغان په جریده کی (۱۳۹۸ ش) ښاغلی (داوی) دده وفات په مناسبت لیکی : «مقام ریاست شریعت به وفات او خالی ماند» تالیفات یی :-

۱ - سراج العقاید (په پاړسو) دکابل چاپ .

۲ - سراج لاحکام (پاړسو) اسلامی فقه بیانوی د کابل چاپ

۳ - دینیات لومړی ، دوهم ، دریم ، څلورم ، پنځم ټوک په (پاړسو) اسلامی فقه بیانوی د کابل چاپ .

۴ - رساله اطاعت اولو الامر په (پاړسو) دکابل چاپ

۵ - سراج السیر نبوی (پاړسو) د کابل چاپ

۶ - مقدمهٔ فلسفه اسلامیه (خطی)

۷ - سراج القضات (په عامه کتابخانه کی ئی خطی نسخه سته)

## مولوی عبدالواسع

دی دمولوی عبدالرؤف کاکړ زوی دی چه د (۱۲۹۰ ه) په شاؤخوا کی په کندهار کی زیږیدلی دی . دی په فقهی ، حدیثو تفاسیرو عربی ادب او منطقو کی لوی ملاؤ ده په پښتو [illegible] او عربی شعر وایه په کال ۱۳۳۸ ه = ۱۹۱۹ ع د اعلیحضرت امیر امان الله خان له خوا د حضور علماو دپښتو انجمن د رئیس په حیث [illegible] سو او دافغانستان شرعی قوانین یی ترتیب کړه په کال [illegible] ۱۳۰۸ ش ۱۹۳۱ ع دسقاؤ زوی چه دافغانستان تخت ئیو [illegible] دغه ملا د سقاؤ زوی دافغانستان د تخت مستحق [illegible] ئی وواژه

دی دافغانستان لومړی ملا ؤ چه نوی قوانین ئی [illegible] یی داسلامی شریعت او حنفی مذهب سره برابر کړل [illegible] کی یی وچلول دی یو اصلاح طلب (رفامر) منش [illegible] دی چه په همدغه جرم د متعصبینو له خوا [illegible]

چراغ انجمن په ۱۴۴ مخ کی دمولوی صاحب [illegible] داسی لیکی :- «از جملهٔ علما متبحر عصر حاضر [illegible] نهایت دراک وحساس و نقاد بشمار [illegible] در بلاغت و فصاحت

---

چراغ انجمن ۱۴۴ مخ

نظیری با خود ندا شت حسن بیا نش مهیج دلها جملا ت عبا ر ا ت موز ونش بسان غنچه گلها چندی در عصرامانیه رئیس تمیز عدلیه بود و بالا خره بعد از مو قو ف شد ن به قند ها ر ر فته منز وی گردید در علم ادب وقرائت کامل با اداء تجو ید سر آمده اقر ان گفته میشد در نتیجه اقلاب مد حش افغا نستان خو د را در ر اه حق وحب وطن به مخالفت سقو فدا ساخت . (۱۳۴۷)هـ.

مشهور آثار یی دا دی :-

۱ - تمسك القضات په فار سی (د حنفی فقی په قو ا نینو کی ) لومړی ټوك یی حقوق او تعزا ت دوهم ټوك یی جزا ده ، چه په ۱۹۲۰ ع په کا بل کی چاپ سوی دی .

۲ - حکمت اسلامی په ( فار سی ) خطی دی چه په ۱۹۱۵ ع کی یی تالیف کړی دی .

۳ - د بقره سوره تفسیر (په پښتو او پار سو ) خطی د ی .

۴ - یوازنی پښتو کتاب (کتاب اول پښتو خالص ) دکابل چاپ.

۵ - د پښتو پښو یه ( صرف ونحو ز بان پښتو ) دکابل چاپ

۶ - رساله دینیات شرع اسما الحسنی دکابل چاپ .

## دمیوند شهیدان

میو ند د کندهار دلویدیځی خوا یوه ولسو الی ده چه پخوا د (کشك نخود ) په نامه یادید له خو څرنګه چه میو ند یو تاریخی نوم وو او د بلی خوا دافغان او انګلیس دوهمه جګړه کی دلته لویه فتح دپښتنو په نصیب سوی ده نو ددغه نامه دژوندی سا تلو له پاره دکشك نخود نوم په میو ند تبد یل سو .

دخاکریز ، ارغنداب ، پنجوایی دولسوالیو سره سرحدلری اولویدیځه خو ا یی د هلمند له ولایت سره تړلی ده فاصله یی دکند هار د ښار څخه د (۵۰) کیلو متر و په حدود کی ده په لو مړی درجه کی غنم، جواری او اوربشی پکښی کر لی کیږی ده او په دوهمه درجه کی سردرختی میوی او انګور هم لری ددی ځای غنم ډیر شهرت لری سر بیره پرردی او بو دکار یز و څخه هم په زراعت کی استفاده کیږی

ځر نګه چه له دغه ځایه د کندهار او هرات لویه کـانکریټی لار تېر یږی نو د کشك نخود په حدودو کی یو شمیر پاخه عمارتونه هم جوړ سوی دی او د سړك د حفظ او مراقبت یو مرکز هم دلته دی په تاریخی لحاظ میوند نه یوازی د کندهار بلکه د افغانستان یوه معروفه سیمه ده هغه یو شمیر کنډو الی چه دار غنداب د سیند له غاړی څخه بیا د میوند تر اوسنی مرکز پوری پرغو نډ یو معلو میږی داسی خیال کیږی چه سکندر کله چه و آریانا ته راغلی نو دارغنداب پرغاړه یی جګی کلاوی جوړی کړی او بیا یی چه دا به هغه کلاوی وی .

د میوند جګړه چه د افغان او انګلیس په دوهمه جګړه هم یادیږی په (۱۸۸۰) کال کی د دغی سیمی په دښت کی پیښه سوه چه اوس هلته د افغانی شهیدانو یوه لویه هدیره سته چه یو ښایسته منار هم پر جوړ سوی دی .

دجګړی وضعیت: د پښتنو د دوهم جنګ په کتاب کی چه په لندن کی په کال (۱۹۰۸) کی لیکلی سوی دی د سردار محمد ایوب خان او انګریزد جنګ وضعیت داسی لیکلی :ـ سردار محمد ایوب خان په کال (۱۸۸۰) کی د هرات څخه د جهاد په نیت د کندهار په لور لښکری سمی کړی د جون د میاشتی په لومړنیو ورځو کی د کندهار سیمو ته راورسیدلی دده منظمی قواوی دغه وی :ـ

۱ـ د تاجك تاج محمدخان غونډ دری کابلی کنډکه هر کنډك (۵۰۰) نفره ټول (۱۵۰۰) نفره .

۲ـ د سید الخان پیاده غونډ دوه کابلی کنډکه او یو کندهاری کنډك ۵۰۰ نفره ټول ۱۵۰۰ نفره .

۳ـ د تاجك غفورخان پیاده غونډ دری هراتی کنډکه هر کنډك (۳۶۱) نفره ټول ۹۹۸ نفره .

۴ـ د عبدالرحمن خان سپورغونډ دری کابلی کنډکه یو کنډك (۳۰۰) نفره ټول (۹۰۰) نفره .

۵ـ د کابلی احمدګل خان په مشری یوه توپخانه قاطری غزنی بتری ټول (۱۰۰) نفره غیر منظمی هراتی او نورو لښکری

د محمد یوسف خان او کابلي نادرشاه غلجي مشرانو تر اداري لاندې ټول (۲۰۰۰) نفره په دې ډول سردار محمد ایوب خان د (۴۱۰۰) پیاده
(۹۰۰) سپرو (۵۰۰) نفرو توپخاني سره د هریرود څخه راپورېوتل خرنګه چه مستور کیلي د محمد اکبر خان څخه چه د سردار د لښکر و د لوا ز مو مدیر و و اطلاع اخستې ده دوی د ۲۴ آهني دښتي توپونو ٦ قاطري غرني توپونو پنځه کنډکه په انګلیسي توپکو مجهز او ۵۰۰ نفره کندهاري کنډکه او ۳ هراتي کنډکه د ۳۳۰٦ کندهاري توپکو نو سره د ګرشک په حدودو کې چه یو شمیر نورملي مجاهدین هم ور ګډ سول او ددې لښکر قوماندان لوی ناب خوشدلخان میر محمد خان غلجي مشر، حفیظ الله خان لوګري سلیمانخیل، تاج محمد غلجي د لسو نورو افسرانو سره وو.

دانګریز د لښکر عمومي قوماندان جنرال بیدروس وو چه ددې جنرال تر اثر لاندې ۱۵٦۸٦ لښکر وه چه د افغانستان په جنوبي برخه کي پراته وه جنرال یوغونډ جون په دوهمه میوند ته واستاوه چه د هغه سره ۵۱۳٦ سپاره ۱٦۸ اسان د دوی افسرغونډ مشر کیودي او کرنیل مالکمسن وو دوهمه ډله توپخانه ۱۸۹ کسه ۱۱۹ کسه ۱۲ توپه د غونډ مشر بلك او کپتان سلو سره واستول او د ریمه ډله پیاده د کرنیل کبرت په مشري ۵۱٦ سپاره ۱۲۷۳ پیاده چه په دې ډول د جنرال بروس قوا چه د ۱۳۵۹۹ او ۲۷۴۰ او ۱۲ توپو څخه عبارت وه د میوند په میدان کې په کال ۱۷۸۰ د جولایي په ۲۸ د سردار محمد ایوب خان او افغاني مجاهدینو سره مخامخ سول په دې جنګ کې پښتني لښکر وتر انګریزي لښکرو لږی اسلحې درلودې او ملي مجاهدین په سوټو چړ و او تور وو جنګیدل اود خوږې جنګ وروسته چه ددې ویره وه چه پښتني لښکري او ملي مجاهدین د انګریز د لښکرو د زیاتوب او د اسلحې د تفوق په وجه ماته وکړي یوې پښتني پیغلې چه ملاله نومیده داسې ناره وکړه:-

که په میوند کې شهید نه سوې

خدایږو لالیه بې ننګۍ ته دې ساتینه

غازیانو چه ددې پښتني پیغلې د دلاورۍ او میړانۍ ږ که چیغه واوریدله ملي احساسات یې په جوررا غلل او په مرګ وجنګیدل په نتیجه کې انګریزان مات سول او کندهار ته راتر شا سول

په دې جنګ کې ۱۳۵۰ پښتني لښکر او ۸۰۰ نفره ملي مجاهدین شهیدان شول د دښمن تلفات ۲۱ نفره انګریزي منصبداران ۸ نفره زخمیان ۳۰۲ نفره مړه ۷۵۵ نفره ټپیان ۲۰۱ آسان مړه او د دښمن د اسلحو تلفات ۱۰۰۰ توپکه ۷۰۰ کریچه ۶۶۱۰۱۸ ګولۍ ۴۸۸ اوښان ۶۷۶۱ یابوګان ۵۵۳ قاطري ۳۴ غوایي ۷۹ خره ۴۵۵۵ ترانسپورتي وسایل تباه شول

د دې کتاب په ۳۸ صفحه کې داسې راوړل شوي دي:- د هند وزیر په سنه ۱۸۸۱ د مارچ پر ۲۱ د دې جنګ مصارف د انګلستان پارلمان ته په دې ډول وړاندې کړل چه د ۱۸۸۱ کال د مې تر ۳۱ پورې د جنګ مصارف ۹۱ ملیونه او ۵۰۰ زره پونډه او دري نیم لکه هندي کالداري دي.

په کندهار کې د میوند شهیدان ډېر مشهور دي د مزار د حاصلو لو دپاره ډېر خلک ئې زیارت ته ورځي او رسنده ئې بولي.

## طرزي افغان

طرزي صاحب د سردار رحمدل خان زوی دی چه په (۱۲۴۵ ۱۸۲۹ ع) کې د کندهار په ښار کې زیږېدلی دی د سیاست او ادب څخه علاوه خدای دوسته او پرهیزګار سړی وو د تصوف او عرفان سره یې علاقه در لوده او اکثره شپې یې د خدای په یاد او عبادت تیر ولې په تصوف کې طرزي صاحب د نقشبندي طریقې پیرو وو افکار او ذهنیت یې زیات د دغه سلوک څخه متأثر شوي وو دی په تصوف او اخلاقو کې تألیفونه لري چه مشهور یې اخلاق حمیدي او اهنګ حجاز دی طرزي صاحب په ۱۳۰۴-۱۸۸۶) کې حج ته ولاړ او د هغه ځای څخه ترکیې ته ولاړ په شام کې په ۱۳۱۸ کې وفات سو دده یو نعتیه دا دی :-

نورش سبب ظهور عالم — قدش الف روان آدم
تا مهر نبوتش نگین زد — شد ختم پیغمبری به خاتم

اوصاف وی از زبان عیسی — صد بار شنیده گوش مریم
شد جام جهان نما ز نامش — سر خط رموز ساغر جم

---

سروش

Marfat.com

برزخم دلم طبیب لطفش — هر لحظه نهد ز رحم سرهم
آبی ز کرم فشان بر ویم — زیرا که شدم کباب از غم
خم چون نکنم به پیش اوسر — پیشش چو سپهر کرده قد خم
در پای دو کون و بحر گردون — در پیش یمش بودنی کم
جایی کند خدای مدحش — اوصاف ویست بهر من ذم
من کیستم و کیم که با شم — کز شان علوی اوزنم دم
حق گفت چنین با حمد پاك — لولا که لما خلقت الافلاك

ای لال ز اوصاف تو پیوسته زبانها
در خامه چو شق مانده ز حمدتو بیانها
آثار تو ظاهر به همه کون و مکان لیک
از تو نتوان یافت نشانی بمکانها
ای از تو عیان ظاهر و باطن ز تو پیدا
وی مظهر صنع تو عیانها و نهانها
جان کرده نشان در دم تیر تو اسیران
عشاق ترا هست درین راه نشانها

اندر طلب وصل تو چون شمع همه شب
در آتش و آبند همه سوخته جانها
خاموش ز ذکر تو نییم هیچ زمانی
هر موی مرا هست بیاد تو فغانها
«طرزی» اگر از دیده انصاف ببینی
آب رخ صد رنگ بها رند خزانها

---

دیوان طرزی افغان ۶٤۲ مخ

دطرزی افغان زوی محمود طرزی دکلیات دیوان فارسی طرزی قندهاری دمقدمی په ۱٦ مخ کی داسی لیکی:-

هیچگاهی نبوده که کسی جمال با کمال شانرا از کهومه واز طفل وبالغ واز رجال ونسأ به بیند بی اختیار بدست بوسی مبارکش تقدیم نور زند بنده جان فشان جسارت نموده سوال کردم آیا سبب این همه موفقیت وباعث این همه سعادت ظاهری وباطنی حضرت والابزرگوارمرا از چه باشد؟ بجواب بنده خود حکایت نمودند که قبل از تولد من والدۀ مرحومه ام را دوولد حضرت باریتعالی عطا فرموده بود که محمد اسلم ودیگری باسم احمد موسوم بودند ولی آن هر دو غنچه ناشگفته مانده بمدت قلیلی یکی در پی دیگر ازین منزل فانی رخت بسر ائی جاودانی کشیدند وداغهای فراق بردل غمدیده ام گذاشتند وقتأ بحکمت لم یزلی به حمل تو حامله گشتم اما از هم وغم ماندن ونماندت ایمن نبودم تا انکه تولدت بظهور پیوست چون درد وجگرکبابی برا درانت چشیده بودم ترا برداشته به نزدعم کبیرت سردار پردل خان مرحوم که در ظاهر و باطن صاحب معرفت بودند واز مریدان باکمال قطب زمان میان حضرت جی صاحب شمرده میشدند فرستادم تا در خصوص بقای عمر تو دعائی فرمایند چون ترا بحضور الا مع النور شان حاضر نمودند اسم ترا غلام محمد گذاشت وفرمود که این اسم را موافق با سمای اولاد حضرت مجدد صاحب نهادم خداوند عالم برکت و طول عمر او را عطا فرماید این همه برکت وسعادت از گفته آن بزرگوار است. دطرزی افغان په رساله حمیده کی شپږ بیتونه داسی راوړل سوی دی چه دتصوف فلسفه او مقامات ئی ټول دحال په ژبه ذکر کړی دی دمرحوم سردار غلام خان طرزی یوه بله عرفانی غزله:-

از این زمانه پر فتنه جای فریاد است
که هر که هر چه کند در محل ایراد است

اگر نماز کنی گویدت که صوفی شد
وگر قمار کنی گویدت که نراد است

کلیات دیوان فارسی طرزی ۱۸ مخ

Marfat.com

به بتکده چو روی گویدت که کافر شد
به صومعه چو روی گویدت که شیاداست
بدست سبحه چو گیری بیک دیگر گویند
که سبحه نیست بره دام ودانه بنهاداست
چو با سلام روی گویدت که طامع شد
چو بی سلام روی گویدت که شداداست
چو بخششی نکنی بر کسی همی گوید
که این خسیس عجب دادممسکی داد است
چو خلعتش بدهی از منا فقت صد جا
به سحر خنده بگوید که دست بر باد است
چو کهنه پوش شوی از قفا همی گوید
که این حریف نگر سخت تر ز فولاد است
چو پوشی اطلس ودیبا و پرنیان و سمور
به طعن و مضحکه گوید که مسرف افتاداست
خوش آنکسی که زرود قبول خلق جهان
بسان طرزی افغان بکلی آزاد است

## محمود (طرزی)

دی دسردار غلام محمد خان (طرزی) زوی دی چه په ۱۲۸۵ ق در بیع الثانی په لومړی ورځ په غزنی کی زیږیدلی دی ابتدائی تحصیلات ئی په خپله عرفان پالونکی او ادب پروره کورنی کی دپلار ترسرپرستی او ښودنی لاندی پای ته رسولی دی او مروجه علوم ئی لکه صرف ، نحو ، منطق ، ادب ، حکمت دوطنی استادانو مخصوصاً ملا محمد اکرم آخند څخه چه دده دپلار سره یی یوځای هجرت وکړاود خارجی عالمانو څخه زده کړل.
هغه وخت چه دده پلار سردار غلام محمد خان طرزی دسیاسی اختلاف نظر له کبله دوطن په پرینښولو مجبورسو په دی وخت کی

Marfat.com

چه محمود دخورلس کلن وو محمود دری کاله په کراچی کی دپلار سره ؤ بیا په بغداد کی دحضرت شیخ عبد القادر گیلانی روحانیت او اخلاص دمرتبی څخه بناد ؤ ځرنگه چه ترکانو دافغانستان او افغانی علماؤ او فضلاؤ قدر دلود ځکه د سلطان عبد الحمید ثانی په اراده د طرزی کورنی ترکیه ته مهاجرت وکی او سلطان د افغانی دټغی عرفان پروری کورنی زیات احترام او عزت کاوه او دغه کورنی بیرته شام ته راغله.

همدغه وخت دی چه محمود طرزی عربی، ترکی او فرانسوی ژبی ښه زده کړی دغربی حقوقو او سیاسیاتو په تحصیل کی د کمال درجی ته ورسید دمنځنی ختیز ملی نهضتونو او قومی بیداریو دده رسا فکر او ملی شعور دخپل هیواد افغانستان د سیاسی خپلواکی او عصری ترقی خوا ته متوجه کړاو هم دغه ملی جذبات او د وطنولی احساسات وه چه دپلار دمړینی ورسته ئی افغانستان ته راتلو ته مجبور کی.

لکه چه وائی:-

بعد از ثنا وحمد خداوند لایزال
گویم ترا از قصه احوال پر ملال
چرخ فلک بما سر نیرنگ کرد باز
محروم ساخت دیده ز دیدار دلنواز
یعنی که بد مرا پدری مهر پروری
مشفق بدور حیم بدو لطف گستری
هم شاعر و ادیب و حکیم ود بیر بود
اندر وطن وزیر بد و یا امیر بود

آخر زبازی فلک چرخ کجمدار
آواره وطن شده از راه قندهار
سه سال بعداز آنکه بهندوستان نشست
برخاست باعیال وبه هجرت کمربه بست
آورد او پناه بدرگاه پادشاه
آن پادشه که هست مراسلام را پناه
(عبدالحمیدخان)به‌تلطف‌قبول کرد
اورا وهرمرام وراهم مشول کرد
تنخواه ماهواره واحسان شاه وار
الطاف کرد بهروی آن شاه با وقار
فرمود تا به شام نشیند از ان سبب
آمد به شام ورفت از محنت و تعب
شد سالها که بود مقیم دمشق شام
مشغول‌باعبادت‌ومقبول‌خاص وعام
فرض‌خدا بجای نمود ازادای حج
سال گذشت رفت برای ادای حج
آمد چوسوی خانه سه مه بعد ازقضا
افتاد او بیک مرض صعب بید وا
عاجزشد از علاج حکیمان با کمال
هیچ فائده نکردندتداوی‌وصرف‌مال
در لیله برات و شب جمعه از سنین
بریکهزاروسه‌صدوهجده که‌شد قرین

Marfat.com

بار حمت الله رحیم کریم خویش
رفت از جهان به سوی چنان نعیم خویش
صدها هزار رحمت حق برروان او
باد از فیض رحمت حق تازه جان او
بعداز وفات آن پدر مهربان خویش
کردم سفر ز (شام) به غمهای جان خویش
باراه آهنی که کشیده شده ز شام
اندر جبال عالی که (لبنان) وراست نام
تا بندر یکه اسم علم گشته بهر آن
بیروت در لسان همه مردم جهان
زانجا به بحر گشت سفر چون نصیب من
واپور شد نشیمن من با حبیب من
واپور ما که نام او راهست (قونغو)
مال فرانسه است وبسی هست تیز پو

هغه وخت چه طرزی صاحب افغانستان ته راغلی په افغانستان کی د ده د افکارو او نظریاتو د پاره زمینه کراره کراره مساعده کیده او ده چه دانگریز تسلط ته او لوختیز وهیوادونو مخصوص د مسلمانانو د بدبختی او وروسته پاته کیدو او لوی علت گڼلی په افغانی دربارو کی د نفوذ خاوندانو لوړ لاری ئی د انگریز د سیاست او سیادت په مخالفت شروع وکړه او په اعلیحضرت امیر حبیب الله خان ئی د سیاسی خپلواکی غوښتلو اقدام وکی چه د عمومی جنگ له کبله ئی شدید اقدام نه سو کولای او خپله طرزی صاحب سره له دی چه د افغانستان شمول یی د خپلواکی له پاره په جگړه کی ضرور باله بیا یی هم د صلح سره زیاته علاقه او د اروپای استعمار سره زیات نفرت څرگند اوه لکه چه وائی :

(محمود) چون بشر شده سفاك خون خویش
وزراه حق برون شده اندو بنا حق اند
لا بد که مالك احد بیمثل کون
بردارد این گروه که گمراه مطلق اند
اوروپ بحرص و کبر و وطمع شد چنان بجوش
کز آتش خودش همه محروق مطلق اند
یارب تو محو ساز گروهی که در فجور
غرق اندو دور از حق و با فحش ملصق اند
یارب تو مالك ملکوتی و ارض و خلق
محفوظ دار قومی که بردین بر حق اند

طرزی صاحب په تعلیم او تربیه کی د کمال درجی ته رسیدلی ؤ او دغو مسایلو ته ئی په فلسفیانه او حکیمانه نظر کتل لکه چه په خپله یوه لیکنه کی د(یک سرمشق عجیب) ترعنوان لاندی داسی لیکی:

«روزی فرزند یازده ساله ام (عبدالوهاب) را بنوشتن مشق مشغول دیدم همچنان مشغول؛ که هیچ سرش از نوشته بالا نمیشد دوتخته کاغذ را سیاه مشق کرده و تخته سومین را به دست گرفته بود! برای یک پدر از مشاهده اینحال برتر کدام مسرت وافتخار تصور خواهد شد؟ اما هزار افسوس که این مسرت وافتخارم بسیاردوام نورزید برخاسته نزدیك شدم تابه بینم که چه مینوسد همینکه چشمم بر نوشته هایش برخورد دستم رایك رعشه وجودم را یك لرزه دلم را یک حسرت عقلم را یک حیرتی استیلا نمود مگر اخند ناانصاف آن طفل تعلم التصاف را سرمشق که داده بود این شعر بود بشنوید که جناب قاآنی چه میفرماید:

من از شراب میخورم ببانگک کوس میخورم
ببارگاه تهمتن ببزم طوس میخورم
پیاله های ده منی علی الرؤس میخورم

شر ا ب گبر میچشم        می مجوس میخو ر م
نه جو گیم که خو کنم        ببر گګ کو کنا ر

وګوری په دغه لاندی نثر کی دی خپل مطلب په خومره ماهرانه اوادیبانه توګه اداکوی او خومره قلمی او هنری قدرت پکښی دی:

«اعتراض برخوبی وبدی این شعر ندارم بلکه شعر مذکور را در موضوع و موقع خودش از بلند ترین اشعار طمطراق پرد ازانه مبالغه کارانه شاعرانی می بینم و لی افسوس وحسرت ما براین است که این چنین یك شعر سرمشق تعلیم خط نو یسی یك طفل نو آموز چسان میشود ؟ این نیست مگر ازاینکه تحصیل ابتدائی دروطن عزیز ماازکتابهای اشعار آغاز میکنند .

شعر خوانی وشعر نویسی در ذهنهای آموزنده گان با شیر داخل شده باجان بدر میشود لاجرم مجبور شدم که آنسر مشق را پاره پاره کرده فی البدیهه این شعرذیل رابرایش نوشتم وتبدیل دادن مشقش را از آن شعر به این شعر امر کردم : ـ

شر ا ب آ ب شر بو د        شر ار آ تشش بدا ن
مخو ر مخو ر که میشو ی        تو با جنو ن همعنا ن
ز گبر میشو ی بتر        مجو س میشو ی عیا ن
به نز د خلق و حق شو ی        تو شر مسا ر د ر جها ن
زکو کنار و بنګګ چر س        کنا ر ه ګیر هر ز ما ن
که میکند ترا ز بو ن        چو جو ګیا ن بکا ر ها

حرم باغ کابل فی ذیقعده ۱۳۳۱ ه

طرزی صاحب خدای ورپسی پیژنی اود تخلیق په فلسفه کی ئی حیراندی په خطا او ثواب عقیده نه لری او محض ئی بهانه بولی لکه چه وائی : ـ

Marfat.com

اینکار گاه صنع عجب درس خانه ایست
هرنفس از کتاب لدنی نشانه ایست
گردون چو آسیا ب فلاکت مدار د ا ن
اند ر میانه آدم آو ار ه د انه ا یست
صد ها هزار قیصرو دار ابیاد د ا شت
کهنه رباط دهر عجب آ شیا نه ا یست
تحقیق اگر شود به تماثیل روز گا ر
یاخواب یاخیال ویا خودفسانه ایست
منجر بو دامو ر جها ن با نهایتی
آهنگ چار فصل شنو خوش ترانه ا یست
یارب زچیست کشمکش درد احتیاج
کز بهر لقمه نان همه این دام و دانه ایست
نبود سپر بز یر سپهر کبو د رنگ
ذرات جمله تیر فضا رانشانه ا یست
اصل مراد حکم خدا بو دد راز ل
ظاهر خطا صواب همه یک بها نه ا یست
هر خوب وبد ما شریک فاعل است وبس
نی ز اقتضای چرخ نه حکم زمانه ایست
سبحا ن مـن تحیر فـی صنعه ا لعقو ل
سبحا ن مـن بقـد ر تـه بعـجز ا لعقو ل

Marfat.com

طرزی صاحب داسلام په وروسته پاته کیدو او داهل صلیبو په وړاندی کیدو زیات خواشینی کوی او مسلمانانو ته طعنه ورکوی لکه چه وائی :-

مسلمانان شما بیدار بود ید
به بیداری جهانی را گرفتید
بعلم و صفت و عدل و مساوات
همه روی زمین احیا نمودید
مسلمانان عباد صالحین کیست
بغیر از مؤ من خالص دگر چیست
چسان اهل صلیب و بت پرستان
شود وارث شمارا غیرتی نیست

طرزی صاحب لکه دخپل عصر ځنو شاعرانو او ادیبانو خپله شعری قریحه او ادبی ذوق دشرابو، کبابو، رندانه مستی، مینی او محبت، دماه رخ په غیږ کی نیولو او بوس کنار ستایلو ارمان ته نه دی وقف کړی بلکه ده خپل غریزوی جذبات او عشقی احساسات دملی دردونو او اجتماعی ضرورتونو دتشخیص او رفع کولو دپاره دیو ملی جهاد په پر مختیولو او بریالی کولو ته وقف کړ او دغه جهاد ئی دافغانستان داستقلال حاصلولو او دانگریزانو په خلاف دملی تحریك پیدا کولو په لار کی شروع کی او ددغه جهاد نتیجه ئی چه دافغانستان سیاسی خپلواکی گټل و دسر په ستر گو ولید خو دقوم د ملی یو والی او ترقی ارمان ئی نیمه خواسو دبین المللی امپریالزم او داخلی ارتجاع دفشار له کبله دوطن په پریښولو مجبور سو په جلا وطنی او خواشینی کی ئی په ترکیه کی ۵ کاله تیر کړه ۱۵ و هلته ئی په ۱۳۵۳ـ۱۹۳۳ ق کی په یو عالم ملی ارمانو او تاثراتو روح دبدن نه والوت دغه دده

آخرنی شعردی چه د دی ور وسته ئی بیا دشعر څخه لاس اخستی دی:-

شمعیم که جا مد شده شعله و داغیم
سردیم چو کافور ولی درد سر اغیم

ده په افغانستان کې دناول لیکلو او ترجمه کولو ادبی نهضت داسی شروع کې چه دهغه په واسطه ئی نه یوازی دهیو اد په ادبی او شعری محافلو کې دتجدد او اعتلا دور شروع کړ بلکه قومی احساسات او ملی جذبات ئی یو والی وبښ والی او ترقی ته تحریك کړل لکه چه وائی:-

وقت شعر و شاعری بگذشت و رفت
وقت سحر و ساحری بگذشت ورفت
وقت اقدام است و سعی و جد و جهد
غفلت و تن پروری بگذشت و رفت
عصر عصر موتر و ریل است و برق
گامهای اشتری بگذشت و رفت
فهم عفریت سیه صنعتٔ پری
قصهٔ دیو پری بگذشت و رفت
تلگراف آرد خبر از شرق و غرب
قاصد و نامه بری بگذشت و رفت
سیم آهن در سخن آمد ز برق
تیلفون بشنو گری بگذشت ورفت
کوه ها سوراخ و برها بحر شد
جانشینی راگری بگذشت و رفت

Marfat.com

شد هوا جولان گه نوع بشر
رشک بی بال و پری بگذشت ورفت
گفت محمود این سخن را و برفت
سعی کن تنبلگری بگذشت ورفت

دسراج الاخبار د ۱۲۹۶ کال ددلو ۲۴ ش ۱۹۱۸ فبروری ۱۴ شماره ۱۳ صفحه ۴ کی دافغانستان او افغانانو داستقلال او دملی حاکمیت په خصوص کی داسی لیکی:- «این بود حسیات ایمانیه ووجدانیه سراج الاخبار افغانیه در خصوص استقلال دولت علیه مستقله متبوعه خودش که اولادینا شرعاً ثانیا حقوقا سیاستا عرض و بیان گردیده، سائق قلم عجز رقم عاجزانه، حسیات وجدانیه واعتقادو اعتماد باطنیه است که خیلی رقیق ودقیق است. (سراج الاخبار افغانیه) زنده، وگوینده بقوت همین حرارت غریزه (استقلال) است. در زمین غیر مستقل متزلزل نشود نمو نمی یابد، بهتر دلیلی از خود، در باب استقلال خود همی نمی یابد، شش ونیم سال است که دولت متبوعه خود را مستقل وحرو آزاد گفته اعلان کرده است، بر خلاف دعوای خود هیچ مدعی ندیده است، هم چه حاجت؛ تنها یك دولتی بود که با ما رفت وآمد ومعامله پیدا کرده مارا بخارج بهر صورتی که منافع و فواید خود را ملاحظ کرده بود معرفی وشناسائی داده بود، مردمان بیرون هم بهمانصورت ما را شناخته بودند حالانکه از آخرترین تقادیر شان اعتراف و تصدیق استقلال افغانستان صراحتا معلوم گردید (چنانچه در شماره دهم صحیفه پانزدهم جریده خود درج نموده ایم) لهذا آن مانع هم بر طرف گردیده پس اگر (دولت افغانستان) را مستقل وحر و بالاستقلال نام نگوئیم چه خواهیم گفت!

مشهور تالیفات ئی دادی:-

۱ - محاربه روس وجاپان (ترجمه)

۲ - مختصر جغرافیای منظوم افغانستان.

۳ - سیاحت بردور ادور کرهٔ زمین به هشتاد روز.

۴ - از هر دهن سخنی واز هر چمن سمنی.
۵ - سیاحت در جوهوا.
۶ - روضهٔ حکم.
۷ - سیاحت در زیر بحر.
۸ - جزیرهٔ پنهان.
۹ - پراگنده (داشعارو منتخبات ئی)
۱۰ - تلخیص حقوق بین الدول ترجمه
۱۱ - محمود نامه (ادب در فن) هدیه سراج الاخبار، آیا چه باید کرد؟ علم واسلامیت او نور دده په علم، ادب، حقوق، سیاست، وطن دوستی، ملی شهامت ولسی ابتکاراتو او قومی افتخاراتو په اخیر کی دافغانستان دسیاسی او ملی آزادی در مزونو دتشخیص اولار ښودلو په خصوص کی که هر څو مره ولیکل سی بیا لږ دی ځکه دده په ستاینه کی دمنطقو داسی تعریف نه سی پیدا کیدلای چه (شامل افراد او ما نع اغیار) وی او که ددی کتاب تـه ول مخونه دمحمود طرزی دژوند حالاتو او افکاروته چه زموږ د ملی دردونو معالج طبیب دی وقف سی بیا به ئی هم لوږه او مهمه برخه پاته سوی وی

## عبدالرحمن «لودین»

دی دکندهار دوطن دوستو او آزادی خـوښونکو شخصیتو نو څخه ؤ چه په کابل کی اوسیدی او د حبیبیه دمکتب دلـومړ نیو او لایقو فارغ التحصیلانو دډلی څخه ؤ هغه وخت چه دی دمکتب څخه خلاص سو په سراج الاخبار کی دمحرر په حیث مقرر سو په خپلو مقالو او اشعارو ئی په وطن کی دتجدد طلبی، عصری ترقیاتـو، نوی ژوندانه، آزادی او ملی حکو متونو تائید ولو استعمار او مطلقیت سره دمبارزی کولو دپاره تحریکونه شروع کړل اودیوی ډلی عصری ځوانانو رهبری ئی کوله. ده دغه ملی جذبـات او دوطن دوستی احساسات دخپل ملی مبارز او مجاهد پلار کـا کا سید احمد خان څخه چه دلومړی ډلی مشروطه خواهانو څخه ؤ په میراث وړی دی دکاکا یو اثر د (طرز کاکا) په نا مه زیات مشهور دی چه د بی سوادی سره ئی دمبارزی په لار کی لیکلی دی دکاکا نیکونه د کندهار د بر درانی په کوڅه کی او سیدل اوس په کندهار کی دکاکا په نامه کوڅه او مکتب سته مرحوم لودین

دځه مدی د پاره دسر منشی او امان افغان د جریدی د مدیر په حیث
هم کار کړی دی او د پښتو مرکی غړی ؤ دی د ۱۳۰۴ - ۱۳۰۶ پوری
د کندهار د نبار وال په حیث مقرر ؤ ځرنګه چه د مطلقیت او ارتجاع
سره ئی هیڅ روغه نه سوه کولای نو بیرته کابل ته تبدیل سو او
په ۱۳۰۸ کی د کابل د نبار وال په حیث مقرر سو ځو چه په ۱۳۰۹
کی په شهادت ورسید.

لو دین صاحب په پښتو، پارسو، عربی، ترکی ښه پوهیدی په
حقوقو، سیاست او ادبیاتو کی د استادی درجی ته رسیدلی ؤ او
مخنی نظام نامی ئی د ترکی څخه ترجمه کړی وی ده په پښتو او
پارسو دوطنولی او ملی جذباتو ډک اشعار ویلی دی دده مشهور
آثار رجال معاصر، رفع حجاب، سرو دسپاهی، نعره او نور دی

## عبدالعزیز «باباجان»

دی د سیاق، جفر، خوش نویسی، په فنو نو ښه پوهید
دامیر حبیب الله خان په وختو کی په کابل کی دماشینخانی په مطبعه
کی خطاط او مصحح ؤ او بیا په (۱۲۹۸ ش) کی د کندهار د طلوع کی هم
افغان په اداره کی خطاط او مصحح ؤ دده د سراج الاخبار په دوره
د مرحوم طرزی سره د مصحح په ډول کار کاوو د منور و ځوانانو
په ډله کی داوله شامل وو او د اخوان افغان له سیاسی ډلی سره ئی
روابطه درلودل.

باباجان د مولوی صالح محمد خان (هوتک) وروسته په (۱۳۰۰) کی
د کندهار د طلوع افغان د جریدی مدیر سو.

باباجان د کندهار د وینو، وطن دوستو او آزادی خوښونکو
عالمیانو څخه ؤ چه د تحول پسندی او تجدد طلبی نظریات او افکار
ئی په طلوع افغان کی زیات خپاره سوی دی.

په ۱۳۰۹ ش کی چه دوهم ځل د پاره په رسمی توګه د ملی شورای
(ولسی جرګی) اساس ایښوول کیدی د کندهار خلکو باباجان په خپل
وکالت کابل ته واستاوه یو کال وروسته په هغه مجلس کی د ځنو مسایلو
په خصوص کی د نظر داختلاف له اوله کبله استعفی کړه او ته
مجبور سو او دځه مدی د پاره ئی په خارجه وزارت کی
د مطبوعاتو د مدیر په حیث کار کاؤ او په ۱۳۳۴ کی بندی سو

هغه وخت چه په ۱۹۴۵ - ۱۳۲۵ کی سیاسی بندیان ټول ایله سول
باباجان ځو میاشتی په کابل د دار المساکین د مرستیال په حیث

کار کاؤ او د۱۳۲۵ کال په اوا خرو کی کله چه کندهار ته
راغی دکندهار خلکو دی دښاروالی (بلدیه) در ئیس په حیث وټاکی
دد غی و ظیفی دانجام وروسته په ۱۳۳۰ کی دهلمند دکر هڼی
دپر وژی داد اری رئیس په حیث مقرر سو وروسته بیا هم پر سپین
بیری سو چه حتی په سترگو ئی ښه نه لیدله نو ځکه ئی تقاعدوکړ
او دکندهار وطن دوستو خلکوده ته تر مړینی پوری دا مرارمعاش
دپاره خصوصی مادی مرستی ورسره کولی بابا جان په ۱۳۴۶ش کی
د ۷۵ کالو په عمر په داسی حال وفات سو چه دژواندانه دمال او
کورنی شخه دیوی لور پر ته بل څه هیڅ ورپا ته نه ؤ بابا جان
یو پاك اودتعصبه شخه خالی انسان ؤ که څه هم په قوم الکوزی ؤ
خودا ئی بی کراهتی او کم ظرفی بلله چه انسان خپل ځان دومره کوچنی
او وړو کی کړی چه یو ځای او یا قبیلی ته ځان منسوب کړی دهمد غه
کبله دده دخولی څخه دازیات اریدل کیدل «زه تر درانو پر غلجو
گران یم او تر غلجو پر فارسی وانانو او تر هغو پر هندوانو .
بابا جان دمیرزا عطا محمد الکوزی زوی وو چه پلار ئی دامیر عبدالرحمن
خان په وختو کی دغزنی مستوفی ؤ دی د(۱۲۵۵ش) په شاؤ خوا کی
په غزنی کی زیږیدلی ؤ بابا جان لیکلی تالیفات نه لری مگر په وطن کی ئی
ډیر لایق شاگردان اوفکری پیروان پاللی اوپری ایښی دی د خلکو
یوغمخوار ادرشتینی رهنما ؤ ځکه هرچا (بابا جان) بللی .

## سید عطامحمدشاه کنـدهـاری

دغه کورنی په اصل کی دجنوبی پښتونستان دپښین د ضلع ده
چه په تقوای ، عبادت اوخدای پیژند نه کی ئی په لوی کندهار کی
زیات شهرت درلود دهمدغه کبله هغه وخت چه پښین دلوی کندهار
جز ؤ اوډ سردار مهردلخان ترادارې لاندی وودغه سردار خرنگه
چه دسید انو او مشایخو سره زیات علاقمندی درلوده نودهمدغه
کبله ئی خپله لور دسید محمد زمان شاه زوی سید تاج محمد شاه
ته په نکاح ور کړه نو ددغی د وستی په اثر وو چه د پښین څخه ئی
کندهار ته نقل مکان وکی دسردار مهردلخان د دغی لور څخه
سید عطا محمد شاه پیدا سوی دی .
سیدعطا محمد شاه قندهاری ددی څخه علاوه چه متعبد او
پرهیزگار سړی وو په سیر ، اخلاقو او تفاسیرو کی ئی پوره معلومات
درلودل دافغانستان د مشهور و نستعلیق خوش نویسانو څخه

Marfat.com

هم‌شمیرل کیدی مرحوم فکری سلجوقی د دیباچه‌دوست محمد کتاب دار هروی په اثر کی وا ئی :-

«مرحوم سید عطا محمد شاه ازشاگردان بنام خلیفه ملا محمد حسین است که بذهن دقیق و هوش تیزپایه خط خویش را بجا ئی رسانیده که‌از بیشتر استادان عصرخویش بهتر و نیکوتـر نـوشت مرحوم سید عطا محمد شاه از نوابغ خطاطان نستعلیق است که در قرون اخیر هیچ آفریده بپایه وی نرسیده و نمیرسد ازین استاد هنر مند قطعات و مرقعات زیادی در اطراف نقاط و طن عزیز پراگنده است و نزد همه ذوقمندان وخط شناسان محبوب و مرغوب است جناب آقای سید محمدعثمان که حسن خط و حسن اخلاق را ازپدر و پدران بزرگوار خود میراث دارند خطوط زیبای پدر را جمع نمود وخود در گوشه دور از انتظار منزوی و به طاعت مشغول میباشندوخط نستعلیق رابه‌شیوه پدر بسی نیکو مینویسد ، سید عطامحمد شاه په ۱۲۴۱ ق کی مړ دی .

## میرزا محمد علی «شرر»

میرزا محمد علی دمحمد نصیر زوی دی چه په ۱۱۹۹ کی ئی د محمد اسمعیل په نامه یوه مرثیه ویلی ده او په همدغه وخت کی په کندهار کی اوسیدی .

شرر نه یوازی په کندهار کی دپارسی ژبان شاعرپه حیث پیژندل سوی دی بلکه په زیاتر ونو و تذکر وکی ئی چه په هیواد کی لیکلی سوی دی ذکر راغلی دی .

لنډه پیژند نه ئی داسی ده :-

مرحوم میرزا محمد علی شرر زمیندآوری که در عصر او ایل سدوزائیهاازرمیندآورولایت هلمند به قندهار آمده و کوچه که بنام ملاطاهر درناحیه اول شهر قندهار وجود دارد ملا طاهر مذکور برادر زاده مرحوم شرر وپسر میرزا اسمعیل بود که شرر در مرثیه برادر مذکور خود قصیده سوزناکی دارد از بازماندگان دختری شرر و ملاطاهر درقندهار شیخ محمدطاهر عالم وفاضل استاد مقبول معاصر است واز اولاد واحفاد پسری شان مولوی محمدحسن وبرادران اوست شرر در شعر دری مرثیه بلندی دارد غزلیات و قصاید او قابل خواندن واستفاده است

اینهم نمونه کلام او :-

افروخته است هر که ز مهرت چراغ دل
چون لاله نیست جز گل داغش بباغ دل
از زلف چون کمند که می آئی ای نسیم
یکدم با بست تا کنم از تو سراغ دل
نوشین لب تو شهد فشاند بکام جان
ریزد نمک تبسمت ای جان بداغ دل
ما را چه احتیاج بجام و بباده است
خون جگر همیشه خورم از ایاغ دل
طی شد بهار عمر و ز گلهای باغ دهر
بوی وفا نخورده (شرر) برد ماغ دل

## احمد

دی په عربی او دری ښه پوهیدی په شعراو ادب کی دخپل عصر دنو میالیو شاعرانو څخه ګڼل کیدی او دسردار غلام محمد خان طرزی همنشین او هم مشربه وو په کندهار کی دری احمد نومی شاعران تیرشوی دی اعلیحضرت احمدشاه ، احمد صوفی او بل دغه احمد چه سوانح ئی په لاندی ډول ذکر کیږی :-

میرزا احمد علی قندهاری خوش نویس به سال ۱۱۹۵ تولد یافته ودر ۱۲۸۰ فوت شده است . اویك شاعرنامدار قندهار و با مرحوم سردار غلام‌محمدخان‌طرزی‌افغان‌معاصربود .

اویکی از رجال محاسبه و ادب بوده و به دربار سرداران قندهاری عهده‌مستوفیت داشته‌ودرسال ۱۲۳۶ میرزا عطا محمد شکارپوری بواسطه ملاموهن حاکم شکارپوربه دربارسردارشیردل خان بجای میرزا احمد خان مقرر شده و این میرزا عطا محمد از اخلاق حمیده میرزا احمد خان به عبارت ذیل یادکرده است:-

Marfat.com

«عالیجاه شاه فرد دیوان مروت و انسانیت و مطلع قصیده مرحمت وعنایت پسندیده اخلاق کریم الاشفاق» در نزدیکی کوتل باباولی صاحب یک قریه بنام قلعچه میرزا احمد خان ازوا ست یکی از نواسه هاو نبیره هایش بنام میرزا عبدالاحمدخان که یک جوان مردانه وطن دوست است اکنون زنده و در همان قلعچه زیست و زندگی دارد او یک قصیده در تعریف چای به صورت تفنن با اشتراك مرحوم طرزی سروده اند .

اینهم نمونه کلام او : ـ

هر که دل را از کمال معرفت آراست است
وز جمالت آنکه عقبی دادودنیاخواست خست
ز تصاریف خزان و در تقالب زمان
هر که چون سرو روان آزادو با برجاست جست
بیگمان همچون سلیمانست فرد اسر فراز
آنکه چون مور ضعیف امروز زیرپاست پست
سرگران بر خیزد از خواب عدم فردا کسی
جز اشارات دو ابرویش بیک ایماست مست
از گرانجانان نیاید شیوهٔ جان باختن
دل بخوبان آنکه طبعش عالی وزیباست سست
غیر خال مهر کاند رعارضی ماه تونیست
در سراپای وجودت آنچه خوبیهاست هست
گر نسازی چارهٔ دردوی امروز ای طبیب
(احمد)دل‌خسته‌را در دامنت فرد است دست

Marfat.com

بله نمو نه ئې :-

هر که قدش رسا ست میگو یند بعلم الله که راست میگو ید
وانکه این قا مت قیا مت دید شور محشر بپا ست میگو ید
گر به بیند قد تو سر و سهی این نه‌بالا بلا است میگوید
خط سبز تو خضر اگر بیند خط نه‌مهرگیا ست میگو ید
خو ن عاشق خضاب کرده‌بکف گربپرسی حناست میگوید
شعرت او بشنو د کمال(احمد) گو هری‌بی بهاست‌میگوید

## احمد صوفی

دی یو کندهاری شاعر ؤ چه په سلوک، ادبیا تو او اخلا قیاتو کی ئې زیاته مطالعه در لوده او دیو نبه سړی په حیث پیژندلی سوی ؤ لنلوه پیژ ند نه ئې داسی ده:-

احمد صوفی شخصی است عالم، فاضل وادیب وارسته دیوانی دارد که غزلیا ت پرشور وصو فیا نـهٔ او از صفائی نیت وطینت و فضیلت او نمونه بارز شعر دیده میشود ودیوان‌موصوف بخطخوش بر کاغذ زیبا جدول کشی های رنگین‌نزد بازماندگان او (آقای عبدالرزاق خان غفوری) قندهاری‌مو جود است در با رهٔ کتاب‌و صا حب کتاب چند ین بار شرحی درمجله‌آریانای انجمن تار یخ نو شته شده که متأسفا نه نسبت به ضیقی وقت آنرا بدست آور ده نتوانستم همچنان نباغلی محمد ابر اهیم خان خلیل شاعر مشهور کا بل نیز در مجله موصوفه نوشته که مزار مرحوم احمد صو فی قندهاری را در هند زیارت ودیدن کرده است

احفاد او در قند هار ورثه واقربای میرزا قربان علی بولکی معروف است که در سال جهاد استقلال از طرف عمال انگلیسی به تهمت ناحق شهید وقتل او بعفاد انگلیس ها وباعث نزاع قومی و ولسی ساکنین قندهار گردید.

# شیخ محمد طاهر

شیخ محمدطاهر دکندهاردفارسی‌ژبی دمشهور وعالمانوشخه‌دی چه‌زیات‌شاگردان اوارا دتمندان‌لری او هر چیری‌پیژندوی دی. لنلږه سوانح ئی داده:-

شیخ محمد طاهر از دختر زادگان مرحوم شرر وپدر کلانش مدتی امین‌نظام بود اما خود او تحصیلاتش‌را در نزد علمای‌دری زبان قندهار آغاز وسپس به نزد مرحوم پدر استاد محمد عبدالکریم حقانی که در علم عربی شهرت ولیاقت کافی داشته تلمیذ نمود بعد از آن عازم ایران گردیده در مشهد افتخار شاگردی مرحوم ادیب الاد بای نیشاپوری را که‌آقای فروزانفر مرحوم ایرج میرزا وامثال شان نیز از محضر او استفاده مینمود دریافته است در سال ۱۳۱۰ به‌قندهار آمد وبامرحوم ملاشرف‌الدین اخندزاده مصاحب ودوست‌بود استاد خلیل‌الله (خلیلی) وپوهاند عبدالحی(حبیبی) وبسیاری از مردان وجوانان کابل وقندهار و هرات به شاگردی او مینازند در سال ۱۳۳۰ بمرض اختلال‌دماغی مصاب ومدتی‌در شفاخانه علی‌آباد (نادرشاه‌روغتون) زیرمعالجه پوهاند دکتور علی احمد و آقای سید سرور شاه عالمی بود گرچه‌کاملا صحت نه‌یافت‌ولی باز هم‌اکنون که در هرات میباشد محل ومرجع استفاده اهل علم وادب است.

یکی از کارهای او در قندهار این است که بانی و مؤسس تکیه خانه عمومی (امام باره) است گرچه خود او بواسطهٔ بعضی به انجام رسانده نتوانست ولی خشت اول آنرا بنا گذاشت بنا علی محمد حسین طالب قندهاری که یکی از مخلصان واردتمندان او میباشد میگوید:-

حیف آن گوهر غلطان که بخاک افتاده.

Marfat.com

# میر عبدالجواد آغا

میر عبدالجواد دبدو شخه بیزاره خدای یاری او پرهیز گاره سړی ؤ په کندهار مخصوص په پارسی ژبانا نوکی ئی زیات اخلاص مندان در لودل لنډه پیژند نه ئی داده :-

میر صاحب گرچه همه مردم او را صاحب جفر میدانستند ولی او آنقدر خلیق وصاف دل وصادق بود که در تمام طبقات مختلفه قندهار منکر نداشت. حضرت سید احمد که مزارش در گورستان عمومی قندهار زیارتگاه مردان وزنان است از بزرگان وگذشته گان او ست. پدرش سید نجف شاه نام داشت وپدر مادرش عبدالوهاب شاه مدت زیادی به امر امیر عبدالرحمن در محبس کابل زندانی بود. مشاهیر وبزرگان آن زمان در قندهار مانند قاضی عبدالشکور خان بارگزائی مولوی صالح محمد خان هوتکی احمد جان اخند زاده خطیب الکوزی بابا عبدالعزیز خان مشهور بمد یر طلوع افغان سردار عبدالرحمن خان موشان رحمته الله علیهم وامثالهم از دوستان بلکه از مخلصان وارادتمندان او بودند او بود که به همراه مرحوم مولوی صالح محمد خان مؤسس طلوع افغان قندهار ودیگر رفقای شان بر خلاف مفکوره متعصبین تهی خالی تهداب پخته ومتین اتفاق را در بین طبقات مختلف قندهار بنیان گذاشت بچه های مکاتب پښتو ژبان ودری زبان واهل هنود را در یک مکتب بزیر اثر ونظر مرحوم احمدجان اخندزاده خطیب جمع نمود (در سال ۱۳۱۰ بروز جمعه اول اسد هشتم ماه ربیع الاول برحمت حق پیوست وبهمان مزار سید میر احمد مدفون گردید.

پسر بزرگش میر محمد علی شاه در قندهار وپسر خوردش پوهاند میرحسین شاه استاد ومعاون فاکولته ادبیات در کابل به اخلاق نیکو شهرت دارند.

## سرباز

دفارسی ژبی ښه شاعراو اجتماعی مفکرؤ دده په اشعاروکی دوطن او کام مینه بیخی زیاته ده دبی دردی او بی اتفاقی څخه ئی زیات نالش کړی دی عمری سوانح ئی داده :-

مرحوم عبدالحسین سرباز پسر ماما ی مولوی محمد حسن دارای

Marfat.com

قریحه سر شار شعری وادبی بود که باثر توطئهٔ ود سیسه چند نفر ناجوانمرد به تهمت نا حق در سال ۱۳۱۴ بدون تحقیق وتثبیت جرم جزا دید و با ثر هما ن جزای نا حق در کا بل که جهت معا لجه آمده بود جهان فانی را وداع گفت.

کتا ب اشعار آبد ار او بخط خود از نزد خلف الصد قش آقـای عبدالرؤف خان در قندهار موجـود است سر باز هم همیشه دم از عشق وطن ووطنداران واتفاق میزد اگر رشته عمرش کوتاه نمی‌شد شا ید ما نند یك ستارهٔ در خشان در آسما ن ادب دری قند هار میدرخشید.

## خادم

خادم دکندهار مشهور فارسی زبان شاعردی چه دآثار وسره ئې هر څوك لږ او ډېر بلديت لري او د هغو لـومړ نیو خلکو په جمله کې شمېرل کيږي چه په کندهار کې ئې دمعارف په پراختيا کې زيار ايستلی دی .

لنډه سوانح ئې دا ده : ــ

آخند زا ده عبد الحسین تخلص به «خاد م» که اجد ا دش از خلج ر وز گان به قندهار آ مده و پدرش ملا علیجا ن د ر ز مان اعلیحضرت امیرعبد الرحمن خان به تهمتی که بدخواهان او بر ملا بسته بود به کا بل احضار و در پغمان بقتل ر سید پسرش با و جو د یتیمی بزیر اثر وتربیه مادر خود به تحصیل علم پردا خته جا نشین پدر شد .

تا هذاسنه ۱۳۴۸ش که برحمت‌حق پیوست مورد احترام قوم و دو ستان بودقبل از دوره سقوی به انتخاب حکومت وقت مکتب اتحاد تو پخا نه مقرر وچون امین ومعتمد قوم بود مردم به اعتماد او پسران شانرا بمکتب داخل کردند درآن زمان چون مردم ثمره مکتب را نچشیده و ند یده بود ند چند ان رغبت ند اشتند در طلوع ا فغان ۱۳۰۰ ش منظو مه های او به طبع ر سیده .

# عبدالغفور «خائف»

دی په میرزا عبدالغفور مشهور ؤ په عربی او دری ژبو ښه پوهیده په کندهار کی ئی یوه مختصره کتابخانه درلوده چه دوخت محفلی ادیبان او شاعران پررا ټول وه لنډه پیژندنه ئی داده : ـ

مرحوم میرزا عبدالغفور «خائف» ازاحفاد مرحوم احمدصوفی بود در موسیقی هندی وایرانی معلومات کافی ودر ادب دری وایرانی دارای قریحه سرشار بود قرار گفته باز ماندگانش دیوان اشعار و منتخبات اودر بلوای سال جهاد استقلال درقندهار بتاراج رفته .

علاوه بر غزلهای آبدار ، مرثیه هم بیاد جوانان و ادی کربلا نوشته و داشته است که تاحالا هم نزد بعضی روضه‌خوانان مردم فارسی زبان موجود است این یك بیت که برای سنگ قبر مرحوم میرزا قربا نعلی بولکی کاکای خود نوشته درین جا ثبت میشود و آن این استکه : ـ

این غرقه بخون بماه شعبان

گردید براه دوست قربان

# نورمحمد خان «شوری»

دی په صرف نحو شعری فنونو او د بیاتو ښه پوهیدی او کندهاری فارسی‌زبان‌شاعروو چه ژوندنی په عبادت‌او ریاضت تیر سوی دی لنډه پیژندنه ئی داسی ده : ـ

مرحوم میرزا نور محمد خان‌تخلص به‌شوری از محله توپخانه قندهار واز همنشینان مرحوم‌مذنب‌ودر موسیقی‌هندی‌وایرانی وادب دری به‌تصدیق مرحوم مذنب از مذنب بالاتربوداشعار عشقی خود را در آوان پیری مانند مرحوم میرزا محمد محسن خان دبیرکابلی به آتش سوخت مرثیه‌های اونزد بعضی مردم‌دربیاض‌ها موجود است شخص قانع و زاو یه نشین وعلم‌دوست‌وخلیق بود.

## ملا علیجان

ملا علیجان دکندهار دښار دولسو الی په لویدیزکی دکندګان په کلی کی‌او سید محلی او وطنی شاعر ؤ اوشعر ونه ئی تر او سه دخلکو په خولو کی دی‌لانده پیژند نه‌ئی داسی ده : ــ

ملاعلی جان‌پسر محمد فقیه اصلا از کندګان وزبان مادری اش فارسی بود اما خود او به زبان ملی پښتوغزل‌های‌مطول‌وتاریخی می سرود که‌با صطلاح غزل خوان های قندهار اشعار ملا علیجان بنام (سپره غزل) یاد میشود یك آدم مشهور وشجیع بود که با ثر همان شجاعت در نزدیکی های‌دره میوند باعبدالوهاب برادرزاده خود در سال ۱۳۰۶ هـ به‌شهادت رسید یك مطلع از غزل های‌سواره او که بیادم است وبعد از بلوا ای سال جهاد استقلال سرو ده بود این است : ــ

ربه ستارضا ده نوی غم‌پر مؤمنان سو

دوی دباغ ګلونه‌مولاخر نګه‌خزان‌سو

غزل های‌او درسینه‌های‌جوانان‌شوقی قندهار ودر نزد بعضی از ارباب ذوق بسیار است .

## مولوی محمد حسن

دی زیات صوفی اومتقی سړی دی‌اوهر کله دخلکو څخه لیری په‌عبادت او ریاضت مصروفه دی شعری طبعه هم لری او شعر ونه ئی زیا تره پر مناقبت ، حمد ، مرثیه مشتمل دی لانده پیژند نه‌ئی داسی ده : ــ

مو لوی محمد حسن از احفاد ملا طاهر است در تاریخ و تصوف مطالعاتی‌دارد یك شخص متدین و با تقو ای و پرهیز گارو گو شه نشین است اکنون در نجف‌عراق سکونت پذیر میباشد‌اشعارصوفیانه و مدایح ومناقبت زیاد دارد ولی نمونه اشعار ش متا سفا نه در دست نیست .

## ملا کټه آخند

دملا کټه اخند کیسی او حق ویل تر اوسه دکندهار دخلکو په خو لو کی پاتی دی د حق ویلو په مقابل کی د هیچا څخه نه ویریدی د ربار او عواموبی زیات عزت کاؤ دشر یعت او طریقت په لار کی خلکو خپل مشکلات ور ته عرض کول او سمه او غلط لاربی ځنی پوښتل ملاصاحب دتقوی پر هیز ګاری او عبادت څخه علاوه تدریس هم کاوه دفقه او حدیث دزده کړی د پاره دکندهار او جنوبی پښتونستان زیات طالبان ورته راتله د شاګردی او اخلاص په حلقه کښی یی داخلیدل دده مسجد او تدریس ځای داحمدشاه بابا ګنبدی شمالی سیمه ته متصل دی او هم په دغه کو څه کی اوسیدی ملاصاحب په کندهار کی وفات سوی دی دسردار کندل خان معاصرؤ او هغه سردار ډیر ارادت اعتقاد ورته درلود دده

د دده اصلی نوم ملاغلام محی الدین ؤخو خلکو په ملا کټه ( لوی ملا ) پیژاندی دغه نوم دده دسردار کندل خان دربار یا نو دعلم او تقوی له کبله ور کړی ؤ دی په کام تره کی ؤ دده په ستاینه کی فیض الله داسی وائی :-

هیهات پیدا به نه سی یوداسی ګل کټه جا ن
پر شر یعت محکمه ز غیده تل کټه جا ن

هیهات پیدا به نه شی ورته خجل ؤ ابلیس
پرده وه جمع شیخان د عا لما نو جلیس

ښه معرفت بی کاوه ده په ایات او حدیث
ټو له سنګدله زړونه ئی نرمه ول کټه جا ن

هیهات پیدابه نه سی هزار هزار عالمان
پورته اخند صاحب ؤ د کندهار کټه جان

د وا ړه پر شرع محکم د معرفت بلبلا ن
ولاړ دناسوت دملکه بار سو عا مل کټه جان

Marfat.com

هیهات پید ابه‌نه‌سی دی ۊ مریددلوی پیر
دی‌مکاشف‌هر گوره هم ر سند ه دستگیر
د مر دگا نو په حا ل ۊ با خبر ه فقیر
رحمت‌درب‌دی، پرده‌باندی‌نازل کڼه‌جان
هیهات پید ابه‌نه‌سی دا کر ا مات‌ئی‌گو ره
مر غا نو پر پر واهه چار پا یی ماتی گوره
کل عالمان پسی تله دده و خواتی‌گو ر ه
پر جنا زه باند ی به واړ و ژړ ل کڼه جان
هیهات‌پیدابه‌نه‌سی‌دی‌هم نرگس‌هم‌گلاب
مگوی‌بی پتی‌سا تی‌بوتراب‌پروت‌پرتراب
ربه که ور کی ده‌ته هغه د حو رو شراب
چه‌د کوثر دحوضی څخه نوشول‌کڼه جان
هیهات پیدابه‌نه‌سی سنه شریعت ئی در لود
په‌خور لس علمه خبرهم‌طریقت ئی‌درلود
پر طالبا نو با ندی‌ډیر شفقت بی درلود
په څورلس علمه‌خبرهم طریقت‌ئی‌درلود
هیهات‌پیدابه‌نه‌سی‌ماښین‌ئی‌وکړی‌وصیت
ول مځه ملا خطیبه زما دد نیا دی رحلت
ماښام پروخت دنزع یسین شروع که صورت
لا یه په و رځ ا قر بأ و ر خبر و ل کڼه جا ن
هیها ت پیدا به‌نه سی د ځکند ن په سا عت
سری را پو ر ته هم کی یا ر انو ز ما معصیت

Marfat.com

شکر ایمان می تیر کی قبول سو ز ما عبا د ت
دایی و صیت ووی کی والوت بلبل کڼه‌جا ن
هیها ت پیـد ا بـه‌نه سی د ا د ا سـلا م بلبل
حکم د ر ب پر و سو خبر سو عز را ئـیـل
شپه دجمعی و ه خدا یه راغی‌د ر وح محصل
ر و ح ئی له تنه یو و ی پا ته سوگل کڼه جا ن
هیهات پیدابه‌نه‌سی‌په گور ستا ن کی کښیښنو د
چه شهادت یی وا یه تن یی سبحان‌ته کښیښنو د
امنت یاالله کم ده و خپل ځا ن ته کښیښنو د
په فسمعو ن کی منکر جو ا بو ل کڼه جا ن
هیهات پیدابه‌نه‌سی‌اوس دی رو زی سی ایمان
دده په مر گ سو خپه خا و ند ه هر مسلما ن
اوس دی خو شحا له گر ځی د . . .
په هر ه و رځ بی بجتا ن ور ما تو ل کڼه جا ن
هیها ت پید ا به‌نه‌سی بل د اسی ستنه د دین
د د ه په علم سر ه کند ها ر ټو ل و و ر نگین
اوس‌ئی په‌مرگ‌سره‌نن‌اسلام ټول دی غمگین
جن و انس ټوله ژاړی ولاړی کامل کڼه جان
هیها ت پیدا به‌نه‌سی ز ه فیض ا لله یم د لگیر
د یا ر له جو ر ه خدایه په زړه خسته یم ز هیر
نن فا تحی‌له و ر ځم خا ص‌یم‌غ‌لام د لوی‌پیر
د عـا شقا نو د عـا د غـه غـز ل کڼه جـا ن

Marfat.com

## دکندهاری قاضی خیلانو کورنی

دغه کورنی په اصل کی دکندهار دغوبری مرغی ده چه داورنگ زیب په وختو کی دپښتونستان دپیښور اما زو ته تللی ده او هلته ئی په علم تقوای او قضا زیات شهرت حاصل کړی دی ددغی کورنی یو مشهور عالم قاضی طلا محمد صاحب دقاضی محمدحسن زوی دی چه په ټول افغانستان او پښتونستان کی ئی دعلم او فضیلت آزانګه تر اوسه پرته ده.

دقاضی طلا محمد زوی اخوند محمد غوث دی چه د ۱۱۶۰ ه کال په خوا ؤ شاکی داحمد شاه بابا په امر او منظوری دپیښور دښار دقاضی په حیث مقرر سوی ؤ په دغی کورنی کی لوی عالمان او فاضلان تیر سوی دی.

## حافظ حبیب الله کندهاری

د۱۲۹۳ ه ق کال په شا ؤ خوا کی دحافظ عبدالرحیم افغان پسه ملګر تیا چه دواړه علمی شخصیتونه او دافغانی جذبی خاوندان ؤ دوطن دوستی په مینه ئی دپرنګی خلاف په مبارزو کی لویه برخه در لوده هغه وخت چه دوهابی عقیدی اختلاف دهندوستان څخه پورته سو دوی ئی په جواب کی رسالی ولیکلی او دمجاهدینو دتحریک سره ئی مرسته وکړه د(مشاهیر سرحد) مؤلف وائی چه فاضل حبیب الله کندهاری دخپل وخت علامه او فهامه تیر سوی دی پیر کتابونه ئی لیکلی او تالیف کړی دی حافظ صاحب ته به نورو علما ؤ (شیخ الشیخ) وایه عبدالرحیم افغان هم دقلم خاوند او لیکلی آثار لری.

## کندهاری میرزا اسمعیل

دی دکندهار دمشهورو عالمانو او فاضلانو څخه ؤ چه په۱۸۴۸ ع کال کی دکندهار څخه دسند علاقی ته ولاړ او ښکار پور په لویه جامع کی ئی په تدریس شروع وکړه.

څرنګه چه په دغو ورځو کی راورټی په بمبی کی دملکم فوج کپتان ؤ او دی یو علم دوسته او محقق سړی ؤ او دمیرزا دعلمیت

Marfat.com

او فضیلت څخه خبر سو او دشا گرد په حیث ئی دمیرزا علمیت ته سر ټیټ کی.

په ۱۸۴۹ ع کال کی چه را ورټی پیښور ته تبدیل سو نو دمیرزا اسمعیل څخه ئی عربی فارسی او پښتو لوستل شروع کړل او په را وروسته ئی داسی پښتو زده کړه چه پښتو گرامر او گلشن روه ئی تالیف کړ بیا دچج هزاره دښو ونځیو چیف محرر مقرر سو او ښه خدمتونه ئی وکړل. میرزا متاهل ؤ خو اولادئی نه درلودی یوه خورځه ئی درلوده چه دپیښور خان بها در غلام حسن ته ئی په نکاح ورکړی وه میرزا اسمعیل په ۱۹۱۳ ع کال وفات سو دوزیر باغ سره نژدی دشیخ حبیب دقبر خواته ښخ سو.

## بهگت بابا

په دوهم جنگ کی دانگریزانو سره کندهار ته راغلی دی او یوی عارضی په نسبت په کندهار کی گوښ سوی دی ور وسته دیوه روحی حالت دور پیښید لوله کبله مجذوب او باوله سوی دی او تل به یی دفقرا ودرویزی لاس اوږدوو دده په لاس کی چه څه لویدل هغه به یی خوړل په اخیستلی او کو چنیا نو ته به یی ور کول یی ده ته د کندهار زیاتو خلکو عقیده درلوده هغه وخت چه مړ سو دزیارت سره یی دکندهار دشکار پور درو ازی لویدیزی خواته یو مسجد جوړ سو اوس هلته مخصوص دجمعی په شپه ذکرونه او عبادتونه کیږی او په جهر سره حلقه باندی راگرځید لی وی او دقادری طریقی دپیر وانو یو ښه مرکز گڼل کیږی.

## جانان «هوتك»

جانان د پلار او نیکه څخه ستانه وو پخپله هم یو صاحب حال او پرهیز گار سړی تیر سوی دی دکسی په غره او غوږه مرغه کی اوسید دسیر او سلوك په برخه کی دحاجی دوست محمد نقشبند ی مرید وو چه هغه بیا په سلسله سره شاه غلام علی دهلوی ته رسید ی جانان دپښتو او فارسو نظمو نو یوه مجموعه لری چه د شعری هنر و نو علاوه حمد ، صفت منقبت ، مناجات وعظ اسرار ، مرثیه پکښی ستة دده تخلص په پښتو شعرونو کی (فدوی) او په پارسو کی خامی دی.

جانان په تصوف کی خپله طریقه داسی څرگند وی : ـ

ثمره یې په عقبی غواړم له خدایه طریقه می نقشبندی مجددی
په یوه قصیده کې دخپل پیر ستاینه داسې کوي :-

دسنت غاوره دوست د محمد دی
د حرام زائر له قطب دستګیره
یعنې شاه احمد سعید قطب زمانوو
دی محبوب سبحانی وولـه نبیـره

هزاران هزار عالم یې منور کړ
چه په خاه د ضلالت کې وو اسیره
که خبر نه یې له حالي تفحص کړه
له ذامانه له شیرانه له وزیره

قول دده زیارت ته درومې له ملکونه
له هراته له لاهوره له کشمیره

دپښتانه شعرا دریم ټوک ۷۰۰ صفحه کې داسې راغلي دي :- دا نه ده څرګنده چه جانان په کوم کال زوکړی دی په تخمیني ډول سره یې دزوکړی کال د ۱۲۲۵ هق کال په شاوخوا کې ټاکلای شو چه ده دخپل کلیات دوهم ټوک په کال ۱۲۸۳ هق دمحرم مې په دیر لسمه ورځ پای ته رسولی دی جانان په خپل یو شعر کې خپل عمر اتیا کاله بولي او دیوه فارسي شعر څخه یې معلومیږي چه جانان تر (۱۳۰۷) پورې ژوندی وو.

سال شد از هجرت خیر البشر یکهز ارو سه صد هفت دگر

## عندلیب

محمد امین عندلیب دسردار غلام محمد خان طرزي زوی دی چه په ۱۲۷۲ هق زوکړی او په (۱۲۹۲) هق کې د وبا په مرض په کندهار کې وفات سوی دی.
دی په تصوف او عرفان کې پلار ته عقیده لري او دنقشبندي

طریقی پیرو وو په تصوف کی یې چه کوم مثنوی ویلی دی خپل پلار ته داسی خطاب کوی :-

ای کعبهٔ جان دردمندان و ان قبلهٔ سجدهٔ نقشبندان
روزی به نصیحتم چنان گفت کی روز ازل به عاشقی جفت
از طرز بهار فیض سرمد فاخر به غلامی محمد
از حضرت ما فراق تا کی این شیشه بکنج طاق تا کی
هم پیر طریق خرقه پوشان هم مرشد راز باده نوشان
گفتم که ایا سرم فدایت هم جان دل است خاك پایت
یا رب تو مرا به آستانش خاکی کن وز یر پا فشانش
گیرم که شوی تو دستگیرم کو تاب که جلوه‌ات بپذیرم

## مولوی محمد جان دمیر بازار

دی دصوفیانو سر حلقه وو دده او دذاکر صاحب زاده خیلو په منځ کی د شیخی په رابطه کی اختلاف مو جود وو ملا صاحب دکندهار دمشهورو لیانو او پیرانو څخه دی دکندهار دزاړه ښار لمر لویدیځی خوا په یو کلی کی چه میر بازار نومیږی او سید هلته دخدای په یاد او ریاضت اخته وو او ښځو به دنیکی مدد څخه غوښت دوخت در بار هم ښه علائق ورسره درلودل او اراکین به ئی دارشاد او فیض اخستلو دپاره ور تلل.

ملا صاحب دغلام علی شاه صاحب دهلوی مرید وو دده څخه یې فیض او برخه اخستی وه دیوه او دوو کالو په مینځ کی دی دخپل پیر زیارت ته تللی او دهغه په خانقاه کی یی ځلو ښت ور ځی عبادت او ریاضت کاؤ ملا صاحب دغلام علی شاه صاحب دهلوی پر رساله یوه پارسی شرحه لیکلی ده ملا صاحب دحرمینو لیو ال وو څو ځله مکی شریفی او مدینی منوری ته تللی دی د ده په بزرگواری او تقوی ټول کندهاریان خبر دی او دائی دکرامتو څخه بولی چه دمازیگر لمونځ به ئی کور دماښام لمونځ به ئی په

مکی شریفی کی کاؤ دی په خپل کلی میر بازار کی په ۱۲۷۷ کی وفات سوی دی.

دملا صاحب زیارت ته اوس ټول اثری ناروغان ورځي ستل کیږي او ډیر رسنده دی دده په مناقبت کی په کندهار کی زیاتی غزلی ستی.

## عبدالاحد اخند زاده پوپلزی

دخپل عصر په علما وو کی ئی ممتازه درجه درلوده په نحو کی ئی پر عبدالغفور حاشیه لیکلی ده په ۱۲۹۷ ه کی امیر عبدالرحمن په کندهار کی مړ کی قبر ئی معلوم نه دی.

## قاضی عبدالعلی اخند زاده هوتك

دخپل زمانی لوی عالم ؤ خصوصاً په معقولو، فقه ریاضی، هیئت کی ئی لوی لاس درلود څه مده قاضی ؤ ده پر پارسی هیئت شرح لیکلی ده قاضی صاحب په ۱۳۴۳ ه کی په کندهار کی مړ دی دښکار پور بازار په خپله جامع کی ښخ دی.

## موی مبارك

دغه ویښته دحضرت محمد مصطفی (ص) دو ویښتانو څخه بلل کیږي او په پښین کی ؤ او یو صاحب حال سړی کله چه هغه سیمی دانگریزانو تر ادارای لاندی راغلی داسلام دارته راوړ اود کندهار دښار په زړی جامع کی په شانداره مراسمو سره کښېښول سو وروسته دکندهار نائب الحکومه محمد عثمان خان د سردار کندل خان په جامع کی ځای ورته ورکړ دامیر عبدالرحمن خان په امر د دغه ویښته دمصداق دپاره ډیری ډیری از مویښی وسوی او وروسته په کامل یقین ثابت سو ځکه چه د رسول مقبول ص په مبارك بدن مچ نه کښېنوسته او سایه ئی نه درلوده نو دغه ویښته په عملو وو هل سو امادی سره مچ نه پر کښېنستی او نه ئی سایه درلوده

## علی محمد اخند زاده

علی محمد اخند زاده دکندهار مشهور دورآن دوری پرهیزگار او متعبد سړی ؤ او تل دخدای په عبادت او ذکر بوخت ؤ او امر بالمعروف ونهی عن المنکر به یې کاؤ ده په فقه، حدیث او اخلاقو کی لوی لاس درلود دکندهار دمشهور وتفسیر دانانو څخه ګڼل کیدی. دعمر تر پایه پوری یې په خپله مشهوره جامع کی دقرآن تفسیر کاؤ په طریقت کی دی دمستنګ دملا محمد صدیق اخندزاده مریدؤ چه هغه بیا دملا ولی محمد اخند زاده توخی خلیفه ؤ او دنقشبندی سلسلی پیرو ؤ او په کام تو خی ؤ

دی په ۱۳۴۴ هـ ق کال په کندهار کی وفات سوی دی او پر ځای ئی اوس خیرمحمد اخند زاده او فضلو اخندزاده خرقه پوش دی دده پر شنخته دغه دوه بیته دی.

فیض محمد طریقت ... یافته روی ارادت زجهان یافته
سه صدو وچهل وچهار وبعد از هزار سال وفات اش به قرار شمار

## ملاشیر محمد اخند «بلوخ»

دځوانی په اول کی په درس مشغوله ؤ له هره علمه څخه ئی پوره برخه درلوده دعمر په اخیر کی ئی طریقت ته مخ کی په ادعیه ماثوره کی ئی یو کتاب د(جامع البرکات) په نامه لیکلی دی ملا صاحب دعمر په (۷۰) په ۱۳۳۷ د ګرمش دنو زاد په دهانه کی مړ دی.

## ملا عبدالحق اخند (خروټی)

ملا صاحب دکندهار مشهور پوهاند او تل به ئی تدریس کاؤ ده دامام غزالی صاحب پر اربعین عربی شرحه لیکلی ده پر سیر باندی هم شرحه لیکلی ده چه چاپ سوی نه ده دی په کندهار کی زیږیدلی دی او په ۱۲۸۲ هـ کی مړ دی او دکندهار په عمو می هدیره کی ښخ دی.

Marfat.com

## سپین کوځی بابا

د کندهار د مشهورو متشرعینو او صوفیانو څخه ؤ او د کوچنیوالی څخه دده په ژوندکی د عادت خرق اود بزرگواری نښی څرگندېدلی حتی وایي هغه وخت چه د مور څخه وزیږېدی دده په سر کی یوه او بدلی سپینه کوڅی موجود وه دده اصلی نوم سید نسیم گل آغا دی او په کام قریش دی دده کورنی تر اوسه په کندهار کی په زهد او تقوا مشهوره ده او خلك یی صاحب زاده خیل بولی سپین کوڅی بابا د کندهار دعمرانو په کوڅه کی اوسید او هلته

په خپل مسجد کی په ۱۲۳۳ هـ ق کی وفات سوی دی دده زیارت ته با العموم ناجوړه کوچنیان دشفأ دپاره بیول کیږی د اخلافو څخه یی مشهور سړی مرحوم دا د محمد خان د کرهڼی او اوبو لگو او دوزارت د نسل گیری رئیس وو.

## ملا سعدالله «خروټی»

ملا صاحب عالم او فاضل سړی وو دعمر زیاته برخه یی په تدریس تیره سوی ده پر (جلالین شریف) ئی یوه حاشیه لیکلی ده چه چاپ سوی هم ده همداشانی یی پر قاضی سلم مسلم الثبوت او صدرائی په عربی حاشیه لیکلی دی پر عبدالغفور ئی یوه بله حاشیه د (دافع التوهمات) په نامه اری دی په کندهار کی زیږ یدلی دی

دعمر په ۴٦ کال په ۱۳۱۳ ق کی مړ دی په عمومی هدیره کی د ملا قطب اخند زیارت ته نژدی ښخ دی.

## عبدالغفور اخند زاده هوتك

دی د کندهار د مشهورو عالمانو څخه وو د طب په علم ښه پوهېد پر میرزا بیدل یی فارسی شرحه لیکلی ده د زوکړی ځای یی کندهار دی او په ۱۳۳٦ ق کی مړ دی او د کندهار په عمومی هدیره کی ښخ دی

## عبدالاحد اخندزاده اسحق زی

دی مدرس ملا وو او پر (مدارك التنزیل) یی یوه عربی حاشیه لیکلی ده

د زوکړی نیټه یی (۱۲۵۵) قمری ده او د عمر په (۸۱) کال په ۱۳۳٦ کی مړ دی دښار لو یدیزی خواته د بابا ولی صاحب د سړك جنوب ته ښخ دی

Marfat.com

# دسپین بولدك شهیدان

د۱۲۹۷ ش کال دحوت په نهمه ورځ (۱۳۳۷ ق جما دی الاؤلی ۲۶-۲۷ فبروری ۱۹۱۹ دافغانستان په پایتخت (کابل) کی دافغان ملت دآزادی اعلان وسو دحوت په دیرلسمه دهندوستان انگریزی وایسرا ته ولیکل سوه چی کومه معاهده چی په ۱۳۰۵ هـ ق کال دافغانستان او انگریزانو ترمنځ سوی ده باید بیاوکتله سی او بوه داسی معاهده ترتیب سی چی د دواړو خواوو برابراو مساوی حقوق نه پکښی خوندی وی.

د۱۲۹۸ کال د حمل په شپږمه ۱۳۳۷ ق ۲۴ جمادی الثانی ۲۷ مارچ ۱۹۱۹ در وسی نوی اشتراکی دولت دافغانستان استقلال په رسمیت وپیژاند.

دغه کال دحمل په شپږ ویشتمه (درجب څوارلسمه دا پریل پنځلسمه دهندوستان دانگریزی وایسرای له خوافقط دتجارتی معاهدی دتجدید لیکلی موافقه راغله.

تردی لیك وروسته افغانستان پوه سو چی انگریزان دافغانستان په سیاسی مساوات قایل نه دی ځکه یی نو شرقی سرحد ونوته دحربی تجهیزاتو او لښکرو په استولو لاس پوری کړ دافغان دولت له خوا سپهسالارصالح محمدخان دننگرهار محاذ ته سپهسالارمحمدنادرخان د پکتیا محاذ ته اوصدراعظم عبدالقدوس خان اعتمادالدوله دکندهار محاذ ته مقرر سول صالح محمد خان څرنگه چی خیبر ته ورسید دثور په دوولسمه دشعبان دوهمه دمی په دریمه یی دمرکز بی مو افقی پرانگریزی قواوو برید وکړ او پرمخ ولاړ مگر دوی روځی پس چی د انگریزانو نوره قوه لنډی خیبر ته را ورسیده د افغانی فوج مخه یی ونیوه او د ثور په شلمه دشعبان لسمه د می یو و لسمه له طیارو څخه پرافغانی غازیانو بمونه راواورول سوه او دی نوی وسلی چه پښتنو تر اوسه پوری نه وی لیدلی دغازیانو په صفونو کی درزوا چاوه صالح محمد خان ماتی وکړه او جلال اباد ته را و تښتید په دی محاذ کی دوی ورځی پس د ثور په درویشتمه انگریزی لښکر (ډکی) ته راورسید انگریزانو په هغه شپه چی سردار محمد نادرخان پرټل باندی دبرید په حال کی وو خپلو لښکرو ته له چمن څخه پرسپین بولدك باندی دبرید امر ورکړ او چی سهار سپیدی چاودی (دتاریخ اسلام پنځم ټوك ۸۴۴ مخ) په حواله دانگریزانو دیرش

زره لښکر د سپین بولدك تر سرحدی کلاچی هغه یی قلعه جدید باله چا پیر ؤ یو بل مأخذ زیاتوی دانگریزانو هغه قوی چی د جنرال هاردی په مشر توب دجوزا په شپږمه ورځ سهار وختی پر سپین بولدك برید وکړ دوه غو ئډه پیاده او یوه رساله سپاره وو . په دغه ماخذ کی دانگریز انو دمهاجم فوج اجزا داسی ښودل سوی دی د انگریز اوگور که پلی عسکر خورلس کنډکه (یوه فرقه) هندی پلی عسکر دوه کنډکه سپاره یوه لوا در پلوی ساتند ویه رساله دوه کنډکه استحکام دوی ټولی ، بم اچوونکی طیاری دوی دانی او یوه مجهز توپخانه .: یو بل ماخذ داهم زیاتوی هغه انگریزی قواوی چی دمی له پنځلسمی دشعبان له خور لسمی د ثور له څلیر ویشتمی څخه دمی تر شپږ ویشتمی پوری په یو و لسو ورځو کی دسپین بولدك او کندهار دحملی له پاره په چمن کی راټولی سوی اودمی په اووه ویشتمه یی پر سپین بولدك برید وکړ تفصیل یی دادی : ـ

پلی عسکر دوی لوا وی .

توپچی دوی بطری

ماشیندار یو کنډک

له طیارو او دانجنیری جزوتام

مگر ددی ټولی قوی په مقابل کی د پښتنو فقط یو کنډک (دری سوه تنه ) سپاهیان له خپلو زړو وسلو سره دکنډک کمشر داؤد شاه خان ابراهیم خیل تر مشرتابه لاندی په سپین بولدك کی پراته ؤ او هغه یو غونډ پلی او دوه کنډکه سپاره عسکرچی له بوی نسبتاً مجهزی توپخانی سره دکندهار په ښار کی دجرنیل غلام نبی خان ناصر تر اداری لاندی پراته وو سره ددی چی داستقلال له اعلانه څخه دری میاشتی او په چمن کی د انگریزانو دعسکری قوا وو له اجتماعه څخه دوی هفتی تیری سوی وی سپین بولدك ته لانه ؤ استول سوی او اعتماد الدوله عبدالقدوس خان صدر اعظم دکندهار دمحاذ مشرچی تقریباً دوی هفتی دمخه لـه کابله کندهار ته له ورسره فوجه سره روان ؤ پر لاری ؤ او پـه جنلهوکی چی له مقره څخه یـو مـنزل جنوب ته واقع ده دسپین بولدك په نیولو خبر سو وبل کیږی چی له چمن څخه دغازی

Marfat.com

خیر و جان اڅکزی په وسیله د اطلاع د کندهار نائب الحکومه او نائب
خوشدل خان ته را رسیدلی وه چې انګریزان پر سپین بولدک باندی
د حملی خیال لری او تیاری نیسی مګر بیا هم لـه نائب د سپین
بولدک د عسکری مفرزی تقویـه ونه کړه او حتی د ځینو په قول
د جنرال غلام نبی د تنګ مخه یې هم ونیوله هغه ؤ چې د حوزا په
شپږمه ورځ د شعبان شپږ ویشتمه د می او وه ویشتمه د انګریزی ایمپایر
لښکرو سهار وختې پر کلای جدید سپین بولدک ناڅاپه برید وکړ
دوی د قوتو نو د مقایسی له مخه د سپین بولدک نیول د هلکو لوبه
بلله او ویل کیږی چې د دغه محاذ انګریز جنرال واشرب د کندهار
د نیولو له پاره ځلیر ویشت ساعته وخت ټـاکلی ؤ مګر د سپین
بولدک د دفاع کوونکو اسلامی جذبی او پښتنی غیرت دوی تـه دا
موقع ورنه کړه چې تر اوو ساعتو سخت جنګ د مخه د قلعهٔ جدید
دروازی ته ور ننوزدی سی او د پیش بینی سوی جنګی نقشی طرحه
کوونکی د دغه مقاومت او ځنډ په سبب چې د جنګ نقشه یې بد له
کړه خپل ځان وو اژه باخبره خلک وایی انګریزانو چې تر کلای
جدید خپلی قواوی را چاپیری کړی تر هر څه د مخه یـې لـه
افغانی عسکرو څخه د تسلیم غوښتنه وکړه او سپین بیرغ یې پورته
کړ مګر غیر تمنو پښتنو د دی غوښتنی جواب د توپک په خوله ورکړ
او د جنګ له پاره یې خپل تیاری اعلان کړ جنګ شروع سو او
انګریزی منصبدارانو ګور کهه فوج ته د پیش قدمی امرورکړ له
توپکو توپو او طیارو څخه د ګولیو او بمونو اوریدل شروع سوه
پښتنو غازیانو هم له هغی وسلی څخه چې درلوده یې کار واخیست
د کلا جدید کلا په سرو ګولیو پټه سوه د جوزا د میاشتی ګرمی نه یوی
خوا او لـه دیر شو زرو مجهزو عسکرو سره د درو سوو تنو پښتنو
عسکرو او یوی ډلی ملی قواوو مقابلی له بلی خوا د حوصلو او ثبات
امتحان اخیست پښتنو میرمنو د ګولیو په بارانو نو کی داوبو کټوری
ښاغلو غازیانو ته رسول ویل کیږی چه عبدالرحمان ټولی مشر او زوی
یې د دغه جنګ په لومړی حمله کی شهید انسول د عبدالرحمان
مایننی د میړه او زوی شهادت ولید مګر دی خپله اسلامی مجاهده
او پښتنی وظیفه پری نه ښودله.

او داوبو کټوری یې د کلا پر کنګرو باندی پله پسی غازیانو
ته رسول او په لوړ ږغ به یې ناری وهلی !ای تور یالیو غازیانو
سړی یو پلا مری دا جل غشی سل ګزه بر لری بی اجله هیڅوک

نه مری هلې داسلام پر ننګه ځانونه قربان کړی او دپښتنو نوم او ناموس وساتی دجنګ دشدت په وخت کې ثابت مهال ؤچې دتوپ ګولی دکلا پر هغه برج ومو ښتله چې افغانی کرنیل داؤدشاه خان هلته د مدافعی ، نظم او ترتیب له پاره ولاړ ؤ او ننګیا لی پښتانه یې مجاهدی ته تشویقول په دی ګولی دکلا برج راونړیدی او پخپله داؤ دشاه خان پر پښه زخمی سو ده لا په لنګو ټـه هغه پښه تړله چې بله ګولی راغله او برج یې ښه پسی ونړ اوه په دی دوهمه ګولی داؤ دشاه خـان بیا زخمی سو او له کـاره ولو ید دافغانی غازیانو مشر توب لومړی ټو لیمشر محمد یـوسف خان ابراهیم خیل دسرتیب محبوب شاه خان زوی ته ورسیدی پنځه ویشت کلن توریالی ځلمی دغازیانو په تشجیع او مدافعه کې هغه غیرت وښو دچې دپخوانیو پهلوانانو قصی یې سړی ته وریادولی جنګ په خورا سختی سره دوام وکړ دجوزا ټا کنده غرمه سوه دسپین بولدك دښت تنور غوندی تو دسو ګولی دژلیو په شان اوریدلی مګر بیاهم پښتنو غازیانو دایمان په قوت او پښتنی غیرت سره ددښمن دتوپو او طیارو مقابله کوله.

دغلیم بمونو او ګولیو د کـلا ی جدید د کـلا بست څخه کنډوالی جوړی کړی دغازیانو په وینو دکلا کنګری او دیوالونـه رنګ سوه او یو په بل پسی له درو سوو تنو څخه دا سی څوك پاته نه وو چې یو یادوه ټپه دی یې نه وی اخیستی دشهیدانو شمیر هم دقیقه په زیاتیدی او دتوپکو ګـولی هم خلاص سوی له څـو تنو زخمیو غازیانو څخه چې په کلاکی پاته ؤ بی برچی او تشه توپکو څخه بله وسله پاته نسوه ددښمن فوجونو چې دکـلا جدید له کـلا څخه دګولیو بندیدل ولیدل له هری خوا یې هجوم راووړ یوی کوچنی ډلی پښتنو سپاهیانو چې لاله پښو نه ؤ لو ید لی دکلا په دروازه کې په برچو او کوندا غو سره ددشمن دناپاکه تعرض مـخ ونیو پخپله ټـو لیمشر محمد یـوسف خـان چې بیا ورو سته

داعلیحضرت محمد نادر شاه دپاچهی په لومړ یو ورځو کې جنرال سو هم په دغه ډله کی ؤ مهاجمو دښمنانو په کریچانو برچو ګولیو او هر څه چې پلاس ورتلل ددغو توریالو غازیانو مقاومت ختم کړ ځینی شهیدان سول او ځینی هم دا سی زخمیان سول چې له پښو

Marfat.com

ولاویدل او دغلیم په خیال مړه وو ټولیمشر محمد یوسف خان هم پر سر داسې زخم واخیست چې له مړوئې فرق نه کیدی او څوشپې په سد کې نه وو په دی تو گه دسپین بولدك قهرمانه او په پښتنی تاریخ کې د برخې میړ منه کلا دنا پاکه دښمن په لاس کښیو تله او له درو سو وپښتنو سپاهیانو څخه دوه سوو څلویښتو تنو دملك او ملت ددفاع په لار کې دشهادت جاموَنه وچښل پاته شپیته تنه هغه زخمیان وو چې دژوند امیدنه وو ورته پاته او زیاتره یې په څو نژدو ورځو کې پخپلو شهید انو ملگرو پسې جنت تـه ولاړل او دافغانستان په تاریخ کې یې د ملك او ملت په خاطر دیوی بـې ساری مدافعې مثال پریښود.

## محمدعبدالکـریـم «حقانی»

دی دافغانستان دمشهور وعالمانو او فاضلانو څخه دی چـه داستاد کل منزلت ته رسیدلی دی او په عمومی توگه پر هر چا یعنې دزړو او نوو علوموپر پوهانو داستادی او مقتدا ئیت حق لری.
حقانی صاحب حلیم، خوش صحبته او غیر متعصب عالم دی دمجلس په اثناکې په خوږو او بسیطو عباراتو سره ډیرو مبهمو او مشکلو علمی عرفانی مسایلو او رموزاتو په اداینه او پورلینه کې ددمره طبیعی استعداد او علمی[*] اقتدار لری چه ډیرځله سړی په حیرت کې لویږی او هر څوك دخپل فهم او ذکاوت له کبله دده دمجلس څخه استفاده کوی دی میانه قده جگ نما ږنگر غنم رنگه سړی دی چه پر لار کرار کرار ځی او کرار کرار خبری کوی ښه به دا وی چه دده سوانح دده دمشهور اثر (سر گذشت واسرار غامضه حقانی) څخه چه ده په خپله لیکلی دی او زه ئـې دلته را نقلوم وگوری. سر گذشت من از آغاز تولد تا تحصیل علوم وتالیف کتب:ــ

این تراب اقدام العلماء المعروف به «حقانی» در لیل چهار شنبه ۱۴ ماه ذی‌الحجة الحرام سال ۱۳۱۵ هـ ق قبل ازطلوع آفتاب در شهر قندهار گذر خرقه مبارکه در یکی از فامیل های علمی

---

[*] د ۱۳٤۷ کال دمساوات دجریدې دلسمې گڼې څخه

Marfat.com

متولد شده است هفت نفر پدر و اجداد من یکی بعد از دیگری شهرت زیادی علمی وسمت استاذی داشتند نام پدر بزرگوارم محمد عبدالله بوده وبا محمد عبده شهرت داشت.

سلسله قومیت من علی زایی درانی وطن اصلی من زمین داور از توابع پشت رودهیر مند است از بدو ولادتم تقریباً تا سن هفت سالگی به علالت جسمی مصاب بوده نمیتوانستم شغلی را بخود گرفته ویا اقلا از جای بر خاسته کاری را اجراء کرده بتوانم از آن سبب صورت ظاهری وجسمی من نحیف وضعیف وعلیل بار آمده وعلی الا غلب امراض متنوعه مبتلا میباشم. در ابتداء تحصیل مبادی علوم مروجه وتعلیمات مقدماتی از نزد پدر بزرگوار خود تحصیل ودر عین زمان در سن چهارده سالگی قرآن کریم را در مدت یکماه حفظ نمودم تعجب نکنید که سوره بقره را که تقریباً دو سپاره و نصف است در یکروز حفظ نموده ام بعداً چون حس کنجکاوی و انتقادی داشتم در وقت درس گرفتن از پدر بزرگوار خود احتراماً طور انتقاد از الهٔ شبیهه خود را کرده نمیتوانستم از آنرو بعالم جید که در علوم مروجه سویه بلندی را حائز بود یعنی مولوی عطامحمد صاحب قندهاری ارغستانی که شهرت بسزائی داشت و عالم مشهور دیگری (ملا نظام الدین اخندزاده صاحب) قوم لودین در علوم معقول ومنقول و تفسیر وحدیث وعربیت هر دو نفر عالم فوق شهرت مزیدی داشتند در حلقه تدریس شان استفاده مینمودم و مبادی علوم و منقول را از حضور شان درس گرفتم در سن شانزده سالگی (الفیه عراقی) در حدیث والفیه ابن ملك واظهار برکوی در نحو ومیزان العلوم در منطق بانعباره یاد گرفتم کتب متوسط معقول وحکمت قدیم را نیز در قندهار درس گرفتم ودر بیست ودو سالگی چون برادر کلان من قاضی عبدالوهاب مرحوم در آن وقت قاضی کجه خوگیانی جلال آباد بود به عزم هند از جلال آباد ارادهٔ سفر نمودم بعد از اینکه وارد جلال آباد شدم ماه رمضان المبارك قریب بود در آنجا کمی توقف نمودن رمضان رسید برادر مرحوم من وحکومت آنوقت اصرار داشتند که در ختم تراویح بغرض تلاوت قرآن مرا امام بسازند امر شان پذیرفته

در سه شب ختم قرآن را در تراویح به امامت من انجام گردید بعد ا بحضور حضرت صاحب مرحوم چار باغ مشرف گردیدم وبامن از

Marfat.com

حد افزون لطف ومرحمت نموده ومرا اجازه خواندن حزب البحر باهدایت لسانی فرمودند ودر حق من آنچه دعا کرده وروا داری نموده ضرورت شرح و بیان ندارد چندی در مشرقی استقامت داشته واز حضور مولینا میان صاحب قیلغو (میان عبد العلی صاحب) قاضی سلم و امور عامه را تکرار استفاده کرده از آن پس در مزینه رفتم واز حضور مرحوم ملا صاحب مزینه که عالم جید ودر حکمت قدیم شهرت زیاد داشت کتاب صدرا و قسمت کمی از شمس البازغه درس گرفتم و بعد بخدمت جناب مولینا سیف الرحمن مهاجر ومجاهد فی سبیل الله عالم متبحر و متخصص علم تفسیر و حدیث رسیدم از جناب موصوف اول تفسیر قاضی بیضاوی را استفاده نموده ام ناگفته نماند که استماع واستفاده متذکره از اساتذه محترم صورت تکرار و یا تحصیلی حاصل بوده نه چیز دیگری وچون نظر به حس انتقادی سوالات زیادی به حضور شان تقدیم وحل آن را میخواستم بالخاصه راجع به موضوعات دقیقه ومسائل غامضه ما وراء الطبیعه وغیره دقایق علمی کوائف وروحی بعمل می آوردم از آن رو استاذ مرحومی همه وقت بمن علاقه مخصوص اظهار می نمودند. غفر الله لهم اللهم ارحمهم

بعداً چون عازم پشاور شدم وقتیکه به آنجا رسیدم درمدرسهٔ کریم بخش از مولوی صاحب کنر که در آنجا تشریف داشت تحریر اقلیدس را استماع نمودم واز آنجا رهسپار دهلی گردیدم برای چند وقت استماع کتب بالخاصه دورهٔ احادیث را ختم نموده مدرسه دیو بند را حاصل نمودم.

در عین حال چون مطالعات کتب غیر درسی در نزد من اهمیت زیادی داشت وقت را بدون مطالعه ننگذشتانده ام بلکه بنزد من ایضاع وقت بدون مطالعه یک جرم بس بزرگ تلقی میشد و می شود از آن روهمه وقت فکر من را از افادهٔ استاذان بلند تر تخمین میکردم و یگان وقت خود شان از پرسش های من بحیرت می رفتند چرا؟ دوقوت وقدرت فوق العاده نزدمن موجود بود داشت

اول تقویه روحانیت واستعداد روحی که هیچگاه من مطالعه کتب درسی را بدون وضو انجام نمیدادم واکثر از طرف شب در آخرشب بعد از نماز تهجد مطالعه میکردم و در هر موضوع لا ینحل و مغلق به خداوند علیم و خبیر و دانا و بینا التجاء و

به اشخاص روحانی چه مرده وچه زنده توسل می نمودم و بروح شان علاقه مخصوص یافته بودم چنانکه روزی به طالب العلمی شرح جامی را تدریس میکردم در بحث مرفوعات با موضوع مشکلی بر خوردم بروحانیت حضرت جامی استشفاع نمودم بعد از دو دقیقه به نظرم چنین خورد که حضرت جامی در آن موضوع شرح وتفصیل میدهد شکر خدا را بجا آوردم موضوع مذکور حل گردید از رهگذر مذکور در بسی مواضع از حضور اشخاص روحانی امداد های فوق از انتظام مشاهده کردم چرا؟ من به این عقیده ام که علم کسبی از علم موهوبی به مدارج پست تر وعلم موهوبی نظر به علم کسبی به مراحل مفید تر است و هم علم کسبی محدود و علم موهوبی غیر محدود است و علم کسبی سبب کسب و زحمت و یک زمانه تحصیل بدست خواهد آمد وعلم موهوبی ازخداوند متعال بر قلب و دماغ بنده القاء و الهام میشود یؤتیه من یشاء والله ذوالفضل العظیم بنابران در هر چیز به جناب خداوندی و مراقبه جمال محمدی (ص) التجاء نموده از فیض او تعالی شأنه حل مشکل خواسته ام و میخواهم ارتباط من به اشخاص روحانی خیلی محکم وقوی وپایدار است وخواهد بود وبعضی مغلقات علوم را ذریعهٔ خود قائل ویا مؤلف آن معلومات نموده ام چه از راه خواب ها وچه در بیداری طور القاء وتلقین روحی این حقانی در دورهٔ مسافرت خود باعلما ومدرسین دیوبند وغیره مبلغین اسلامی مذاکراتی به عمل آورده ام وتبادل افکار نموده ام و بعد از بازدید بعضی از شهر ها ونواحی هند وملاقات علمی باعلماء آن سر زمین و اعضای انجمن های تبلیغاتی اسلامی وا پس به قندهار مراجعت نمودم چون در قندهار شغل تدریس وتبلیغ را آغاز وشهرتم روزبروز در تزاید شد متاسفانه پدر بزرگوارم بعد از یکسال از دنیا رخت بسته به دارالبقار حلت فرمود : انالله وانا الیه راجعون. علاوه بر وظایف علمی وتألیفی وتدریسی که داشتم تکالیف فامیلی وعائلوی ومناسبات جانشینی پدر بردوش من تحمیل گردید که از یکطرف کسب معشیت واداره عائله و از جانب دیگر وظایف علمی وتربیهٔ شاگردان ومشتاقان علم ومحبت مصروف بودم روزگار پر فلاکت واد بار وبرهم خوردن اقتصادیات وعدم تکافوی ضروریات واحتیاجات ومصارف عائلوی مرا مجبور به قبول وظایف

Marfat.com

رسمی حکومت گردانید در دورهٔ وظایف رسمی از رتبه افتأ تا قضاء ابتدائیه وباز مرافعه وعضویت جمعیت العلماء و مدیریت الفلاح و عضویت عالی ریاست تمیز عدلیه بیست و دو سال استاذی مضمون حقوق اسلام در فاکولته حقوق ودر عین حال که وظیفه ریاست عالی تمیز عدلیه نیز بمن تفویض گردیده بود وبالاخره معین عدلیه وباز بریاست جمعیت العلماء مؤظف شدم وتا حال نیز به مصر وفیت غیر اداری و غیر اختیاری گرفتارم تادیده شود که از پردهٔ غیب چه به ظهور می آیددر اوقات رسمی واجراء وظایف اگر اندك وقفه وفرجهٔ یافته ام از مشاغل علمی وتدریس وتألیف کتب وتقویه روحی دست نکشیده ام بلکه باخود تقسیم اوقات دارم به آن اساس سالها ست که من در شب از شش ساعت زیاد خواب نشده ام علی الاغلب مصروف مطالعه و نوشتن وتالیف وترتیب وجواب هـای مراجعین میباشم از آنجا ست اگر یکشب طور مهمانی بجای رفته ام کتاب مطالعوی خود را همراه خود برده ام ودر اندك فرجه ووقفه از آن استفاده کرده ام دوستان من چون از آن خبر دارند قول مرا تصدیق خواهند کرد کتب مقدسهٔ انجیل وتوراة وزبور را از روی نسخه های مختلفه مکرر مطالعه کرده ام همان عشق وجنون و شوق مفرط علمی است کـه بعضی کتب را مکرر هـم مطالعه کرده ام مـا نند کلیات ابی البقاء را سیزده مرتبه از اول تا آخر مطالعه نموده ام وچند سال موطا امام مالك را از طرف شب وبخاری را از طرف صبح به طور وظیفه در جمله اوراد واذکار خود استعمال داشتم.

مؤلفات بناغلی حقانی :ـ

(۱) السیاسته الشرعیته در دو مجلد که بالغ به ۷۰۰ ورق میباشد.
۲ ـ خلاصته الحکمته حقانی.
۳ ـ البشری فی مسایل الشوری.
۴ ـ هویت دین.
۵ ـ مزیت دین.
٦ ـ عظمت قرآن.
۷ ـ شخصیت بزرگ حضرت محمد (ص).
۸ ـ اصول الفقه حقانی.

Marfat.com

۹ ـ صرف حقانی
۱۰ ـ نحو حقانی.
۱۱ ـ معاملات (حقوق مدنی)
۱۲ ـ مناکحات وطلاق در اسلام.
۱۳ ـ جنایات وعقوبات در اسلام (حقوق جزا)
۱۴ ـ حقوق میراث.
۱۵ ـ سیاست در اسلام.
۱۶ ـ شرح حزب البحر
۱۷ ـ سر گذشت واسرار غامضه حقانی.
۱۸ ـ علم الخواص.
(۱۹) زن از نگاه اسلام.
۲۰ ـ در موضوع غلو شیعه وسنی.
۲۱ ـ تفسیر سوره یس.
۲۲ ـ تفسیر منظوم پارهٔ عم شریف.
۲۳ ـ احکام ربا (منفعت غیر مشروعه).
۲۴ ـ رساله اجتهاد وتقلید.
۲۵ ـ اصول محاکمات قضائی.
۲۶ ـ معلومات حقانی در علم کلام.
۲۷ ـ اسلام وابن سینا.
۲۸ ـ تفسیر سوره فاتحه.
۲۹ ـ الشجر الاخضر
۳۰ ـ اصول اساسی مذهب حنفی
۳۱ ـ اصول تفسیر.
۳۲ ـ رهبر.
۳۳ ـ رساله در تجوید.
۳۴ ـ ابحار اربعه.
۳۵ ـ کچکول گدایا معلومات حقانی در پنج جلد.
۳۶ ـ شرح اسماء اصحاب بدر واحد.
۳۷ ـ اصول الاصول
۳۸ ـ مقدمته الصلوه
۳۹ ـ شرح کلیات خمسته.
۴۰ ـ الحاشیته علی القطبیة

Marfat.com

۴۱ - تعزیرات مالی.
۴۲ - فتاوی حقانی.
۴۳ - من شیخ هرات را نشناخته ام.
۴۴ - اندرز های غیر مستقیم.
۴۵ - ارتقاء انسان از راه قرآن.
۴۶- مقام شاه در نظر اسلام دوجلد.
۴۷ - رساله در سماع.
۴۸ - دارالمجانین.
۴۹ - فوائد متفرقه.
۵۰ - مجمع الفوائد النادره (النفع الفوائد)
۵۱ - رساله در اختلاف امتی رحمته
۵۲ - دین از ما چه میخواهد.
۵۳ - اصول الحدیث.

## عمر جان صاحب زاده

عمرجان صاحب زاده دکندهار دمشهورو متصوفینو او صاحب حال خلکو څخه وو دی به تل دخدای په فکر او عبادت بوخت وو دسفر او زیار تو ډیر شوق ئی ددر لو حلیم طبیعت او برده بارهسړی وومریدا نو ته به ئی وعظ اوارشاد کاوه او د هفتی په زیاتو ورځو کی به دده ذکر حلقه جوړه مریدانو او اخلاص مندانو ته به یی خپله ډوډی برابر وه له او دمسا کینو سره به یی هر ډول مرسته او خوا خوږی کوله - دی په (۱۳۰۹) ش کی مکی معظمی ته دحج لپاره ولاړ د جدی څخه مدینی منوری ته پـرلا ری دماز دیگرد لمانځه کولو په حال کی چه خدای ته پرسجده پروت وو موټر پرتیر سواو ځای پرځای وفات سو

دوفات په وخت یی سن ۵۵ و دده وروسته زوی یی عبد الله جان صاحب زاده پر مسئله کښیناست او دغه لنگر او طریقه یی تو ده ساتلی ده دعمر جان صاحب زاده دوفات په خصوص کی په کندهار دده په صفت او صاحب حالی کی زیاتی سندری و یلی سوی دی چه یوه ئی داده:

Marfat.com

اوس ئی بیلتو ن دی له جها ن نه څخه

ولا ړی صاحب دخراسانه څخه

په څه افو س اهل اسلام ژاړی

او س ئی بیلتون دی خاص وعام ژاړی

او س ئی بیلتون دی له وطنه څخه

د قـنـد هـا ر دا نـجـمـنه څـخـه

پر هند و ستان با ندی گذر و کی

و بیت ا لله ته ئی سفر و کی

حج ئی پو ره کی مدینې ته ولاړی

د مبا رك پا کی روضی ته ولا ړی

زیار ت ئی و کی خراسان لر ه تی

خپل ا قر با ؤ خا ند ا ن لر ه تی

خا و ند ه و ر که ثو ا بو نه د حج

پور ه ئی واړه کړه شرطو نه د حج

نه ؤ خبر هیڅ د ا ثر ه د مر گ

نعر ه پر و سو ه نا بو بر ه د مر گ

نعره پر و سو ه د ر حلته د و ر و د

سخته زهیر سو له فر قته د و د و و

په خا مو شی هغه نیکنا م ژ ا ړ ی

اوس ئی بیلتون دی خاص عا م ژ ا ړ ی

ا و س ئی د ی حکم ووډ و ها ب
پر هغه لاری ئی مو ټر سو خر ا ب
قضا و ه تللی مو ټر و ا ن سو ا خته
صاحب ا غا و د ر یدی پر نما نځه
د پا سه بل مو ټر چا لا ن ر ا غی
د نا قا بله مو ټر و ا ن ر ا غی
شپه وه تاریکه او ر ئی تیز و ر کی
پر صاحب جان اغائی خیز و ر کی
صاحب اغا درب قضا ته ؤ پر و ت
پر سجده و حق تعا لی ته ؤ پر و ت
سر ی ر ا پو ر ته نه کی پس له د غه
ټو ل ئی د فتر سو دنا سو د له مخه
ټو له حا جیا ن ئی جنا ز ی لر ه ځله
د هغه پیر و ا د یر ی لر ه تله
کل مقتدیان ورانډ ی امام ژ ا ړ ی
او س ئی بیلتون دی خاص وعام ژاړی
اوس ئی بیلتون دی پر دامان ئی کښیښو د
د بل ولات پرګو رستا ن ئی کښیښو د
غم ئی و مو ز ته یو په سله پر یښو د
خپل خلو تو نه ئی معطله پر یښو د

Marfat.com

معطله پاتی سو لنگر د صاحب
تللی بغداد ته براد ر د صاحب
نیت ئی د اغه وو چه وطن ته به ځم
ده صاحبجان آغا دیدن ته به ځم
دیدن ئی وکی چه مکی ته راغی
رخصت ئی و اخستی جدی‌ته راغی
په ښه رغبت ئی ملاقات وکی
هوری په جده کی ئی وفات وکی
غلام‌حیدرجان‌صاحب‌زاده کوچ وکی
په مرگ ئی هر سړی افسوس وکی
دا لته وړ و نه صبح و شام ژاړی
اوس ئی‌بیلتون دی‌خاص‌وعام‌ژاړی
اوس ئی بیلتون دی خلق ژاړی‌پسی
دعا رحمت له خدایه غواړی پسی
پر حلقه لار ولاړی حق بینه وو پیر
عجب ز بدة السالکینه وو پیر
پیدا به نه‌سی د ناسود پر زمین
سخته سخی وو هغه پیر نازنین
چه هم حاجی وهم پر شرع عالم
پر شریعت وخو مره ټیر مستقیم

و ړ یر عا لم ته ئی مد د ر سیدی
و هر مر ید ته شفقت ر سید ی
خپل پر د ی نفعه مد ا م ځنی و ړ ه
نه تکبیر و نه خاص وعام ځنی و ړ ه
ځنی خو شحاله هر مؤ من ؤ همیش
بیشکه هغه پیر نیا ز من ؤ همیش
د مجلس خلق ئی مد ام ژ ا ړ ی
اوس ئی بیلتون دی خاص وعام ژاړی
اوس ئی بیلتون دی سخته پیر ووصفا
هم پر با طن هم پرظا هر ؤ صفا
خد ایه په مرګ تللی دی را به نه سی
هیر په دنیا کی د هیڅ چا به نه سی
ځوك چه ئی صفت کوی بد خوا به نه وی
ځو ك چه بد خوا وی بی جفا به نوی
په حسن خلق سر ه معمو ر ه ؤ پیر
و هر مر یض ته به حضو ر ه و و پیر
پیر چه ر حلت و کی جدا د و طن
تل به یا د یږ ی په د عا د و طن
خلوت ئی پروت پر ده خوا جه باندی
د قند ها ر پر علا قه با ندی

په هر چا پورې ردې صفتونه د پیر
محمد عیسی وائی بیتونه د پیر

هجر زده ستا په کلام ژاړی
اوس ئی بیلتون دی خاص و عام ژاړی

صاحب آغا په طریقت کی د خیر الدین صاحبزاده هو تک مرید ؤ ده د کندهار ښخه پرته په کلات، مقرشا جوی او د کابل په ښاوخوا کی زیات ارادتمندان او مخلصان در لودل دی په کام کشانی توخی دی دستانه توپ سلسله یی تر یعقوب چرخی پوری رسیږی مشهور بهائی جان صاحب زاده چه شعر و نه ئی دلو گر ښخه بیا تر کندهاره د خلکو په خولو کی دی دده د کورنی ښخه دی.

## ملا نعمان اخند ترین

ملاصاحب د کندهار په بر و درانی کی اوسیدی په ۱۲۸۵ ه کی یی یو کتاب د (مسائل الاسقات) په نامه تالیف کړی دی ډیر زاهد او متعبد سړی ؤ خلکو ئی د دعا امید کاوه

## حاجی آغا

په کندهار کی د قادری سلسلی لوی پیر دی او د ننه په ښار کی یی ښه مریدان او اخلاص مندان سته د جمعی په شپو کی یی په کور کی حلقی کیږی مخصوصا پوپلزی زیاته عقیده ورته لری اصلی نوم یی حاجی غلام محی الدین جان آغا او د سید طوطی آغا زوی دی چه پلار یی د قادری سلسلی خلیفه ؤ په ۱۳۵۴ ه ق کی وفات سوی دی.

دده د مرگ په مناسبت ملا محمد عیسی حکیم وائی :-

کو وافسوس د قندهار حاجی آغا و لاړی    له فانی دنیا و لاړی
کو وافسوس حاجی آغا در لودی بنه فضیلت    در ځای یی ډیر ؤ عزت

د پاک رسول علیه الصلواة والسلام ترزیارت    تللی و و دی په محبت
دعا شقانو له دفتره مسمی و لاړی    له فانی دنیا و لاړی

کوو افسوس باری ور کړی درجه وه اعلی ذا کره ؤ د مو لا
مدام ولاړ ؤ حق تعالی ته پر میدان دسخا نظر ی ؤ په هر چا
له هغو خپلو د ر و یشانو څخه تنها و لاړی له فانی د نیاو لا ړ ی
کوو افسوس چه هر سړی ئی په صفت دی گویان پـه فقیر ی عا لیشا ن
ټول مریدان ئی دستاری دی رب دی نه کی خزان چه پـه لړ لـی جها ن
بیائی خلف غلام فاروق جان تربیت الله ولاړی له فا نی د نیا و لا ړ ی
کوو افسوس چه کوچ ئی و کی د ناسوده څخه له د ی نا بو د ه څخه
وسوه دوستان ئی ټوله دهجران له درده څخه له غم ا لو د ه څـخه
یادئی لره محمد عیسی ښه خیرخواه ولاړی له فا نی د نیا و لا ړ ی

د طلوع افغان جریده (۱۳۱۳ کال ۳ گڼه چهارشنبه دوړی اوه مه) دده وفات له کبله دا سی لیکی :-

جناب حقائق مآب حاجی غلام محی الدین اخوند مشهو ر په حاجی آغا سره چه دکندهار دمشهور وپیرانو څخه ؤ په تیره هفته کی وفات سو انالله وانا الیه راجعون داهر حوم یو لوی روحانی او پاك نفس ذات ؤ ډیر مریدان ئی در لوده چه ددوی څخه ئی فیض اخست

## بابك صاحب

دکوټی پښین سپین بولدك اودهغی سیمی دقبایلو لوی مرشد ؤ په تیره بیا په اڅك زوکی زیات اراد تمندان او مخلصا ن لری دده نوم میر محمد جان او په کام سید دی په فقه، حدیث، اخلا ق او تصوف کی ئی لوی لاس درلود ډیر متشرع، زاهد او پر هیزگاری ؤ دعمر زیا ته برخه ئی په گوښه گیری او دخدای په عبادت تیره سوی ده اودنقشبندی طریقی پیرو ودی دسپین بو لدك څخه پس په ۱۳۳۵ هـ کی په کدنی کی و فا ت سو ا و تر اوسه ئی لنگر تو د ی .

Marfat.com

## ملاقطب اخند «توخی»

ملا صاحب عالم او متصوف سړی وو پوهېږو ند کې ئې د فقر او تجرید لاره نیولې وه په کندهار کې په زهد تقوی او عبادت مشهور ؤ دکرامات ئې تر اوسه خلک نقل کوي ډېر مدقق او محقق سړی وو پر حافظ شیرازي ئې یوه عرفاني او تصوفي شرحه لیکلې ده په اوه ټوکه کې ئې د مثنوي شریف شرحه هم لیکلې ده د پښتو پر میرزا ئې فارسي شرحه او پر محمود ایاز ئې هم شرحه لیکلې ده د مثنوي شریف څخه ئې مناجات د (مشکوة المناجات) په نامه انتخاب کړي دي ملاصاحب په ۱۳۲۱ کې د (۸۵) کالو په سن هو وفات سوی دی او د کندهار د ښار لویدیز یخو اته یو میل زیارت ئې مشهور دی ډېر ریاض وو پر بوریا اوده به ووپر با لښت به یې مکي شریفې او مدینې شریفې ته علیحده زیارت ته تللی وائي کله چه د مکې شریفې د زیارت څخه د کندهار د شکارپور دروازې ته راورسید د مدینې شریفې د زیارت ئې عزم وکړ.

## ملا اکا

زه چه هلک وم لیدله مې چه ملا اکا به ئې په کټو له کې د کوره مسجد ته د خدای د عبادت او مریدانو د ارشاد دپاره راوست ډېر سپین ږیری او ډنگر سړی وو تر څو چه دی ژوندی ؤ دده د کوره بیا تر مسجد پوري چا بیله سنا او ذکر څخه بل څه نه اوریدل ده په طب، فقه، حدیث او تصوف کې لوی لاس در لود او تر مړینې پوري په تدریس او تعلیم بوخت ؤ ده په ځوانی کې د ښین د ملا روح الله صاحب د طریقت خرقه واغوستله چه هغه د شاه ولي الله دهلوي خلیفه ؤ ملا صاحب ته کندهار یانو مخصوصه عقیده درلوده او په لږه زمانه کې ئې زیات مریدان او اخلاصمندان پیدا سول.

ملا صاحب خپله زیات جایداد او باغونه درلو دل او یو بډاي سړی ؤ تر مړینې وروسته ئې جایداد خپلې کورنی ته وقف کړ ... پر ځای ئې اوس فقیر الله جان اغا ناست دی.

دی د کندهار د نورزو کوڅه کې چه ډېر سپین ږیری ؤ په ۱۳۵۴ وفات سو او پخپل مسجد کې ښخ دی دده د سر د شنا ختي څخه دغه دوه بیته را واخل کیږي:-

---

طلوع افغان ۱۳۱۳ کال ۲ گنه

خبر رسید که آن پیر مرشد ایام نمود عزم بقا از ولایت دنیا
بصیر پیر طریقت شعار و با تمکین که بگذشت به تقوی ز راحت دنیا

دده اصلی نوم ملا عبدالحق او په کام الکوزی ؤ .

## ملا کبلی «ملا غلام رسول اخند بلوچ»

دی دهلمند دولایت په گرمسیر کی او سیدی دعمر زیاته برخه ئی په عبادت او ریاضت تیره کړی ده کراماتونه ئی تراوسه د خلکو په خولو کی دی ملا صاحب زیات آثار لیکلی دی چه مشهور ئی جامع الانوار فی الصلوة علی نبی المختار (په عربی) په ۱۳۲۰ ه جامع الدارفی نعوت خیر البشر په ۱۳۳۶ ه جامع الجواهر فی اسماء الاخیار والکوامل په ۱۳۲۹ ه یاقوت الاحمر دی دغه کتابونه ټول یوځای چاپ سوی دی ملا صاحب په ۱۳۴۹ ه مړ دی

## ادی ببو

ادی ببو ته دکندهار زیاتو خلکو عقیده درلوده خو کمیس به ئی اغوستی وو ډیره په توره او سپینه کونهی وه کله به لغ سر گرزید او کله به ئی رخچینه اویا شکولا اغوستل ذاسی معلومید چه دځان او جهان څخه خبر نه دی ځرنگه چه دپه شاکیدلو ډیر شوقی وو ما بخپله زیات لیدلی دی چه اخلا صمندا نو به په شاگرزاوه وایی چه دی دمو سیقی داورید وزیات شوقی وو حتی په لښتی اوو یا له کی به ئی داو بو د شر پها ر څخه خو ند اخست دی په ۱۳۲۶ کال مړ اود کابل درو ازی دبا ندی دشهیدانو سره ښخ دی دادی ببو دکراماتونو په خصوص کی په کندهار کی ډیری خبری کیږی .

وائی چه دکندهار دځنو صاحب حال خلکو سره ئی خبری کړی دی اودملا متیه ؤ دطبقی څخه گڼلی کیدی استاد خلیل الله خلیلی په بغداد کی دافغانستان لوی سفیر چه تصوف ته زیاته عقیده لری ادی ببو به ئی زیا تره وخت په شا کاوه .

---

دطلوع افغان د ۱۳۱۳ کال (۷۱) گڼه

# سخی شیر جان

دی په اصل کې د جنوبي پښتونستان د پښین د سیدانو څخه وو یو فقیر او خدای دوسته سړی تیر سوی دی د هغې سیمې خلک مخصوص خر کاران زیات اخلاص او عقیده ور ته لري دا ځکه چه دی د خر کاري څخه د فقیري درجې ته رسیدلی دی د ده د ښه سړي والي او بزرګواری په خصوص کې دغه قصه ډیره مشهوره ده او وائي کله چه انګریزانو د کوټې نوشکي زاهدان سړک جوړ اوه دغه [illegible] باید د سخي شیر جان پر زیارت تیر سوی وای خو کله چه سړک جوړ سو او د لمړي ځل دپاره د ریلوي ګاډی پر راغله د انجن [illegible] ئې څخه پری او وا و بیتلې چه ده دغه [illegible] انګریزان مړه او ژوبل سول او دغه حادثه دوه دري ځله تکرار سول او انګریزان مجبور سول چه د ګاډي لاره د ده د مرقد څخه لیري کړي.

اوس چه د کوټې زاهدان ګاډي د دغې سیمې څخه تیریږي [illegible] څه هم دد ريد لو مرکز او ستیشن نسته بیا هم د سخي [illegible] په احترام او سلام هلته دریږي د ده د زیارت [illegible] هر کال ئې په پسرلي عرس د مارچ د ۲۳ څخه بیا تر ۳۰ پوري [illegible] زیارت د کوټې نوشکي ریلوي لین د کوټې او زاهدان [illegible] خواته د غرو په لمنه کې دی او ۷۵ کاله د مخه وفات [illegible] په مناقبت کې ئې ډیری سندري او غزلي سته

## شیخ مانده بابا

د محلي روایاتو له مخې شیخ په اصل کې [illegible] سیوری ؤ څه عمر په کندهار او بیا په پښین او کوټې کې [illegible] په ذکر او عبادت اخته ؤ او ډیر صاحب حال سړی ؤ [illegible] پوري د مخه هلته وفات سوی دی او زیارت ئې د کوټې د ښار څخه پنځه میله لیري د کوټې چمن د سړک څنګ ته [illegible] او کوچني اختر په دوهمو او دریمو ورځو کې ئې [illegible] زیارت جوړیږي چه د کوټې، بلیلي، کچلاغ، مستنګ، کوټوال نو حصار او د کندهار د نژدو سیمو خلک هلته زیات ورځي دلته د شیخ مانده بابا په نوم یو در یلوي ستیشن هم سته.

Marfat.com

## ملاابوبکر «اسحقزی»

دی په ختیز علوموکی استادؤدفارسی پرهیئت باندی ئی حاشیه لیکلی ایساغوجی اوفساغوجی ئی اختصار کړی ده چاپ سوی نه ده د قطبی پر میر زائی هم حاشیه لیکلی ده :

عبدالله افغان نویس دکابل مجلی دلومړی کال په ۱۲ گڼه کی دده په خصوص کی داسی لیکلی : این فاضل مبرور درزمان اعلیحضرت دوست محمد خان رتبه ملا باشی گری داشت ودر عصر اعلیحضرت عبدالرحمن خان درزمره چهار مدرس شهر افغانستان در کابل بوده مؤلدش شهر قندهار سن عمرش ۹۰ قوم او اسحق زائی در سنه ۱۳۰۵ پدرود حیات کرده در مقبرهٔ عمومی قندهار مدفون است آثار این فاضل نزد احفاد شان عبدالرسول آخند زاده سابق وکیل منتخبه قندهار موجود خواهد بود .

## ملا محمد نور اخندزاده پوپلزی

دی مشهور عالم دی او پر قاضی سلم ئی دتشکبیکه په عربی حاشیه لیکلی ده خو چاپ سوی نه ده قلمی نسخه ئی په کندهار کی طالبانوائی دشاگردانو څخه ئی مشهور ملا عبدالحق آخند الکوزی دی دی په کندهار کی زوکړی او په ۱۲۹۹ کی په میر بازار کی مړ او دملا محمد جان په هدیره کی ښخ دی .

## مولوی عطا محمد شیخ محمدی

دی په منقولو او معقولو علومو مخصوص په الهیاتو ، فلسفه ، نحو ، ریاضی کی استاد ؤ او مهم تصنیفونه لری پر عبدالغفور ، قاضی سلم ، شرح تازی باندی ئی مستقلی حاشیه لیکلی دی د زوکړی ځای ئی ارغستان دی او په ۶۹ کلن سن ۱۳۰۳ کی مړ دی او په ارغستان کی ښخ دی دی ډیر مستغنی وحتی پر مجتهدینو ئی ایرادونه کول .

---

کابل مجله لومړی کال ۱۲ گڼه

## حضرت پیر امان الله صاحب «غوری»

دی د مولینا رحمت الله کندهاری زوی دی په کندهار کی ئی فقه، تفسیر، حدیث ووېل او د مولوی محمد جان صاحب کندهاری مرید سو بیا ئی د حضرت دوست محمد صاحب دهلوی چه د شیخ ابوسعید مرید ؤ لاس نیوی وکړ او دی د دهلی د خلیفه حضرت شاه او لیاء غلام علی شاه صاحب مرید و د بیا غور ته ولاړ او هلته د خدای په عبادت او ریاضت مشغول سو په ۱۲۹۳ کی چه په کندهار کی د میوند غزا واقع سوه دی د مرید انو سره هغې غزاته ولاړ او هلته د ذات الجنبه په مرض اخته سو او وفات سو او د غور په طولی کی ښخ سو دده دوه زامن یو حضرت ولی الله صاحب چه د غور په پر چمن کی ښخ دی او بل ئی مولوی ولی محمد دی چه په ۱۳۴۰ کی د هرات په قریه ده زیرك کی ښخ دی.

## ملا عبدالسلام «اخکزی»

ملا صاحب که څه هم د کوزك د شیلی د شاله باغ څخه پنځه میله د شمال خواته او سیږی خو د ومره چه ئی په کوټه او چمن کی زیات شهرت دی هغو مرئی په کندهار کی هم زیات شهرت پیدا کړی دی پنځه نوی کاله په عمر یو تری وچککی ملا دی چه د عمر .... د تحصیل څخه ورو سته یی په شعر او شاعری کی نوم .... زیاتره آثار یی منظوم دی مشهور آثار یی سوس چم .... دی چه په ۱۳۵۳ ه او ۱۳۵۵ کی چاپ سوی دی.

ملا صاحب د خپلو دینی تألیفاتو په خصوص کی داسی وایی -

Marfat.com

که څوك وو يني منصف کتب ديني زما
زام مثال به پيدانه کی بل ثا ني زما

ملا صاحب داورنگ زيب او اعليحضرت امان الله خان زيات قدر درلود لکه چه وايی:-

اورنگ زيب هم دمهدی مقتدی ايسی
قرآني معاني ورې يې په بحرو بر دی

کل امت لره ئی را وويسته ار زانه
فتوای عالمگيری په څو مره زردی

ملا صاحب خپل هستو گنځی په دی فارسی بيت ديوسا ئل په ځواب کی په بديهه توگه داسی ښودی:-

زادو بوم وخانه دارم در جبال
پنج ميل از شاله باغ سمت شمال

په کوټه کی دحافظ خان محمد کتابخانه دعلا مه عبدا لعلی مولوی سيد محمد يعقوب لاجوری اخند زاده محمد غوث ملا عبدالسلام دعلمی مجلس مرکزؤ.

## مولوی ابوالوفاءافغان

دی يوويښ طبيعته او خدای دوسته افغان دی چه دکندهار په ارغستان کی زيږيدلی دی دعلم او عرفان دزده کړی دپاره ئی هر ځول ستو نزتيا وی اوزحمتونه پر ځان راوستلی دی چه دهمدغه کبله نی دی دکندهار دلويوعلماوواوعرفاءڅخه ګڼل کيږی ديوهی او تقوای ازانګه ئی په هند او پاکستان کی زياته پر ته ده.

مولوی صاحب په ځوانی کی دعلم دزده کړی دپا ره د پکتيا دولايت دګوملی دلاری څخه دخروټو پووندهؤسره دپښتو نستا ن د امان سيمی ته ولاړ دهغه ځايه څخه دعالی تحصيلا تو او عرفان درمز ونو دپو هيد لو د پاره دکن حيدر آباد ته ولاړ او په هغه ځای کی ئی دبيلو عالمانو او افاضلو څخه دافادی او استفادی کو لو وروسته دحيدر آباد د نظاميه مدرسی داستادی چوکی ته ورسيد

مولوی صاحب د شریعت څخه طریقت ته رسیدلی دی یو بزرگواره او خدای پاری سړی دی مجلس ئې ډیر متین او سنجیده دی او که هر څو مره څوک ورسره ناست وی نه پر باریږی مولوی صاحب زیات شاگردان او اراد تمندان لری د مشهورو مؤلفینو او متتبعینو څخه شمیرل کیږی دده مشهور آثار دادی :-

دلیل القرآن

کتاب الحجته علی اهل المدینه

مولوی صاحب د دلیل القرآن په لومړی مخ کی داسی لیکی :-

د صفتونو سزاوار هغه ذات دی چه مځکی ورته په سجده سر لګولی او آسمان ورته په رکوع او درختی په قیام ورته ولاړی او غرونه په قعده ورته ناست دی بنی آدم ئې د عشق په جوش و خروش کی سرگرم کی او د رحمت د نزول لائق هغه ذات دی چه د تمام بشر د محبت د زیاتو لو د پاره رالیږلی سوی دی او د رب کتاب ئې را دنیا ته خاوری ته راولیږی دی چه و ئې لولی او ایمان پر راوړی پس د رحمت و ډیر دده اصحابو او اولادو ازواجو دی چه موږ ته ئې قرآن په صحیح الفاظو سره را رسولی دی او د رب ورحم ته محتاج ابوالوفاء د مولوی مبارک شاه اخوندزاده حنفی دی ځای سی د درستو پښتنو نه خصوصا د کندهار خلکو ته عرض کوم چه دا یوه رساله ده په فن تجوید کی نوم ئې دلیل القرآن دی چه تر دی وړاندی په پښتو کی داسی کامله رساله نه ده تصنیفه سوی د پاره د فائده ستاسی ئې په مشقت سره جمع کړی ده خداوند جل و علا دی د خپل حبیب په برکت قبوله کړی

چه کشور د افغانانو معطر سی
د هر بیت مصراع دی زلفی د ...
چه هر بیت می د نافه په شان خوشبوی سی
برکت می چه ... د ... په ...
الهی د حبیب له برکته داسی دده انشاء ...

دمیرویس نیکه او احمد شاه بابا د زمانی را هیسی په کندهار کی د عرفان او تصوف خوا ته زیاته توجه سته حتی د پښتنو د لویو مشرانو هم د تصوف طریقو ته په احترام کتل دوولسی کارونو

داجراءورو سته یې علماء او صاحب حال خلک پر ځانو را ټولول او خپله یې هم دزهد او تقوای لاره نیولې وه چه دهمدغه کبله پښتانه چپ له دی چه ددوی خپل قومي او ولسي مشران بولي په فقیري او صاحب حالي یې هم پېژني دزیارتو څخه یې دنیکۍ مدد غواړی دمیر ویس نیکه زیارت ته دتوری غاړی او داعلیحضرت احمد شاه بابا زیارت ته دبادو دناجوړی دشفا دپاره ناروغان ځي دکندهار ولسي شیرازه هم داډول ده چه دخلکو فکرونه دخانانو او ملایانو تر اغیزی لاندی دی او په فیوډالي صورت دقومونو په منځ کی مځکی ویشلی سوی دی چه حتی دکندهار دښار د جوړولو په وخت کی اعلیحضرت احمد شاه بابا ته په لومړی سر کی د ښار د مځکی او موقعیت ټاکلو دپاره زیات مشکلات پیدا سول او الکوزو او بارکزو خپله مځکه دښار جوړ ولو دپاره نه ور کوله په اخر کی پوپلزو ورسره ومنله په عمومي صورت دقومونو په منځ کی دخانانو په واسطه ارتباط قائمیږي زیات تری مهمي منازعی دخانانو او ملایانو په واسطه حل او فصل کیږی ای محیطی طرز تفکر کیدی فکری محدودیتونه زیات موجود وه ددنیا کار دآخرت دپاره کیدی چه دهمدغه کبله تصوف په مسلکی او شعوری ډول یو راز اوبل راز دټولو خلکو په مغزونو کی ځای نیولی ؤ چه دغه اثر تر اوسه دکندهار دخلکو په فکر او مغز کی زیات دی دکندهار خلک دمسجد وجامع ګانو او دپیرانو دلنګرو سره علاقه لری او دکندهار په هره محله او کوڅه کی زیات مسجد ونه او جامع ګانی سته چه دهغو څخه دغه جامع ګانی ډیری مشهوری دی:ــ دشاه جامع، عیدګاه، دملا دین محمد اخند جامع، دشهیدانو جامع، دخرقي شریفی جامع، دملا فرح الدین اخند جامع، دمیرهزار جامع، دملا شرف الدین اخندجامع، دحاجی ګل محمد خان جامع دګوشخانی جامع، دښکارپوربازار جامع، دمحمد سرورخان جامع دموسی خان جامع، دکاکړ وجامع، دقاضی غلام جامع، دپوپلزو جامع، دیحیی خان جامع، دمدد خان جامع، دافغانپورو جامع دګاډیانو جامع، دکندل خان جامع، زړه جامع، دعبدالله جان صاحب زاده جامع، دحضرتانو جامع، دبابړانو جامع، دکاروان جامع دپاتاو دغاړی جامع، دملا علم اخند جامع، دمحمد معشوق جامع دعبدالحی هوتک جامع، داختر محمد بارکزی جامع او نور.

په دغو مسجدو او جامع ګانو کی ملایان او طالبان هستیږی

Marfat.com

هر څوك دخپل استعداد او دینی میني په اساس مرسته ورسره کوی دټوك او څیږی په نامه هره ورځ دغریب او خان دکورونو څخه دطالبانو او ملایانو داعاشی دپاره ډوډی ورکول کیږی او دهفتی دکټوی پیسی ور ټولی کیږی.

په دغو جامع ګانو او مسجدونو کی دلویو کتابونو تدریسونه او دجمعی په ورځ د قرآن شریف تفسیر او دورونه کیږی لکه چه دطلوع افغان د۱۳۱۳ کال په ۲۷ شماره کی د (خانګی مکتبونو) تر عنوان لاندی داسی لیکل سوی دی :-

دوزارت معارف لخوا څه انعامونه هغو خلکوته مقرر دی چه خانګی مکتبونه لری که څه هم په کندهار کی خانګی مکتبونه ډیر دی خو دغه یی مشهور دی:-

د کاکړو برج:- حاجی غلام محمد (۴۰) تنه شاګردان ملا کهندل (۲۱ تنه) ملا غلام محمد (۱۳ تنه) ملا عین الدین (۱۹ تنه) ملا ګل محمد (۱۱ تنه) ملا عبدالصمد (۱۱ تنه) عبدالوهاب ۱۰ تنه شاګردان لری.

دنورزو برج:- ملا حاجی آغا ۴۰ تنه ملا میر آغا ۱۶ تنه حافظ نور محمد ۸ تنه ملا نور محمد ۹ تنه ملا غلام قادر ۷ تنه شاګردان لری.

دبرو برج:- ملا خدای رحیم ۱۹ تنه ملا غلام صدیق ۱۵ تنه ملا محمد صدیق ۱۴ تنه ملا ولی محمد ۱۳ تنه ملا خیر محمد ۹ تنه ملا علی ۸ تنه ملا خیر الرحیم ۸ تنه.)

د توپخانی برج:- ملا شاه محمد (۱۶) تنه ملا نجف علی ۲۲ تنه ملا محمد یوسف ۲۲ تنه، ملا عبد القادر ۱۶ تنه ملا عبد الغفور ۱۴ تنه ملا غلام حیدر ۱۳ تنه شاګردان لری.

دامیر امان الله خان دمخه دکندهار په دغو جامع ګانو او مسجدونو کی دکندهار دښار هلکوان تربیه کیدل، کنز، خلاصه، قدوری صرف ونحو، تفسیر او په پارسیانو کی پنج کتاب، تحفة النصایح، زلیخا، سکندرنامه، بهار دانش، خطاو کتابت او نور ورښودل کیدل چا چه زیات مالی استعداد درلود نو هغوی خپلو زامنو ته په خپلو کورو نو کی خلیفه ګان او ملایان نیول په کندهار کی خلك پرپنځو بناؤ مخصوص پر لمانځه او روژی خورا تنګ معتقد دی او ځینی خلك دتصوف کتابونه لولی او مطالعه کوی ئی چه په دغه لړ کی دامام ربانی المجدد الف ثانی مکتوبات او د روم دمولینا مثنوی، دامام غزالی کیمیای سعادت او د پیرانو تذکری زیاتی مطالعه کیږی دپیرانو دکرامت او د زیارتونو دټوا بونو څخه ډیر

Marfat.com

نقلونه کیږي او دغه ذهنیتونه ودې اندازې ته رارسیدلي دي چه حتی د پښتنو په زیاتو قومونو کې دستانه په نامه طایفې موجودې دي چه دغه ستانه هم هغه پرهیزګاره او متعبد پښتانه دي چه وروسته د میاګانو او نورو په نامه مشهور سوي دي خپل هویت او نژادي اصلیت ته یې تغیر ور کړی دی ځانونه د سیدانو او میاګانو په ډلو کې شمیري څرنګه چه د کندهار د زیاتو خلکو ذهنیت او طرز تفکر د تصوف او عرفاني علاقې څخه نشئت کوي نو ځکه دغه کبله د سیدانو، ملایانو، اخندانو، خواجه ګانو، زیارات احترام کیږي او زیارتونو ته یې مراجعه کیږي په کندهار کې د دې څخه پرته چه ذکر شول نور پیران او ولیان هم سته چه د هغو څخه سرسراج، ملا قوت، دارو نیکه، بار کزی، ملاعزت او ملا برت، سید تاجدار، میرسالم، میر داود، ملا نظام الدین، نادرشاه، خواجه باران، پیر امانت، میر باعلی نیکه، شاه غلجان، خواجه غنبار، سلطان عطا بابا په خاکریز کې، دوخاک او یکه خاک، خواجه عاقل بابا، باقل بابا، خواجه سوار حاجي ګلون بابا، په موزني کې حسین شاه (۱۰۸۹ تر ۱۱۸۴ هـ) مخدوم بابا، ریزني بابا، شیخ برید سر اصغر شاه، میا عبدالحبیب بن عبدالله، غلام علي شاه مغزر خیل کاکړ په ۱۱۶۰ کې کندهار ته راغلی دی او د احمد شاه بابا معاصر و د توپخانې دروازې د باندې یې زیارت دی) پیر انجیر، چهل ګزی، چهل دختران، د پیر پایمال ملا فرح الدین، میا شاه محمد صاحب، حاجي بیکر. تور ملا عثمان دی په کام الکوزیو دی دا مشهور متل دی الم نشرح هغه الم نشرح ده خو خوله د ملا عثمان غواړي یعنی ده په الم نشرح ویلو سره او به غوړي کول او زیاتره به د ذکر په حال کې تور مار ګرزید قبر یې د فراه د ولایت د بالا بلوک د ولسوالی د ګنج آباد په کلي کې دی. سلطان آغا، نهنګ شاه، حضرت شاه، پیر لښکري، بابا کوتوال، خواجه ملک زیارت یې د ارغنداو پر غاړه دی د کندهار خلک یې پیر ولایت بولي د ور څرمه ځکو د حاصلاتو یوه برخه ده او لادې ته ور کوي که یې ور نه کړي خلک عقیده لري چه حاصلات یې آفت وهي، جان لالا، بابا جي، سید اختر، مهربان بابا، خواجه علي چه په خواجه علي نیتاز مشهور دی ادنی تاز یې ځکه بولي چه یوه ورځ پر نل سپور سو میلمستیا ته ولاړ د کور خاوند ته یې وویله دغه آس ته اوربشې ور کړه د کور

خاوند په ریشخند هغه په انبار خانه کې د ا چوی سهار چه ئې ولید انبار خانه خالي ده او ډېر خوشا ئې پکښې وه

تور ملا قوت، حاجي پیر ولید اد، محمد نیکه (د محمد زو مشر نیکه چه په ارغستان ۱۰۰۰ هـ کې ئې زیارت دی) او مدو زی، خواجه ملنګ د سند تر پسخ دی په خواجه نشا پوري یا دوي وائي یو ورځ د کندهار لویان دده د لید لو د پاره پیاده او سواره ور تلل دی ئې مخې ته پر دیوال سپور ورغی او هغه دیوال تر اوسه ولاړ دی، میرزا داخند زاده، کاکوجان، شیخ ګنجی، شیخ ایوب انصاري د خواجه عبدالله انصاري ورور دی د دوشنبي په ورځ ئې خلک زیارت ته ځي، ابو شین غزي بابا ئې هم بولي شیخ قنبو، عطا نیکه، علیجان اخند زاده (نبه مفسر او صاحب حال سړی و په ۱۲۳۸ کې مړ دی) ملا حضرت اخند بارګزی (چه د امیر عبدالرحمن خان په وخت کې د فرار حکم پر وسو خو امیر د وحشتناک خوب لید لو له کبله د خپل عزم څخه و ګرزید) ګل محمد کاکړ یو خداي [illegible] سړی و په (۱۳۰۰) کې په کندهار کې اوسید یو کتاب د شمس العارفین په نامه لري ملاشاه پسند اخند په کام پوپلزی او د نیشي اوسید ونکی و یو عابد او پرهیز ګاره سړی و په طریقت کې د نقشبندی طریقې پیرو و یو اثر ئې تنبیه الغافلین یا زاد الراحلین نومیږی په [illegible] کې په ۱۳۲۹ کې مړ دی) ملا محمد اسلم لوڼ یو متشرع [illegible] په پښتو او دري یو ناچاپ سوی دیوان لري په ۱۳۵۴ هـ [illegible] او په ۱۳۳۲ هـ ق په کندهار کې مړ دی عیشي کندهاري چه د ۱۲۰۰ هـ ق په حدود کې ژوندی و یو متصوف او پرهیزګاره سړی و ډېر چاپ سوی آثار لري دده یوه نعتیه داده :-

ای سراپای وجودت همه آئینه ذات
پر تو حسن رخت مظهر انوار صفات
خضر را بهره که از زندگی جاوید است
خورده از چشمهٔ حیوان [illegible]
گر قدم خم شده از بار معاصی چه غم است
دست در دامن لطف تو زنم در عرصات

---

د سند تاریخ ۱٤۱ مخ

Marfat.com

جلوه گر تا بلباس بشری گشته از ین

عیش هرگز نتوان گفت بشانش همه ذات

ملا محمدحسن اخوند توخي دکندهار د علماؤ شخه ؤ پښتو او فارسي شعرونه لري په ۱۳۴۲ ق کال کې په هرات کې مړ دی.

مولوی غلام محیالدین افغان په ۱۲۷۹ کې په کندهار کې زیږیدلی دی په کام حسن خیل دی په عصری علومو او ژبو ښه پوهید په اسلام او کام مین یو سړی ؤ زیاتره عمر ئې په معلمی کې تیر سوی دی په ۱۳۰۰ ش په کابل کې مړ دی، ملا شرف الدین اخندلودین چه دجلالین مفسرؤ په۱۳۴۳ ده ۷ کالو په‌عمر کندهار کې مړ دی دی دملا نظام الدین اخند زاده زوی ؤ، ملا اخترمحمد یو زاهد او پرهیزگاره سړی‌ؤچه په ۱۳۴۲ کی د۶۵ کالو په عمرمړ دی ملا ضیاؤالدین اخند نورزی په کدنی کی زیږیدلی ؤ په ظاهره چټ او په باطن کی‌عابد اوبزرگواره ملا ؤ دمولینا روم مثنوی‌ئې طالبانو ته په درس وایه او خپله هم دمولینا صاحب پیر عقیده تمند ؤ په ۱۳۳۰ کی په کندهار کی مړ دی عبد الله اخند زاده اسحق زی یو متشرع او متصوف ملا ؤ په صرف، نحو، فقه‌کی دکندهار یانو استاد ؤ په (۱۳۲۷ کی په کندهار کی مړ دی.

---

دیوان عیشی ۳ مخ «پای»

Marfat.com

# مؤخذونه


طبقات ــ سبکی

تزکرة الاولیا ــ شیخ فرید الدین عطار

منهاج العابدین ــ علامه حبوا خندزاده کندهاری

زهد و تصوف در اسلام ــ گولدهیر

کیمای سعادت ــ امام غزالی

آئین اکبری ــ ابوالفضل

توزك جهانگیری

دما یستکس آف اسلام ــ نکلسن

صدمیدان ــ خواجه عبدالله انصاری

آریانا دائرة المعارف ــ د کابل چاپ

تمدن اسلام و عرب ــ داکتر گوستاو بون

دایران تاریخ ــ سرجان مالکم

طبقات الصوفیه ــ خواجه عبدالله انصاری

روحانی تړون ــ اثر افغانی

نفحات الانس ــ خواجه عبدالله انصاری

تاریخ تصوف ــ داکتر غنی

اصول عرفان مادی ــ داکتر تقی ارانی

دخوشحال خان خټك دیوان ــ دکندهار چاپ

وفیات الاعیان ــ قاضی خلکان

مکتوبات شریف ــ دامام ربانی المجدد الف ثانی

مثنوی شریف ــ مولینا روم

دپښتو ادبیاتو تاریخ دوهم ټوك ــ پوهاند عبدالحی حبیبی

انجمن عشاق پښتو، بوستان عشاق پښتو ــ د حکیم محمد عیسی کندهاری

دداکتر هادی حسن مقالی او پنیشاد ــ ددکن حیدر آباد چاپ، داکبر پارسی ترجمه

کشف المحجوب ــ د علی هجویری

دی صوفیز ــ پو نیو یارك ۱۹۶۶

فوائد الفواد ــ دحضرت خواجه نظام الدین اولیا

اسمار لاسرار ــ حضرت خواجه صدر الدین ابوالفتح سید محمد گیسو دراز

مقامات حضرت خواجه نقشبند ــ ابوالحسن محمد باقر

رساله قدسیه ــ خواجه محمد پارسا

ملل و نحل


Marfat.com

مذاهب بزرگ — پرتمین
نوای معارک — عطامحمد شکارپوری
تاریخ ملل قدیم آسیا
پیسکولوژی (علم الروح)
تاریخ سند — میر معصوم
تاریخ افغانستان در عصر گورگانی هند — پوهاند عبدالحی حبیبی
مخزن افغانی
فلسفه شرق — مهرداد مهرین
تاریخ افغانستان جلد سوم
تاریخ ایران — عبدالله رازی
تاریخ سلطانی — سلطان محمد (خالص) بارکزی
اسلامی انسایکلوپیدیا
کلیات دیوان فارسی طرزی قندهاری -
طبقات اکبری — خواجه نظام الدین احمد
تذکره حسینی — میر حسین دوست سنبلی
نگارستان سخن — سید نور الحق
هفت اقلیم — امین احمد رازی به تصحیح و تحشیه خان بهادر مولوی عبد المقتدر
داوریجن آف دفامیلی پرایویت پراپرتی ایندستیت اف انگلز
تذکرۀ ریاض العارفین — رضاقلی هدایت
صبح گلشن — سید علی حسن خان
کنز الحکمه — شمس الدین محمد بن محمود شهرزوری رحمت الله
تاریخ ادبیات در ایران جلد اول و دوم دکتر ذبیح الله صفا
سفینة الاولیا — محمد دار اشکوه
رساله مزارات هرات ۳ جلد — باهتمام آقای احراری چاپ هرات
سه صدی مکتوبات — حضرت شیخ شرف الدین یحیی منیری قدس سره
مجموعه اسناد و مدارک چاپ نشده - اصغر مهدوی ایرج افشار
در باره سید جمال الدین افغان .
تاریخ جهان باستان — و. دیاکوف و. س کووالف (علی الله همدانی، صادق انصاری، محمد باقر مومنی)
احمد شاه درانی — گنداسنگه
مرقع مشاهیر — دکراچی چاپ .
شعر و ادب فارسی — زین العابدین مؤتمن
کشف الحقایق — شیخ عبد العزیز بن محمد نسفی
مقدمه ای بر فلسفه — والبو کولپه


Marfat.com